Downloaded By: Afghan Salar Library




# نبوی سیرت

## د رسونه، عبرتونه

تالیف: دکتور مصطفی السباعی

ترجمه: سلطان محمود صلاح

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

**كتاب پېژندنه :**

نوم: نبوي سيرت درسونه عبرتونه

تاليف: دکتور مصطفى السباعى

ژباړن: سلطان محمود صلاح

شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

چاپ کال: ۱۴۳۵هـ س / ۱۳۹۳ هـ ل / ۲۰۱۴م

خپروونکی: ميوند خپرندويه ټولنه

کابل: د فارمسي د رياست ترڅنګ، افغان ترک ليسې ته مخامخ

سبا کتابخانه -ګرځنده تيلفون: ۰۷۸۶۰۰۰۱۲۳ - ۰۷۰۰۲۸۴۹۵۴

پست بکس: ۱۲۷۸ مرکزي پسته خانه

E-Mail: maiwand.press@gmail.com

ټول حقوق محفوظ دي

ISBN- 978-9936-8021-1-7

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

بسم الله الرحمن الرحیم

# نبوی سیرت

## درسونه، عبرتونه

تالیف: دکتور مصطفی السباعی
ترجمه: سلطان محمود صلاح

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

د پام وړ:

د کتاب چې ډېر ځلونه ځای د

د «الهدی» له خوا خپور شوی و، له بیا

کتنې وروسته د چاپ له حقوقو سره

میوند خپرندویه ټولنې ته سپارم او

په دې اړه کوم چې د «الهدی» په مصرف د لومړي

چاپ [illegible] حق ورکړل شوی و، نور

یې په اړه د دعوی حق نه لري.

په احترام

سلطان محمود صابر

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# بسم الله الرحمن الرحیم

## فهرست


| شمېره | عنوان | مخ |
|---|---|---|
| ۱- | د ژباړن سريزه | ۱ |
| ۲- | مقدمه | ۵ |
| ۳- | د مؤلف خبري | ۱۰ |
| ۴- | سريزه | ۱۵ |
| ۵- | د نبوي سيرت خانګړتياوې | ۱۵ |
| ۶- | د نبوي سيرت مصادر | ۲۷ |
| ۷- | په سيرت کې د تاليف تطور | ۳۴ |
| ۸- | لومړی فصل له بعثت نه مخکې ژوند | ۳۵ |
| ۹- | تاريخي پېښې | ۳۵ |
| ۱۰ | درسونه او پندونه | ۴۲ |
| ۱۱- | دوهم فصل- له بعثت نه حبشې ته تر هجرته | ۵۰ |
| ۱۲- | پېښې | ۵۰ |
| ۱۳- | درسونه او پندونه | ۶۱ |
| ۱۴- | دريم فصل- حبشې ته له هجرته مدينې ته تر هجرته | ۶۲ |


Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



| | | |
|---|---|---|
| ۱۵- | پیښې | ۶۶ |
| ۱۶- | درسونه او پندونه | ۷۰ |
| ۱۷- | څلورم فصل- له هجرته په مدینه کې د رسول (صلی الله علیه وسلم) تر میشته کیدو پورې | ۷۷ |
| ۱۸- | تاریخي پیښې | ۷۷ |
| ۱۹- | درسونه او پندونه | ۸۴ |
| ۲۰ | پنځم فصل د رسول (ص) غزاګانې | ۱۰۱ |
| ۲۱- | تاریخي پیښې | ۱۰۱ |
| ۲۲- | د بدر لویه غزا | ۱۰۱ |
| ۲۳- | د احد غزا | ۱۰۷ |
| ۲۴- | د بني نضیر غزا | ۱۱۵ |
| ۲۵- | د احزاب غزا | ۱۱۷ |
| ۲۶- | د بني قریظه غزا | ۱۲۱ |
| ۲۷- | د حدیبیې غزا | ۱۲۵ |
| ۲۸- | د خیبر غزا | ۱۳۱ |
| ۲۹- | د مؤتة غزا | ۱۳۳ |
| ۳۰- | د فتحې غزا | ۱۳۶ |
| ۳۱- | د حنین غزا | ۱۳۹ |
| ۳۲ | د تبوک غزا | ۱۴۲ |
| ۳۳- | درسونه او پندونه | ۱۴۵ |
| ۳۴ | دا دي لدې غزا ګانو نه ... | ۱۵۳ |
| ۳۵- | شپږم فصل د مکې له فتحې نه د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) تر وفاته | ۱۷۷ |

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library




| | | |
|---|---|---|
| ۳۶- | مهمې پېښې | ۱۷۷ |
| ۳۷- | د حنين غزا | ۱۷۷ |
| ۳۸- | د بتانو ماتول | ۲۱۰ |
| ۳۹- | د تبوک غزا. د رسونه او پندونه يې | ۲۱۹ |
| ۴۰- | د اسامة د لښکر ليږل | ۲۳۱ |
| ۴۱- | د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) وفات | ۲۳۵ |


و آخر دعوانا ان الحمد لله رب العالمين.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



بسم الله الرحمن الرحيم

# د ژباړن سریزه

**الحمدلله رب العالمين و العاقبة للمتقين و الصلاة و السلام على اشرف المرسلين سيدنا و مولانا محمد و على آله و اصحابه و من تبعهم باحسان الى يوم الدين. اما بعد،**

د هر انسان نجات ، بری او سعادت د هغه تر ایمان او عمل پورې تړلی دی. دا حقیقت د واقعیت په ډګر کې په اثبات رسیدلی دی، تاریخ شاهد دی تر کومې ورځې چې د مسلمانانو اعمال د هغوی د صحیح ایمان څرګندوی وو، تر همغه مهاله همدوی د مځکې پر مخ د قیادت او عزت پر لوړ مقام ولاړ وو، خو کله یې چې په زړونو کې د ایمان رڼا تته شوه، او اعمال یې د ربښتونیو ایماني غوښتنو په خلاف شول،نو د ذلت وبا پرې ګډه شوه، د نورو د پیروۍ او اطاعت پړې یې غاړو ته ولویدل او دا دي نن یې ټول معنوي او مادي مقدسات او شتمنۍ د اغیارو تر یرغل لاندې راغلي دي...

ددې بدې ورځې د سمون، اصلاح او علاج نسخه هغه ده کومه چې د کائناتو سردار حضرت رسول اکرم (صلى الله علیه وسلم) د کائناتو د رب له لوري راوړې او موږ ته یې په بشپړه توګه په میراث پریښې ده.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



دا هم داسې یو حقیقت دی چې زمونږ تر سترګو لاندې هم په اثبات ورسید، افغان مسلمان ولس د سرې امپراطورۍ له یرغل او د الحاد له تسلط نه د نجات پخاطر همدا نسخه وازمویله، د جهاد مقدسه لاره یې غوره کړه، همغه وه چې رحمان خدای نجات او بری ورکړ. د کمونیزم سور ښامار د افغان په توره ووژل شو او د الحاد ستره امپراطوري دړې وړې شوه.

خو څرنګه چې همدې مجاهد ولس د اسلامي مشرتابه په خانګړتیاوو او معیارونو پوره او برابر قیادت نه درلود، نو هغه په ډیرو قربانیو ګټل شوی ملک بیا له نویو ستونزو سره مخ شو. ولس دخپل قوي احساس، مکمل اخلاص او بیدریغه قربانیو په زور د کمونیزم تخته چپه کړه، خو متاسفانه د قیادت واګې داسې چا ته په لاس ورغلې چې د اسلامي حکومت د زعامت اهلیت یې نه درلود. او پدې ترتیب سره افغان ولس نه یوازې د جهاد له ویاړونو او ګټو نه مستفید نه شو، بلکه د نا اهله چارواکو له لاسه له بلې ازموینې او غمیزې سره مخ شو.

لدینه دا مطلب په ډاګه کیږي چې اسلام کامل دین دی او پیروان یې هغه وخت له پوره ګټو نه مستفید کیدلی شي چې د ایمان او اسلام په تیره پوره وي، نیمګړی عمل، او د یو شمیر شرایطو پوره کول مطلوبه نتیجه نشي ورکولی

ربښتونې اسلامي ټولنه او د نبوت په لیکه برابر حکومت هغه وخت قایمیدلی شي چې د ټولنې هر فرد، رعیت او حکومتي چارواکي په اسلامي شروطو پوره برابر وي. عسکر او عادي وګړي د خپل مقام او مشرانو د خپل مقام لپاره د وړتیا معیارونه ولري، که داسې نه وي، نو د اسلامي حکومت قیام شونی نه دی.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



له همدې ځايه ده چې مسلمانان بايد اسلام ته مخه کړي، هر څوک اسلام له خوا ورته ټاکل شوي مسئوليتونه درک او پوره ادا کړي، تر څو د نيکمرغۍ مستحق او مشرتابه ورته بيرته تر لاسه کړي

څرګنده دې وي چې دا ستر هدف هغه وخت تحقق موندلی شي چې امت هر غړی د خپل سالار او وروستي نبي (صلی الله عليه وسلم) قدم پل کيږدي، آمر او مامور د ژوند په هر ډګر او هره شيبه کې دسپيڅلي نبوي سيرت پيروي وکړي که داسې وشي ، نو نه به ولسونه د زعيم په انتخاب کې غلطي کوي او نه به زعامت د پرګنو د تباهۍ سبب ګرځي.

دا کتاب چې اوس ستاسو په مخ کې غوړيدلی د مرحوم دوکتور مطفی السباعي (رحمه الله) له خوا د شرعياتو د پوهنځۍ محصلينو ته د تدريس په دوران کې تهيه او تاليف شويدی.

دا کتاب که څه هم مختصر دی، خو مسلمان ته دا ښيي د رسول اکرم (صلی الله عليه وسلم) له مبارک سيرت نه څه ډول ګټه پورته کړي. دا په واقع کې د هر مسلمان د لارې روڼ مشال دی، او هغه ذخيره ده چې هر څوک رهبر وي که عسکر په هر حالت کې جنګ وي که سوله د خپلې لارې توښه موندلی شي

کتاب مې په ١٩٨٧م کال چې هغه وخت زه د صوابۍ د مهاجرينو په کمپ کې د تدريب المعلمين په معهد کې استاذ وم له عربي ژبې نه پښتو ته ترجمه کړ او څه موده وروسته يعنې د ١٣٦٩ هـ ش کال د کب په مياشت کې د الهدی ټولنې له خوا چاپ او خپور شو. وروسته د يو شمير قدرمنو استاذانو د هڅو په پايله کې د ننګرهار پوهنتون په درسي نصاب کې شامل او د افغان محصلينو د استفادې ور

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



وګرځید.

ځو ځله دوستانو په ځانګړې توګه د ننګرهار پوهنتون یو شمیر استاذانو او محصلینو دا مشوره راکړه چې کتاب له سره چاپ او خپور شي، ځکه د لومړي چاپ نسخې پوره ختمې شوې او مینه وال یې لا ډیر دي، همغه وه چې د خدای تعالی په توفیق سره مې کتاب ته له سره مراجعه وکړه، بیا کمپوز شو او دا دی پدې بڼه کې ستاسو په خدمت کې قرار لري.

له رحمان خدای نه سوال کوم زما غلطۍ وبښي دا عمل مې په حسناتو کې وشمیري او په همدې وسیلې سره زما غم ځپلي هیواد وال له فعلي غم نه خلاص کړي، د اسلامي ورور او رښتوني قیادت تر سیوري لاندې اسلامي او سوکاله ژوند ور په برخه کړي.

ستاسو د دعا غوښتونکی

سلطان محمود صلاح

د ماسپښین دوې نیمې بجې

چهارشنبه ۱۳۸۶/۸/۳۰ هـ ش= ۲۰۰۷/۱۱/۲۱ م

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# مقدمه

د رسول الله( صلی الله علیه وسلم) د سیرت په هکله دا ځو روښانونکې پاڼې زمونږ استاد علامه مرحوم مصطفی السباعي پدې نیت لیکلې، تر څو پدې سره د شرعیاتو د پوهنځي د محصلینو اومحصلاتو روحیې راژوندۍ کړي - او هم لدوی سره یو ځای ټول داعیان او ځوانان د نبوي سیرت زده کړې ته تشویق او ترغیب کړي.
او تر څو له نبوي سیرت نه داسې مفاهیم او درسونه زده کړي چې د هغه په مرسته د خلکو له پاره د استقامت او ښیګڼې پیشوایان شي هو! هغوی به خامخواه دا مقام ګټي او همدا دنده ادا کوي ځکه هغه ورته د پیغمبر اکرم (صلی الله علیه وسلم) سیرت یا د نړۍ له ټولو نه د ستر انسان تاریخ وړاندې کوي.
ددې پاڼو لوستونکي به په آسانۍ سره پدې پوه شي چې داعي استاد. سیرت ته د دعوت او داعي، رسول او رسالت له زاویې کتلي او رڼا یې وربانده اچولې او د دعوت په ساحه کې د خپلې پخې تجربې په اساس او مرسته یې د دعوت او هدایت په اړه یې د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) هدایات او تګلاره په ګوته کړیده، زیار یې ایستلی چې له سیرت نه د داعیانو لپاره درسونه او عبرتونه راټول کړي او له همدې امله هغه (رحمه الله علیه) سیرت د مؤرخینو په شان نده روایت کړې، او نه یې هم د هغه په شا او خوا کې د فقهاؤ او متکلمینو په څیر مجادلې او مناقشې کړې دي.
بلکه هغه له هر څه نه مخکې یې سیرت ته د یوه پوه دعوتګر او داعي

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



په سترګو کتلي، داسې داعي چې سيرت د ټولو بلونکو او اصلاح کوونکو لپاره نيکه قدوه بولي او په همدې خاطر يې د سيرت پيښې داسې څيړلې چې وکولای شي له مسلمانو خوانانو نه داعيان او د هدايت څراغونه جوړ کړي....

هغوی له سيرت نه تغذيه کوي مخکې بې د اميدونو داسې باغ. او ژوندی تجربه ړدي چې بيا په بند. زولنو او کړيو نه بنديږي

×××××

زما دا خاکسارانه تقديم او تقريظ چې د استاد په وړاندې په ډيره حياء سره قدمونه اخلي، نشي کولای د استاد سباعي د څيړنې ټول اړخونه په ګوته کړي. او دا خو يې بېخي له وسه بهر ده چې د سباعي له نظر د سيرت د تربيوي او روزنيز دقيق اړخ په هکله څه وويلی شي نو زما لپاره همدا کافي ده چې د دې اړخونو د تمثيل په هکله د خپلې رايې د وړاندې کولو لپاره به مخکينيو خبرو او د لاندينی آيت په مفهوم او تفسير بسنه وکړم (( لقدْ كان لكُمْ في رسُول اللهِ أُسْوةٌ حسنةٌ لمنْ كان يرْجُو اللهَ والْيوْم الآخر وذكر الله كثيرا )).

(الاحزاب: ٢١)

(په تحقيق سره ستاسې لپاره، د خدای په پيغمبر کې نيکه پيروي شته د هغه چا لپاره چې د خدای سره مخامخ کيدو او د قيامت د ورځې د راتلو اميد لري)

په رښتيا چې سباعي پر الله (جل جلاله) او قيامت باندې ټينګ او پوره مومن و – او له همدې امله ده چې توانيدلی دا اړخونه په ډيره ژوره او دقيقه توګه خلکو ته وښيي او همدا وجه ده چې خبرې يې له

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



یوې خوا ډیرې نرمې. خوږې او له بلې خوا ډیرې اغیزمنې او اثر لرونکې دي.

خو هغه لاړ (رضي الله عنه)، هو، لاړ.... خو وروسته له هغه چې مخکې یې ډیر څه لیږلي او روح یې د قرآن او اسلام په دعوت ځان موړ کړی و.

هو. هغه لومړی خلکو ته د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د رینښتوني عسکر عملي متالونه وړاندې کړل او بیا لاړ، پدې خبره به هغه ځوک ښه پوهیږي چې استاد یې پیژانده، په ځانګړې توګه شاګردانو خو به یې دا ډول ژوندي متالونه ډیر لیدلي وي.

الله (جل جلاله) ګواه دی کله چې د دمشق د شرعیاتو د پوهنځی له تاسیس نه وروسته مونږ د هغه شاګردان وو. له هر څه نه زیات به د ده درسونو او محاضرو ته تږي وو، دا هغه وخت و چې مترفان (عیاشان) به د سستۍ په بستره کې اوږیدل زا اوږیدل، خو سباعي د عزم او ټینګې ارادې کمربند تر ملا کړی و، د ډیرې سختې ناروغتیا سره سره به یې خپله لکچه اخیسته او په خپل وخت به د ټولګي په لوري روانیده. او ددې پوهنځي شاګردانو ته به یې دا ښووله چې رینښتني سپاهي څنګه وي؟ او ستر انسان نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) ته د منسوبیدو شرف یعني څه؟

×××××

د محمد (صلی الله علیه وسلم) په سیرت کې سباعي څومره لوړ او ښکلي درسونه موندلي. او پداسې حال کې چې د همدې سپیڅلي سیرت پوره پیروي کوي د الله (جل جلاله) د لارې بلونکو ته څومره په زړه پورې پندونه وړاندې کوي. څومره د خوشالۍ خبره ده چې د

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



سباعي له درسونو نه پدې پوه شو چې ((قيادت)) پخپله ټوله کامله او شامله معنی سره د نبوي سيرت له اوچتو اړخونو څخه يو اړخ دی او ځومره ښه ده چې دده (رحمه الله عليه) له ژوند او سلوک نه پدې وپوهيدو چې سپاهيتوب دده د ژوند او سلوک له لوړو جوانبو څخه شميرل کيږي. په رښتيا سره چې سباعي د ريښتوني سپاهيتوب په مرسته وکولای شوی چې د لوی قائد او ستر قهرمان رسول الله (صلی الله عليه وسلم) د ژوند ژوندۍ نمونې راوښولی شي.

د يادښتونو دا پاڼې چې اوس د مطبعې په لور رواني دي. د شرعياتو د فاکولتې په لومړي او دوهم ټولگي کې له تدريس نه وروسته په ډيره بيړه او د سختې ناروغۍ په حالت کې ليکلې شوې، د استاد (سباعي) د علمي ذخيرې او هغو مفاهيمو چې دده به د درس په وخت کې ښودل يوازې يو اړخ او وړه برخه ده .... او داسې ښکاري چې استاد په دې خاطر دا پاڼې په بيړه سره راټولې کړی تر څو د زده کوونکو لپاره يوه لنډه مرجع وي. ځکه د سيرت نور کتابونه دا ډول فهم او تحليل نه لري. د هغه (رحمه الله عليه) داسې اراده وه چې دا پاتې نور ځلور فصلونه هم په همدې طريقې سره پوره کړي. هغه په سيرت کې خپل بحث په (۱۴) فصلونو ويشلی ؤ البته پرته له سريزې چې هغه هم دوه فصلونه لري د فصلونو له بشپړيدو وروسته به يې په ټول کتاب نظر اچوه تر څو کمی يې پوره کړي او هم يې نصوص او تاريخي شواهد وليکې، خو الهي قضاء لاس را اوږد کړ. ((...وَاللَّهُ غَالِبٌ عَلَى أَمْرِهِ وَلَكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ)). (يوسف: ۲۱)

(الله پخپل امر کې غالب دی خو ډير خلک نه پوهيږي).

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



زه دلته له عذر او افسوس پرته بل څه نه شم وړاندې کولی او پدې خواشینې څرګندوم چې زما له وسه نده پوره چې دا کمزورې او کمې تریوې اندازې لیرې کړې شم. د چاپ په وخت کې ضروري وه چې کتاب په همدې شکل سره چاپ شي تر څو د استاد تنده ماتوونکې خبرې د کتابونو له زړه نه راووزي او هم همدا طریقه د هغو لوستونکو د غوښتنې ځواب شي کوم چې لدې مسئلې نه لرې غوندې خبر دي خو پوره یې ندي اوریدلي. له الله (جل جلاله) نه غواړم چې دا کمې په راتلونکې چاپ کې پوره شي (ان شاء الله).

دا امیدونه د لیکونکې (رحمه الله علیه) له وفات نه لس او یا څه زیات کلونه وروسته خلک د خدای (جل جلاله) دې قول ته متوجه چې فرمایي: ((...فَأَمَّا الزَّبَدُ فَيَذْهَبُ جُفَاءً وَأَمَّا مَا يَنفَعُ النَّاسَ فَيَمْكُثُ فِي الْأَرْضِ كَذَلِكَ يَضْرِبُ اللَّهُ الْأَمْثَالَ)).(الرعد: ۱۷)

(کوم چې ځګ دی هغه بې ګټې له مینځه ځي او کوم شی چې د انسانانو له پار ګټور دی هغه په ځمکه کې تم کیږي).

دمشق

۱۳۹۲ هجري قمري کال د شوال څلورمه

عدنان زرزور

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# د مؤلف خبري

الحمدلله الذي ارسل رسله بالبينات و الهدى، ليخرجوا الناس من الظلمات الى النور، و يهدوهم الى صراط العزيز الحميد. والصلاة و السلام على افضل رسله، و اشرف دعاته، سيدنا محمد(صلى الله عليه وسلم) الذي ختم الله به رسله، فجعل سيرته قدوة لكل مؤمن في جميع شئوون الحياة صغيرها و كبيرها، و ختم بدينه الشرائع. فجعل رسالته اكمل الرسالات و اوفاها بحاجات الناس في مختلف بيئاتهم و عصورهم، صلى الله عليه وعلى اصحابه الهداة البررة الذين علم الله فيهم سلامة الفطرة، و صدق العقيدة، و عظيم التضيحة، فشرفهم بحمل رسالة الاسلام الى امم الارض، فاراقوا في سبيلها دماءهم، وفارقوا من اجلها ديارهم، حتى ادوا الامانة و بلغوا الرسالة، و نصحو الله و رسوله، فكان لهم فضل على الانسانية لايعرف مداها، و دين في عنق كل مسلم حتى يرث الله الارض و من عليها، رضوان الله عليهم و على من احبهم و حمل لواء الدعوة الى الله من بعد هم حتى يوم الدين.

حمد او ثنا هغه خدای لره چې خپل رسولان يې له ښکاره نښانو او هدايت سره راليږلي، تر څو خلک له تيارو نه رڼا ته وباسي، د غالب

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



او ستايل شوي الله لارې ته يې برابر کړي. او درود او سلام دې پر هغه رسول وي چې له ټولو رسولانو نه غوره او د ټولو بلونکو لارښود دی، هغه چې زمونږ سردار او هغه چې الله تعالی د رسولانو خاتم ګرزولی، د نبوت سلسله يې ورباندې ختمه کړی، او سيرت يې د هر مؤمن لپاره د ژوند په هره لويه او وړه برخه کې قدوه ګرزولی، په دين سره يې شريعتونه پای ته رسولي. او رسالت يې تر ټولو بشپړ او په مختلفو ټولنو او مختلفو زمانو کې د خلکو د اړتياوو ځواب ويونکی ګرزولی، درود دې وي پر ده او اصحابو يې هغه چې لارښوونکي دي، نيکان دي، الله سالم فطرت، رښتوني عقيده او دقرباني روحيه ورکړې، او د همدې په برکت يې دځمکې د مخ اوسيدونکو ته د اسلام د وړلو او رسولو شرف ور په برخه کړی، نو دوی هم د اسلام په لار کې خپلې وينې تويې کړې، خپل کورونه يې پريښودل، تر څو يې امانت ادا او رسالت يې ورساوه، د الله او رسول د نصيحت حق يې ادا کړ، او له همدې امله يې پر ټول بشريت دومره احسان دی چې اندازه نه لري، او د دنيوي ژوند تر پايه يې هر مسلمان د احسان پوروړی دی، الله تعالی دې له دوی او ټولو هغو نه خوشاله وي کوم چې له دوی سره مينه کوي او له دوی نه وروسته د خدای لوري ته د دعوت بيرغ اوچت ساتي.

دا پاڼې مې وروسته له هغې چې د شرعياتو د فاکولتې په لومړي کال کې مې د درس په شکل مفصلا وړاندې کړې وې، له سختې ناروغۍ سره سره په ډيره چټکۍ وليکلې، اراده مې دا وه چې ددې ليکنې له لارې د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) سيرت له لوړو نمونو نه ځنې بارزې (روښانه) نقطې په ګوته کړم، کوم چې هر مسلمان، د الله لورته

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



بلونکي او فقیه تـه په کار ده تدبر او تفکر پکې وکړي او هغه د خپل ژوند سرليک او هدف وګرزوي، تر څو د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د پیروۍ شرف يې په برخه شي، او د دعوت د بریالیتوب دروازه يې په مخ خلاصه، او د الهي رضا لویه برخه يې په نصیب شي او بالاخره په جنت کې له رسول الله (صلی الله علیه وسلم) سره د یو ځای کیدو لوی شرف وګټي، الله فرمايي: ((...وَمَنْ يُطِعْ اللَّهَ وَرَسُولَهُ يُدْخِلْهُ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا وَذَلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ)).(النساء:۱۳)

څوک چې د الله تعالی او د هغه د رسول اطاعت وکړي، الله به هغه داسې باغونو ته ننباسي چې لاندې به يې ويالې بهيږي او هغوی به پکې د تل له پاره استوګن وي او همدا ستر بریالیتوب دی.

خپل بحث مې په لاندې ډول سره ویشلی دی:

الف: - سریزه چې د دوو بحثونو (فصلونو) درلودونکې ده:

۱. د نبوي سيرت ځانګړتیا، او د لوستلو ګټه يې

۲. د سيرت صحيح مراجع او مصادر.

ب: - د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د سیرت پوهنه چې لس فصلونه لري:

لومړی فصل - له بعثت نه مخکې د رسول (صلی الله علیه وسلم) ژوند.

دوهم فصل - له بعثت نه حبشې ته تر هجرته.

دريم فصل - حبشې ته له هجرت نه مدینې ته تر هجرته.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



څلورم فصل - د هجرت له پیل نه په مدینه کې تر ځای په ځای کیدو پورې.

پنځم فصل - غزاګانې: له بدر نه د مکې تر فتحې.

شپږم فصل - له فتحې نه وروسته په عربې ټاپو وزمه کې د اسلام خوریدل.

اووم فصل - له فتحې نه تر وفاته.

اتم فصل - د رسول (صلی الله علیه وسلم) اخلاق او د مستشرقینو او مبشرینو (تنصیریانو) تورونه.

لسم فصل - پر نړۍ د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د ذات او رسالت اغیزې.

له الله (جل جلاله) څخه سوال کوم پدی بیره کې ددې توفیق راکړي چې سیرت ته داسې یوه کتنه وکړای شم، چې له یوې خوا مې ټاکلی هدف لاسته راشي او له بلې خوا د شرعیاتو د پوهنځۍ ټول شاګردان (هلکان دي او که نجونې) دیته اړباسي چې له نبوي سیرت سره مینه وکړي، او د ځان لپاره ورڅخه داسې مفاهیم او هدایات واخلي چې په همغه سره د خلکو لپاره د امامانو حیثیت غوزه کړي، او له امله یې د استقامت، صلاح، هدایت او دعوت په لار کې د حکمت امامان او مخکښان شي، تر څو رسول الله (صلی الله علیه وسلم) یو ځل بیا په هغه خپله نوراني څیره د خلکو په مخ کې د لمر په شان وځلیږي، خلک له ګمراهۍ او تیارو نه وباسي، زړونه، عقلونه او ټول عادتونه یې د حقیقت په لمر تاوده او روښانه کړي، او تر څو اسلامي امت یو ځل بیا پخپله اصلي او پخوانۍ ګانه یعنې استقامت او صفا بیا سمبال شي، او د ټولو ملتونو او امتونو د قیادت او مشرۍ په تخت

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



کيني، او په همدې سره مونږ يو ځل بيا د الله (جل جلاله د دې قول مصداق وګرزو چې فرمايي: ((كُنْــتُمْ خَيْــرَ أُمَّة أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُــرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنْ الْمُنكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللَّه...)).( آل عمران: ۱۱۰)

(تاسې بهتره ډله يئ چې ويستل شوي يئ لپاره د خلكو، تاسې امر كوئ په نيكى، او نهي كوئ له بدى نه. او تاسې ايمان او باور لرئ په خداى باندې.

دمشق ۱۳۸۱ هجري قمري كال د روژې مياشت
مصطفى السباعي

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# سريزه

## ۱ - د نبوي سيرت ځانګړتياوې

نبوي سيرت د ډيرو داسې ځانګړتياو او مميزاتو درلودونکې دی چې سيرت لوستنه د انسان د پاره روحي، عقلي، او تاريخي ګټه ګرزوي، شرعي علماء، د الله (جل جلاله) لور ته بلونکي، او د ټولنيزې اصلاح غوښونکي د سيرت د زده کړې په ضرورت قانع کوي. او دا ورښيي چې اسلامي شريعت بايد پداسې طريقې سره خلکو ته ورسوي چې د رسول (صلى الله عليه وسلم) سيرت يې د پريشانيو او راز راز کړاوونو سره د مقابلې په لاره کې لوی کومکي وي او د همدې سيرت په مرسته اسلامي داعيان د خلکو زړونو ته لار ومومي، او په لنډه موده کې خپل هدف ته چې د خلکو اصلاح ده ورسيږي.

اوس به د نبوي مبارک سيرت ځنې مهمې او ځرګندې ځانګړتياوې (ميزې) په لاندې ډول بيان کړو.

۱. نبوي سيرت د بل هر نبي، رسول او ټولو اصلاح غوښتونکو له سيرت نه تر ټولو صحيح او درست سيرت دی.

ځکه د رسول (صلى الله عليه وسلم) سيرت مونږ ته په داسې صحيحه او ثابته علمي لار را رسيدلی دی چې شک او شبهې نه پکې هيڅ ځای نشته، دا به د مصادرو په راتلونکي بحث کې سره ووينو. او دا مونږ ته ددې توان راکوي چې په وروستيو وختونو کې په سيرت باندې له خانه زيات شوي شيان لکه ځنې معجزې او داسې نورې پيښې وپيژنو

Downloaded By: Afghan Salar Library



کومې چې هدف يې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ته د داسې صفاتو ورکول دي چې الله (جل جلاله) ندي ورکړي.

د نبوي سيرت دغه خصوصيت (صحت او کامل ثبوت) د مخکنيو رسولانو (عليهم السلام) په سيرت کې نه ليدل کيږي. مثلاً د (موسی عليه السلام) د سيرت صحيح او درستې پيښې د يهودانو له دروغو او تحريفاتو سره ګډې شويدي، او اوس زمونږ له وسه نده پوره چې له موجوده تورات نه د موسی (عليه السلام) ريښتنی او صحيح سيرت راوباسو. ځکه خو ډير غربي نقادان (محققين) هم د تورات په ځينو اسفارو (جلدونو) کې شک کوي، او ځنې نور پوره يقين لري چې د تورات ځنې (اسفار) سپارې يا برخې نه د موسی (عليه السلام) په وخت ليکلې شوې، او نه هم هغه ته په نږدې وختونو کې، بلکه له موسی (عليه السلام) نه ډير وروسته د نامعلومو خلکو له خوا ليکل شويدي. همدا دليل په اوسني تورات کې د موسی (عليه السلام) د موجود سيرت د نه ريښتينوالی لپاره کافي دی، او همدا وجه ده چې مؤمن د موسی (عليه السلام) د سيرت يوازې د هغو برخو په صحت ايمان لري چې په قرآنکريم (او صحيحو احاديثو) کې راغلې دي او بس. همدا راز د عيسی (عليه السلام) سيرت په همدې شکل دی ځکه دا د کليساګانو سره موجود او رسمي انجيلونه، خو له عيسی (عليه السلام) نه په سوونو کلونه وروسته په غير علمي طريقه د هغه وخت له سل ګونو انجيلونو څخه انتخاب شويدي او همدا راز ددغه انجيلونو بنسټ خپلو ليکوالانو ته هم په علمي او قانع کوونکي دليل ندی ثابت شوی، ځکه يو يې هم په متصل سند سره له خپل ليکونکي نه ندی روايت شوی. سربيره پردې د غربي نقادانو (څيړونکو) تر منځ

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



د نومورو ځینو لیکونکو د نمونو په هکله هم اختلاف دی او دا ندي معلوم چې هغوی څوک وو؟ او په کومه زمانه کې یې ژوند کاوه؟ نو پداسې حال کې چې د ځمکې پر مخ د خورو ادیانو د رسولانو د سیرت دا حال وي، د نورو ادیانو او فلسفو د رسولانو او خاوندانو سیرت خو به حتماً له شک او شبهاتو نه ډک وي، لکه د بودا، کونفوشیوس او نورو سیرت. او هغه څه چې د دوی خپل پیروان یې د دوی د سیرت په هکله وایې د علمي بحث له نظره هیڅ د اعتبار وړ ندي، ځکه هغه د کهانانو، کوډګرو، فال ګرو، جوړونه او یو له بل نه روایتونه دي، چې د وخت په تیریدو سره هر نسل داسې خرافات پکې زیاتوي چې سالم او له تعصب نه پاک عقل ته د منلو وړ نه دي، نو ثابته شوه چې له ټولو نه صحیح، قوي، ثابت او په متواتره طریقه را نقل شوی سیرت یوازې د محمد (صلی الله علیه وسلم) سیرت دی.

۲. د رسول (صلی الله علیه وسلم) ژوند پخپلو ټولو مرحلو (پوړیو) کې یعنې د هغه د مور آمنې او پلار عبدالله له واده نه د رسول (صلی الله علیه وسلم) تر رحلت پورې ټولې پیښې څرګندې او روښانه دي. مونږ د هغه د پیدا ښت، وړکتوب، ځوانی، له نبوت نه مخکې کسب او کار، د مکې نه د باندې سفرونو په لنډه توګه تر بعثت پورې د هغه د ټول ژوند په هکله پوره معلومات لرو، او له بعثت نه وروسته ټول ژوند یې د لمر په شان څرګند او روښانه دی، هره برخه یې کال په کال راته معلومه ده، او همدا وجه ده چې د هغه (صلی الله علیه وسلم) سیرت دومره روښانه دی چې ځنې غربې څیړونکې هم پرې اعتراف کوي او دا وایې: یوازې محمد (صلی الله علیه وسلم) دی چې د لمر په رڼا کې پیدا شویدی.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



دا خصوصیت هم د نورو رسولانو د سیرت ندی په برخه شوی، ګورو د موسی (علیه السلام) د ورکتوب، ځوانۍ له نبوت نه مخکې ژوند، کارو بار په هکله هیڅ ډول معلومات راسره نشته. او له نبوت نه یې وروسته موجود معلومات هم د هغه (علیه السلام) شخصیت پوره نه شي انځورولای. د عیسی (علیه السلام) سیرت هم په عین شکل، د هغه (علیه السلام) د ورکتوب په هکله یوازې هغه څه شته چې اوسني انجیلونه یې وایي او یا یې روایت کوي او لیکي. عیسی (علیه السلام) د یهودانو په هیکل ننووت او له احبارو (د یهودانو دیني علماوو) سره یې بحث او مناقشه وکړه. او له نبوت نه وروسته یې یوازې د بلنې او ځینو نورو ژوندنیو طریقو په هکله معلومات لرو، او لدې نه پرته نور هر څه د نیستۍ په پردو کې پټ دي.

نو اوس څنګه کیدای شي دا لنډ او ناکافي معلومات زمونږ د محبوب رسول (صلی الله علیه وسلم) د شخصي ژوند په هکله د هغو صحیحو، مفصلو او دقیقو معلوماتو سره چې د سیرت رینښتني مصادر یې روایت کوي پرتله کړو، لکه د هغه (صلی الله علیه وسلم) خوراک، دریدل، ناسته، جامې، شکل، هیئت، منطقه، له کور والو سره رویه، عبادت، لمونځ، له اصحابو (رضي الله عنهم اجمعین) سره ژوند. ان تردې چې سیرت روایت کوونکو له دومره دقت نه کار اخیستی چې د هغه (صلی الله علیه وسلم) په مبارکه ږیره او قدرمن سر کې یې د سپینو ویښتانو شمیره هم یاده او ذکر کړیده.

۳. د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) سیرت د یوه داسې انسان سیرت دی، چې الله (جل جلاله) په سالت مشرف کړی. دې سیرت نه هغه (صلی الله علیه وسلم) د انسانیت له مقام نه د الوهیت مقام ته

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



اوچت کړي، او نه يې هم د هغه د ژوند په هکله خرافات ويلي. که مونږ دا له هغه څه سره پرتله کړو کوم چې مسيحيان يې د عيسی (عليه السلام) په هکله، بودايان يې د بودا په هکله، او نور بت پرستان يې د خپلو بتانو په هکله وايي نو هله به د رسول (صلی الله عليه وسلم) او نورو د سيرت په توپير پوره پوه شو او دا کار د پيروانو په انساني سلوک باندې د لوی اثر درلودونکی دی. وينو چې د عيسی (عليه السلام) او بودا لپاره الوهيت ادعا ددې سبب شوې چې هغوی دواړه داسې درجې ته ورسوي چې هلته به هغوی د انسان د شخصي او ټولنيز ژوند لپاره سرمشق او نمونه (مثال) نه وي، حال دا چې محمد (صلی الله عليه وسلم) له پيدا ښت نه ترقيامته د هر هغه چا لپاره چې غواړي، شخصي، کورنی، او ټولنيز سعادت يې په برخه شي، لوی او کامل انساني مثال دی، له همدې ځايه ده چې الله (جل جلاله) فرمايي:

((لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِمَنْ كَانَ يَرْجُو اللَّهَ وَالْيَوْمَ الآخِرَ وَذَكَرَ اللَّهَ كَثِيراً)). (الاحزاب: ۲۱)

(په حقيقت کې ستاسې لپاره د الله په رسول کې يوه خورا غوره نمونه ده د هر هغه چا لپاره چې د الله او د آخرت د ورځې هيله من دی).

۴. د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) سيرت په يوه انسان کې د انسانيت ټولو برخو ته شامل سيرت دی، هغه مونږ ته د ځوان، امين، او په سمه لار روان محمد (صلی الله عليه وسلم) له نبوت نه د مخکې وخت نقلونه کوي، همدا راز راته د لوی بلونکي رسول الله (صلی الله عليه وسلم) د رسالت په لار کې زحمتونو، کوښښونو او

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



حکمتونو یادونه کوي، د یوه دولت د رئیس په توګه د هغه (صلی الله علیه وسلم) له خوا د دولت د صحیح او قوي نظم راوستل، د درستوار ګانونو جوړول، او بیا په پوره پوهه، اخلاص او صداقت د هغه ساتنه او د بري درشل ته رسول رابښیي، لکه چې د میړه او پلار په حیث د هغه (صلی الله علیه وسلم) نیکه عاطفه، شفقت، مهرباني، ښه رویه، د میړه، ښځې او اولاد د حقوقو تر مینځ روښانه توپیر راته بیانوي، همدا ډول د یوه مربي او مقتدر لارښوونکي په جامه کې راته د رسول (صلی الله علیه وسلم) له خوا د اصحابو (رضي الله عنهم) بی مثاله تربیه او روزنه روایت کوي کوم چې د همدې تربیې په وجه په اصحابو کې د پیروۍ روح دومره تقویه کیږي چې حتی په ډیرو کوچنیو مسئلو کې هم په هغه (صلی الله علیه وسلم) پسې اقتدا کوي. دا سیرت د رسول (صلی الله علیه وسلم) له خوا د ملګرتیا د حقوقو او آدابو ادا کولو ډیر حکایتونه هم لري، یعنې د هغو حقوقو او آدابو کیسې د کومو په واسطه چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په اصحابو (رضي الله عنهم) له خپلو ځانونو، مالونو او اولادونو نه زیات ګران شوی ؤ، همدا راز د یوه غیرتي او زړور جنګیالي، سوبمن قوماندان او سیاستمدار، امین همسایه او رینښتوني عهد کوونکي په حیث د رسول (صلی الله علیه وسلم) د ژوند نمونې بیانوي....

لنډه دا چې د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) سیرت په ټولنه کې د انسانیت ټولو اړخونو ته شامل سیرت دی، د هر داعي، قوماندان، میړه، ملګري، لارښوونکي، سیاستمدار، د دولت د رئیس او .... لپاره نیکه نمونه او لوړ مثال دی...

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



مونږ د پته ورته او یا د پته نږدې مثالونه د بل رسول، او اوسنیو او پخوانیو فیلسوفانو، او نورو ادیانو د خاوندانو په سیرت کې نه شو موندلای. د مثال په توګه، موسی (علیه السلام) د یوه امت د رهبر حیثیت لري، خپل امت یې له غلامۍ نه وژغوره، داسې قواعد او اصول یې ورته کېښودل چې یوازې د همغه امت لپاره وو او بس، خو په سیرت کې یې داسې څه نه لیدل کېږي چې هغه د جنګیالیو، لاربښوونکو، سیاستمدارانو، د دولت رئیسانو، پلرونو، او مېړونو لپاره نمونه او مثال وي.

عیسی (علیه السلام) د یوه زاهد بلونکي حیثیت لري، هغه لدې دنیا نه وخوت، خو مال کور او نور څه متاع نلري، او د مسیحیانو سره په موجوده سیرت کې یې ژوند د یوه جنګیالي قوماندان، د دولت د رئیس، پلار او مېړه (څکه هغه واده نه ؤ کړی) په حیث ندی تمثیل شوی حال دا چې د محمد (صلی الله علیه وسلم) سیرت دا ټول راته په څرګند ډول تمثیلوي.

اوس کولای شئ د بودا، کونفوشیوس، ارسطو، افلاطون، ناپلیون او نورو تاریخي لویانو په هکله هم همداسې ووایئ چې: هغوی د هیچا لپاره هم د قدوې او نمونې حیثیت نلري، او که چیرته داسې وي، نو هغه به یوازې د ژوند په هغه برخه کې وي په کومه کې چې نوموړو شهرت موندلی دی، په ټول تاریخ کې محمد (صلی الله علیه وسلم) یوازینی انسان دی چې د خلکو د ټولو ډلو او د هر ډول استعدادونو د خاوندانو لپاره کامله او نیکه نمونه او قدوه حسنه دی.

**۵. د محمد (صلی الله علیه وسلم) سیرت په یوازینۍ توګه د هغه د نبوت او رسالت، رښتنی او له شک نه خالي ثابت دلیل هم**

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



دی. ځکه هغه د یوه کامل انسان سیرت دی کوم چې د کامیابۍ له یوه پړاو نه بل ته د معجزو او خارق العاده لارې په عوض د دعوت له سوچه طبیعي لارې نه مخکې تللی دی. هغه دعوت پیل کړی، خو ورسره یې کړاوونه هم ګاللي، خلکو ته یې الهي پیغام رسولی، نو انصار (ملګري) یې هم پیدا کړي، که جنګ ته را ایستل شوی جنګ یې هم کړی، هغه حکیم و، پخپله رهبرۍ کې پوره بریالی ؤ، تر دې حده چې د وفات په وخت کې یې د دعوت حلقه تر ټولې ټاپو وزمې (عربي نړۍ) ځخه راتاو شوې وه هغه هم د ایمان او مینې له لارې، نه د زور او جبر له لارې.

که څوک د عربو له عاداتو، عقائدو، او د رسول (صلی الله علیه وسلم) د دعوت د مقابلې کولو لپاره د هغوی په رنګارنګ لارو، فریبونو، او هغه جنګ په کوم کې چې رسول (صلی الله علیه وسلم) بریالی شوی، د هغه (صلی الله علیه وسلم) او دښمنانو د قواوو له نابرابروالي او نا انډولۍ ځخه ځان خبر کړي، او بیا د رسول (صلی الله علیه وسلم) د رسالت لنډې (۲۳) کلنې مودې ته نظر وکړي، نو حتما به باور وکړي چې محمد (صلی الله علیه وسلم) د خدای (جل جلاله) ریښتونی رسول دی، الهي قوت، ثبات، تائید او کامیابي د هغه د نبوت له برکته ورسره ملګرې وه، ځکه الله (جل جلاله) کله هم له درواغجن سره پدې اندازه خپل تائید او کومک نه ملګری کوي.

د رسول (صلی الله علیه وسلم) سیرت مونږ ته له عقلي لارې نه د هغه د رسالت ریښتنولي ثابتوي او د هغه معجزې د عربو د ایمان لومړنی سبب او عامل نه دي، داسې نده شوې چې له عناده ډکو کافرانو د کومې معجزې په اساس ایمان راوړی وي، سره لدې چې مادي

Downloaded By: Afghan Salar Library



معجزې یوازې د لیدونکو او مشاهده کوونکو لپاره دلیل وي. دا ثابته ده چې هغو مسلمانانو چې نه یې رسول (صلی الله علیه وسلم) او نه یې د هغه معجزې لیدلې، د قاطعو عقلي دلایلو په اساس د محمد (صلی الله علیه وسلم) په نبوت ایمان راوړی. ددې عقلي دلایلو له جملې نه یو هم قرآنکریم دی، چې هر منصف او عاقل پدې قانع کولای شي چې د محمد (صلی الله علیه وسلم) په رسالت ایمان راوړي.

خو د نورو رسولانو موجوده سیرتونه داسې ندي، بلکه هغه روایت کوي او وایي چې خلکو پر هغوی باندې د معجزو او خارق العاده کارونو په اساس ایمان راوړی ؤ، نه دا چې د عقل او فکر له لارې یې د دعوت اصول درک کړي او بیایې ورباندې ایمان راوړی وي. ددې خبرې ریښتونی مثال حضرت عیسی (علیه السلام) کیدای شي، الله (جل جلاله) په قرآنکریم کې فرمایې چې: عیسی (علیه السلام) پر خپل رسالت باندې د یهودو د قناعت او ایمان لپاره لومړنی اساس دا گرزولی ؤ چې هغه له مورنه ړوند پیدا شوی، پیس او بل هر ناروغه ته صحت ورکوي، مړي ژوندي کوي، او خلکو ته د هغوی د خوراک، او د هغه څه په هکله چې په کورونو کې یې ذخیره کوي خبر ورکوي، البته دا ټول دالله (جل جلاله) په اذن سره. اوسني انجیلونه روایت کوي چې یوازې همدغه معجزې په یو څل باندې د ډیرو خلکو د ایمان راوړنې سبب شوی، او دا هم زیاتوي چې عیسی (علیه السلام) خدای، یا د خدای زوی دی (حاشا لله). مسیحیت له مسیح (علیه السلام) نه وروسته هم د معجزو او خارق العاده کارونو په مرسته خور شو، په (سفر اعمال الرسل) کې ددې مدعا لوی ثبوت وجود لري او مونږ کولای شو چې اوسنی مسیحي دین د عقلي قناعت پر ځای پر

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



معجزو او خارق العاده امورو ولاړ دين وبولو. له همدې ځايه ده چې د رسول (صلى الله عليه وسلم) د سيرت دا خصوصيت او ميزه نوره هم روښانيږي، ځکه هيڅا هم په محمد (صلى الله عليه وسلم) باندې د مادي معجزې په اساس ايمان ندی راوړی، بلکه د ټولو د ايمان سبب وجداني او عقلي قناعت دی. او دا چې الله (جل جلاله) هغه (صلى الله عليه وسلم) ته مادي معجزې هم ورکړې، نو دا يوازې د هغه (صلى الله عليه وسلم) د زيات اکرام او د دښمنانو د سپکاوي او ذلت بل دليل دی. له قرآن سره آشنا انسان پدې ښه پوهيږي چې د خلکو د قناعت حاصلولو لپاره قرآني لاره د عقلي محاکمې او الهي لوی صفت د مشاهدې لاره ده، همدا راز د امي محمد (صلى الله عليه وسلم) له خوا ددې قرآن راوړنه د هغه د رسالت د ثبوت او ريښتينولۍ دليل ګرزوي، الله فرمايي: ((وَقَالُوا لَوْلَا أُنْزِلَ عَلَيْهِ آيَاتٌ مِنْ رَبِّهِ قُلْ إِنَّمَا الْآيَاتُ عِنْدَ اللَّهِ وَإِنَّمَا أَنَا نَذِيرٌ مُبِينٌ (٥٠) أَوَلَمْ يَكْفِهِمْ أَنَّا أَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَابَ يُتْلَى عَلَيْهِمْ إِنَّ فِي ذَلِكَ لَرَحْمَةً وَذِكْرَى لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ)). (العنکبوت – ٥٠ / ٥١)

(دغه خلک وايي چې ولې پدغه سړي باندې دده د رب لخوا نښانې نازلې نشوی؟ ووايه! نښانې خو له الله سره دي او زه يوازې ډاروونکی يم په ډاګه ځرګنده او آيا د دوی لپاره دغه (نښانه) کافي نده چې مونږ پر تا باندې کتاب نازل کړ چې دوی ته په لوستلو اورول کيږي؟ په حقيقت کې پدې کې د هغه خلکو لپاره رحمت او نصيحت دی چې ايمان راوړي).

کله چې قريشو له رسول (صلى الله عليه وسلم) نه په معجزو غوښتلو

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



کې د مخکنیو امتونو په شان اصرار وکړ، الله خپل رسول (صلی الله علیه وسلم) ته امر وکړ چې داسې ځواب ورکړي: ((...قُلْ سُبْحَانَ رَبِّي هَلْ كُنتُ إِلاَّ بَشَراً رَسُولاً)). (الاسراء - ۹۳)

(... ووایه پاک دی زما پروردګار آیا زه له یو پیغام راوړونکي انسان نه پرته بل څه یم).

((وَقَالُوا لَنْ نُؤْمِنَ لَكَ حَتَّى تَفْجُرَ لَنَا مِنْ الأَرْضِ يَنْبُوعاً (۹۰) أَوْ تَكُونَ لَكَ جَنَّةٌ مِنْ نَخِيلٍ وَعِنَبٍ فَتُفَجِّرَ الأَنْهَارَ خِلالَهَا تَفْجِيراً (۹۱) أَوْ تُسْقِطَ السَّمَاءَ كَمَا زَعَمْتَ عَلَيْنَا كِسَفاً أَوْ تَأْتِيَ بِاللَّهِ وَالْمَلائِكَةِ قَبِيلاً (۹۲) أَوْ يَكُونَ لَكَ بَيْتٌ مِنْ زُخْرُفٍ أَوْ تَرْقَى فِي السَّمَاءِ وَلَنْ نُؤْمِنَ لِرُقِيِّكَ حَتَّى تُنَزِّلَ عَلَيْنَا كِتَاباً نَقْرَؤُهُ قُلْ سُبْحَانَ رَبِّي هَلْ كُنتُ إِلاَّ بَشَراً رَسُولاً)). (الاسراء- ۹۰ / ۹۳)

(او ویې ویل مونږ به ستا خبره تر هغه پورې ونه منو تر څو چې ته زمونږ لپاره ځمکه څیرې او یوه چینه ونه بهوې، یا ستا لپاره د کجورو او انګورو یو باغ پیدا شي او ته به په هغه کې ویالې روانې کړې، آیا ته په مونږ باندې آسمان ټوټه ټوټه راوغورځوې لکه چې دعوه کوې. یا الله او پرښتې مونږ ته مخامخ راولې، یا ستا لپاره د سرو زرو یو کور واوسي یا ته آسمان ته اوخیژه او ستا په ختلو به هم مونږ باور ونکړو تر څو چې ته په مونږ باندې یوه داسې لیکنه نازله نه کړې چې مونږ یې ولولو)) اې محمده! دوی ته ووایه پاک دی زما پروردګار! آیا زه له یو پیغام راوړونکي انسان نه پرته بل څه یم.

پدې ډول قرآنکریم په پوره وضاحت سره ددې اعلان کوي چې محمد

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



(صلی الله علیه وسلم) انسان او د خدای رسول دی، هغه د خپل رسالت په دعوه کې په معجزو تکیه نلري، بلکه عقلونو او زړونو ته خطاب کوي الله فرمایي:

((فَمَنْ يُرِدْ اللَّهُ أَنْ يَهدِيَهُ يَشْرَحْ صَدْرَهُ لِلإِسْلامِ...)).(الانعام – ١٢٥)

(الله چې هر چا ته د سمې لارې ښوولو اراده وکړي، د هغه سینه د اسلام قبلولو لپاره خلاصوي).

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# د نبوي سيرت مصادر

## نبوي سيرت څلور د اعتبار وړ او اصلي مصدرونه لري:

### ۱- قرآنكريم:

قرآنكريم د نبوي سيرت اساسي مصدر دی (د رسول عليه السلام د ژوند مختلفې پېښې يې بيان كړيدي). د مثال په توګه: قرآنكريم د رسول (صلی الله عليه وسلم) نشات (پيدا ښت) ته داسې اشاره كوي:

((أَلَمْ يَجِدْكَ يَتِيماً فَآوَى (٦) وَوَجَدَكَ ضَالاًّ فَهَدَى)). (الضحى: ٦-٧)

(آيا هغه ته يتيم ونه ميندلې او بيايې هستوګنځی درته برابر كړ؟ او ته يې لار نابلدی وميندلی او بيا يې لارښودنه وكړه).

او د هغه (صلی الله عليه وسلم) لوړ، كريم او پاك اخلاق داسې بيانوي ((وَإِنَّكَ لَعَلَى خُلُقٍ عَظِيمٍ)). (القلم : ٤)

(او بيشكه ته د لوړو اخلاقو مرتبه يې).

همداراز قرآنكريم د دعوت په لاركې په رسول (صلی الله عليه وسلم) باندې تېر شوي مشكلات، كړاوونه، د كفارو له خوا ورباندې د سحر او جنون لګيدلې تورونه، او د هغه (صلی الله عليه وسلم) هجرت، او له هجرته وروسته پېښ شوي جنګونه دا ټول بيانوي. وينو قرآنكريم د

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



بدر، احد، احزاب، حنين له جګړو (غزاګانو)، د حديبيې صلحې، او د مکې له فتحې نه خبرې کړيدي، او هم يې د رسول (صلى الله عليه وسلم) ځنې معجزې لکه اسراء او معراج بيان کړيدي.
لنډه خبره دا چې قرآنکريم د رسول (صلى الله عليه وسلم) د سيرت ډيره برخه بيان کړيده او څرنګه چې قرآنکريم د ځمکې پر مخ له ټولونه مؤثق او ريښتنى کتاب دى، د تواتر له لارې په اثبات رسيدلى. چې هيڅ عاقل انسان يې د نصوصو او تاريخي ثبوت په هکله شک نلري او دا چې د سيرت ځينې پيښې يې بيان کړيدي، نو بيشکه چې د سيرت تر ټولو صحيح او لومړنى مصدر بلل کيږي.
دا خو ښکاره ده چې قرآنکريم د نبوي سيرت پيښې بيله تفصيله (په مجمله) توګه بيان کړيدي. کله چې له يوه جنګ نه خبرې کوي، نو د جنګ اسباب، د مسلمانانو او مشرکينو شميره، او همدا راز د مړو او بنديانو شميره نه بيانوي، بلکه د دې پر ځاى د جنګ درسونه او پندونه په ګوته کوي. د پخوانيو انبياؤ (عليهم السلام) او ملتونو د کيسو په هکله هم د قرآنکريم طريقه همداسې ده. او له همدې امله مونږ نه شو کولاى يوازې پر قرآنکريم باندې په تکيه کولو سره د رسول (صلى الله عليه وسلم) د ژوند پوره او کامل تصوير وکښلى شو.

## ۲- نبوي صحيح احاديث:

په اسلامي نړۍ کې د احاديثو منل شوي کتابونه عبارت دي له.
شپږ صحيح کتابونه (صحاح ستة) (صحيح بخاري. صحيح مسلم، سنن ابي داؤد، سنن نسائي، سنن ترمذي او ابن ماجه)، د امام

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



مالک (رحمة الله علیه) مؤطا، او د امام احمد (رحمة الله علیه) مسند هم پدی جمله کې راځي. ددې ذکر شوو کتابونو له جملې نه صحیح بخاري او صحیح مسلم په خاصه توګه د صحت، ثقت او تحقیق د لوړې درجې درلودونکي دي او پاتې نور یې د صحیح او حسن احادیثو درلودونکي او حتی ځنې ضعیف (کمزوري) احادیث هم روایت کوي.

د رسول (صلی الله علیه وسلم) د ژوند، جنګونو، نورو پیښو او کارونو په هکله د نوموړو کتابونو د روایتونو په واسطه کولای شو د نبوي سیرت کامل او پوره انځور جوړ کړو. که څه هم ځنې نیمګړتیاوې به ولري. تر اصحابو (رضي الله عنهم) پورې په متصل سند سره د نبوي سنتو روایت نور هم د سیرت، ثقت او صحت زیاتوي او هم ورباندې د خلکو اطمینان زیاتیږي. ځکه اصحابو (رضي الله عنهم) له رسول (صلی الله علیه وسلم) سره ژوند کړی، او خدای دوی د خپل دین مرستندویان ګرزولي. او رسول (صلی اله علیه وسلم) پخپل لاس د هغوی روزنه کړې، نو هغوی به خود هم د اخلاقي استقامت، ایماني قوت، ریښتینولی، عقلي او روحي لوړتیا له لحاظه د تاریخ تر ټولو نسلونو اوچت نسل وي، هر څه یې چې له رسول (صلی الله علیه وسلم) نه په صحیح، متصل سند، مونږ ته روایت کړیدي، لازمه ده چې د تاریخي حقیقت په حیث یې داسې ومنو چې هیڅ شک او شبهه نه وي پکې.

مستشرقین او د غرب په جل او بل غولیدلي یو شمیر مسلمانان ددې کوښښ کوي چې د نبوي سنتو د مؤثقو کتابونو په هکله اشکال او شبهې را پیدا کړي، تر څو له همدې لارې د شریعت نړولو ته لاس

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



اوږد کړي، او د سیرت په هکله د خلکو باور او اطمینان له مینځه یوسي، خو د اسلامي دین ساتندوی او متکفل خدای (جل جلاله) د دوی د باطلو هلو ځلو د لغوه کولو لپاره هم خلک پیدا کړیدي، تر څو د هغوی غشي بیرته د دوی پر خوا وروشړي. ما (لیکونکي) هم پخپل کتاب (السنة و مکانتها من التشریع الاسلامي) کې د نبوي سنتو د تمحیص او ساتنې په هکله زمونږ د علماوو کوښښونو ته اشاره کړې او هم مو د مستشرقینو او د هغوی د پیروانو شبهې په علمي توګه رد او ځواب کړیدي، له الله (جل جلاله) نه یې د ثواب غوښتونکی یم او خدای (جل جلاله) یې د قیامت په ورځ زما په نیکیو کې وشمیري.

## ۳- د رسالت د وخت عربي شعر:

پدې کې خو شک نشته چې مشرکانو د خپلو شاعرانو له لارې هم پر رسول (صلی الله علیه وسلم) او د هغه پر دعوت داسې حملې او تعرضونه کړیدي چې مسلمانان یې د ښته اړ ایستلي دي چې د خپلو شاعرانو لکه حسان بن ثابت او عبدالله بن رواحه... په ژبه د هغوی ځواب ووایي. د ادب او سیرت کتابونه ددې ډول زیاتو شعرونو درلودونکي دي. او مونږ کولای شو ورځخه د هغه محیط او ټولنې په هکله په کومه کې چې رسول (صلی الله علیه وسلم) اوسیده او اسلامي دعوت پخپلو لومړنیو شپو او ورځو کې پکې وده کړې معلومات تر لاسه کړو.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# ۴- د سيرت کتابونه:

اصحابو (رضي الله عنهم) به نبوي سيرت له دوی نه وروسته خلکو ته روايت او بيانوه او ځينو اصحابو به د سيرت پيښې په ډېره دقيقه، تفصيلي او اختصاصي توګه روايت کولې. ورپسې تابعينو ددې روايتونو نقل او تدوين پيل کړ، چې له دوی نه هم ځينو ورته په خاصه او دقيقه توګه ملا وتړله لکه: ابان بن عثمان بن عفان (رضي الله عنهم) ((۳۲ ۱۰۵ هجري)) عروة بن الزبير بن العوام (( ۲۳ ۹۳ هجري)). او له وړو تابعينو نه عبدالله بن ابي بکر الانصاري، چې په ۱۳۵ هجري کال کې وفات شويدی، محمد بن مسلم بن شهاب الزهري (( ۵۰ / ۱۲۴ هجري)) او دا هغه څوک ؤ چې د عمر بن عبدالعزيز په امر سره يې نبوي سنت راټول کړي، او عاصم بن عمر بن قتادة الانصاري چې په ((۱۲۹ هجري)) کې وفات شويدی.

بيا له هغوی نه وروسته خلکو د نبوي سيرت سلسله جاري وساتله او په بيله توګه يې د سيرت تصنيف پيل کړ، د سيرت له لومړنيو او مشهورو مصنفينو نه يو هم محمد بن اسحاق بن يسار دی چې په (۱۵۲ه) کال وفات شويدی، او د جمهورو علماوو او محدثينو له خوا د باور وړ ګرزيدلی، خو يوازې مالک او هشام بن عروة بن الزبير وربانديې جرحه کړيده، مګر ډېرو محقيقنو دا جرحه د دوی او ابن اسحاق تر مينځ د شخصي مخالفت نتيجه بللې ده.

ابن اسحاق خپل ((المغازي)) نومي کتاب له احاديثو او هغه روايتونو څخه چې په مصر او مدينه کې يې پخپلو غوږونو اوريدلي تاليف کړيدی، خو متاسفانه نوموړی کتاب مونږ ته ندی را رسيدلی، او

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



پدې سره مو له علمي ميراث نه لوی شی کم شوي دي که څه هم د کتاب مضمون محفوظ پاتې دی چې ابن هشام پخپل سيرت کې د خپل شيخ او د ابن اسحاق له مشهور شاګرد (بکايي) څخه روايت کړيدی.

## د ابن هشام سيرت:

هغه ابو محمد عبدالملک بن ايوب الحميري دی، چې په بصره کې پيدا شوی او په (۲۱۳) يا (۲۱۸) هجري کال کې وفات شويدی. ابن هشام خپل کتاب (نبوي سيرت) له ابن اسحاق نه د خپل شيخ (بکايي) له روايتونو، او د خپلو نورو استادانو له شخصي هغو روايتونو نه چې ابن اسحاق ندي راوړي تاليف کړيدی. ابن هشام پخپل کتاب کې د ابن اسحاق هغه روايات چې ده له خپل علمي ذوق او نقاد طبيعت سره برابر ندي ليدلي نه روايت کوي، نو په همدې سره دا کتاب د سيرت له ټولو نه صحيح، دقيق او کامل مصدر ګرزيدلی دی، او تر دې اندازې خلکو منلی چې ورته د ابن هشام سيرت وايي. نوموړی کتاب د اندلس د دوو عالمانو سهيلی (( ۵۰۸ ۵۸۱ هجري)) او الخشني (( ۵۳۵ ، ۲۰۴ هجري )) له خوا شرح شويدی.

## طبقات ابن سعد:

هغه محمد بن سعد بن منيع الزهري دی، په ۱۲۸ هجري کال په بصره کې پيدا شوی او په (۲۳۰ هجري) کال په بغداد کې وفات شويدی. نوموړی د سيرت او غزاګانو د مشهور مورخ محمد بن عمر الواقدي (

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



۲۰۷/۱۳۰ هجري) کاتب ؤ. ابن سعد پخپل کتاب ((الطبقات)) کې د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) له سیرت نه وروسته د اصحابو او تابعینو نومونه د هغوی د طبقو، قبیلو او ځایونو په اساس بیانوي. دا کتاب (الطبقات)) د سیرت له لومړنیو او باوري مصادرو څخه شمیرل کیږي. او هم د اصحابو او تابعینو د نومونو له ټولو نه ښه ساتونکی دی.

## تاریخ الطبري

هغه ابو جعفر محمد بن جریر الطبري چې په ((۲۲۴ هجري)) کې زیږیدلی او په (۳۱ هجري) کې وفات شوی دی. نوموړی امام. فقیه، محدث او د خاص فقهي مذهب خاوند ؤ، خو مذهب یې ډیر ندی خور شوی. ده پخپل کتاب (تاریخ) کې یوازې په نبوي سیرت باندې اکتفا نده کړې. بلکه د مخکنیو امتونو بیان یې هم کړیدی، بیا یې د رسول (صلی الله علیه وسلم) د سیرت لپاره د خپل کتاب یوه خاصه برخه بیله کړې او وروسته یې د خپل مرګ تر نژدې وختونو پورې د اسلامي دولتونو له تاریخ نه خبرې کړیدي.

طبري سره لدې چې پخپلو روایتونو کې ثقه او حجت بلل کیږي، خو ډیر خله له روایانو نه د روایاتو په اسناد اکتفا او بسنه کوي او پدې سره کمزوري او باطل روایتونه هم رانقلوي.د مثال په توګه ابي مخنف چې یو متعصب شیعه ؤ رانقل شوي روایتونه، چې طبري هغه ته په اسناد کولو سره ډیر روایتونه نقل کړیدي، ګویا پدې سره طبري ددې روایتونو بار او مسئولیت د ابي مخنف په غاړه وراچوي او خپل ځان ورڅخه خلاصوي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ ...salar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# په سیرت کې د تالیف تطور (بدلون):

لد پنه وروسته د سیرت په تالیف او لیکنه کې بدلون راغی، د ځینو اړخونو یې بیل تالیف پیل شو. لکه ((دلایل النبوة)) د اصفهاني لیکنه، ((شمائل المحمدمية)) د ترمذي لیکنه، ((زادالمعاد)) د ابن قیم جوزي لیکنه، ((الشفاء)) د قاضي عیاض لیکنه، ((المواهب اللدنية)) د قسطلاني لیکنه چې د زرقاني ((۱۱۲ ه وفات شویدی)) په قلم په آتو جلدونو کې شرح شویدی.

اوس هم علماء له نوي عصر او نسل سره په برابره لاره او طریقه د سیرت لیکنې کوي، او زمونږ پدې اوسني وخت کې په سیرت کې له ټولو تالیف شوو کتابونو نه د شیخ محمد الخضري (رحمة الله علیه) ((نور الیقین في سیرة سید المرسلین)) نومی کتاب مشهور او معروف دی، دا کتاب هر چا ته منلی او د اسلامي نړۍ په زیاتو دیني مدارسو او معهدونو کې تدریس کیږي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# لومړی فصل
# له بعثت نه مخکې ژوند

## الف: تاريخي پيښې:

له بعثت نه مخکې د محمد (صلى الله عليه وسلم) د ژوند په هکله ثابت شوي خبرونه لاندېني حقيقتونه په ګوته کوي.

۱- محمد (صلى الله عليه وسلم) له ټولو عربي کورنيو نه په غوره او اشرفه کورنۍ کې زېږېدلی دی، هغه د قريشو له اشرف شاخ (بنو هاشم) څخه دی، قريش پخپله هم په عربو کې د لوړ مقام، پاک نسب او زيات شرافت لرونکې قبيله ده. له عباس (رضي الله عنه) نه روايت دی چې رسول (صلى الله عليه وسلم) فرمايلي: ((ان الله خلق الخلق، فجعلني من خيرهم من خير فرقهم، و خير الفريقين، ثم تخير القبائل فجعلني من خير قبيلة،ثم تخير البيوت،فجعلني من خير بيوتهم فانا خيرهم نفسا و خيرهم بيتا)).رواه الترمذي بسند صحيح.

(خدای (جل جلاله) خپل مخلوق پيدا کړ، نو زه يې د هغوی بهتر او له بهترې ډلې نه وګرزولم او د دوو ډلو له بهترې ډلې نه، بيا يې قبيلې اختيار کړې، نو زه يې له تر ټولو غوره قبيلې نه وګرځولم، بيا يې کورنۍ اختيار کړې، او زه يې له ټولو ښې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/AfghanSalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



کورنۍ نه وګرځولم، نو زه د دوی تر ټولو د بهتر نفس خاوند او تر ټولو د بهترې کورنۍ نه یم).

د قریشو په مینځ کې د دې کریم نسب د اوچتوالي له امله ده چې هغوی د نسب په هکله په محمد (صلی الله علیه وسلم) باندې د تهمتونو او تورونو لګولو مجال ندی موندلی، ځکه د هغه نسب دوی ته ښرګند او ښکاره ؤ، پداسې حال کې چې لدینه پرته په نورو ډیرو شیانو کې یې بې بې اساسه او دروغ تورونه وریوري ترلي دي.

۲- محمد (صلی الله علیه وسلم) یتیم پیدا شوی، هغه د مور په نس کې د دوو میاشتو ماشوم ؤ چې پلار یې (عبدالله) وفات شویدی، کله چې شپږ کلن شو مور یې (آمنه) هم وفات شوه. او پدې سره محمد (صلی الله عدیه وسلم) په وړکتوب کې د مور او پلار د شفقت له غیږې محروم او بې برخې شو چې لدې وروسته یې بابا (عبدالمطب) سرپرستي کوله. خو کله چې آته کلن شو نو بابا یې هم وفات شو او بیا یې تره (ابوطالب) کفالت په غاړه واخیست، تر څو چې لوی او ځوان شو. قرآنکریم د محمد (صلی الله علیه وسلم) یتیم والي ته اشاره کوي فرمایي: (( أَلَمْ يَجِدْكَ يَتِيماً فَآوَى)). (الضحی :٦). (آیا هغه ته یتیم ونه میندلې).

۳- رسول (صلی اله علیه وسلم) د ژوند څلور لومړني کلونه په دښته کې له (بني سعد) قبیلې سره تیر کړیدي، او له همدې امله

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



د قوي او سالم بدن څښتن ؤ، ژبه يې فصيحه او زړه ورؤ، حتی چې په وړکتوب کې يې د آس سپرلي ښه زده وه، لنډه دا چې د صحرا د پاکې، آرامې هوا او ځليدونکي لمر له برکته يې ټول استعدادونه د ودې او کمال لوړ پوړ ته ورسيدل.

۴- محمد (صلی الله علیه وسلم) له وړکتوب نه تر ټولو نجيب او د اوچت استعداد خاوند ؤ، او له همدې کبله په هر ليدونکي ګران و. کله به چې عبدالمطلب پخپل فرش ناست ؤ، نو د هغه له زامنو (د رسول صلی الله علیه وسلم ترونو) نه به يو هم نه ورسره کيناست، خو رسول (صلی الله علیه وسلم) به راغی او د خپل بابا په ځای به کيناست، ترونو به يې غوښتل چې د عبدالمطلب له فرش نه يې ليرې کړي، خو کله به چې عبدالمطلب وليد نو ورته ويل به يې: زوی مې پريږدئ، قسم په خدای چې د ډير لوړ شان درلودونکی دی.

۵- رسول (صلی الله علیه وسلم) د ځوانی په لومړيو کې د څو کمو پيسو (چار يک، شش يک دينار) په بدل کې د مکې د خلکو رمه پووله. له هغه (صلی الله عله وسلم) نه روايت دی چې فرمايي: ((ما من نبي الا قد رعی الغنم)) قالوا: و انت يا رسول الله! قال: ((و انا)).و في رواية اخری انه قال:((ما بعث الله نبيا الا رعی الغنم)) فقال اصحابه: ((و انت يا رسول الله؟ فاجاب: ((و انـا رعيتها لاهل مكة علی قراريط)).نشته هيڅ پيغمبر مګر خو

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



ګډې یې څرولې دي اصحابو (رضي الله عنهم) ورته وویل: او تاسې یا رسول الله (صلی الله علیه وسلم)؟ ویې فرمایل: هو ما هم څرولې. په بل روایت کې راځي چې ویې فرمایل: الله نه دی لیږلی هیڅ پیغمبر مګر رمه یې څرولې، نو اصحابو ورته وویل او تاسې یا رسول الله (صلی الله علیه وسلم)؟ ځواب یې ورکړ او ما هم د مکې خلکو ته د قیراطو په بدله کې رمه څرولې ده (یو قیراط ۲۰۰ ملي ګرامه وي او یو مثقال شل قیراطه کیږي).

او کله چې د (۲۵) کالو شو نو د خدیجې بنت خویلد په مال یې د مزدورۍ په بدله کې تجارت پیل کړ.

۶- رسول الله (صلی الله علیه وسلم) هیڅ کله هم له خپلو همزولو سره په لهوه او عبث کارونو کې ګډون نه دی کړی، ځکه خدای پاک لدې نه ساتلی و. د سیرت په کتابونو کې راځي چې یو ځل رسول (صلی الله علیه وسلم) د ځوانۍ په دوران کې له یوه کور نه د واده د مراسمو پخاطر جوړ شوي محفل نه آوزا واورید، ویې غوښتل چې ویې ګوري، خو الله (جل جلاله) خوب وربانددې راووست، او تر هغې پورې ویده ؤ، تر څو د لمر تودوالي راویښ کړ. له خپل قوم سره یې د بتانو عبادت کې یو شیبه ګډون نه دی کړی، او نه یې د بتانو په نامه له حلال شویو مالونو نه څه خوړلي، شراب یې ندي څښلي، قمار یې ندی وهلی، بده او خرابه خبره هم نده ترې اوریدل شوې.

۷- نبي (صلی الله علیه وسلم) له ډیر ورکتوب نه د قوي عقل او

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



سالم نظر د خاوند په حیث مشهور ؤ په کعبه کې د حجر اسود د اینبسولو پیښه ددې مدعا څرګند دلیل دی. کله چې د کعبې دیوالونه د سیلاب په واسطه خراب شول د مکې خلکو وغوښتل دیوالونه ونړوي او بیا یې له سره نوي جوړ کړي، کار یې پیل کړ خو کله چې خبره د حجر اسود پخپل ځای اینبودلو ته ورسیده، په منځ کې یې شدید اختلاف پیدا شو، چې د حجر اسود پخپل ځای اینبودلو شرف به دې چا په برخه شي، هرې قبیلې دا شرف د ځان لپاره غوښت، اختلاف دومره زیات شو چې د جنګ خبرې پیل شوې خو وروسته پدې راضي شول، هر څوک چې د بني شیبه، له دروازې را داخل شو هغه به د دوی په مینځ کې فیصله کوي د خدای تقدیر داسې و چې لدې دروازې لومړی رسول (صلی اله علیه وسلم) را ننوت، کله چې قریشو ولید نو ویې ویل دا امین دی، په حکم والي یې راضي یو. رسول (صلی الله علیه وسلم) چې په مسئلې پوه شو، مشکل یې پداسې حکمت سره حل کړ چې ټول ورڅخه خوشاله شول خپل څادر یې آوار کړ، بیا یې حجر اسود پکې کیښوده، بیا یې هرې قبیلې ته امر وکړ چې د څادر یوه څنډه ونیسي، کله یې چې خپل ځای ته ورسوله، نو پخپله یې حجر اسود واخیسته او په ځای یې کیښوده، ټول خوشحاله شول، او الله جل جلاله) دده د عقل او حکمت په واسطه عرب له جګړې او وینو تویولو نه وساتل.

**۸- محمد (صلی الله علیه وسلم) په ځوانۍ کې د صادق او امین**

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



په نامه پېژندل کېده، او د عربو په مېنځ کې په وفا، نېکه معامله، ښه نامه او پاک خوی باندې مشهور ؤ. د همدې لوړ مقام درلودلو له امله خدیجې غوښتنه ورنه وکړه چې ددې مال بصرى نومي ښار ته په هغه قافله کې د تجارت لپاره یوسي کومه چې هر کال به یوځل نوموړي ښار ته تلله. او دا ژمنه یې ورسره وکړه چې د بل چا په نسبت به ده ته دوه چنده مزدوري ورکوي. او کله چې هغه (صلى الله علیه وسلم) بیرته مکې ته راستون شو د خدیجې غلام (مریي)میسره، خپله باداراه (خدیجه) د هغه په اخلاص او امانت خبره کړه او خدیجې پخپله هم ددې سفر زیاته ګټه لیده، نو یې د ټاکل شوې مزدورۍ دوه چنده مزدوري ورکړه، او بالاخره یې له هغه سره د واده غوښتنه وکړه. محمد (صلى الله علیه وسلم) دا غوښتنه قبول کړه که څه هم عمر یې له خدیجې (رضي الله عنها) نه ((١٥))کاله کم و. له نبوت نه مخکې د محمد (صلى الله علیه وسلم) پر نیک خوی ښه دلالت کونکی دلیل د خدیجې (رضي الله عنها) دا قول دی چې هغه وخت یې ورته ویلی و کله چې رسول الله (صلى الله علیه وسلم) د حرا په غار کې په بعثت مشرف شو او خپل کور ته په ویره کې راغی خدیجې (رضي الله عنها) داسې ورته ویلي ؤ:((کلا والله لا یخزیک الله ابدا انک لتصل الرحم و تحمل الکل (الضعیف) و تکسب المعدوم، و تقرئ الضیف و تعین علی نوائب

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



الحـق)). (قسم په خدای چې الله به تاهیڅکله رسوا نکړي، ته د صل رحم خاوند يې، له کمزوري سره مرسته کوې، بې برخې ته څه ورکوې، د میلمه عزت کوې او په مصیبتونو کې کومکي يې یا تل او په هر حالت کې د حق پلوي کوې).

۹- محمد (صلی الله علیه وسلم) لـه مکې نه د باندې دوه ځلې سفرونه کړیدي، یو ځل په دوولس کلنۍ کې له خپل تره (ابو طالب) سره، او دوهم ځل په (۲۵) کلنۍ کې د خدیجې (رضي الله عنها) لـه تجارتـي قافلې سره چې دا دواړه سفرونه د شام (بصری) نومې ښار تـه ؤ، او په هر سفر کې يې د سوداګرو خبرې اوریـدې او د لارې پـه جـریان کـې يـې د ښـارونو اثـار، او د اوسیدونکو خویونه او عادات په ځیر ځیر کتل.

۱۰- لـه بعثت نه څو کاله مخکې الله (جل جلاله) د محمد (صلی الله علیه وسلم) پـه زړه کـې ددې مینه ور اچولـې وه چـې د حراء غارتـه لاړ شي. دغه غر د مکې په شمال لویدیځې خوا کې پروت دی، رسول (صلی الله علیه وسلم) بـه هلتـه د رمضان په میاشت کې تشریف ووړ، تر څو د خدای (جل جلالـه) پـه نعمتونو، او د قدرت پـه ننداړو کې پـه ګوښې تـوګه له ځان سره فکر وکړي، او دې کار تـه یې تر هغې ادامه ورکړه تر څو چې قرآنکریم ورباندې نازل شو.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



## ب - درسونه او پندونه:

لـه مخکنـیو پیښـونه څیرونکـي لاندینـي درسـونه او نتیجـې اخستلی شي:

۱ - پـه هـره انـدازه چې د الله (جـل جلالـه) لور ته بلونکی او تولنیز مصلح د شرف او لوړ نسب خاوند وي په همغه اندازه يې د خلکو لـه خـوا خبـره ښـه اوریدلـه کیـږي، ځکه د خلکو عـادت داسې دی چې په تیټ نسبه بلونکو او اصلاح غوښتونکو د بـاور پـه ځای ملنډې وهـي، خـو کـه داعـي د لوړ او شریف نسب خاوند وي، نو بیا لـه تورونـو پـرته بـل څـه نشي پسې ویلی. همدا وجـه ده چې هرقل لـه ابوسـفیان نـه لومړی د رسـول (صلی الله علیـه وسلم) د نسـب پـه هکلـه پوښتنه وکړه، هغـه وخت چې رسـول (صلی الله علیـه وسـلم) هـرقل تـه خـط واسـتوه، هغـه او قـوم يـې اسـلام تـه دعـوت کـړل، نـو هـرقل ابو سفیان را وغـوښت او ورتـه ویې ویل هغـه (ص) د څـه ډول نسـب خـاونـد دی؟ ابـو سـفیان چې لاتـر اوسـه يـې ایمـان نـه ؤ راوړی ځـواب ورکـړ: هغـه زمونږ پـه مینـځ کـې لـه ټولـو نـه د غـوره نسـب درلـودونکی دی. او کلـه چې هـرقل لـه ابـو سـفیان نـه خپلـې پوښـتنې خلاصـې کـړې، او ځـوابـونه يـې هـم واوریـدل، نـو بـیا يـې لـه ابوسـفیان نـه د رسـول (صلی الله علیـه وسـلم) پـه هکلـه د خپلـو پوښتنو علت داسې بیـان کـړ: د هغـه (صلی الله علیـه وسـلم) د نسـب پوښتنه مې درڅخه وکړه، ودې ویل چې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



هغه ستاسې په مينځ کې د اشرف نسب خاوند دی، دا الله خپل نبي د قوم له اشرافو او غوره نسب درلودونکو نه ټاکي صحيح ده چې اسلام ته د اعمالو په مقابل کې نسب څه ارزښت نلري. خو دا ددې مانع هم نه شي کېدای چې د شريف نسب او شريف عمل او فضل خاوند دې له نورو نه لوړ، اکرم او بريالی وي لکه چې رسول (صلی الله عليه وسلم) فرمايلي دي: ((خيارکم في الجاهلية خيارکم في الاسلام اذا فقهوا)).

(په جاهليت کې ستاسې غوره کسان، په اسلام کې هم ستاسې غوره کسان دي پدې شرط چې پوه وي).

٢- په وړکتوب کې يتيم والی او د ژوندانه نور کړاونه، د انساني لوړو مفاهيمو په هکله د بلونکي احساس قوي کوي، د يتيمانو، فقيرانو او ربړول شويو خلکو په وړاندې يې د رحم او مهربانۍ احساس او عاطفه زياتوي - او رحيم، مهربان، او د درمند او با انصافه زړه خاوند ور نه جوړوي.

هر داعي ته په کار ده چې د انساني اوچتو عواطفو درلودونکی وي. ترڅو د بېوزلانو او دردمندو، درد حس کړای شي او دا نيکې عاطفې به هغه وخت د يوه انسان په وجود کې پيدا کيږي چې د يتيمانو، فقيرانو او مسکينانو په شان درد او غم وويني.

٣- داعي چې هر څومره فطرت نه نژدې، او له با تکلفه محيط نه لېرې وي په همغه اندازه د صفا ذهن، قوي عقل، پياوړي

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



جسم، سالم نفس، روښانه فکر او قوي منطق درلودونکي وي، همدا وجه ده چې الله (جل جلاله) عرب د اسلامي رسالت د اداکولو پخاطر انتخاب کړيدي، ځکه ددې کار لپاره د عربو انتخاب هسې تصادفي مسئله او کار نه ؤ، بلکه دوی د خپلو ګاونډیانو په نسبت د پاکو نفسونو، سالمو فکرونو، ښو اخلاقو او بالاخره د اسلامي دعوت په لاړ کې د راز راز مشکلاتو په وړاندې د زيات مقاومت، ثبات او پايدارۍ خاوندان وو.

۴- له یوه او ذکي شخص نه پرته بل څوک د قيادت او دعوت صلاحيت او اهليت نلري، غبي او جاهل خلک د فکري، روحي او اصلاحي قيادت (مشرۍ) استعداد درلودونکي نه دي، بلکه د ژوند طريقه داسې ده چې غبي او د نا سالم فکر درلودونکي کسان په یوه ميدان کې هم مشرۍ او رهبرۍ ته نه رسيږي، که تصادفاً کوم يو دې مقام ته و هم ورسيږي، نو ژر به بيرته د پستۍ کندې ته لويږي او قوم به يې وروسته له هغه چې په بې عقلۍ، او ناپوهۍ يې پوه شي ورنه جدا کيږي.

۵- بلونکي ته په کار ده چې د خپل ژوند وسائل د خپلو مټو په زور او له داسې لارې نه تامين کړي چې له هر ډول ذلت او خوارۍ نه پاکه وي.

ريښتيني او شريف داعي د خلکو په صدقو او خيراونو ژوند نه تيروي، هغه څوک څنګه د خپل قوم په وړاندې د عزت او کرامت وړ ګرزيدلی شي چې ځان يې په سوال او سوالګرۍ سره ذليل

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



کړي وي. کله مو که څوک د داعي او مرشد تر نامه لاندې ولیدل چې ډېر سوال کوي او په ډول ډول چلونو د خلکو مالونه راټولوي نو حتمي به مو د هغه په سپکاوي یقین پیدا شي او باور لرو چې هغه ته به هم خپل ځان سپک ښکاریږي، او چا ته چې پخپل ځان سپک ښکاري. نو د قوم او ګاونډیانو په وړاندې به یې ارزښت څه وي؟ څوک چې د خپل ځان سپکاوی خوښوي، څنګه کولای شي د نیکو اخلاقو لور ته بلنه وکړي، د طاغوتیانو او مفسدینو په وړاندې ودریږي، د شر او فساد مقابله وکړي. او په ملت کې د کرامت، شرف او عزت روح راژوندی کړي؟

۲- په ځوانۍ کې د داعي نیک عمل، په نیکه لار برابري او پاک اخلاق د دې سبب کیږي چې هغه د الله (جل جلاله) لور ته په بلنه، د خلکو په اصلاح او د منکراتو په مقابله کې له بل هر چا نه موفق او پیش قدمه وي ځکه هیڅوک به هم د داسې یو شخص له دعوت نه مخکې ژوند سلوک او کردار ته د انتقاد ګوته نه شي نیولی. ډېر ځله داسې پیښه شویده چې څنې خلک د اصلاح او اخلاقي سمون لپاره ملا تړي، خو د هغوی ملوثه او خرابه ماضي، او بد اخلاق، د دې سبب کیږي چې خلک یې دعوت ونه مني بلکه ټول ورته شا کړي. او دا بده ماضي یې د ریښتینولۍ په هکله هم د شک پیدا کولو عامل او سبب ګرزي. ځکه د اصلاحي دعوت تر پردې لاندې د نورو خرابو شیانو په غوښتلو متهم کیږي او یا خو دا ورته ویل کیږي چې تاسې وروسته له

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



هغه چې د شهوت نيلی موسترۍ کړ اصلاح غوښتونکي شوی، يا داسې وضعه درباندې راغلې او يا مو عمر دې حدته رسيدلی چې نور په همدې روانه وضعه او موجوده حال کې د پاتې کيدو نه څه د مالي ګټې، مقام يا شهرت طمع نه لرئ.

خو په ځوانۍ کې د پاک سيرت او نيک عمل درلودونکی داعي به تل هسک سر او سپين مخ ولاړ وي، او د اسلامي دعوت دښمنان به يې د خپل پاک عمل په واسطه لدې نه عاجز کړي وي چې د ده د ماضي په هکله څه بد وويلی شي او بيا له دې بدو نه په استفادې سره خلک ورنه متنفر او د هغه په نسبت بې تفاوته کړي او ټول يې د ټيټ منزلت او بې شخصيته انسان په توګه وپيژني.

هو! الله (جل جلاله) د صادق او مخلص توبه کوونکي توبه قبلوي، د نيکيو په ذريعه يې پخوانۍ بدۍ له مينځه وړي، ليکن دا ډول توبه ګار به د هغه بلونکي په شان نه وي چې د خپل نيک سيرت، پاکو اخلاقو او روښانه ماضي په برکت د خپل دعوت د کاميابۍ انتظار باسي.

٧- له سفر او له خلکو سره له ګډ ژوندانه نه لاسته راغلي تجربې د خلکو په عاداتو، وضعه او مشکلاتو باندې پوهه د بلنې په لار کې د داعي په کاميابۍ کې لوی اثر او اغيزه لري. هغه کسان چې يوازې د کتابونو او مقالو له لارې له خلکو سره په تماس کې وي، د اصلاحي دعوت په لار کې يې د کارونو نتيجه منفي

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



وي، خلک ورته غوږ نه ږدي او عقل يې دعوت ته مثبت ځواب نه وايي، ځکه خلک پدې پوه دي چې دا ډول خلک د هغوی له وضعې او مشکلاتو نه ناخبره دي. څوک چې د ديندارانو اصلاح کول غواړي، نو بايد له هغوی سره په جوماتونو او د هغوی په نورو مجلسونو او ټولنو کې و اوسي، څوک چې د کارګرانو او دهقانانو د سمون طمع لري نو وربانديې لازمه ده چې له هغوی سره په کليو او فابريکو کې و اوسيږي، هغوی ته پخپلو کورونو کې ډوډۍ ورکړي، او د هغوی په غونډو کې ورته خبرې وکړي. د ورځنيو معاملاتو اصلاح غوښتونکی هم بايد له خلکو سره په بازارونو، تجارتخانو، فابريکو، غونډو او نورو مجالسو کې ګډون وکړي. همدا راز څوک چې د سياسي وضعې د اصلاح او برابرۍ دعوه لري نو بايد له سياستمدارانو سره يو ځای شي. سياسي تنظيمونه وپيژني، وېناوې يې واوري. د احزابو پروګرامونه په ښه توګه وڅېړي او تر نظر يې تېر کړي، بايد د هغوی د ژوند محيط وپيژني، د ثقافت له سرچينې او له هدف نه يې پوره ځان خبر کړي، تر څو وکولای شي پداسې کلماتو او لاره يې د اصلاح لور ته را دعوت کړي چې له داعي او بلنې سره يې کينه او دښمني پيدا نه شي.

د داعي لپاره ضروري ده چې له ځان سره د ژوند دومره تجربې او د خلکو د مختلفو امورو په هکله دومره معلومات ولري چې وکولای شي د الله (جل جلاله) لاتديني امر د عمل په ميدان کې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



په نسه توګه پلې کړای شي: (( ادْعُ إِلَـى سَبِيلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ )). (النحل: ١٢٥)

ای پیغمبره (صلی الله علیه وسلم) د خپل رب د لارې په لوري په حکمت او غوره نصیحت سره بلنه ورکړه).

دا ماثور قول څومره ښکلی او په زړه پوری دی چې وايي خلکو ته د هغوی د عقلونو (پوهې) سره برابرې خبرې کوئ. ایا غواړئ چې په الله او رسول (صلی الله علیه وسلم) پورې دروغ وتړل شي؟ (بخاري)

۸- د الله (جل جلاله) لورته بلونکي ته په کار ده چې وخت په وخت ځان له نورو کارونو نه فارغ، او ګوشه نشين شي، داسې ګوشه نشيني چې روح يې له الله سره اتصال ومومي، نفس يې له بدو اخلاقو، او شاو خوا ناپاک ژوند نه پاک او په امن شي. دا ډول ګوښې کيناستل او خلوت انسان له ځان سره حساب او محاسبې ته متوجه کوي، که چیرې يې د خیر په کار کې سستي کړې وي، د حکمت لارې پرېښې وي، په کومه طريقه کې غلط شوی وي، له خلکو سره يې بې ځايه جدال او مناقشه کړې وي، نو دا ګوښې کيناستل الله (جل جلاله) وريه يادوي، او د قيامت ورځ، جنت، دوزخ، مرګ او د مرګ سختۍ يې سترګو ته دروي. همداوجه ده چې تهجد او د شپې عبادت په نبي (صلی الله علیه وسلم) باندې فرض او په نورو (امت يې) مستحب ګرزيدلی دی،

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



او د الله لور ته بلونکي باید له بل هرچا نه د دې نفلونو په ادا کولو کې مخکې او همیشه پرې پابند وي. خلوت، تهجد او د الله عبادت داسې خوند او لذت لري چې یوازې هغه څوک یې درک کولی شي چې الله عزت ورکړی وي. ابراهیم بن ادهم (رحمة الله علیه) به د خپل تهجد او عباداتو په آخر کې ویل: مونږ پداسې خوندونو او مزو کې یو که پاچایان پرې خبر شي حتما به جنګ راسره پرې وکړي.

رسول (ص) ته د الله (جل جلاله) راتلونکی خطاب پدې هکله راته کافي او شافي دی:

((یَـا أَیُّهَـا الْمُزَّمِّلُ (۱) قُمْ اللَّیْلَ إِلاَّ قَلیلاً (۲) نِصْفَهُ أَوْ انْقُصْ مِنْهُ قَلیلاً (۳) أَوْ زِدْ عَلَیْهِ وَرَتِّلْ الْقُرْآنَ تَرْتیلاً (٤) إِنَّا سَنُلْقِي عَلَیْكَ قَوْلاً ثَقیلاً (٥) إِنَّ نَاشِئَةَ اللَّیْلِ هِيَ أَشَدُّ وَطْئاً وَأَقْوَمُ قیلاً (٦)). (المزمل: ۱/ ۷)

(اې ځان نغښتونکی ویده کیدو نکیه، شپه په لمانځه کې په ولاړه تیره کړه مګر کمه، نیمایي شپه یا له هغې نه یو څه کمه کړه، یا له هغې نه یو څه زیاته کړه او قرآن ښه په کراره کراره لوله مونږ پر تا باندې د یو درانده کلام نازلوونکي یو په حقیقت کې د شپې پاڅیدل د نفس کنترولولو لپاره ډیراغیزمن او د قرآن د صحیح لوستلو لپاره زیات مناسب دی.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



# دوهم فصل
# له بعثت نه حبشې ته تر هجرته

## الف: پيښې:

پدې موده کې لاندينۍ مهمې تاريخي پيښې ثابتې شويدي:

١. په رسول الله (صلى الله عليه وسلم) باندې د وحي نازليدل کله چې رسول الله (صلى الله عليه وسلم) څلويښت کلن شو، جبرائيل (عليه السلام)، د رمضان (روژې) د مياشتې په (١٧مه) د دوشنبې په ورځ ورباندې وحي راوړه. امام بخاري په خپل صحيح کې په متصل سند له عائشې (رضي الله عنها) نه د وحي د نازليدو کيفيت داسې بيانوي فرمايي:

(اول ما بدئ به رسول الله (صلى الله عليه وسلم) الرؤيا الصالحة في النوم، فكان لا يرى رؤيا الا جاءت مثل فلق صبح، ثم حبب اليه الخلاء، وكان يخلو بغار حراء يتحنث فيه (وهوالتعبد)، الليالي ذوات العدد قبل ان يترع الى اهله، ويتزود لذلک، ثم يرجع الى خديجة فيتزود لمثلها، حتى جاءه الحق وهو في غار حراء، فجاء الملک فقال له: اقرا، فقال: ما انا بقارئ قال: فاخذني فغطني حتى بلغ مني الجهد ثم ارسلني فقال: اقرا فقلت ما انا بقارئ، فاخذني

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



فغطني الثانية حتى بلغ مني الجهد، ثم ارسلني فقال: اقرا. فقلت ما انــا بقــارئ، فاخذني فغطني الثالثة، ثم ارسلني فقال: (اقرا باسم ربــک الذي خلق، خلق الانسان من علق، اقرا وربكم الاكرم الــذي علــم بالقلم، علم الانسان ما لم يعلم) فرجع بها رسول (صــلى الله علــيه وسلم) يرجف فؤاده فدخل على خديجة بنت خــويلد (رضــي الله عنها) فقال: زملوني، زملوني. فزملوه حتى ذهــب عنه الروع، فقال لخديجة و اخبرها الخبر لقد خشيت على نفســي. فقالت خديجة: كلا و الله لا يخزيک الله ابدا، انک لتصل الرحم، و تحمل الكل، و تكسب المعدوم، و تقرئ الضيف و تعين على نوائب الحق. فانطلقت به خديجة حتى اتت به ورقة بن نوفل بن اسد بن عبدالعزى، وكان ابن عم خديجه، وكان امرءاً تنصر في الجاهلــية وكــان يكــتب الكتاب العبراني، فيكتب من الانجيل بالعبرانية ما شاء الله ان يكتب، وكان شيخا كبيرا قد اعمى فقالت لــه خديجة: يا ابن عم اسمع من ابن اخيک. فقال له ورقة: يا ابن اخي ماذا ترى؟ فاخبره رسول الله (صلى الله عليه وسلم) خبر ما راى، فقــال له ورقة: هذا الناموس (صاحب الوحي وهو جبريل) الذي نزل على موسى، ياليتني فيها جذعا (شابا قويا) ليتني اكون حيا اذ خرجک قومک، فقال رسول الله (صلى الله عليه وسلم):

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



او مخرجـــي هـــم؟ قـــال: نعم، لم يات رجل قط بمثل ما جئت به الاعودي، و ان يدركني يومک انصرک نصر مؤزرا، ثم لم ينشب ورقة ان توفي وفتر الوحي).

رسـول (صـلى الله علـيه وسـلم) بانـدې د وحـي پـيل د ريښـتينو خوبونو په بڼه کې وشو. خوب به يې چې ليده همسې به کيدل او داسې به ؤ لکه چې د ورځې په رڼا کې يې چې ګوري بيا يې يوازيتوب غوره کړ، زياتره شپې ورځې به د حرا په سمڅه کې اوسيده په عبادت به بوختيدو له کور څخه به يې د خوراک او څښاک وسايل له ځانه سره وړل او هلته به يې څو ورځې شپې تيرولې بيا به خديجې (رضي الله عنها) ته راته او هغې به د څو نورو ورځو توښه ورته تياروله بالاخره پداسې حال کې چې د حرا په سمڅه کې ؤ ناڅاپه ورباندې وحي نازله شوه، پرښته راغله ورته ويې ويل ولوله(له دې وروسته حضرت عايشه (رضي الله عنها) په خپله د رسول (صلى الله عليه وسلم) وينا نقل کوي) ما وويل (( زه خو لوستونکی نه يم)) پرښتې تر هغې پورې په غيږ کې ټينګ ونيولم چې په ما کې نور زغم او حوصله پاتې نشوه بيا يې خوشې کړم او ويې ويل ولوله وويل ما وويل: ((زه خو لوستونکې نه يم )) هغه بيا په غيږ کې ټينګ ونيولم چې په ما کې نور زغم او حوصله پاتې نشوه بيا يې پريښودم)) هغه دريم ځل بيا په غيږ کې ټينګ ونيولم تر څو په ما کې نور زغم او

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



حوصله پاتې نشوه بيا يې پرېښودم او ويې ويل (( ولوله د خپل رب په نوم چې هغه پيدا کړيدی ،د کلکې وينې له يوې ټوټې څخه يې انسان هست کړ، ولوله، او ستا رب ډير مهربان دی هغه د قلم په مرسته علم وښوده. انسان ته يې هغه علم ورکړ چې هغه پرې نه پوهيدو)). عايشه (رضي الله عنها) فرمايي له هغه ورسته د رسول (صلی الله عليه وسلم) په اندامونو لړزه راغله له هغه ځايه خديجې (رضي الله عنها) ته راستون شو او ويې ويل ((ما ونغاړئ، ما ونغاړئ)) همداسې وشول او ونغښتل شو. کله يې چې د ويرې حالت ايسته شو نو ويې ويل ((اې خديجې! دا پرما څه شوي دي بيا يې ټوله کيسه ورته واوروله او ويې ويل (( له ماسره د خپل ځان ويره ده)) هغې ورته وويل ((هيڅکله داسې نده، ته خوښ اوسه، په خدای قسم چې خدای به تا هيڅ وخت بې پردې نکړي ته له خپلوانو سره ښه چارچلند کوې، رښتيا وايې د بې اسرې خلکو پيټي اوچتوې، بېوزلو کسانو ته د ورکړې له پاره زيار باسې، ميلمه پالنه کوې او په ښو چارو کې مرسته کوې)) بيا يې هغه له ځانه سره خپل د تره زوی ورقه بن نوفل بن اسد بن عبدالعزی ته بوته. نوموړی د جاهليت په زمانه کې عيسايي ؤ په عبراني ژبه يې انجيل ليکلی ؤ ډير زيات بوډا او په سترګو ړوند شوی ؤ. حضرت خديجې (رضي الله عنها) ورته وويل: ورروره لږ غوندې د خپل وراره کيسه واوره، ورقه پيغمبر (صلی الله عليه وسلم) ته وويل ووايه څه دې ليدلي دي؟

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



رسول الله (صلی الله علیه وسلم) چې څه لیدلي وو هغه یې بیان کړل. ورقه وویل دا هماغه ناموس (وحي راوړونکې پرېښته) ده چې الله پر موسی (علیه السلام) نازله کړې وه کاشکي زه ستا د پیغمبرۍ په زمانه کې غښتلی ځوان وای! کاشکي زه تر هغه وخته ژوندی و اوسم چې ستا قوم تا وباسي. رسول (صلی الله علیه وسلم) وویل آیا دا خلک به ما وباسي؟ ورقه وویل: هو، هیڅکله داسې نشي کیدای چې څوک دې هغه څه راوړي کوم چې تا راوړیدي او دښمني دې ورسره ونشي، که چیرته زه تر هغه وخته پاتي شوم نو په ډیر میړانه به دې مرسته وکړم. خو ل ازیاته موده نه وه شوې چې ورقه مړ شو.

ابن هشام له ابن اسحاق نه پدې هکله داسې روایت کوي: رسول (صلی الله علیه وسلم) د حراء په غار کې ویده و چې جبرائیل (علیه السلام) په یوه ورېښمن لوښي کې کتاب راوړ، او ورته یې وویل: ولوله... رسول (صلی الله علیه وسلم) وفرمایل: ومې لوست، بیا پای ته ورسید، او هغه راڅخه لاړ، بیا زه له خوبه راویښ شوم، او داسې حال ؤ لکه چې دا کتاب مې په زړه لیکل شوی وي، ویې فرمایل: راووتم او کله چې د غره نیمایي ته ورسیدم، له آسمانه مې یو غږ واورید چې وایې: اې محمده (صلی الله علیه وسلم) ته د الله (جل جلاله) رسول یې او زه جبرائیل یم، کله مې چې پورته د اسمان لوري ته وکتل، ګورم چې جبرائیل (علیه السلام) د انسان په شکل د آسمان په څنډو

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



کې ښکاري وايي: اې محمده (صلی الله علیه وسلم) ته د الله (جل جلاله) رسول يې او زه جبرائيل (علیه السلام) یم. رسول (صلی الله علیه وسلم) فرمايي: ودريدم او ورته ګورم، مخکې وروسته نه ځم، که هرې خوا ته مخ کړم په همغه طرف کې يې په همدې شکل سره وينم، او تر هغې پورې پخپل ځای ولاړ وم تر څو چې خديجې (رضي الله عنها) راپسې څوک راولېږل.

۲- په رسول الله (صلی الله علیه وسلم) باندې له ټولو نه ړومبی خديجې (رضي الله عنها) ايمان راوړ، بيا د رسول (صلی الله علیه وسلم) د تره زوی علي (رضي الله عنه) چې هغه وخت لس کلن ؤ اسلامي دين ومانه، او وروسته د رسول (صلی الله علیه وسلم) غلام (مريي) زيدبن حارثه بيا ابوبکر (رضي الله عنه) په ايمان مشرف شول او په غلامانو کې لومړی بلال بن ابي رباح الحبشي په رسول (صلی الله علیه وسلم) باندې ايمان راوړی ؤ، نو پدې سره خديجه (رض) لومړنۍ ښځه ده چې په مطلقه توګه لومړنۍ مسلمانه بلل کيږي. رسول (صلی الله علیه وسلم) له خديجې (رضي الله عنها) سره يوځای د دوشنبې په ورځ چې د رسول (صلی الله علیه وسلم) د لمانځه اولنۍ ورځ وه لمونځ ادا کړ، او هغه وخت لمونځ دوه رکعته د سهار او دوه رکعته د ماسختن ؤ.

۳- بيا د يو څه مودې لپاره وحې بنده شوه، نه نازليده، ددې مودې د اوږدوالي او لنډوالي په هکله مختلف روايتونه موجود

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/molaafghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



دي، چې زياته موده يې درى كاله او كمه يې شپږ مياشتي بنودل شويده، او همدا شپږ مياشتې صحيح اندازه ده

. د وحي قطع کيدل په رسول (صلى الل عليه وسلم) باندې ډير مشکل تمام شول، تر دې اندازې پورې خفه شو چې غرونو ته به لاړ او ددې اراده به يې وکړه چې ځان له غره نه د لاندې واچوي (١)

دا پدې ګمان چې ګويا الله (جل جلاله) وروسته له هغې چې د رسالت شرف يې ورکړ بيرته پرېښودو، خو ددې مودې له تيريدو نه وروسته بيرته ورباندې وحي را نازله شوه. امام بخاري له جابر بن عبدالله الانصاري او هغه له رسول (صلى الله عليه وسلم) نه روايت کوي فرمايي:

(بينما انا امشي اذسمعت صوتا من السماء، فرفعت بصري فاذا الملک الذي جاءني بحراء جالس على كرسي بين السماء و الارض فرعبت منه، فرجعت فقلت: زملوني، فانزل الله تعالى:(( يَا أَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ (١) قُمْ فَأَنذِرْ (٢) وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ (٣) وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ (٤) وَالرُّجْزَ فَاهْجُرْ (٥).

(کله چې زه روان وم له آسمانه مې يو آواز واوريد. ومې کتل که ګورم چې همغه ملکه (پرښته) چې په حراء کې راته راغلې و د آسمان او ځمکې تر مينځ په يوه چوکۍ ناسته ده، ورڅخه وويريدم بيرته راوګرزيدم، او ومې ويل پټ مې کړئ، نو خداى پاک دا آيتونه راباندې نازل کړل ((اې ځان نغښتونکيه! پاځيږه او

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



خبرداري ورکړه او د خپل رب لويي اعلان کړه او خپلې جامې پاکې وساته او له چټلۍ نه په څنګ اوسه)) بيا وحي پر له پسې ادامه درلوده.

۴- له پنځه وروسته رسول (صلی الله عليه وسلم) پوره درې کاله هغه کسان اسلام ته رابلل چې د هغوی په ذهانت او عقلي قوت يې باور درلود، تر څو يو شمير نارينه وو او ښځو چې ټول په نفسي سلامتيا، او عقلي قوت مشهور وو د اسلام منلو شرف وګاټه

۵- وروسته له هغه چې د مسلمانانو شميره د (۳۰) شا و خواته ورسيده، الله (جل جلاله) رسول (صلی الله عليه وسلم) ته امر وکړ چې نور خپله بلنه علني کړي. الله فرمايي: (( فَاصْدَعْ بِمَا تُؤْمَرُ وأَعْرِضْ عَنْ الْمُشْرِكِين)). (الحجر – ۹۴)

(نو اې پيغمبره! د کوم شي چې تا ته حکم کيږي هغه په لوړ آواز ووايه او د مشرکانو يو بخرې پروا مکوه).

۶- پدې سره د رسول (صلی الله عليه وسلم) او نورو نويو مسلمانانو تعذيب او شکنجې کولو مرحله پيل شوه. په مشرکينو باندې د رسول (صلی الله عليه وسلم) دعوت ډير سخت تمام شو، ځکه د محمد (صلی الله عليه وسلم) له خوا د دوی بتانو ته پد ويل کيدل او د دوی له عقيدوي خرافاتو نه پرده پورته کيدله، د واحد الله (جل جلاله) لور ته يې بلل، د هغه الله

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/AfghanSalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



(جل جلاله) لور ته چې بشري عقل او سترګې يې د ذات له ادراک نه عاجزې دي، هغه په ټولو شيانو پوه، لطيف او خبير ذات دی.
نو دا دعوت مشرکينو پر خپلو په اصطلاح خدايانو باندې تعرض ګڼه او د هغوی د انتقام پخاطر يې د مسلمانانو او اسلامي دعوت په وړاندې د ظلم او تيرې توره پورته کړه.
٧- پدې دوره کې به رسول (صلی الله عليه وسلم) دارقم بن ابي ارقم په کور له مسلمانانو سره پټ مجلسونه کول هغوی ته به يې نازل شوي آياتونه لوستل، او هغه ټول شرعي احکام او ديني اصول به يې ورښودل کوم به چې هغه وخت په رسول (صلی الله عليه وسلم) باندې نازليدل.
٨- په همدغه مرحله کې رسول (صلی الله عليه وسلم) مامور کړای شو چې خپل خپلوان انذار کړي (ويې ويروي) نو هغه (صلی الله عليه وسلم) د صفا غونډۍ سر ته وخوت او د قريشو هرې قبيلې ته يې بيل بيل آوازونه وکړل، ټول يې د اسلامي دين منلو او د بتانو د عبادت پريښودلو ته دعوت کړل، له دوزخه يې وويرول د جنت په لوري يې ترغيب کړل، په پای کې ابولهب ورته وويل! هلاک شې، آيا مونږ دې ددې لپاره راټول کړو؟ پدې پسې (تبت يدا ابي لهب) سورت را نازل شو.
٩- قريشو ډير خله دا کوښښ وکړ او ويې غوښتل چې رسول (صلی الله عليه وسلم) په شهادت ورسوي، خو د هغه (صلی الله عليه وسلم) تره ابو طلب ورنه دفاع وکړه او هغوی ته يې و نه

Downloaded By: Afghan Salar Library



سپاره. یو ځل ابو طالب وروسته له هغې چې قریشو ته یې د رد ځواب ورکړ له رسول (صلی الله علیه وسلم) نه وغوښتل چې په خپل دعوت کې څه نرمي وکړي. محمد (صلی الله علیه وسلم) داسې ګمان وکړ لکه چې نور یې تره هم همکاري پرېښوده، نو تره ته یې خپل موقف پدې ټکو کې واوراوه: قسم په خدای (جل جلاله) که مې لمر په ښي لاس او سپوږمۍ، په چپ لاس کې راکړي زه به دا دعوت تر هغې پرېنږدم، تر څو خدای (جل جلاله) بریالی کړی نه وم، او یا یې د دفاع په لار کې مړ شوی نه وم.

۱۰- له دې نه وروسته پر رسول (صلی الله علیه وسلم) او اصحابو (رضي الله عنهم) د قریشو ظلمونه، شکنجې او تکلیفونه څو چنده شول، تردې حده چې د زیاتو وهلو، ځورولو او تعذیب له امله یو شمیر مسلمانان مړه، او ځنې ړانده شول.

۱۱- کله چې قریشو د رسول (صلی الله علیه وسلم) او اصحابو (رضي الله عنهم) ایماني قوت او پخپله پاکه عقیده ثبات او ټینګار ولید، نو یې له رسول (صلی الله علیه وسلم) سره د خبرو او مذاکراتو لاره ونیوله. رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ته یې د زیات مال او دولت پیش کش وکړ خو رسول (صلی الله علیه وسلم) د هغوی ټول وړاندیزونه رد او ځواب کړل.

۱۲- رسول (صلی الله علیه وسلم) چې کله په خپلو اصحابو (رضي الله عنهم) د قریشو وحشیانه ظلمونه او پرله پسې تیري ولیدل نو ورته یې وفرمایل: (لو خرجتم الی ارض حبشة، فان

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



فيها ملكا لا يظلم احدا عنده حتى يجعل الله لكم فرجا و مخرجا مما انتم فيه).

(که د حبشې ځمکې ته لاړ شئ ښه به وي ځکه هلته داسې پاچا دی چې د ده تر حکم لاندې په هیڅا هم ظلم نه شي کیدای! او هم هلته پاتې شئ تر څو خدای (جل جلاله) مو لدې حالت نه خلاص کړي. د همدې امر په اساس د لومړي ځل لپاره (١٢) نارينه او (٤) ښځو حبشې ته هجرت وکړ.

دا مهاجرين چې کله د عمر (رضي الله عنه) په اسلام راوړلو او د اسلامي دعوت له قوت نه خبر شول بیرته مکې ته راغلل، خو ډيره موده لا نه وه تيره شوې چې بيرته له نورو مسلمانانو سره يو ځای حبشې ته د دوهم ځل لپاره مهاجر شول، او دا ځل د مهاجرينو شمير (٨٣) نارينه او (١١) ښځې وې.

١٣ - له رسول الله (صلى الله عليه وسلم) او بني هاشم او بني المطلب قبيلو سره د قريشو اقتصادي او هر اړخيز پريکون (مقاطعه)، داسې پريکون چې نه به ورسره نکاح کوي، نه به څه ترې اخلي او نه به يې پرې پلوري، نه به ورسره يوځای کيني، نه به يې سوله مني او نه به ورسره سوله کوي.

دې عمومي مقاطعې دوه درې کاله دوام درلود. رسول (صلى الله عليه وسلم) او ورسره نورو ملګرو يې په دې مرحله کې زيات کړاوونه وګالل، ترڅو په پای کې د قريشو د ځينو عاقلانو په

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



مرسته دا مقاطعه پای ته ورسیده او ختمه شوه.

## ب: درسونه او پندونه

۱ - الله (جل جلاله) که له چانه د خیر و اصلاح بلونکی جوړول وغواړي، نو د هغه په زړه کې د ټولنې د فساد او گمراهۍ په هکله نفرت اچوي او پخپله یې له دې ناروا کارونو نه لیرې ساتي

۲ - محمد (صلی الله علیه وسلم) نه له خپل نبوت څخه خبر ؤ او نه یې د نبوت امید درلود، خو الله ورته الهام کړی ؤ تر څو د خلوت له لارې د عبادت په واسطه ځان پاک کړي، او د رسالت د پېټي وړلو او وحي استقبالولو لپاره آمادگي ونیسي، که چیرې رسول (صلی الله علیه وسلم) د نبوت طمعه درلودای نو د وحي نازلیدو له امله به نه ویریدلی او نه به یې د خدیجې (رضي الله عنها) نه د حراء په غار کې د پیښې شوې حادثې په هکله معلومات غوښتل. رسول (صلی الله علیه وسلم) تر هغې پورې پخپل رسالت لا پوره یقین نه درلود تر څو چې جبرائیل (علیه السلام) نه ؤ ورته ویلي چې: ته د الله رسول او زه جبرائیل یم، او څو چې خدیجې ورته تاکید نه ؤ کړی او ورقة ابن نوفل نه ؤ ورته ویلي چې د غار حراء واقعه له هغه وحي نه عبارت ده کومه به

Downloaded By: Afghan Salar Library



چې پر موسی (علیه السلام) نازلیده.

۳- اصلاحي دعوت که چیرې د عمومي افکارو مخالف وي، داعي ته ښایي چې تر هغې پورې یې په جهر اعلان نکړي، تر څو یو داسې ټولګي ایمان نه وي پرې راوړی چې له دعوت نه د دفاع په لار کې له سر او مال نه تیر وي، تر دې پورې که چیرې د دعوت خاوند له مینځه لاړ هم شي، نو پیروان به یې دعوت ته په پوره ایمانداری سره دوام ورکړي، او په همدې سره د دعوت د دوام تضمین هم کیدای شي.

۴- محمد (صلی الله علیه وسلم) عربو ته داسې څه راوړل چې هغوی ورسره لد پنه مخکې هیڅ آشنایي نه درلوده او همدې عربو د رسول (صلی الله علیه وسلم) د دعوت سخت مخالفت وکړ اود دعوت د مشر او ملګرو د له مینځه وړلو لپاره یې له هیڅ ډول، زور، چل او فریب نه ډه ډه ونکړه، نو دا خبره پخپله د نیشنلستانو ددې مدعا (تور) چې وایي: محمد (صلی الله علیه وسلم) په خپل رسالت کې د عربو د اهدافو او آرزوګانو تمثیل کاوه یو تاریخي رد او ځواب دی. دا او دېته ورته ادعاګانې ډیرې بې مفهومه او بې معنی دي ځکه تاریخي پیښې یې پخپله ردوي، په قومیت کې ډیره مبالغه او اسلامي دین ته له عربي افکارو نه جوړ شوی دین ویل ددې سبب شوي چې ددې فکر خاوندان د پورته یادو شویو خبرو په شان خبرې وکړي او په ډاګه ده چې دا ډول تصور له نبوت نه څرګند انکار او د اسلامي

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



رسالت توهین او کم ښودل دي.

۵- د اشرارو او ګمراهانو له خوا د راز راز تعذیبونو، ظلمونو، ځورونو او دردونو په وړاندې د مؤمنانو ثبات او مقاومت پخپله د هغوی په ایماني صدق، له ایمان او عقیدې سره اخلاص، روحي او نفسي لوړتیا باندې ریښتنی دلیل دی، ځکه مؤمنان دا ټول تکلیفونه د نفس آرامي او روحي اطمینان بولي، او ددې مادي زحمتونو په مقابل کې د الله (جل جلاله) رضا غواړي او ښکاره ده چې د خدای (جل جلاله) رضا تر هر څه او هر درد او غم نه لویه او لوړه ده.

مؤمنان، او مخلص داعیان تل د بدن د سیطرې او تسلط په ځای تر خپلې روحي سیطرې لاندې وي خپل روحي ضروریات په پوره میړانه پرته لدې چې بدني لذت، راحت او مړه ګیډه په نظر کې ونیسي پوره کوي او یوازې له همدې لارې دعوت بریالی کیږي، او ملتونه له تیارو او ګمراهیو نه نجات مومي.

۶- د رسول (صلی الله علیه وسلم) له خوا خپل تره (ابو طالب) ته هغه مشهور قول او د هغه (صلی الله علیه وسلم) له طرفه د قریشو د مال او دولت نه قبلول، د هغه (صلی الله علیه وسلم) د رسالت په ریښتنولۍ، او خلکو ته هدایت غوښتنې باندې له ټولو نه قوي دلیل دی.

داعي ته په کار ده چې د خپل دعوت د دوام پخاطر کلکه اراده او کلک تصمیم ولري، له هر ډول مشکلاتو سره مقابله وکړي،

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



په مال او پاچايۍ ونه غوليږي، ځکه د حق په لار کې مشکلات د مؤمنانو لپاره د زړه آرامي او روحي خوشالي ده او د مؤمن په نزد د الله (جل جلاله) رضا او جنت له دنيا او مافيها نه څو چنده لوړ او قدرمن ده.

٧- داعي ته ضروري ده چې له خپلو ملګرو سره هره ورځ او يا هره هفته غونډې وکړي تر څو هغوی ته د دعوت لار، آداب او اسلوب ورزده کړي او د دعوت په نسبت يې ايمان او باور پوخ شي، خو د خطر او فشار په وخت کې دا غونډې بايد پټې او سري وي ترڅو د باطل پاسداران په يوه آواز سره هغوی له مينځه يو نه سي او فشار او عذاب ورباندي زيات نکړي.

٨- بلونکي ته په کار ده چې د خپلوانو خوا ته پاملرنه وکړي، د اصلاح دعوت ور ورسوي او که يې و نه مني، نو د الله (جل جلاله) او خلکو په وړاندې به يې غاړه خلاصه وي، عذر او دليل به هم ورسره موجود وي.

٩- که چيرته داعي خپله ډله د مرګ او يا فساد په خطر کې ويني، نو ورباندې لازمه ده چې چيرته يو داسې ځای برابر کړي، چې پيروان يې هلته له باطل پرستانو نه په امن وي.

دا کار کله هم د قربانۍ او فداکارۍ منافي ندی ځکه حق پرستان که لږ وي د شيطان لښکر کولای شي په ډيره آسانۍ سره هغوی بالکل ختم کړي اوله دعوت نه يې بې غمه شي، خو که هغوی په يوه مطمئن ځ ی کې وي نو بيا يې د دعوت د بقا او

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



استمرار او خوریدو امیدونه ډیر وي.

۱۰- حبشې ته د اصحابو (رضي الله عنهم) په لومړي او دوهم هجرت باندې د رسول (صلی الله علیه وسلم) امر کول پدې دلالت کوي چې د دین لرونکو خلکو تر مینځ د دین رابطه که څه هم دینونه یې مختلف وي، د دین لرونکو او ملحدینو او یا بت پرستانو د رابطې په نسبت ډیره ټینګه ده، ځکه آسماني ادیان د مصدر، اصولو او اجتماعي لویو اهدافو له لحاظه ټول سره یو دي ـ او ټول په الله (جل جلاله)، رسولانو (علیهم السلام) او د قیامت په ورځ ایمان کې سره شریک دي - او همدا وجه ده چې دیني قرابت د وینې، خپلوۍ، ځای او هرې بلې رابطې او قرابت نه کلک او پوخ دی.

۱۱- د باطل پلویان په آسانۍ سره حق ته غاړه نه ږدي، بلکه عادت یې دا وي چې یوه وسیله یې کار ورنکړي بله په کار اچوي... تر څو چې حق بري ته ورسیږي او باطل بالکل د نیستۍ کندې ته کوز شي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



# دريم فصل

## حبشې ته له هجرته مدينې ته تر هجرې

### ۱ - پيښې:

پدې مرحله کې راتلونکې مهمې پيښې واقع شوي دي.

۱. د بعثت په لسم کال د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) تره ابو طالب وفات شو، نوموړي له خپل وراره محمد (صلى الله عليه وسلم) نه په ټول ژوند کې په کلکه ملاتړ کاوه. او دده په ټول ژوند کې قريشو ونه شواى کولاى چې رسول (صلى الله عليه وسلم) ته شخصاً څه ډول تکليف ور ورسوي، ځکه هغوى له يوې خوا ابو طالب ته احترام درلود او له بلې خوا يې ډېره ورځخه کوله. خو کله چې ابو طالب وفات شو، قريشو په ډير جرات سره د رسول (صلى الله عليه وسلم) په زيات آزار او تکليف لاس پورې کړ. له همدې کبله د نوموړي وفات د رسول (صلى الله عليه وسلم) د زيات غم او خفګان سبب شو. رسول (صلى الله عليه وسلم) ډير زيات کوښښ وکړ چې تره يې (ابو طالب) د مرګ په بستره کې د اسلام کلمه ووايي. خو هغه د قومي شرم نه د ځان ساتلو په دليل له اسلام راوړلو نه انکار وکړ.

۲ - په همدې کال د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) مېرمن بي بي خديجة (رضي الله عنها) هم وفات شوه. خديجې (رضي الله عنها) به د قريشو له لاسه پيدا شوي غمونه او کړاونه له رسول (صلى الله عليه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



وسلم) نه کمول، او د هغه (صلی الله علیه وسلم) خوشاله ساتلو کوښښ به یې کاوه خو کله چې هغه مړه شوه رسول (صلی الله علیه وسلم) بې حده زیات خفه شو او دغه کال یې چې تره او بي بي یې پکې وفات شول عام الحزن (د غم کال) وباله.

۳- کله چې رسول (صلی الله علیه وسلم) د خپل تره او میرمنې له وفات نه وروسته د قریشو له ظلمونو ډیر په تنګ شو، نو طائف ته یې مخه کړه، پدې ګمان چې ګوندې په ثقیف کې به د خپل دعوت لپاره قبلوونکي او کومک کوونکي پیدا کړي، مګر هغوی ډیره بده رویه ورسره وکړه، خپل ماشومان یې ورتوش کړل، رسول الله (صلی الله علیه وسلم) یې په تیږو وویشته تر دې چې پر دواړو مبارکو پښو یې وینې را ماتې شوې. بیا د طائف یوه باغ ته ننوت او خدای (جل جلاله) ته یې د دعا لاس پورته کړل او ویې ویل: اې الله! تا ته له خپلې ناتوانۍ، بې وسۍ او د خلکو په نزد له بې قدرۍ نه شکایت کوم، یا ارحم الراحمین! ته زما او کمزورو رب یې، چا ته مې پریږدې؟ هغه پردي ته مې پریږدې چې ډیر بد راته ګوري؟ او که دښمن ته مې سپارې؟ که ته ناراضه نه وې نو د هیڅ چا پروا نه لرم، ستا عافیت راته له هر څه پراخه دی، ستا د مخ په هغه نور چې تیارې پرې روښانه شوې، د دنیا او آخرت کار وربانديې برابر شوې ستا له قهر او غضب نه پناه غواړم، ستا رضا زما رضا ده، که ستا مرسته نه وي، نه د نیکۍ وس لرم او نه له بدۍ نه د منع کیدلو قدرت.

۴- رسول الله (صلی الله علیه وسلم) له طائف نه پداسې حال کې بیرته راستون شو چې بني ثقیف یې دعوت ونه مانه، خو یوازې د ربیعه د زامنو (عتبه او شیبه) غلام (عداس) ایمان پرې راوړ. عداس یو

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



نصراني مریی ؤ بادارانو یې امر ورته وکړ چې رسول (صلی الله علیه وسلم) ته څه اندازه انګور ورکړي، ځکه هغوی د رسول (صلی الله علیه وسلم) ستړیا او د ثقیف له خوا ورباندې ظلم لیدلی و. کله چې عداس رسول (صلی الله علیه وسلم) ته انګور وړاندې کړل. رسول (صلی الله علیه وسلم) په (بسم الله) ویلو سره د انګورو په خوړلو شروع وکړه، دې کار د عداس توجه را جلب کړه ځکه په ټول قوم کې داسې څوک نه و چې بسم الله ووایي بالاخره د عداس او نبي (صلی الله علیه وسلم) تر مینځ څه خبرې وشوې چې په نتیجه کې عداس په اسلام مشرف شو.

۵- د اسراء او معراج معجزه هم په همدې دور کې پیښه شوې ده، د نوموړې پیښې د وقوع د تاریخ په هکله خو څه اختلاف موجود دی ولې صحیح دا ده چې نوموړې معجزه له هجرت نه مخکې د بعثت په لسم کال یا لږ وروسته پیښه شوې ده. د جمهورو عالمانو په نزد اسرا او معراج دواړه په یوه شپه کې په ویښه په روح او بدن دواړو سره تر سره شوي دي، رسول (صلی الله علیه وسلم) له مسجد الحرام نه تر مسجد الاقصی پورې د شپې بوتلل شو وروسته له هغه خایه لوړو آسمانونو ته وخیژول شو او په همدې شپه کې بیرته خپل کور ته حې په مکه کې ؤ راستون شو او قریش یې له دې معجزې څخه خبر کړل، قریشو په دې خبرې پورې ملنډې ووهلې خو د قوي ایمان خاوندانو او په سر کې ابوبکر صدیق (رضي الله عنه) دا خبر تصدیق کړ.

۶- په همدې شپه په هر بالغ او عاقل مسلمان باندې د ورځې پنځه وخته لمونځونه فرض شول.

۷- نبي (صلی الله علیه وسلم) به هر کال د حج په موسم کې په مختلفو

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



قبیلو تاویده او هغوی به یې د بتانو له عبادت نه د الله (جل جلاله) عبادت ته رابلل، نو د خپل همدې عادت سره سم یې دا ځل د عقبې (هلته چې شیطانان ویشتل کیږي) تر څنګ د اوس او خزرج د قبیلو له ډلې سره ملاقات وشو هغوی یې اسلام ته راوبلل، او هغوی اسلام ومانه، ددې ټولګي شمیر اوه کسه ؤ. کله چې مدینې ته ستانه شول خپل قوم یې له دې واقعې او اسلام راوړو نه خبر کړ.

۸- د بعثت په دولسم کال د حج په موسم کې له انصارو نه دولس کسان راغلل له رسول (صلی الله علیه وسلم) سره یې وکتل او ورسره یې بیعت وکړ د بیرته تلو په وخت کې رسول (صلی الله علیه وسلم) مصعب بن عمیر ورسره لیږه تر څو هغوی ته د قرآنکریم تلاوت وروښیي په اسلام یې پوه کړي او په همدې سره په مدینه کې د اسلام روښانه وړانګې ډیرې خورې شوې...

۹- د راتلونکي کال د حج په موسم کې بیا له انصارو نه یو ټولی چې ((۷۰)) نارینه او دوې ښځې وې پکې مکې ته راغی، له رسول (صلی اله علیه وسلم) سره یې وکتل او داسې بیعت یې ورسره وکړ چې هغوی به په خپل ټول توان سره له رسول (صلی الله علیه وسلم) نه داسې تائید، دفاع او ملاتړ کوي لکه له خپل اولاد او ښځو نه یې چې کوي او په داسې حال کې چې رسول (صلی الله علیه وسلم) یې له مینځه ((۱۲)) نقیبان (مشران یا استازي) البته د هر قوم له پاره یو مشر، وټاکل بیرته مدینې ته ولاړل.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



## ب- درسونه او پندونه:

۱- کیدای شي چې داعي د خپلو خپلوانو له جملې نه د یوه داسې فرد له خوا حمایه او تائید شي، چې د دعوتگر دعوت یې نه وي منلی، د دعوت د کمزورۍ په حال کې دا کار لویه گټه لري، ځکه پدې سره داعي له وژلو او نورو مشکلاتو نه په امن کیږي. بلونکی کولای شي له قبیلوي عصبیت نه د ځان او دعوت د حمایې او تایید لپاره کار واخلي، خو پدې شرط چې قبیلوي عصبیت داعي ځانته را نه کاږي او له اصلي هدف او لارې نه یې منحرف نکړي.

۲- مؤمنه او صالحه ښځه د داعي میړه په دردونو او غمونو کې د گډون او مشارکت په ذریعه کولای شي چې د خپل میړه ډیر مشکلات لیرې کړي - او پدې سره یې له یوې خوا د غم پیتی سپکوي او له بلې خوا ورته د ثبات او استمرار روح ورکوي، او دا کار د دعوت په کامیابۍ کې لوی اثر لري. له رسول (صلی الله علیه وسلم) سره د خدیجې (رضي الله عنها) ژوند او دریځ د هرې مؤمنې ښځې لپاره لوړه نمونه او مثال دی او له دې نه په استفادې سره کولی شي چې د خپل میړه په کامیابۍ او د دعوت په استمرار کې مهم رول ولوبوي. د اصلاحي دعوت په لار کې د دا شان ښځې نه درلودل لوی تاوان دی - او پدې ډول حالت کې به داعي میړه له غم او خفگان نه پرته بل څه نه شي کولای.

۳- د هغه دوست په ورکه چې مؤمن نه وي، خو د دعوت طرفدار او حامي وي، او همدا راز د مخلصې او مؤمنې ښځې په ورکه غم او خفگان کول، له دعوت سره اخلاص او له خپلې فداکارۍ او وفادارۍ

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



ښځې سره د وفا غوښتنه ده. همدا علت دی چې د ابو طالب له مرګ نه وروسته رسول (صلی الله علیه وسلم) وفرمایل: ((رحمک الله، و غفرلک، لا ازال استغفرلک حتی ینهاني الله)).

(خدای دې درباندې ورحمیږي، او خدای دې درته بښنه وکړي تر هغه پورې به درته د بښنې سوال کوم تر څو چې خدای منع کړی نه وم)

نورو مسلمانانو هم له رسول (صلی الله علیه وسلم) نه د پیروۍ او اطاعت په اساس خپلو مشرکینو دوستانو ته له الله (جل جلاله) نه د مغفرت غوښتنه کوله تر څو دا آیت نازل شو: ((مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ وَالَّذِينَ آمَنُوا أَنْ يَسْتَغْفِرُوا لِلْمُشْرِكِينَ وَلَوْ كَانُوا أُولِي قُرْبَى مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُمْ أَصْحَابُ الْجَحِيمِ)). (التوبه: ۱۱۳)

(له پیغمبر او هغو کسانو سره چې ایمان یې راوړیدی، نه ښایي چې د مشرکانو له پاره د بښنې دعاوې وکړي، اګر که هغه د دوی خپلوان هم وي، کله چې دوی ته دا خبره روښانه شویده چې هغوی د دوزخ وړ دي)

نو پدې سره رسول (صلی الله علیه وسلم) ابو طالب ته د مغفرت غوښتلو دعا بس کړه او نورو مسلمانانو هم د خپلو مشرکو مړیو لپاره نور مغفرت ونه غوښت.

رسول (صلی الله علیه وسلم) د ژوند په اوږدو کې د خدیجې (رضي الله عنها) فضیلت یاداوه. سلام او رحمت به یې ورباندې لیږه، د هغې له ملګرو ښځو سره به یې ښه رویه کوله او دومره صفت به یې کاوه چې عائشې (رضي الله عنها) به د هغې د مړینې په حالت کې غبطه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



وربانديې كوله، بخاري له عائشې (رضي الله عنها) نه روايت كوي وايي: عائشې (رضي الله عنها) ويلي: ما د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) په بيبيانو كې په يوې هم دومره رخه نده كړې لكه په خديجې (رضي الله عنها) مې چې كړېده، سره لدې چې ما هغه نده ليدلې، خو رسول الله (صلى الله عليه وسلم) به ډېره يادوله، كله كله به يې پسه حلال كړ، هغه به يې اندام اندام كړ، بيا به يې د خديجې (رضي الله عنها) ملګرو (ښځو) ته ور ليږه، نو كله كله به مې ورته وويل. لكه چې په دنيا كې له خديجې (رضي الله عنها) پرته بله ښځه نه وي، نو راته فرمايل به يې: هغه داسې وه او داسې..... او زما له هغې نه اولاد ؤ.

۴- له اسلامي دعوت څخه د مكې د خلكو له اعراض او مخ اړونې نه وروسته طائف ته د رسول (صلى الله عليه وسلم) تګ پدې دلالت كوي چې هغه (صلى الله عليه وسلم) د خپل دعوت د دوام او استمرار لپاره كلك عزم او تصميم درلود، د خلكو اعتراض او سرغړونې نه وربانديې منفي اثر كړی و او نه هم مايوس او نا اميده شوی ؤ. كه دا ځای د دعوت پر مخ بند شو نو د بل ځای په لټه كې به شو. همدا راز د ثقيف د بې عقلانو او ماشومانو له خوا رسول (صلى الله عليه وسلم) ته آزار وركول ددې دليل دی چې د شرغوښتونكو هر ځای چې وي لاره او طبيعت يو دی - او هغه هم داعيانو ته د آزار وركولو لپاره پر بې عقلانو بانديې تكيه كول دي. د دعوت په لار كې د محمد (صلى الله عليه وسلم) غونديې عظيم انسان چې د الله رسول او نبي هم دی له مباركو پښو نه وينې بهيږي، نودا د هر داعي لپاره لوړ مثال او عظيم الشان پند او عبرت دی او دا ښيي چې يو داعي بايد تر كومه حده او څومره د الله (جل جلاله) په لار كې تكليف وګالي..... د طائف په هغه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



باغ کې د رسول (صلی الله علیه وسلم) همیشنۍ دعا د دې څرګندونه کوي چې رسول (صلی الله علیه وسلم) په حقه ؤ او د الله (جل جلاله) له رضا پرته بل څه ورته اهمیت نه درلود، د مشرانو، رهبرانو، دوکه ورکونکو او عامو خلکو د خوشالۍ او رضا پروا یې نه کوله. (( ان لم یکن بک غضب علي فلا ابالي)). (که ستا غضب را باندې نه وي نو د هیڅ شي پروا نلرم).

دا دعا دا درس هم راکوي چې د قوت غوښتنه یوازې له الله (جل جلاله) نه، د هغه (جل جلاله) خوا ته په رجوع کولو سره روا ده، داعي ته په کار ده چې د سختیو په وخت کې له الله (جلاله) نه مرسته وغواړي. پدې دعا کې د داعي یو بل صفت هم ښوول شو یدی، او هغه دا چې داعي یوازې د الله له قهر او غضب نه ویرېږي، بل د هر چا قهر او غصه ورته بې ارزښته وي.

**۵**- د اسراء او معراج په معجزه کې زیات رازونه پټ دي، خو مونږ دلته یوازې دریو رازونو ته اشاره کوو او بس:

الف – نوموړې معجزه د مسجد الاقصی او شا او خوا (فلسطین) قضیه په ټوله اسلامي نړۍ پورې تړي، ځکه د رسول (صلی الله علیه وسلم) له بعثت وروسته مکه مکرمه د اسلامي دنیا د تجمع او د اهدافو د یووالي مرکز وګرزیده، او بل دا چې له فلسطین نه دفاع له اسلام نه دفاع ده، په هر مسلمان هر چیرته چې وي واجبه ده چې دفاع ورځنه وکړي او د آزادۍ لپاره یې زیار وباسي، پدې هکله سستي په حقیقت کې د اسلامي احکامو په نسبت سستي ده، او دا یوه داسې ګناه ده چې الله (جل جلاله) به یې د قیامت په ورځ پوښتنه کوي او

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



مقصر مؤمن ته به یې جزا ورکوي.

ب- دا معجزه پدې هم دلالت کوي چې مسلمان د ځومره اوچت او لوړ شان درلودونکی دی. مسلمان ته دا ښيي چې د دنیوي شهواتو او هوسونو نه قدم اوچت کیږدي، د خپل مقام او هدف د اوچتوالي له امله باید له نورو نه لوړ او ځانګړی وي او تل په هر ځای کې د هر چا لپاره د لوړ مثال او نیکې نمونې حیثیت ولري.

ج- دا معجزه پدې هم دلالت کوي چې فضا نور ده او د ځمکې د جاذبې قوت له دایرې نه وتل یو ممکن کار دی د نړۍ په ټول تاریخ کې لومړنی فضانورد زمونږ رسول (صلی الله علیه وسلم) ؤ چې د اسراء او معراج په پیښه کې فضا ته وخوت، نو فضا ته ختل او بیرته ځمکې ته په سلامتیا سره راکوزیدل ممکن کار ځکه دی چې زمونږ رسول (صلی الله علیه وسلم) پخپل وخت کې د معجزې په شکل تر سره کړی، او دا ممکنه ده چې اوسنی انسان یې د خپل فکر او علم په قوت سره تر سره کړي...

۲- د اسراء او معراج په شپه کې د لمانځه فرضیت د لمانځه له حکمتونو ځنې یو هغه حکمت په ګوته کوي د کوم لپاره چې لمونځ فرض کړی شویدی، او دا داسې لکه چې الله (جل جلاله) خپلو مؤمنو بندګانو ته وایي: آسمان ته د رسول (صلی الله علیه وسلم) په روح او جسم سره ختل معجزه ده، نو ستاسې لپاره دې هم هره ورځ پنځه معراجه وي چې په هغه کې ستاسې ارواګانې او زړونه ما ته راخیژي تر څو ستاسې هم هغه روحي لوړتیاوې په برخه شي چې په مرسته یې له خپلو هوسونو او شهوتونو نه لوړ او آزاد و اوسیدلی شئ او په همدې روحي عروج سره زما د عظمت، قدرت او وحدانیت مشاهده

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



وکړي او دغه مشاهده به تاسې د ځمکې پر مخ د سیادت او حاکمیت لور ته هڅوي. خو د غلامۍ، جبر او زور له لارې نه. بلکه د خیر، لوړتیا، پاکۍ او بالاخره د لمانځه له لارې

۷ د حج په موسم کې نورو قبیلو ته د رسول (صلی الله علیه وسلم) په دعوت کې دا درس دی داعي ته په کار ده چې خیر ته د بلنې دایره سوازي په خپل وطن او مجلس کې خلاصه نکړي. بلکه باید د خلکو د غونډو ځایونو ته ورشي او باید د خلکو له اعراض او سرغړوني له امله له خپل بري نه نا هیلی نه شي. ځکه الله (جل جلاله) به حتما ده ته له داسې لارې چې دده په خیال او فکر کې هم نه ګرزي داسې مرستندوی پیدا کوي چې په دعوت به یې ایمان راوړي ډیر خله د دعوت په خوریدو او په شربانديې د حق په غلبې او برلاسۍ کې د ورې مؤمنې ډلې اوږد لاس وي. د هغه لومړنیو (۷) اوو انصارو د ایمان اثر هومره ؤ چې ټوله مدینه یې د اسلام په سپیڅلي او عظیم دین پوهه او مشرفه او په پای کې د اسلامي حکم لپاره آماده شوه او همدا مدینه په مکه کې تر ظلم لاندې مسلمانانو لپارد د پناه او غونډیدو ځای او د رسول (صلی الله علیه وسلم) د حکومت د قائمولو او دعوت د خپرولو داسې خوندي مرکز جوړ شو چې له همغه ځایه خپل اصحاب (رضي الله عنهم) د شرک او مشرکینو د مقابلې لپاره استوي. هلته د جنګ مرکز ؤ او له همدې مرکزه د کفر په خلاف داسې جګړې قومانده شوې چې په نتیجه کې یې د ایمان لښکر همیشنۍ فتحه وګټله او د کفر لښکر همیشني ماتې وخوړه. الله (جل جلاله) له انصارو (اوس او خزرج) نه راضي شي. په مسلمانانو او ټوله نړۍ باندې د دوی څومره لوی احسان دی. الله (جل جلاله) دې د دوی له ورونو (مهاجرینو) نه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



هم راضي شي. هغه مهاجرين چې له دوی نه مخکې په اسلام مشرف شول او د اسلام په لار کې يې خپل قيمتي شيان لکه مال او وطن قربان کړل، خدای (جل جلاله) دې مونږ له دوی سره په جنت رضوان کې يو ځای کړي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# څلورم فصل

## له هجرته په مدینه کې د نبي (صلی الله علیه وسلم) تر میشته کېدو پورې

### الف ـ تاریخي پېښې

۱. قریش د یثرب د یو شمېر خلکو له ایمان راوړلو نه خبر شول. او پدې سره یې په مکه کې پر مسلمانانو خپل ظلمونه لاپسې زیات کړل. نو رسول (صلی الله علیه وسلم) مسلمانانو ته د مدینې په لور د هجرت امر وکړ. اصحابو ټولو په پټه سره خو یوازې عمر (رضي الله عنه) په ښکاره هجرت وکړ. د مکې مشرکین یې له خپل هجرت نه خبر کړل او ورته ویې ویل که څوک غواړی مور یې بورد شي نو سبا دې ما پسې پدې لاره راشي. خو هیڅوک هم ورپسې ونه وتل.

۲- کله چې قریش پدې باوري شول چې مسلمانان په مدینه کې د عزت او امنیت خاوندان شول په (دار الندوة) کې یې مجلس وکړ تر څو د رسول (صلی الله علیه وسلم) د له مینځه وړلو لپاره لارې چارې ولټوي. په پای کې فیصله پدې وشوه چې له هرې قبیلې نه به یو ټکره ځوان انتخابیږي او بیا به ټول په ګډه رسول (صلی الله علیه وسلم) په شهادت رسوي. پدې سره به یې خون هم په ټولو قبیلو ویشل کیږي. او بنو مناف به هم لدې امله چې له ټولو سره د جنګ توان نلري په دیت اخیستلو راضي شي. په دې ډول ځوانان راټول شول. د هجرت په شپه یې د رسول (صلی الله علیه وسلم) په دروازه کې د هغه (صلی الله علیه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



وسلم) د راوتو او وژلو انتظار یوست.

۳- په دغه شپه رسول (صلی الله علیه وسلم) پخپل ځای ویده نه شو، علي (رضي الله عنه) ته یې وویل چې زما یعنې د رسول (صلی الله علیه وسلم) په ځای ویده شي او امر یې ورته وکړ چې سهار قریشو ته له رسول (صلی الله علیه وسلم) سره ایښي امانتونه بیرته وسپاري، او پخپله رسول (صلی الله علیه وسلم) پداسې حال کې له کوره ووت چې د قتل لپاره دریدلي خلک هیڅ ورباندې پوه نه شول، د ابوبکر صدیق (رضي الله عنه) کور ته ورغی له هغه وروسته هغه (رضي الله عنه) عبدالله بن اریقط الدیلمي چې مشرک ؤ په مزدورۍ ونیو تر څو دوی ته د مدینې لار وښیي خو پدې شرط چې په هغه مشهوره او عامه لاره لاړ نه شي، بلکه یوه بله داسې لار باندې یې بوزي چې د قریشو کفار یې پیدا نه شي کړای.

۴- رسول (صلی الله علیه وسلم) له خپل ملګري ابوبکر صدیق (رضي الله عنه) سره د خپل مبارک ولادت د (۵۳) کال د ربیع الاول په لومړۍ د پنجشنبې په ورځ له کوره پداسې حال کې د هجرت په نیت ووت چې د علي (رضي الله عنه) او د ابوبکر صدیق (رضي الله عنه) له کوره پرته بل څوک نه ؤ ورباندې خبر. پدې ترځ کې د ابوبکر (رضي الله عنه) لورانو عائشې او اسماء (رضي الله عنهما) رسول (صلی الله علیه وسلم) او خپل پلار ته د خوراک په برابرولو کې د قدر وړ کارونه تر سره کړل. اسماء (رضي الله عنها) د خپلې ملا دستمال دوه ځایه کړ، په یوه ټوټه یې د خوراک د لوښي خوله وتړله او بله ټوټه یې تر ملا کړه او په همدې وجه ورته ((ذات النطاقین)) ویل کیږي. رسول (صلی الله علیه وسلم) او ملګری یې له راه بلد سره یو ځای د یمن له لارې روان

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



شول تر څو د ثور غار ته ورسیدل او پدې غار کې تر دریو شپو پورې پاتې شول. عبدالله بن ابوبکر (رضي الله عنهما) چې ډیر ذکي او هوښیار ځوان ؤ هم د شپې له خوا له دوی سره ویده کیده. سهار وختي به ورنه روانیده، او مکې ته به یې پداسې وخت کې ځان رساوه چې خلک نه پرې پوهیدل چې چیرته ؤ. بلکه ټولو به دا ګمان کاوه چې شپه یې په مکه کې د ننه وه. د ورځې له مخې به یې د قریشو ټول پلانونه او د رسول (صلی الله علیه وسلم) او د هغه د ملګري په خلاف به چې کومې خبرې کیدلې په ډیر دقت سره به یې اوریدلې. ځان به یې پرې پوهاوه. او د شپې به یې رسول (صلی الله علیه وسلم) ته رسولې

۵- له مرګه نه د رسول (صلی الله علیه وسلم) نجات په قریشو قیامت جوړ کړ، وریسې ووتل ټولې پیژندل شوې لارې یې وکتلې. څو پیدا یې نکړ، د یمن خوا ته یې مخه کړه. د ثور د غار په خوله کې ودریدل. یو او بل ته وایي: شاید رسول (صلی الله علیه وسلم) او ملګری یې پدې غار کې وي، څو نور څواب ورکوي د غار په خوله کې د غنې تارونه نه وینئ؟ پدې غار کې مرغانو خالي کړې او دا پدې دلالت کوي چې غار ته له ډیرې مودې راهیسې څوک ندي ننوتي. ابوبکر صدیق (رضي الله عنه) د دوی پښې وینې چې د غار په خوله کې ولاړ دي. نو د رسول (صلی الله علیه وسلم) د ژوند د خطر له امله ریږدي او ورته وایي: یا رسول الله (صلی الله علیه وسلم) قسم په خدای که لاندې پښو ته یې وکتل وینې مو، څو رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ډاډ ینه ورکوي او داسې فرمایي: ابوبکره د هغه دوو په هکله چې دریم یې الله (جل جلاله) وي څه فکر کوې؟

۶- د قریشو ټولو قبیلو اعلان وکړ، که هر چا رسول (صلی الله علیه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



وسلم) او ملګری یې پیدا کړل، یا یې وواژه او یا یې ژوندی ونیوه، نو هغه ته به زیاتې پیسې ورکړي. پدې اعلان سره سراقه بن جعشم کلکه ملا وتړله او عزم یې وکړ چې دا کار به کوي تر څو دا لویه جائزه وګټي.

۷- وروسته له هغه چې د رسول (صلی الله علیه وسلم) او ملګري په هکله پلټنه او پټ تلاشونه او هلې ځلې آرامې شوې. هغوی له غاره راووتل او له لارې پیژندونکي سره یو ځای یې د سرې بحیرې څنډې ونیوې. ډیره مسافه یې طي کړه چې سراقه ورپسې ورغی. خو کله چې ورنژدې شو د آس پښې یې په شګو کې ننوتې او له تګه ولوید. درې ځله یې ددې کوښښ وکړ چې د رسول (صلی الله علیه وسلم) په طرف ورشي خو ویې نه شوای کولای. نو باور یې راغی چې د یوه کریم رسول (صلی الله علیه وسلم) په وړاندې قرار لري. له رسول (صلی الله علیه وسلم) ته یې سوال وکړ چې د یو شي وعده ورسره وکړي. رسول (صلی الله علیه وسلم) د کسری د وښیو وعده ورکړه چې هغه به ده ته وراغوندي. بیا سراقه بیرته مکې ته ستون شو او داسې یې وښوده چې هیڅوک یې هم ندي لیدلي

۸ رسول (صلی الله علیه وسلم) او ملګری یې د ربیع الاول په دولسمه ورځ مدینې ته ورسیدل. هلته یې اصحابو (رضي الله عنهم) اوږد انتظار یوست. هر سهار به د مدینې ښا و خوا ته راوتل او په تکنده غرمه کې به بیرته کورونو ته تلل. خو کله یې چې رسول (صلی الله علیه وسلم) ولید بې حده زیات خوشحاله شول، نجونو دریا وهله او ویل یې

طلـع البـدر علینا　　　من ثنیات الوداع

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



وجب الشکر علینا　　ما دعا لله داع

ایها المبعوث فینا　　جئت بالامر المطاع

۹ رسول الله (صلی الله علیه وسلم) مدینې ته د خپلې لارې په جریان کې چې قبا ته ورسید (قبا د مدینې جنوب ته د دوو میلو په فاصله کې یو کلی دی) نو هلته یې د اسلام د لومړني جومات د تهداب ډبره کېښوده. څلور ورځې هلته پاتې شو وروسته د جمعې په سهار د مدینې لور ته روان شو. کله چې بني سالم بن عوف ته ورسیده د جمعې د لمانځه وخت شو نو هلته یې هم یو جومات جوړ کړ او په اسلام کې یې لومړنی د جمعې لمونځ ادا کړ او په اسلام کې یې خپله لومړنۍ خطبه خلکو ته واوروله. له لمانځه وروسته د مدینې په لور روان شو او هلته چې ورسید نو لومړنی کار یې د حیل جومات لپاره د هغه ځای ټاکل ؤ په کوم کې یې چې اوښې ګونډې وهلې او جو شوې وه. دغه ځای د دوو یتیمو انصارو ؤ. د قیمت په هکله یې ورسره خبرې وکړې. هلکانو وویل یا رسول الله (صلی الله علیه وسلم) دا مونږ تا ته بخښ کوو مګر رسول الله (صلی الله علیه وسلم) و نه منله او ځای یې د سرو زرو د لسو دینارو په قیمت ورځخه واخیست نوموړې پیسې یې د ابوبکر (رضي الله عنه) له مال نه ادا کړې. بیا نو د جومات جوړول مسلمانانو په غاړه واخیستل. کار شروع شو. رسول الله (صلی الله علیه وسلم) هم ورسره کار کوه. درنې درنې تیږې به یې راوړلې بالاخره جومات جوړ شو چې دیوالونه یې د خښتو او چت یې خرما د پوټکو او د خرما په تنو ولاړ ؤ

۱۰- رسول (صلی الله علیه وسلم) د مهاجرینو او انصارو (رض) تر

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ ...ansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



مینځ وروروګلوي وکړه. د هر انصاري لپاره يې يو مهاجر ورور تعيين کړ، انصاري به خپل مهاجر ورور کورته بيوه او په کور کې ټول شته شيان به يې ورسره ويشل

۱۱ - لدې نه وروسته رسول (صلی الله عليه وسلم) د مهاجرينو او انصارو (رض) تر مينځ يو تاريخي ليک يا تړون وليکه، په غه کې يې يهودانو ته د دين او مال آزادي ورکړه. ابن هشام نوموړی ليک په مفصله توګه پخپل کتاب کې را نقل کړيدی. دا ليک د اسلامي حکومت هغه لومړنی مبادئ او اصول په ګوته کوي کوم چې د انسانيت. ټولنيز عدالت. ديني تسامح (وسعت نظر) او د ټولنيزو ګټو په خاطر همکاري کول رانبيي هر زده کونکي ته په کار دی نوموړی ليک په ډير دقت سره ولولي. ځان ورباندې پوه کړي او لومړني اصول يې ياد کړي. موږ دلته د نوموړې تاريخي وثيقې ځنې عام اصول په لاندې ډول بيانوو:

۱ - له توپير او تفريق نه پرته د اسلامي امت يووالی.

۲ - د امت د ټولو افرادو تر مينځ په حقوقو او کرامت کې برابري

۳ - له ظلم. ګناه او تيري نه ليرې د امت يو موټی کيدل

۴ - له دښمنانو سره د اړيکو په ټينګښت کې د امت اشتراک. نه داسې چې له يوه مؤمن سره سوله وکړي او له بل سره نه

۵ - د قوي، سمو او لوړو نظامونو (اداري تشکيلاتو) درلودونکې ټولنې جوړول.

۶ - د دولت او نظام له مخالفينو سره مقابله کول، او له هغوی سره د هيڅ ډول مرستې نه درلودل.

۷ - د هغو خلکو حمايت او ملاتړ کوم چې غواړي له مسلمانانو سره د

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



آرامۍ او همکارۍ په فضا کې ژوند وکړي، او پر هغوی باندې له ظلم او تیري نه خان ساتل

۸- نا مسلمانو خلکو ته د دين او مال آزادي ورکول، هغوی په ایمان راوړلو (اسلام منلو) نه مجبورول او مالونه يې نه اخیستل.

۹- په دولتي مصارفو کې د مسلمانانو په شان د غیر مسلمانو افرادو برخه اخیستل

۱۰- د هر تیري په وړاندې له دولت نه د حمایې او ملاتړ په منظور له مؤمنانو سره د کفارو ګډون

۱۱- همدا راز په جنګي لګښتونو کې د نامسلمانو افرادو ونډه اخیستل

۱۲- تر ظلم او تیري لاندې غړيو نه (مسلمان وي او که نا مسلمان) د دولت پوره ملاتړ

۱۳- د دولت له دښمنانو او د هغوی له ملګرو سره د مسلمانانو او نا مسلمانو افرادو همکاري نه درلودل.

۱۴- که چیرې سوله د دولت په ګټه وي نو د دولت د ټولو اتباعو له خوا د سولې قبلول.

۱۵- د بل په ګناه د چا نه نیول. جنایت کار یوازې پخپل ځان او اولاد ظلم کوي.

۱۲- په دولت کې د ننه او د باندې د ټلو راتلو آزادي، او د دولت له خوا يې حمایت کول.

۱۷- د ظالم او ګنهګار له حمایت او ملاتړ نه ډډه کول.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



۱۸- یوازې په نیکۍ او تقوی کې د ټولنیزې همکارۍ اوډل نه په ګناه او تیري کې.

۱۹- پورته ذکر شوي اصول د دوو قوتونو له خوا حمایت کیږي: معنوي قوت، چې په الله (جل جلاله) باندې د ملت له ایمان. او د الله (جل جلاله) له خوا له متقي او مؤمن بنده سره له رعایت او همکارۍ نه عبارت دی. دوهم مادي قوت. یا د دولت ریاست چې محمد (صلی الله علیه وسلم) یې د مشرتابه واکې په لاس کې لري.

## ب- درسونه او پندونه:

۱- مؤمن د قوت داډ او باور په صورت کې خپل کار په ډاګه او ښکاره توګه ترسره کوي، او تر کومه چې دا باور موجود وي. نو هغې پورې نه د دښمن پروا ساتي او نه هم خپل کار له چا پټوي، لکه چې عمر (رضي الله عنه) چې د هجرت په مهال همداسې وکړل. او پدې کې یو بل حکمت هم پروت دی هغه دا چې قوي او ټینګ موقف د الله (جل جلاله) دښمنان ویروي. په زړونو کې یې وارخطایي اچوي، او پدې کې خو څه شک نشته که هغوی (قریشو) د عمر (رضي الله عنه) د وژنې اراده کړې وای نو دا کار یې ترسره کولای شوی، خو د عمر (رضي الله عنه) جرأتمندانه او پیاوړي دریځ د دوی د هر یوه په زړه کې رعب او ویره واچوله او وویریدل که ورمخکې شي نو مینډې به یې بورې شي. او ښکاره

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



ده چې د شر لښکر د ژوند حریص او په ژوند ډېر بخیل وي.
۲- د باطل علمبرداران چې کله هم د حق دعوت د مخنیوي او تم کیدو نه توان له لاسه ورکوي، او مؤمنان یې له ظلم او تیري نه نجات مومي، نو بیا دوی د مصلح داعي د وژلو تصمیم نیسي، او دا هم پدې خیال چې د داعي (بلونکي) په مرګ سره به دعوت ختم کړای شي. او له داعي او دعوت نه به تر ابده بې غمه شي. اشرار او اسلام دښمنه عناصر په هر عصر او زمانه کې چې وي همدا فکر او نظر لري. مونږ هم په خپل وخت کې داسې مثالونه ولیدل او ددې ډول مواقفو شاهدان یوو.
۳- د دعوت مخلص، صادق او وفادار سپاهي خپل ژوند تر خپل رهبر قربانوي، ځکه د رهبر په ژوند او سلامتیا کې د دعوت سلامتیا ده، او په مرګ کې یې د دعوت ماتې او کمزوري ده. لکه چې علي (رضي الله عنه) په ډېره میړانه سره د هجرت په شپه کې همداسې وکړل. هغه (رضي الله عنه) د رسول صلی الله علیه وسلم) په ځای ویده شو، خپل ژوندیې د رسول (صلی الله علیه وسلم) د ساتنې پخاطر د مرګ خطر ته ورکړ، ځکه لیرې نه وه چې د قریشو ځوانان د انتقام په خاطر او پدې دلیل چې همده رسول (صلی الله علیه وسلم) ته د خلاصون لاره برابره کړه خپلې تورې د علي (رضي الله عنه) په وینو سرې کړي، خو علي (رضي الله عنه) ددې څه پروا ونه ساتله او دا یې له هر څه غوره او کافي وبلله چې د امت رسول (صلی الله علیه وسلم)

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



او د دعوت قوماندان روغ او ژوندی پاتې شي.
۴- سره لدې چې قریش له رسول (صلی الله علیه وسلم) سره دومره سخته دښمني لري چې ان د مرګ تصمیم یې نیسي، خو بیا هم هغوی خپل امانتونه له نبي (صلی الله علیه وسلم) سره ږدي او پدې مهمو او ارزښتناکو شیانو کې باور وربانديې کوي، نو دا پدې دلالت کوي چې د دعوت دښمنانو په خپلو زړونو کې پدې پوره باور درلود چې داعي رسول (ص) له دوی نه زیات نیک سیرته، پاک نفسه، امین او په حقه لاره روان دی، خو په پټو سترګو او له زیات تعصب سره پخپلو عاداتو او عقایدو دریدنه ده چې هغوی له داعي سره جنګ، مکر او فریب او په پای کې د امکان په صورت کې د هغه مرګ ته هڅوي.
۵- د مکارانو او تروریستانو له لاسه د خلاصون او نجات پخاطر د دولت د رئیس او یا د دعوت او تحریک د رهبرداسې پلان یا نظریه چې د خپل تنظیم او پیاوړتیا په نیت د لومړني میدان پریښودل، او بل میدان ته تلل ایجاب کړي، ډار او له مرګ نه تیښته نه بلل کیږي او نه ورته د ځان او مال له قربانۍ نه ځان غړونه ویلی شو.
٦- د عبدالله بن ابي بکر (رضي الله عنهما) دریځ دا په ډاګه کوي چې ځوانان د ټولو اصلاحي حرکتونو په کامیابۍ کې لوی او مهم اثر او رول لري. ځوانان د هر اصلاحي دعوت د ملا د تیر حیثیت لري، د قربانۍ او سرښندنې میدان ته د دوی وړاندې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



کیدل، دعوتونه په ډیره چټکۍ او بیړې سره د فتحې او برې په درشل دروي ګورو چې لومړني مؤمنان ټول ځوانان دي، د بعثت په وخت کې د رسول (صلی الله علیه وسلم) عمر (۴۰) کاله ؤ، ابوبکر (رضي الله عنه) دری کاله ور نه کشر ؤ همدا راز عبدالله بن مسعود او عبدالرحمن بن عوف، الارقم بن ابي الارقم، سعید بن زید، بلال بن رباح، عمار بن یاسر او ... (رضي الله عنهم) ټول ځوانان وو چې د دعوت پیتمی یې په اوږو واخیست، او پدې لارکې یې ډیرې قربانۍ ورکړې، ډیر دردونه، غمونه او ظلمونه یې وګالل د همدوی د متیو په زور اسلام بریالی شو د خلفاء راشدینو دولت قایم کړای شو، اسلامي لوی لوی فتوحات تر سره شول، او د همدوی له برکته مونږ ته اسلام راورسید او مونږ یې له ګمراهۍ، جهل، کفر، بت پرستۍ او هر ډول فسق او فساد نه آزاد کړو، او د هدایت په نور یې مشرف او منور کړو.

۷- د رسول (صلی الله علیه وسلم) د هجرت په وخت کې د عائشې او اسماء (رضي الله عنهما) موقف دا په ګوته کوي چې ټول اسلامي او اصلاحي دعوتونه د ښځو همکارۍ ته زیاته اړتیا لري، ځکه ښځې د پاک او نرم زړه، زیاتې عاطفې او نیک احساس درلودونکې دي، او ښځه چې یو ځل په کوم شي ایمان راوړي، بیا په هر ډول شرایطو او له هر راز مشکلاتو ګاللو سره ټینګ ښاتي، خلک ورته راوبولي، خصوصا د خپل میړه، ورونو او زامنو د قناعت حاصلولو لپاره ډیر څه کولای شي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



د رسول (صلی الله علیه وسلم) په دوران کې په اصلاحي جهاد کې د ښځو برخه او ونډه ا له هیچا پټه نده، تاریخ په زرینو کرښو لیکلې، او اوس مونږ ته د دې اعلان کوي چې اسلامی حرکتونه تر هغې پورې ناقص او د لږ اثر درلودونکي دي تر څو چې ښځې پکې برخه نه وي اخیستې او د ښځو با ایمانه، پاک، د نیکو اخلاقو او عفت درلودونکی صف نه وي جوړ شوی، څکه زمونږ په عصر کې یوازې ښځه کولای شي چې عفت، اخلاق، پاکي... د ښځو په مینځ کې تیت کړي، نارینه پدې میدان کې څه زیات اثر نه لري. او سرسیره پردې همدا با ایمانه ښځه، یا مور وي او یا به ماندینه وي چې هر یوه یې خپل ارزښت او اغیزه لري. کشران او مشران اصحاب (رضي الله عنهم) تابعین (رحمة الله علیهم) چې د اسلامي دعوت داعیان وو د هغو ښځو د لاس میوه ده چې نوموړی عالم، د لوړ همت خاوند، د دنیوي او اخروي ښیگڼو درلودونکی نسل یې پخپلو غیږو کې روزلی او ورته یې اسلامي اخلاق، ادب، د اسلام لاره او له رسول (صلی الله علیه وسلم) سره مینه ورزده کړیده.

اوس مونږ باید پدې حقیقت ځان پوه کړو، هلې ځلې پیل کړو تر څو پیغلې او ښځې د ښځو په مینځ کې د اسلام او اصلاحي دعوت بیرغ اوچت کړي. ښځې د امت له نیمایي نه زیاتې دي، نو د دې هدف د تحقق لپاره مونږ باید خپلې لونې او خویندې په صحیح اسلامي مدرسه کې د شریعت د زده کړې لپاره تشویق

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



کړو. او هر څومره چې د با ایمانه، پاک سیرته، په شریعت پوهه باعفته. له رسول (صلی الله علیه وسلم) سره مینه لرونکو او نیک اخلاقه ښځو شمیر زیات شي په همغه اندازه به اسلامي اصلاحي دعوت په وړاندې ځي او ټولنه د داسې ورځې په خوا چې هلته به اسلامي شریعت حاکم وي نژدې کیږي او دا ورځ لیرې هم نده (ان شاء الله).

د ثور په غار کې په رسول (صلی الله علیه وسلم) او ملګري باندې یې د قریشو سترګې ړندې دل. همدا راز د غار په خوله د غنې تارونه اچول. او د مرغانو هګۍ اچول او خالي جوړول. په رسول (صلی الله علیه وسلم) باندې د الهي عنایت او رحمت دومره لوی مثال دی چې زړونه ریږدوي او دا رانبیي لکه څرنګه چې الله (جل جلاله) خپل رسول (صلی الله علیه سلم) د مشرکینو له لاسه وساته. همداسې په هر عصر کې هر مخلص داعي د شدت، غم او سختو حالاتو په وخت کې د الله له خوا ساتل کیږي. ډیر ځله د دښمنانو سترګې پرې ړندیږي، زیان او شر نشي ورسولی. د ثور په غار کې د رسول (صلی الله علیه وسلم) او ابوبکر (رضي الله عنه) ساتنه د الله (جل جلاله) ددې ارشاد تصدیق کوي چې فرمایي: ((إِنَّا لَنَنصُرُ رُسُلَنَا وَالَّذِينَ آمَنُوا فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَيَوْمَ يَقُومُ الْأَشْهَادُ)). (المؤمن ۵۱) (باور ولرئ چې مونږ د خپلو پیغمبرانو او مؤمنانو مرسته ارو مرو ددې دنیا په ژوند کې هم کوو او په هغه ورځ به یې هم وکړو چې کله شاهدان ولاړ وي).

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



او هم: ((إِنَّ اللَّهَ يُدَافِعُ عَنِ الَّذِينَ آمَنُوا...)) (الحج: ۳۸)
(بیشکه چې الله له هغو کسانو څخه دفاع کوي چې ایمان یې راوړیدی تصدیق کونکي دي)

۹- د ثور په غار کې د مشرکینو له لیدو نه د ابوبکر (رضي الله عنه) ویره دعوت هر وفادار با درده او رینښتني عسکر لپاره لوی مثال دی. مخلص سپاهي باید د خپل امین رهبر له خطر سره مخامخ کیدل د ځان لپاره ډیر مشکل و بولي او د مشکلاتو په وخت کې په هغه شفقت او زړه سوی ولري ابوبکر (رضي الله عنه) هغه وخت پخپل ځان نه ویریده. ځکه که د ځان د مرګ ویره ورسره وای، نو پدې خطرناک هجرت کې به یې له رسول (صلی الله علیه وسلم) سره ملګرتیا نه کوله. هغه ښه پوه ؤ چې که مشرکینو ته په لاس ورغی نو جزاء یې مرګ ده . نو حقیقت دا دی چې هغه د رسول (صلی الله علیه وسلم) په ژوند ډاریده او د اسلام دراتلونکي تشویش ورسره ؤ او پدې فکر کې و که چیرې رسول (صلی الله علیه وسلم) مشرکینو ته په لاس ورشي نو د اسلام آینده به څنګه وي؟

۱۰- د رسول الله (صلی الله علیه وسلم دا قول چې ابوبکر (رضي الله عنه) ته د ثور په غار کې فرمایي: ((اې ابوبکره! د هغه دوو په هکله چې دریم یې الله وي څه فکر کوې؟)) دا په الله باندې د پوره باور او په الهي نصرت د کامل ډاډ، لوی او ښکاره مثال دی. هغه (صلی الله علیه وسلم) د مشکلاتو په دومره شدت کې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



هم له الهي امداد نه مطمئن دی په الله (جل جلاله) يې پوره تكيه كړې، له هيڅ شي نه ويريږي، نو دا هم دهغه (صلى الله عليه وسلم) د نبوت د صدق يو بل دليل او ثبوت دی ځكه نبي (صلى الله عليه وسلم) پدې سخت حال كې هم داسې مطمئن ښكاري لكه چې هيڅ خبره هم نه وي هغه (ص) پوره يقين لري چې الله (جل جلاله) ددې خلكو د هدايت او رحمت لپاره استولی دی، نو يوازې يې نه پرېږدي. آيا دا امكان لري چې پداسې حال كې له صادق نبي (صلى الله عليه وسلم) نه پرته د بل چا نه چې په دروغو د نبوت داعي وي دومره اطمينان وليدای شي؟!په همدې ډول مشكلو حالاتو كې د رينښتني او دروغجن داعي او دعوتګر تر مينځ توپير هم كيدای شي، پدې معنى چې رښتنی هغه څوک دی چې تل د الله (جل جلاله) رضا غواړي په الله يې پوره باور او توكل وي، له الهي مدد او نصرت نه پوره مطمئن وي، له چا نه يې ويره نه وي، خو تش په نامه داعي د مشكلاتو په وخت كې په شا ځي، د لږ فشار په مقابل كې تسليميږي د ويرې په حالاتو كې له هر څه تيريږي او همدا وجه ده چې لدې ډول دروغجنو كله هم الهي مرسته او كمک نه وي.

۱۱ - دا چې سراقه ونه توانيد رسول الله (صلى الله عليه وسلم) ته څه زيان او ضرر ورسوي، دا پخپله د (صلى الله عليه وسلم) د نبوت يو بل ښكاره دليل دی. سراقه چې په رسول (صلى الله عليه وسلم) پسې روان؛ كله به چې ورلنډ شو نو د آس پښې به يې به

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



شګو کې ننوتې، قدم يې نه شوی پورته کولی خو کله به چې ترې نه کوز شو او د مکې په لور به يې روان کړ، آس به سم صحيح روان ؤ، او که به يې بيا وغوښتل چې په رسول (صلی الله عليه وسلم) پسې يې بوزي، نو بيا به همغه حال ؤ، قدم به يې نه شوی اخيستی.... ايا له رسول (صلی الله عليه وسلم) نه پرته د بل چا په حق کې داسې پيښيږي؟ نه کله هم نه، نو ثابته شوه چې هغه د الله رسول او د الهي نصرت تر سيوري لاندې روان ؤ. سراقه هم پدې حقيقت پوه شو، له رسول (صلی الله عليه وسلم) نه يې د امان غوښتنه وکړه، پوه شو چې له رسول (صلی الله عليه وسلم) سره دومره الهي مرسته ده چې بشر يې له ادراک نه عاجز دی، او په همدې دليل له جايزې تير شو او د راتلونکې لپاره په وعده راضي شو.

۱۲- سراقه ته د رسول (صلی الله عليه وسلم) له خوا د کسری د وښيو وعده يوه بله معجزه ده. څوک چې له يوې خوا له خپل کور او قوم نه هجرت کوي، او له بلې خوا د فارس د فتحه کيدو او د کسری د خزانو طمعه لري، دا ددې ښکاره دليل دی چې هغه به د خدای رسول وي او که نه نو بل څوک خو دا ډول آرزو هغه هم پدې ډول حالاتو کې کله هم نه شي کولای. د رسول (صلی الله عليه وسلم) نوموړې وعده ترسره هم شوه کله چې سراقه د کسری کړې (وښيې) په غنيمتونو کې وليدل له عمر (رضي الله عنه) نه يې وغوښتل چې د رسول (صلی الله عليه وسلم) وعده

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



ترسره کړي. عمر (رضي الله عنه) هم د اصحابو (رضي الله عنهم) په وړاندې د کسرى وښيې سراقه ته ور په لاس کړل او ويې فرمايل: ((ثنا ده هغه الله (جل جلاله) لره چې له کسرى نه يې خپل وښيې واخيستل او اعرابي سراقه بن جعشم ته يې ور په لاس کړل)).

په همدې ترتيب په هجرت کې معجزې يوه په بله پسې راځي تر څو د مؤمنانو يقين پوخ شي، او د اهل کتابو شکمن او سر زوري خلک پدې باور پيدا کړي چې محمد (صلی الله عليه وسلم) د الله (جل جلاله) له خوا ر الیږل شوی رسول دی.

۱۳- مدينې منورې ته رسول (صلی الله عليه وسلم) روغ رمټ ورسيد د هغه ځای اوسيدونکي مهاجر ؤ که انصار دومره خوشحاله شول چې ښځې او ماشومان له کورو راووتل، خلکو خپل کارونه پريښودل، يهودانو هم په ظاهر کې د خوښۍ اظهار کاوه او له مسلمانانو سره يې پدې خوشالۍ کې ګډون وکړ، خو په زړه کې له نوې رهبرۍ سره د مسابقې له امله ډير خفه وو.... د مسلمانانو په خوشالۍ کولو کې څو څه د تعجب او پوښتنې وړ شی ځکه نشته چې له هغوی سره خو خپل رسول (صلی الله عليه وسلم) يو ځای شوی ؤ، هغه رسول (صلی الله عليه وسلم) چې د الله په اذن سره يې دوی له تيارو نه رڼا ته وايستل. همدا راز د يهودو خوشالي هم څه د تعجب وړ او غريبه خبره ځکه نده چې دا د هغې تولنې په وړاندې چې نور د دوی له تسلط نه وتلې وه د

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



دوی د منافقت، چاپلوسی او غداری یوه نمونه او طریقه وه، پداسې حال کې چې له هغه چا سره یې بې حده زیاته کینه او دښمني درلوده کوم چې پر ملتونو یې د دوی تسلط او واکمني له مینځه وړله. ددې سبب هم دا ؤ چې نوموړي نوي اسلامي ځواک د خلکو هغه مالونه د یهودو له چور او چپاول نه ساتل کوم چې د قرض تر پردې او نامه لاندې به یې په ناحقه ورنه اخیستل، او وینو تویولو هغه لړۍ یې پای ته رسوله کومه چې یهودو د نصیحت او مشورې په او عنوان سره روانه کړې وه. د یهودو دا خاصیت اوس هم موجود دی هغوی له هر هغه چا سره دښمني کوي څوک چې ملتونه د دوی له تسلط نه آزادوي، او لدې ډول خلکو سره هره ممکنه ناروا کوي که توطئهٔ وي یا مرګ او یا ترور په هیڅ صرفه نه کوي دا د یهودو همیشنی صفت دی.

په مدینه کې یې له رسول (صلی الله علیه وسلم) سره همدا ډول کار کړی، سره لدې چې له هغه (صلی الله علیه وسلم) سره یې د همکارۍ او سلامتیا نه ډک ګڼ ژوند تیرولو ډیر پیمانونه یې ورسره لاسلیک کړي دي. لنډه دا چې یهود په هر وخت کې یو اور بلوونکی قوم دی. ((كُلَّمَا أَوْقَدُوا نَاراً لِلْحَرْبِ أَطْفَأَهَا اللَّهُ ...)) هرکله چې دوی د جنګ اور په لمبو راولي، الله هغه مړ کړي.

۱۴- مدینې ته د هجرت له پیښو نه دا معلومیږي چې رسول (صلی الل علیه وسلم) به هر چیرته چې تم کیده نو لومړی به یې هلته جومات جوړاوه تر څو هلته اوسیدونکي مسلمانان پکې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



راټول شي. د قبا جومات يې جوړ کړ او هلته څلور ورځې پاتې شو او د لارې په نيمايي کې يې د جمعې لمانځه د ادا کيدو په خاطر د مدينې او قبا تر مينځ د «رانوناء» په دره کې چيرته چې بني سالم بن عوف اوسيدل جومات جوړ کړ، همدا ډول کله چې مدينې ته ورسيد نو هلته يې هم اولنی کار د جومات جوړول ؤ.

دا ټول په اسلام کې د جومات په اهميت دلالت کوي، اسلامي عبادت نفس پاکوي، د اخلاقو تزکيه کوي، د مسلمانانو تر مينځ همدردي او همکاري زياتوي، د جمعې او اخترونو لمونځونه خو له هر څه نه زيات د مسلمانانو د غونډيدو، يووالي، اسلامي همکارۍ او د اهدافو د اشتراک څرګندوی دي. همدا راز جومات د مسلمانانو په ژوند کې لوی اجتماعي او روحي رسالت لري، همدا جومات دی چې مسلمانان سره يو کوي، نفسونه يې پاکوي، زړونه او عقلونه يې بيداروي، مشکلات يې حلوي او د قوت او يووالي څرګندونه يې کوي. په اسلام کې د جومات تاريخ دا ثابته کړيده چې همدې جومات د ځمکې پرمخ د الهي نور او هدايت، د خورولو پخاطر ډيرې لښکرې له خپل زړه نه قومانده کړيدې، او همدا جومات د اسلامي هداياتو روښانه څراغ ؤ، او د همدې جومات په غيږ کې د اسلامي تمدن لوی لوی قوماندانان روزل شويدي، ابوبکر، عمر، عثمان، علي، خالد، سعيد، ابو عبيده، او د اسلامي تاريخ دوی ته ورته نور قهرمانان په نبوي جومات کې د محمدي

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



مدرسې شاګردان وو. په اسلام کې د جومات یوه ځانګړتیا او خصوصیت دا دی چې له هغه ځای نه هره هفته (د جمعې په ورځ) د حق لوړ او قوي آواز پورته کېږي، دا آواز بد او منکر غندي، په نیکۍ سره امر کوي، خلک له غفلت نه راویښوي، د وحدت لور ته بلنه ورکوي د ظالم په وړاندې د احتجاج مظاهره کوي، طاغي ته ګوش مالي ورکوي.... مونږ په خپل وړکتوب کې لیدلي چې د فرانسوي استعمار په ضد د وطني او ملي حرکتونو د خوځېدو او د صهیونیزم په خلاف د جهادي مشرانو د پناه یوازینی ځای جومات ؤ، خو دا چې اوس جومات د تعطل په حالت کې قرار لري خپله لویه دنده نه شي تر سره کولای، نو ددې ټوله ګناه د مزدورو او یا ناپوهه او غافلو خطیبانو په غاړه ده. او که دا نن هم د شریعت واقعي علماء د حق ریښتني داعیان، الله او رسول ته مخلص او د مسلمانانو په حال زړه سواندي رهبران منبر ته جګ شي نو د جومات پخوانی دور بیرته را ژوندی کیدای شي، بیرته په ټولنه کې د صدارت او مشرتابه عهده په غاړه اخلي، د خلکو د تربیې، او د الله په لار د برابرو انسانانو جوړولو مدرسه ګرزي مونږ داسې ورځې راتلو ته سترګې په لار یو، چې دا د مؤمنو با اخلاقه، پوهو او مخلصو ځوانانو ډله د جومات منبر ته وخیژي او د حق آواز یو ځل بیا د هر چا غوږ ته ورسوي.

۱۵- د مهاجرینو او انصارو تر مینځ ورور ګلوي، د اسلامي

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



انسان جوړونکي عدالت يوه نمونه ده مهاجرين داسې کسان وو چې د الله (جل جلاله) په لار کې يې وطن، مال او هر څه پريښې وو، او مدينې ته پداسې حال کې لاړل چې له دنيوي شيانو نه يې هيڅ هم نه درلودل، خو انصار د مال، کرهنې او صنعت درلودونکي شتمن خلک وو، نو د همدې ورورۍ په اساس به انصاري د خپل مهاجر ورور پيټې وړي، غم او خوشالي به ور سره شريکوي د امکان په صورت کې به پخپل کور کې ځای ورکوي، د شتمنۍ په صورت کې به د مال نيمايي برخه ورکوي، وګورئ د دنيا کوم عدالت لدې ډول ورور ګلوۍ سره برابريدی شي؟

هغه کسان چې د اسلامي دين له اجتماعي عدالت نه سترګې پټوي، نه غواړي د اسلام نور د خلکو سترګې روښانه کړي، زړونه يې تسخير کړي او يا خو دا ډله داسې جامد او وچ خلک دي چې هر نوی شی او لفظ ردوي که هر څو يې خلک خوښ کړي. او په اسلام کې يې مدلول هم وجود ولري، که داسې نه وي نو په اسلام کې له اجتماعي عدالت نه څنګه او ولې سترګې پټوي او انکار ور نه کوي؟ حال دا چې په وړاندې يې ذکر شوې ورورګلوي هم موجوده ده، هغه ورورګلوي چې د شريعت څښتن محمد (صلی الله عليه وسلم) پخپل لاس مينځته راوستې او دده تر رسالت او اشراف لاندې تطبيق شوه او همدا ورورګلوي د لومړني اسلامي دولت تهداب هم وه.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



۱۲- په هغه لیک کې چې د مهاجرینو او انصارو د ورورګلوۍ، او د مسلمانانو او نورو تر مینځ د همکارۍ تړونونه پکې لیکل شوي ؤ، ډېر داسې دلایل شته چې دا ثابتوي چې اسلامي دولت په اجتماعي عدالت باندې ولاړ دی.

د مسلمانانو او نورو تر مینځ د اړیکو اساس صلحه ده، که یې صلحه سره وکړه، حق، عدالت، په نیکۍ کې یوله بل سره همکاري، او له ټولنې نه د اشرارو لاس لنډول د اسلامي دولت لومړنی او اساسي شعار دی، او د همدې شعار په اساس په هر وخت کې او هر چیرته چې وي یو دولت اسلامي دولت ګڼل کیږي، همدا شعار د اسلامي دولت پښنې ټینګوي او د ننې عصر تر ټولو لوړ او اوچت اصل هم دی. په اسلامي ټولنه کې ددې اصولو په رڼا کې د دولت تشکیل له انساني فکر او تصور سره پوره برابري لري او مسلمانان له ټولو نه د قوي، نیکبخته او پرمخ تللي دولت خاوندان ګرزوي.

مونږ ته په کار ده چې خپل دولت د اسلام په رڼا کې تشکیل کړو او که لدېنه پرته په بل کوم اساس دولت جوړ کړای شي، نو له ورانۍ او بربادۍ پرته بل څه په لاس نه راځي. اسلام په اسلامي هیواد کې نا مسلمانو ته ضرر نه رسوي، عقیده یې تر فشار لاندې نه نیسي، حقوق یې نه خوري، نو په اسلامي هیوادو کې د شریعت له تطبیق نه ولې او په څه ویره لري؟حال دا چې اسلامي شریعت ټول حق دی، عدل دی او ورورګلوي او هلته داسې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



اجتماعي تکافل وجود لري چې اساس يې محبت وروګلوي او همکاري ده.

تر هغې به له استعمار نه آزاد نه شو، تر څو مود اسلام لوړ شعار نه وي اوچت کړی، مټې مو نه وي رانغښتې او د کار او عمل ډګر ته نه وو داخل شوي: الله تعالی فرمايي:

((وَلَوْ أَنَّ أَهْلَ الْقُرَى آمَنُوا وَاتَّقَوْا لَفَتَحْنَا عَلَيْهِم بَرَكَاتٍ مِنَ السَّمَاءِ وَالأَرْضِ لَفَتَحْنَا عَلَيْهِمْ بَرَكَاتٍ مِنْ السَّمَاءِ وَالأَرْضِ))(الاعراف: ۹۶)

(که د سيمو خلکو ايمان راوړی وای او د تقوی کړنلاره يې غوره کړې وای نو مونږ به پر هغوی باندې د آسمان او ځمکې د برکتونو دروازې پرانستې وای).

بل ځای فرمايي: (( وَأَنَّ هَذَا صِرَاطِي مُسْتَقِيماً فَاتَّبِعُوهُ وَلا تَتَّبِعُوا السُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَنْ سَبِيلِهِ)). (الانعام: ۱۵۳)

(دغه راز د هغه لارښوونه دا ده چې همدا زما سمه لاره ده نو تاسې په همدې باندې لاړ شئ او په نورو لارو باندې مه ځئ چې هغه به تاسې له هغې لارې واړوي تيت پرک به مو کړي.

همدا راز فرمايي: ((وَمَنْ يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَلْ لَهُ مَخْرَجاً (۲) وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لا يَحْتَسِبُ وَمَنْ يَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ فَهُوَ حَسْبُهُ إِنَّ اللَّهَ بَالِغُ أَمْرِهِ قَدْ جَعَلَ اللَّهُ لِكُلِّ شَيْءٍ قَدْراً (۳)). الطلاق:۲-۳)

(څوک چې له الله نه په ويريدو کار وکړي الله به د هغه لپاره له ستونزو

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



نـه د وتلـو کـومه لاره پـيدا کـړي او هغـه تـه بـه لـه داسـې لارې نـه روزي ورکـړي چـې هغـه لـوري تـه د هغـه ګـومان هم نه رسيږي او څوک چې په الله باندې توکل وکړي د هغه لپاره هغه کافي دی، الله د خپل کار پوره کوونکی دی، الله د هر شي لپاره يوه اندازه ټاکلې ده).

وريـسې فرمايي:((... وَمَـــنْ يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَلْ لَهُ مِنْ أَمْرِهِ يُسْراً)).

(الطلاق – ٤)

(څوک چې له الله وويريږي هغه يې په کار کې اسانتيا پيدا کوي).

((...وَمَنْ يَتَّقِ اللَّهَ يُكَفِّرْ عَنْهُ سَيِّئَاتِهِ وَيُعْظِمْ لَهُ أَجْراً )). (الطلاق – ٥)

(څـوک چې لـه الله نه وويريږي الله به هغه بدي له هغه نه ايسته کړي او اجر به يې ورته زيات کړي).

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# پنځم فصل

# د رسول (صلی الله علیه وسلم) غزاګانې

## الف- تاريخي پيښې:

۱- په مدينه کې د رسول (صلی الله عليه وسلم) دمه لا نه وه جوړه شوې چې له قريشو او نورو عربي قبيلو سره د اسلام جګړې پيل شوې. مسلمانو مؤرخينو د مسلمانانو او مشرکينو تر مينځ هره هغه جګړه چې رسول (صلی الله عليه وسلم) پخپله پکې برخه درلوده ((غزا)). او په کومه جګړه کې يې چې په خپله ونډه نده اخيستې (( سريه)) بللې ده. د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) د غزواتو شمير (۲۷) او د سراياؤ شمير يې (۳۸) ته رسيږي. مونږ دلته مشهورې غزاګانې چې شمير يې (۱۱) ته رسيږي په لاندې ډول سره بيانوو:

## ۱- د بدر لويه غزاء

دا غزا د هجرت په دوهم کال د روژې د مياشتې په (۱۷) مه نيټه پيښه شوې وه. سبب يې دا ؤ چې رسول الله (صلی الله عليه وسلم) يو شمير اصحاب (رضي الله عنهم) د قريشو د هغې قافلې مخې ته کومه چې له شام نه مکې ته روانه وه پداسې حال کې ورولېږل، چې د جنګ اراده يې نه درلوده. که څه هم د ابو سفيان تر مشرۍ لاندې دې قافلې نجات و موند، خو هغه له وړاندې نه له قريشو نه مدد او کومک

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



غوښتنې ؤ، چې په نتیجه کې د قریشو زرکسه چې شپږ سوو یې زغرې اغوستې وې، سل آسونه چې وربانديې سل نور زغروال کسان وو، اوه سوه اوښان له یو شمیر ښځو سره چې دایره به یې وهله او په مسلمانانو پسې به یې بد او رد ویل راووتل. د مسلمانانو شمیره (۳۱۳) یا (۳۱۴) کسه وو چې زیاته برخه یې انصار وو. له دوی سره (۷۱) اوښان دوه یا درې آسان وو او بس چې پر اوښانو باندې به په نوبت سره سپریدل. مخکې له دې چې جګړه پیل شي رسول الله (صلی الله علیه وسلم) وغوښتل له خپلو اصحابو (رضي الله عنهم) په خاص ډول انصارو سره د جګړې په اړوند سلا او مشوره وکړي، مهاجرینو د جنګ کولو مشوره ورانديې کړه، کله چې انصار پوه شول چې مهاجرین جنګ کول غواړي نو د انصارو مشر سعد بن معاذ (رضي الله عنه) وویل: یا رسول الله! مونږ په تا ایمان راوړی، ستا تصدیق مو کړی او پدې پوره باور لرو کوم شی چې تا راوړي هغه حق دي، ددې ټولو ترڅون مو درسره کړی، د اطاعت عهد مو درکړی، نو اې د خدای رسوله هر څه چې غواړې هغه وکړه مونږ درسره یو. قسم په هغه ذات چې ته یې په حق راستولی یې که په بحر کې د ځان غورځولو امر راته وکړې، مونږ به ټول له تا سره یو ځای بحر ته ځانونه واچوو، بده نه ده که سبا له خپل دښمن سره مخامخ شو مونږ د جنګ په میدان کې د زیات صبر خاوندان یو، کیدای شي الله (جل جلاله) زمونږ په واسطه ستا سترګې روښانه او یخې کړي، د خدای په برکت سره حرکت وکړه...... بل انصاري هم همدا ډول خبرې وکړې، نو رسول (صلی الله علیه وسلم) ډیر خوشحاله شو او ویې فرمایل: ((سیروا علی برکة الله

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



وابشروا، فان الله وعدني احدى الطائفتين اما العير و اما النفير)).د خدای په برکت سره حرکت وکړئ او زیری مې درباندې چې خدای راسره له دوو نه د یوه شي چې یا به قافله وي او یا به جنګي لښکر وعده راسره کړې.

رسول الله (صلی الله علیه وسلم) حرکت وکړ، لاړ او د بدر اوبو سره نژدې یو ځای کې یې واړول، دلته حباب بن منذر (رض) ورته وویل: یا رسول الله (صلی الله علیه وسلم)! ایا پدې ځای باندې د اړولو امر د الله (جل جلاله) له طرفه دی، چې باید همدلته وې، اخوا دیخوا به نه کېږې؟ او که نه دا یو نظر، تکتیک، جنګ او چل دی؟ رسول الله (صلی الله علیه وسلم) وفرمایل: نه دا زما رایه ده او دا جنګ دی او چل. نو حباب بن منذر داسې ځای ورته په ګوته کړ چې له هغه ځایه مسلمانانو کولای شوای په مشرکینو اوبه بندې کړي. رسول الله (صلی الله علیه وسلم) او اصحاب همغه ځای ته لاړل او هلته یې واړول. بیا سعد بن معاذ نظر ورکړ چې باید رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ته د مسلمانانو د لیکو تر شا یوه څپره جوړه کړای شي، که فتحه وه نو ښه زما او ښه ستا او که نه نو پخپل مرکب به سپور شي او په مدینه کې به له خپلو پاتې اصحابو (رضي الله عنهم) سره یو ځای شي. سعد (رضي الله عنه) رسول الله صلی الله علیه وسلم) ته وویل له مونږ نه داسې قومونه پاتې شوي چې له مونږ نه زیات محبت درسره لري، او که پوه شي چې ته جنګ کوې نو درنه وروسته به نه شي. رسول الله (صلی الله علیه وسلم) سعد (رضي الله عنه) ته دعا وکړه او امر یې وکړ چې څپره جوړه کړي، کله چې څګره پیل شوه رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



مسلمانانو لیکې برابرې کړې او هغوی یې جنګ ته تشویقول او د شهادت لور ته یې هڅول او دایې وفرمایل:((والذي نفسي بیده لا یقاتلهم الیوم رجل فیقتل صابرا محتسبا، مقبلا غیر مدبر الا ادخله الله الجنة)).(قسم په هغه ذات چې زما نفس یې په لاس کې دی، هر هغه سړی چې نن له هغوی (مشرکینو) سره جنګ کوي، بیا ووژل شي پداسې حال کې چې صابر وي او محتسب (خپل اجر له خدای نه غواړي)، مخ په مخ وي نه د تیښتې په حالت کې نو حتمي به یې خدای (جل جلاله) جنت ته داخلوي). بیا خپلې څپرې ته لاړ، ابوبکر (رضي الله عنه) هم ورسره ؤ،سعد بن معاذ (رضي الله عنه) توره په لاس پیره ورباندې کوله، رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د الله (جل جلاله) دربار ته لاسونه اوچت کړل او د خپلې دعا په یوه برخه کې یې وفرمایل: ((اللهم انشدک عهدک و وعدک، اللهم ان تهلک هذه العصابة لا تعبد في الارض)).(خدایه له تا نه خپله وعده او تړون غواړم، یا خدایه! که دا ټولګی مړه او هلاک شي، نو بیا به د ځمکې پر مخ ستا عبادت ونه شي. بیا په سجده پریوت دومره ځنډ یې وکړ چې ابوبکر (رضي الله عنه) ورته وویل: بس دی الله حتما خپله وعده تر سره کوي.

جنګ شدت وموند، چې بالاخره د مسلمانانو په برې سره پای ته ورسید، له مشرکینو نه د ((۷۰)) تنو په شا او خوا کې ووژل شول، او په وژل شویو کسانو کې لوی مشرک (ابوجهل) او نور مشران هم وو او د (۷۰) کسو په شا او خوا کې نور ورځخه ژوندي ونیول شول. رسول

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



الله (صلی الله علیه وسلم) د مړو د ښخولو امر وکړ، بیا مدینې ته راستانه شول. دلته یې د بندیانو په هکله له خپلو اصحابو (رضي الله عنهم) سره مشوره وکړه، عمر (رضي الله عنه) یې د وژلو رایه وړاندې کړه، خو ابوبکر (رضي الله عنه) د فدیې اخیستلو نظریه پیش کړه، رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د ابوبکر (رضي الله عنه) مشوره او رایه قبوله کړه او له مشرکینو نه یې د بندیانو په بدل کې فدیه واخیسته.

د بدر غزا په اړه د خدای د کتاب (قرآنکریم) دا آیاتونه را نازل شوي:

الله تعالی د آل عمران په سورت کې فرمایي: ((وَلَقَدْ نَصَرَكُمُ اللَّهُ بِبَدْرٍ وَأَنْتُمْ أَذِلَّةٌ فَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ (۱۲۳) إِذْ تَقُولُ لِلْمُؤْمِنِينَ أَلَنْ يَكْفِيَكُمْ أَنْ يُمِدَّكُمْ رَبُّكُمْ بِثَلَاثَةِ آلَافٍ مِنَ الْمَلَائِكَةِ مُنْزَلِينَ (۱۲٤) بَلَى إِنْ تَصْبِرُوا وَتَتَّقُوا وَيَأْتُوكُمْ مِنْ فَوْرِهِمْ هَذَا يُمْدِدْكُمْ رَبُّكُمْ بِخَمْسَةِ آلَافٍ مِنَ الْمَلَائِكَةِ مُسَوِّمِينَ (۱۲٥) وَمَا جَعَلَهُ اللَّهُ إِلَّا بُشْرَى لَكُمْ وَلِتَطْمَئِنَّ قُلُوبُكُمْ بِهِ وَمَا النَّصْرُ إِلَّا مِنْ عِنْدِ اللَّهِ الْعَزِيزِ الْحَكِيمِ (۱۲٦) لِيَقْطَعَ طَرَفًا مِنَ الَّذِينَ كَفَرُوا أَوْ يَكْبِتَهُمْ فَيَنْقَلِبُوا خَائِبِينَ (۱۲۷).

(آل عمران: ۱۲۳-۱۲۷).

(له دې نه مخکې د بدر په جګړه کې الله له تاسې سره مرسته کړې وه پداسې حال کې چې په هغه وخت کې تاسې ډېر زیات کمزوري وئ نو اوس پر تاسې لازمه ده چې د الله د ناشکرۍ نه ځان وژغورئ، هیله ده چې اوس تاسې شکر وباسئ، یاد کړه هغه وخت چې تا مؤمنانو ته ویل

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



(آیا تاسې ته دا کافي نه ده چې الله د درې زره پرښتو په رالیږلو درسره مرسته وکړي)؟ بیشکه، که تاسې د زغم په لرلو له الله څخه په ویریدو کار وکړئ نو په کومه شیبه کې چې دښمنان درباندې یرغل وکړي بیدو په هماغه شیبه کې به ستاسې رب (درې زره نه) پنځو زرو نښنه داره پرښتو په وسیله درسره مرسته وکړي دا خبره الله د دې لپاره درته کړې ده چې تاسې خوشاله شئ او ستاسې زړونه ډاډه شي بر لاسي هر څه چې دي د هغه الله له خوا دي چې ډیر زورور او پوهیدونکی دی. (او دا مرسته به هغه د دې له پاره درسره وکړي) تر څو چې د کفر په لاره د تلونکو یو مټ غوڅ کړي، یا هغو ته داسې رسوا کوونکې ماتې ورکړي چې هغوی ناکام خړ سترګي بیرته ستانه شي)

د مشرکینو د اسیرانو په بدل کې د فدیې اخیستلو په هکله خدای پاک رسول (صلی الله علیه وسلم) ته عتاب کوي او فرمایي

((مَا كَانَ لِنَبِيٍّ أَنْ يَكُونَ لَهُ أَسْرَى حَتَّى يُثْخِنَ فِي الأَرْضِ تُرِيدُونَ عَرَضَ الدُّنْيَا وَاللَّهُ يُرِيدُ الآخِرَةَ وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ (٦٧) لَوْلا كِتَابٌ مِنْ اللَّهِ سَبَقَ لَمَسَّكُمْ فِيمَا أَخَذْتُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ (٦٨) فَكُلُوا مِمَّا غَنِمْتُمْ حَلالاً طَيِّباً وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ (٦٩).

(الانفال: ٦٧-٦٨)

(له هیڅ پیغمبره سره دا نه ښایي چې له هغه سره بندیان وي تر څو پورې چې هغه په ځمکه کې دښمنان په ښه شان ونه ټکوي تاسې د دنیا ګټه غواړئ په داسې حال کې چې د الله تر نظر لاندې آخرت دی او الله برلاسی او حکیم دی، که الهي لیکنه مخکې نه وای شوې نو څه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



چې تاسې اخستې دي د هغه په مجازات کې به تاسې ته ډيره لويه سزاء درکړه شوې وای نو کوم مالونه چې تاسو د ولجې په ډول په لاس راوړي دي هغه خورئ هغه حلال او پاک دي او له الله نه په ويره کې اوسئ په يقيني توګه الله تيريدونکې او رحم کوونکی دی».

## ۲- د احد غزا:

د هجرت په دريم کال د شنبې په ورځ د شوال په لسمه نيټه واقع شويده. سبب يې دا ؤ چې قريشو غوښتل د بدر انتقام واخلي، نو له رسول الله (صلى الله عليه وسلم) سره د جګړې پخاطر يې پوره آمادګي ونيوه په پای کې د قريشو درې زره جنګيالي برسيره په احابيشو (۱) را ووتل. اوه سوه (۷۰۰) زغره لرونکي، دوه سوه آسونه. (۱۷) ښځې چې هنده بنت عتبة د ابو سفيان ښځه هم پکې وه. د نوموړې پلار د بدر په غزا کې وژل شوی ؤ. روان شول مخکې لاړل د احد له خوا د وادي زړه ته ورسيدل. احد يو لوړ غر دی چې د مدينې شمالي لوري ته درې ميله ليرې پروت دی. دلته په مدينه کې د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) او يو شمير اصحابو (رضي الله عنهم) دا نظريه وه چې مسلمانان بايد د کفارو مخې ته ورنه شي، مدينه کې دې پاتې شي که مشرکينو په مدينه حمله وکړه نو دفاع به ورنه کوي. خو ځينو مهاجرو او انصارو ځوانانو او خصوصاً هغو کسانو چې په بدر کې يې برخه نه وه اخيستې، او دا شرف يې نه ؤ ګټلی د مشرکينو مخې ته په وتلو باندې پافشاري او ټينګار کاوه بالاخره رسول الله (صلى الله عليه وسلم) هم د دوی نظريه ومنله. کور ته ننوت او خپله زغره يې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



واغوستله، سپر يې په شا کړ، توره او نيزه په لاس راووت. دلته هغه کسان چې له مدينې نه د وتلو غوښتنه يې کړې وه په دې خاطر پښيمانه شول چې، ګويا خپل نظر يې په رسول الله (صلى الله عليه وسلم) باندې تحميل کړ. نو رسول الله (صلى الله عليه وسلم) ته يې وويل: مونږ ته مناسبه نده چې ستا له نظر سره مخالفت وکړو. څه چې غواړې هغه وکړه. رسول الله (صلى الله عليه وسلم) داسې ځواب ورکړ ((ماكان ينبغي لنبي اذا لبس لامته ان يضعها حتى يحكم الله بينه و بين عدوه). ( د نبي له شان سره نه ښايي چې يو ځل خپله زغره واغوندي او بيا يې بيرته وباسي تر څو چې خدای د ده او دښمن تر مينځ فيصله نه وي کړې)

رسول الله (صلى الله عليه وسلم) له مسلمانانو سره يو ځای د جنګ په لور روان شو. د اسلامي لښکر شمير د زرو (۱۰۰۰) تنو په شا او خوا کې ؤ چې پکې سل زغري او دوه آسان وو

کله چې مسلمانان جګړې ته د تلو په خاطر سره راټول شول. رسول الله (صلى الله عليه وسلم) وليدل چې يوه ډله يهوديان هم د منافقينو له رئيس عبدالله بن ابي بن سلول سره د وتلو اراده لري. رسول الله (صلى الله عليه وسلم) وفرمايل: آيا دوی مسلمانان شويدي؟ ورته ويې ويل نه، يا رسول الله. ويې فرمايل: پرې ايږدئ چې بيرته لاړ شي مونږ د مشرکينو د مقابلې لپاره له نورو مشرکينو نه کومک نه غواړو عبدالله بن ابي بن سلول هم د لارې په نيمايي کې له مسلمانانو نه بيل شو او پدې سره د مسلمانانو شمير اوه سوه تنو ته راکوز شو. رسول الله (صلى الله عليه وسلم) مخکې لاړ تر څو د احد ساحې ته ورسيد.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



دلته يې مخ د قريشو په خوا او شا يې د غره په طرف کړه. لښکر يې ليکې، ليکې کړ د هرې ډلې لپاره يې يو قوماندان وټاکه، او د عبدالله بن جبير تر مشرۍ لاندې يې يو پنځوس کسيز غشي ويشتونکي ګروپ ته وظيفه ورکړه چې د شا له خوا د مشرکينو له حملو نه د مسلمانانو دفاع وکړي او داسې امر يې ورته وکړ: ((احموا ظهورنا، لا ياتونا من خلفنا وارشقوهم بالنبل، فان الخيل لا تقوم على النبل، انا لا نزال غالبين ما ثبتم مكانكم، اللهم اني اشهدك عليهم)).

(د شا له خوا زمونږ دفاع وکړئ، مه پرېږدئ چې هغوی زمونږ له شا راشي، په غشو يې ولئ، آسونه په غشو نه شي ورتلای، مونږ تر هغې بريالي يو تر څو تاسې پخپل ځای ثابت وئ، اې خدايه زه تا پردوی ګواه نيسم.

په بل روايت کې راځي: ((ان رايتمونا تخطفنا الطير، فلا تبرحوا مكانكم هذا حتى ارسل اليكم، و ان رايتمونا هزمنا القوم او ظاهرناهم و هم قتلى فلا تبرحوا مكانكم حتى ارسل اليكم)).

(که مو وليدل چې مرغان زمونږ غوښې وړي. تر هغې خپل ځای مه پرېږدئ تر څو مې څوک درلېږلي نه وي او که مو وليدل چې هغوی ته مو ماتې ورکړه، وربانديې غالب شو او هغوی مړه شول، بيا هم تر هغه وخته خپل ځای مه پرېږدئ تر څو مې احوال نه وي دراستولی).

جنګ پيل شو، الله (جل جلاله) مسلمانان بريالي کړل. يو شمير مشرکان يې ووژل او نورو يې ښېښتې ته مخه کړه، مسلمانانو د

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



غنیمت ټولول شروع کړل، د هغه غشي ویشتونکي ګروپ هم د پخوا ته نظر شو، سره ویې ویل نور دلته څه کوو الله (جل جلاله) خپل رسول (صلی الله علیه وسلم) بریالی کړی؟! د ګروپ مشر عبدالله بن جبیر (رضي الله عنه) د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) امر او توصیه ور په یاد کړه، خو دوی ځواب ورکړ چې جنګ نور خلاص شوی دی، او دلته د پاتې کیدو څه ضرورت نشته، عبدالله بن جبیر او ورسره نورو لسو کسانو دا نظر و نه مانه او خپل سنګر یې پرې نښود. کله چې خالد بن ولید چې هغه وخت د مشرکینو د ښي خوا قوماندان ؤ. دا حال ولید او پوه شو چې مسلمانان د شا لوری نور له غشو ویشتونکو مدافعینو څخه خالي دی، نو د شا له خوا په مسلمانانو باندې راغبرګ شو، او مسلمانان تر هغې پورې وربانده پوه نه شول تر څو یې توري له بدن سره نه وې لګیدلې، پدې سره ډیر وارخطا شول او په همدې وخت کې داسې آوازه هم خوره وه چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) شهید شوی دی، مسلمانان د مدینې په لوري وتښتیدل، مشرکین رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ته ور ورسیدل او نیزې یې دده په مبارک وجود ننوتې، تر څو په ځمکه راولوید او بې هوښه شو مبارک مخ یې زخمي شو، ګونډې یې هم وینې شوې. لاندینی شونډه یې هم ټپي شوه د سر خولی یې ماته شوه او دوې کړی یې په مخ کې ننوتې، مشرکین له هرې خوا ور باندې راولویدل تر څو په شهادت یې ورسوي، خو د الله رسول (صلی الله علیه وسلم) له یو شمیر مسلمانانو سره یو ځای د غره په شان ولاړ ؤ. د مؤمنانو له جملې نه یو ورسره ابو د جانه ؤ چې ځان یې د مشرکینو د غشو په وړاندې د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) سپر ګرزولی ؤ، غشي یې په شا لګیدل او دفع کول یې. بل ورسره

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



سعد بن ابي وقاص ؤ چې هغه ورځ يې تقريبا زر غشي وار کړل، همدا راز هلته نسيبة ام عمارة الانصارية وه د زخميانو خړوبول يې پرېښودل، توره يې واخيسته جنګ يې پيل کړ. په توره وهل کوي او غشي ولي تر څو له رسول الله (صلى الله عليه و اله وصحبه و سلم) نه دفاع وکړي په پای کې په غاړه کې ولګيده سخته ټپي شوه. لدې سره يې مېړه او دوه زامن هم وو. رسول الله (صلى الله عليه وسلم) ورته وفرمايل:

((بارک الله عليکم اهل بيت)) فقالت له نسيبة: ادع الله ان نرافقک في الجنة فقال:((اللهم اجعلهم رفقائي في الجنة)).

(خدای دې په تاسې اهل بيت برکت واچوي. نسيبې ورته وويل له خدای نه سوال وکړه چې په جنت کې ستا ملګري شو. رسول الله (صلى الله عليه وسلم) وفرمايل خدايه هغوی په جنت کې زما ملګري کړې

پدې سره نسيبې (رضي الله عنها) وويل په دنيا کې په رارسيدلي حال مې څه پروا نشته. همدا راز رسول الله (صلى الله عليه وسلم) يې په حق کې فرمايلي: ((که ښي طرف ته به مې کتل او که چپ طرف ته هغې (رضي الله عنها) به زما په دفاع کې جنګ کاوه)). نسيبه (رضي الله عنها) هغه ورځ د تورو او نيزو دوولس زخمه خوړلي وو

د جنګ په همدې سخت حالت کې ابي بن خلف ډير کوښښ وکړ چې رسول الله (صلى الله عليه وسلم) ته ځان ورسوي تر څو شهيد يې کړي، قسم يې وخوړ چې په شا به نه ځي، رسول الله (صلى الله عليه وسلم) له خپلو ملګرو نه نيزه واخيسته او د هغه په ستوني کې يې ووهله چې وروسته له همدې امله مړ شو. او همدا يوازينی انسان دي چې په ټول

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



ژوند کې د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په لاس وژل شویدي.

لد ښنه وروسته رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د طلحة بن عبید الله په اوږو راپورته شو، ودرید او مشرکینو ته یې وکتل، د هغوی یو ټولی یې د غره په سر کې ولید. څوک یې ورولیږل چې هغوی راکوز کړي او ویې فرمایل: ((لا ینبغي لهم ان یعلونا، اللهم لا قوة لنا الابک)).

نه ښایي چې هغوی زمونږ نه لوړ وي، یا خدایه بیله ستا مونږ هیڅ قدرت او قوت نلرو

جنګ ختم شو. ابوسفیان د ځان او مشرکینو د زړه یخوالي پخاطر وویل: دا ورځ د بدر د ورځې په بدل کې.

ددې غزا د شهیدانو په ډله کې د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) تره حمزه (رضي الله عنه) هم ؤ نوموړی محبوب شهید د ابو سفیان ښځې (هندې) مثله کړ. بینه یا زړه یې راویوست او ویې ژوواه. خو د تریخوالی له امله یې بیرته توکړ، رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د خپل تره په حالت سخت خفه شواو ویې فرمایل: ((لئن اظهرني الله علي قریش في موطن من المواطن لامثلن بثلاثین رجلا منهم) ولکن الله نهی عن المثلة بعد ذلک)).(که خدای په یو ځای کې په قریسو بریالی کړم نو دیرش کسه به ورنه مثله کوم، خو خدای پاک وروسته مثله کول منع کړل).

پدې جګړه کې له مسلمانانو څخه (۷۰) تنه شهیدان او له مشرکینو نه (۲۳) کسه مړه شول.

الله (جل جلاله) ددې جګړې په هکله څو آیتونه نازل کړل مسلمانانو ته یې ډاډینه ورکړه، او هر یو یې د هغوی د زخمونو لپاره لکه پټی

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



داسې و. همدا راز د ا مبارک آيتونه د دوی د ماتې سبب هم په ګوته کوي فرمايي ((وَلا تَهِنُوا وَلا تَحْزَنُوا وَأَنْتُمُ الأَعْلَوْنَ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ (۱۳۹) إِنْ يَمْسَسْكُمْ قَرْحٌ فَقَدْ مَسَّ الْقَوْمَ قَرْحٌ مِثْلُهُ وَتِلْكَ الأَيَّامُ نُداوِلُها بَيْنَ النَّاسِ وَلِيَعْلَمَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا وَيَتَّخِذَ مِنْكُمْ شُهَداءَ وَاللَّهُ لا يُحِبُّ الظَّالِمِينَ (۱٤۰) وَلِيُمَحِّصَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا وَيَمْحَقَ الْكافِرِينَ (۱٤۱) أَمْ حَسِبْتُمْ أَنْ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ وَلَمَّا يَعْلَمِ اللَّهُ الَّذِينَ جاهَدُوا مِنْكُمْ وَيَعْلَمَ الصَّابِرِينَ (۱٤۲) ( آل عمران ۱۳۹ / ۱٤۲)

بې زړه کيږئ مه انديښمن کيږئ مه همدا تاسې برلاسي ياست که تاسې مؤمنان اوسئ اوس که تاسې ټپي شوي يئ نو له دينه مخکې ستاسې دښمنه ډله هم همداسې ټپيان شوي دا د زمانې خوږې ترخې دي چې مونږ يې د خلکو تر مينځه اړوو را اړوو پر تاسې دا مرحله ځکه راوستل شوه چې الله دا کتنه غوښتله چې په تاسې کې رينښتيني مؤمنان څوک دي، او د هغو خلکو ټاکل يې غوښتل چې په واقعي توګه ( د رينښتينولۍ) شاهدان وي ځکه چې ظالمان د الله نه خوښيږي او هغه ددې ازموينې په وسيله د مؤمنانو چاڼول او د کافرانو ځپل غوښتل آيا تاسې دا ګڼلې ده چې همداسې به جنت ته لاړ شئ پداسې حال کې چې لا تر اوسه پورې الله دا ندہ ليدلی (دا ازماښت يې نه دی کړي) چې په تاسې کې څوک هغه خلک دي چې د هغه په لاره کې جهاد کوونکي او صبر کوونکي دي.

له څو آيتونو وروسته فرمايي ((وَلَقَدْ صَدَقَكُمُ اللَّهُ وَعْدَهُ إِذْ

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:...

Downloaded By: Afghan Salar Library



تَحُسُّونَهُمْ بِإِذْنِه حَتَّى إِذَا فَشِلْتُمْ حَتَّى إِذَا فَشِلْتُمْ وَتَنَازَعْتُمْ فِي الأَمْرِ وَعَصَيْتُمْ مِنْ بَعْدِ مَا أَرَاكُمْ مَا تُحِبُّونَ مِنْكُمْ مَنْ يُرِيدُ الدُّنْيَا وَمِنْكُمْ مَنْ يُرِيدُ الآخِرَةَ ثُمَّ صَرَفَكُمْ عَنْهُمْ لِيَبْتَلِيَكُمْ وَلَقَدْ عَفَا عَنْكُمْ وَاللَّهُ ذُو فَضْلٍ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ (١٥٢) إِذْ تُصْعِدُونَ وَلا تَلْوُونَ عَلَى أَحَدٍ وَالرَّسُولُ يَدْعُوكُمْ فِي أُخْرَاكُمْ فَأَثَابَكُمْ غَمّاً بِغَمٍّ لِكَيْلا تَحْزَنُوا عَلَى مَا فَاتَكُمْ وَلا مَا أَصَابَكُمْ وَاللَّهُ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ (١٥٣).

(آل عمران :١٥٢-١٥٣)

(الله چې د ((مرستې او نصرت)) كومه وعده له تاسې سره كړې وه هغه خو يې پوره كړي لومړى خو د هغه په حكم همدا تاسې هغوى وژل خو كله چې تاسې همت له لاسه وركړ او په خپل كار كې مو سره اختلاف وكړ او له هغه وروسته چې الله تاسې ته هغه دروښود چې تاسې يې په مينه كې راګير وئ (ولچې مالونه) تاسې د خپل مشر له امر څخه غاړه وغړوله ددې له پاره چې له تاسې څخه ځينې خلک د دنيا غوښتونكي وو او ځينو د آخرت هيله لرله نو الله تاسې د كافرانو په مقابله كې په شا وتمبولئ تر څو چې پر تاسې ازميښت وكړي او حقه داده چې الله جل جلاله) بيا هم تاسې ته معافي وكړه ځكه چې د الله پر مؤمنانو د پيرزوينې ډير لوى نظر لري در په زړه كړئ هغه وخت چې تاسې په تيښته ځغليدئ هيچا ته مو بيرته د كتلو قدري پام نه ؤ او پيغمبر (صلى الله عليه وسلم) له شا درپسې (تاسې ته) ناري وهلې په هغه وخت ستاسي ددې چال چلند بدله الله در كړه چې تاسې يې پر غم د پاسه په غم اخته كړئ تر څو د آينده لپاره دا درس واخلئ چې كه څه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



شي ستاسي له لاسه ووځي يا کوم تکليف درته ورسيږي چې پر هغه خپه نشئ الله (جل جلاله) ستاسې د ټولو کړو وړو څخه خبر دی

## ۳- د بني نضير غزا:

بني نضير له مدينې سره خوا کې يوه يهودي قبيله وه. چې له خزرج قبيلې سره يې تړون درلود. او له مسلمانانو سره يې هم د صلحې او همکارۍ تړون لاسليک کړي ؤ. خو يهودي له غدر او شر نه ډک طبيعت دېته اړ ايستل چې تړون مات کړي يو وخت رسول الله (صلی الله عليه وسلم) او ورسره څنې اصحابو (رضي الله عنهم) د بني نضير په مېنه کې يوه ديوال ته ناست ؤو چې د همدې قبيلې يهودو د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) د قتل توطئه جوړه کړه او غوښتل يې د يوې تيږې په راغورځولو سره دا شوم کار تر سره کړي. خو نبي (صلی الله عليه وسلم) پرې پوه شو. په چټکۍ سره راولاړ شو او د مدينې په لور وخوځيد. اصحاب (رضي الله عنهم) هم ورپسې لاړل بيا يې له هغه ځايه محمد بن مسلمة د بنو نضير يهودانو ته ورولېږه او ورته وې ويل چې نور زما له ښار (وطن) نه ووزئ. دلته نور د پاتې کيدو حق نلرئ، تاسې خپل غدر او شيطانت تر سره کړ. د وتلو لپاره يې لس ورځې مهلت ورکړ، بنو نضيرو پدې اخطار سره د تلو ترتيبات ونيول. خو د منافقينو رئيس عبدالله بن ابي بن سلول پيغام ورواستوه چې بايد له مدينې نه لاړ نه شي، او د دوو زرو (۲۰۰۰) کسانو وعده يې ورسره وکړه چې د دوی د دفاع پخاطر به يې وراستوي. پدې سره يهودان بيرته کيناستل او په خپلو قلاګانو کې يې سنګرونه ونيول او

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram

Downloaded By: Afghan Salar Library



رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ته یې داسې پیغام ولیږه. مونږ له خپل وطن نه وزو څه دې چې د لاسه کیږي ویې کړه. رسول الله (صلی الله علیه وسلم) هم له خپلو اصحابو (رضي الله عنهم) سره د دوی په خوا وخوځید بیرغ یې علي بن ابي طالب (رضي الله عنه) ته ورکړ. یهودانو چې کله دوی ولیدل نو د غشو او تیږو باران یې پرې جوړ کړ. خو د منافقینو د مشر وعده کړي لښکر ور ونه رسید او د کومک یې څه درک و نه لګید رسول الله (صلی الله علیه وسلم) محاصره کړل او محاصره اوږده شوه بالاخره دیته مجبور شو چې د یهودانود خرما ونې ووهي، دلته وه چې دوی (یهودانو) د مجبورۍ له مخې ورته وویل اوس ستا له وطن نه وځو خو رسول الله (صلی الله علیه وسلم) دا شرط ورباندې کیښود چې وسلې به له ځان سره نه وړي، او هر څوک، فقط د یوه اوښ د بار په اندازه مال ورسره وړی شي. وینې یې په امن دي څوک یې یو څاڅکی وینه هم نه شي تویولی. خو کله یې چې د وتو اراده وکړه ټول هغه څه یې راوایستل چې وړی یې شوی. بیا یې خپل کورونه رنګ کړل تر څو مسلمانان ورڅخه ګټه وانخلي او روان شول. له مدینې نه ووتل څوک په خیبر کې چې له مدینې نه (۱۰۰) میله لیرې دی ځای په ځای شول، او څنې نور یې د شام جنوبي خوا (جرش) نومي ځای کې میشت شول او یوازې دوه کسان ورنه مسلمان شول ددې غزا په هکله د حشر سورت نازل شو چیرته چې خدای (جل جلاله) فرمایي:

((هُوَ الَّذِي أَخْرَجَ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ مِنْ دِيَارِهِمْ لِأَوَّلِ الْحَشْرِ مَا ظَنَنْتُمْ أَنْ يَخْرُجُوا وَظَنُّوا أَنَّهُمْ مَانِعَتُهُمْ حُصُونُهُمْ مِنَ اللَّهِ

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



فَأَتَاهُمْ اللَّهُ مِنْ حَيْثُ لَمْ يَحْتَسِبُوا وَقَذَفَ فِي قُلُوبِهِمْ الرُّعْبَ يُخْرِبُونَ بُيُوتَهُمْ بِأَيْدِيهِمْ وَأَيْدِي الْمُؤْمِنِينَ فَاعْتَبِرُوا يَا أُولِي الأَبْصَارِ (۲) وَلَوْلا أَنْ كَتَبَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ الْجَلاءَ لَعَذَّبَهُمْ فِي الدُّنْيَا وَلَهُمْ فِي الآخِرَةِ عَذَابُ النَّارِ (۳) ذَلِكَ بِأَنَّهُمْ شَاقُّوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَمَنْ يُشَاقِّ اللَّهَ فَإِنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ (٤)).(الحشر: ۲-٤)

(هغه ذات دی چې اهل کتاب کافران يې په همدې لومړۍ حمله کې له خپلو کورونو څه وايستل ستاسې هيڅ دا ګومان نه ؤ چې هغوی به ووځي او هغوی هم دا ګڼله چې د هغوی کلاوې به هغوی له الله نه وژغوري خو الله له داسې لوري په هغو راغی چې هغې خوا ته د هغوی خيال هم نه ؤ. د هغو په زړونو کې يې ويره واچوله نتيجه دا شوه چې هغوی خپله پخپلو لاسونو سره هم خپل کورونه ورانول او د مؤمنانو په لاسونو سره يې هم ورانول نو عبرت واخلئ اې د بينا سترګو لرونکو که الله د هغوی په حق کې جلا وطني نه واې ليکلې نو په همدې دنيا کې به يې هغوی ته عذاب ورکړي ؤ او په آخرت کې خو د هغو لپاره د دوزخ عذاب دی دا هر څه لدې امله وشول چې هغوی له الله او د هغه له رسول سره دښمني وکړه. او هر څوک چې له الله سره دښمني وکړي الله هغه ته په سزا ورکولو کې سخت دی).

## ۴- د احزاب غزا:

د احزاب غزا د خندق غزا هم بلله کيږي، نوموړې غزا د هجرت په پنځم کال د شوال په مياشت کې شوې وه. سبب يې دا ؤ کله چې بني

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297638/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



نضیر له وطن نه وشړل شول، څو مشران یې مکې ته له قریشو سره د خبرو اترو لپاره لاړل. تر څو هغوی له رسول الله (صلی الله علیه وسلم) سره د جګړې لپاره ولمسوي، قریشو موافقه ور سره وکړه. بیا یهودي مشران غطفان ته ورغلل چې بنو فزاره او بنو مرة او اشجع ورسره موافق شول او پدې ترتیب سره ټول د مدینې په لور روان شول. کله چې رسول (صلی الله علیه وسلم) لدې پیښې نه خبر شو نو یې له خپلو اصحابو (رضي الله عنهم) سره مشوره وکړه. پدې جریان کې سلمان (رضي الله عنه) له مدینې نه شا او خوا د خندق کیندلو رایه وړاندې کړه رسول الله (صلی الله علیه وسلم) دا نظریه تائید او د خندق کیندلو امر یې وکړ، او پخپله یې هم پکې کار کاوه. کله چې قریش او ورسره ملګري احزاب (ډلې) مدینې ته راورسیدل د خندق په لیدلو حیران شول او وویریدل ځکه عربو لدینه مخکې دا شان خندق نه ؤ لیدلی. د قریشو او ملګرو شمیر یې لس زره کسه او د مسلمانانو شمیر دری زره کسان وو. د یهودو له مشرانو نه یو تن چې حیي بن اخطب نومیده د بني قریظه مشر کعب بن اسد ته ورغی او ور نه ویې وغوښتل چې له مسلمانانو سره خپل د سولې تړون مات کړي. هغوی یې بالاخره په چل او ول کې دیته آماده کړل چې تړون مات کړي او له احزابو سره یو ځای شي، نو حالت پر مسلمانانو نور هم سخت شو. پدې وخت کې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) له بني قریظه سره د سولې پخاطر داسې نظریه وړاندې کړه چې که هغوی سوله ومني نو د مدینې د میوو دریمه برخه به ورکړي، خو انصارو د دیني عزت او غیرت په وجه دا و نه منله او قبوله یې نکړه چې خائنو، عهد ماتوونکو ته دا شي ورکړي. نو جنګ پیل شو د قریشو ځنې سپاره د

Downloaded By: Afghan Salar Library



خندق له یو تنګ ځای نه مدینې ته ننوتل، مسلمانانو یې مقابله وکړه. جنګ یې ورسره وکړ. بیا نعیم بن مسعود بن عامر رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ته راغی او ورته ویې ویل: زه مسلمان یم خو قوم مې تر اوسه په اسلام نه دی خبر شوی، زه د بني قریظه ملګری یم، هغوی راباندې پوره باور او اعتماد لري، نو امر راته کوه چې څه وکړم؟ رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ورته وفرمایل: ((انما انت فینا رجل واحد، فخذل عنا ان استطعت فان الحرب خدعة)). (ته په مونږ کې یو کس یې، نو په هر څه دې چې وس وي زمونږ کومک وکړه. جنګ خو چل دی).

نعیم له خپلې پوهې او ځیرکۍ نه کار واخیست، قریشو او د هغوی د حلیفانو او بني قریظه تر مینځ یې درز پیدا کړ، یو پر بل یې اعتماد ختم شو، الله (جل جلاله) په احزابو باندې په توره او ډیره یخه شپه کې شدید باد او طوفان مسلط کړ، باد یې خیمې شیرې کړې، دیګونه یې چپه کړل، په زړونو کې یې ویره ولویده او په همدې شپه کې یې مخه واخیسته، کله چې سهار شو مسلمانانو وکتل چې یو مشرک هم نشته، ټولو کوچیدلي دي.

ددې جګړې په اړه الله (جل جلاله) پخپله کتاب کې دا آیتونه نازل کړیدي: ((یَا أَیُّهَا الَّذِینَ آمَنُوا اذْکُرُوا نِعْمَةَ اللَّهِ عَلَیْکُمْ إِذْ جَاءَتْکُمْ جُنُودٌ فَأَرْسَلْنَا عَلَیْهِمْ رِیحاً وَجُنُوداً لَمْ تَرَوْهَا وَکَانَ اللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِیراً (۹) إِذْ جَاءُوکُمْ مِنْ فَوْقِکُمْ وَمِنْ أَسْفَلَ مِنْکُمْ وَإِذْ زَاغَتْ الأَبْصَارُ وَبَلَغَتْ الْقُلُوبُ الْحَنَاجِرَ وَتَظُنُّونَ بِاللَّهِ الظُّنُونَ (۱۰)

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



هُنَالِكَ ابْتُلِيَ الْمُؤْمِنُونَ وَزُلْزِلُوا زِلْزَالاً شَدِيداً (۱۱)). (الاحزاب:۹-۱۱)

(اې مؤمنانو د الله هغه پیرزوینه در په زړه کړئ چې (همدا اوس اوس) هغه پر تاسې کړې ده، کله چې لښکرو پر تاسې يرغل وکړ نو مونږ پر هغو يو سخت طوفان وليږه او داسې پوځونه مو وليږل چې ستاسې په نظر نه راتلل الله هغه هر څه ليدل چې تاسې په دې وخت کې کول کله چې هغوی له پاسه او له لاندې پر تاسې يرغل وکړ کله چې سترګې له ويرې تيغې وختلې، زړونه خولې ته راغلل او تاسې د الله په باب راز راز ګومانونه وکړل په هغه کې مؤمنان ښه وآزمايل شول او سخت ولړزول شول). وربسې د منافقينو دريز او له ميدانه (جنګ) نه تيښته بيانوي، بيا د مؤمنانو په وصف کې وايي ((وَلَمَّا رَأَى الْمُؤْمِنُونَ الْأَحْزَابَ قَالُوا هَذَا مَا وَعَدَنَا اللَّهُ وَرَسُولُهُ وَصَدَقَ اللَّهُ وَرَسُولُهُ وَمَا زَادَهُمْ إِلَّا إِيمَاناً وَتَسْلِيماً (۲۲) مِنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللَّهَ عَلَيْهِ فَمِنْهُمْ مَنْ قَضَى نَحْبَهُ وَمِنْهُمْ مَنْ يَنْتَظِرُ وَمَا بَدَّلُوا تَبْدِيلاً (۲۳) لِيَجْزِيَ اللَّهُ الصَّادِقِينَ بِصِدْقِهِمْ وَيُعَذِّبَ الْمُنَافِقِينَ إِنْ شَاءَ أَوْ يَتُوبَ عَلَيْهِمْ إِنَّ اللَّهَ كَانَ غَفُوراً رَحِيماً (۲٤) وَرَدَّ اللَّهُ الَّذِينَ كَفَرُوا بِغَيْظِهِمْ لَمْ يَنَالُوا خَيْراً وَكَفَى اللَّهُ الْمُؤْمِنِينَ الْقِتَالَ وَكَانَ اللَّهُ قَوِيّاً عَزِيزاً (۲٥) وَلَمَّا رَأَى الْمُؤْمِنُونَ الْأَحْزَابَ قَالُوا هَذَا مَا وَعَدَنَا اللَّهُ وَرَسُولُهُ وَصَدَقَ اللَّهُ وَرَسُولُهُ وَمَا زَادَهُمْ إِلَّا إِيمَاناً وَتَسْلِيماً (۲۲) مِنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللَّهَ عَلَيْهِ

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



فمنهم من قضى نحبه ومنهم من ينتظر وما بدلوا تبديلا (۲۳) ليجزي الله الصادقين بصدقهم ويعذب المنافقين إن شاء أو يتوب عليهم إن الله كان غفورا رحيما (۲٤) ورد الله الذين كفروا بغيظهم لم ينالوا خيرا وكفى الله المؤمنين القتال وكان الله قويا عزيزا (۲۵)). الاحزاب: ۲۲/۲۵)

(او د رښتینو مؤمنانو (حال هغه وخت کې دا ؤ) چې کله هغوی یرغلګر ولیدل نو ویې ویل چې ((دا هماغه څه دي چې الله او د هغه رسول له مونږ سره د هغه وعده کړې وه د الله او د هغه رسول (صلى الله عليه وسلم) خبره رښتیا وه )) دغې پېښې د هغو ایمان او غاړه اېښودل لا زیات کړل له مؤمنانو څخه چې هغوی له الله سره کړې ژمنه رښتیا کړې ده له هغو نه چا خپل نذر پوره کړ او څوک د وخت راتلو ته انتظار باسي هغوی په خپله کړنلاره کې هیڅ تبدیلي رانه وستله (دا هر څه ددې لپاره وشول) تر څو چې الله صادقانو ته د هغو د صداقت مکافات ورکړي او منافقانو ته که یې خوښه شي سزا ورکړي او که یې خوښه شي نو د هغو توبه قبوله کړي بیشکه الله غفور او رحیم دی الله د کافرانو مخ واړوه هغوی له کومې ګټې تر لاسه کولو پرته دخپلو زړونو له تاو سره همداسې بیرته ستانه شول. او د مؤمنانو لخوا هماغه الله د جنګیدو لپاره کافي شو الله ډیر زورور او برلاسی دی)

## ۵- د بني قریظه غزا:

دغه غزا د هجرت په پنځم کال د احزاب په غزا پسې وروسته له هغه چې رسول الله (صلى الله عليه وسلم) د بني قریظه فطرتي غدر، پستي

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



او له قریشو سره د هغوی پوره همکاري او مرسته ولیده. او دوی پخپله هم د احزابو د غزا په سخت حالت کې له مسلمانانو سره خپل تړون مات اعلان کړ. بني قریظه چې لاتر اوسه په مدینه کې اوسیدل د داسې لوی شر او بربادۍ ملا یې تړلې وه چې که چېرې د احزابو غزا په یاد شوي شکل پای ته نه وای رسیدلې نو ددې امکان موجود ؤ چې مسلمانان له مینخه لاړ شي. بناء رسول الله (صلی الله علیه وسلم) لازمه ولیده چې دې خائنانو ته د عبرت درس ورکړي. د جهاد او دعوت مرکز (مدینه) یې له شر او کثافت نه پاک کړي. تر څو په راتلونکې کې بیا له شرائطو نه په استفادې سره پخپلو همسایه مسلمانانو تیری ونکړي. او د یهودي غدر په واسطه یې درپدر او تباه نکړي

امام بخاري (رحمة الله علیه) له حضرت عائشې (رضي الله عنها) نه روایت کوي. کله چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) له غزا نه راوګرځید سلاح یې کېښوده. غسل یې وکړ. جبرائیل (علیه السلام) ورته راغی په سر یې ګرد او دوړې وې او ویې ویل سلاح د ایښودې ده. قسم په خدای چې ما تر اوسه خپله وسله نده ایښې. رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ورته وفرمایل نو چیرته؟ ویې ویل هلته او د بني قریظه په خوا یې اشاره وکړه. عائشه (رضي الله عنها) فرمایي نو رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فورا د بنو قریظة په لور ور ووت.

رسول الله (صلی الله علیه وسلم) امر وکړ چې خلکو ته خبر ورکړل شي چې ټول د لمازدیګر لمونځ بني قریظه ته ورسوي. رسول الله (صلی الله عیه وسلم) راووت او علي (رضي الله عنه) بیرغ نیولی ؤ. درې زره مسلمانان راټول شول چې ورسره (٢٢) آسان هم وو. کله چې علي

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



(رضي الله عنه) د بني قريظه خوا ته نژدې شو د رسول (صلی الله علیه وسلم) او د هغه د سپېڅلو ميرمنو په هکله يې له يهودو نه ډېره بده خبره واوريده، نو فورا يې رسول الله (صلی الله عليه وسلم) پدې خبر کړ او ورنه يې وغوښتل چې دې خبيثانو ته ورلنډ نه شي، خو رسول (صلی الله عليه وسلم) په ځواب کې ورته وويل: چې کله ما وويني لدې خبرو نه به يوه هم ونکړي، زه د هغوی په منافقانه او چاپلوسانه طبيعت ښه پوه يم، او همداسې هم شوه. مسلمانانو هغوی (۲۵) شپې محاصره کړل، او بالاخره د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) حکم ته يې غاړه کېښوده او راکوز شول، نو سعد بن معاذ د اوس قبيلې رئيس چې له بني قريظه سره يې تړون درلود داسې فيصله: وکړه جنګ کونکې دې ووژل شي، اولادونه يې دې اسيران يا غلامان وي، مالونه يې دې وويشل شي. رسول الله (صلی الله عليه وسلم) همدا فيصله نافذه کړه او په همدې سره د يهودو غدر. توطئې او فريبونه له مدينې او شا او خوا منطقو نه پوره او مکمل ختم شول.

ددې غزا په هکله هم د قرآنکريم څو آيتونه نازل شوي چې د يهودانو غدر او منافقت بيانوي، د هغوی تړون ماتونه او د احزاب په غزا کې له مسلمانانو سره د دوی نامردي په ګوته کوي. ((وَإِذْ قَالَتْ طَائِفَةٌ مِنْهُمْ يَا أَهْلَ يَثْرِبَ لا مُقَامَ لَكُمْ فَارْجِعُوا وَيَسْتَأْذِنُ فَرِيقٌ مِنْهُمْ النَّبِيَّ يَقُولُونَ إِنَّ بُيُوتَنَا عَوْرَةٌ وَمَا هِيَ بِعَوْرَةٍ إِنْ يُرِيدُونَ إِلاَّ فِرَاراً (۱۳) وَلَوْ دُخِلَتْ عَلَيْهِمْ مِنْ أَقْطَارِهَا ثُمَّ سُئِلُوا الْفِتْنَةَ لآتَوْهَا وَمَا تَلَبَّثُوا بِهَا إِلاَّ يَسِيراً (۱٤) وَلَقَدْ كَانُوا عَاهَدُوا اللَّهَ مِنْ قَبْلُ لا يُوَلُّونَ

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



الأَدْبَارَ وَكَانَ عَهْدُ اللَّهِ مَسْئُولاً (١٥) قُلْ لَنْ يَنْفَعَكُمْ الْفِرَارُ إِنْ فَرَرْتُمْ مِنْ الْمَوْتِ أَوْ الْقَتْلِ وَإِذاً لا تُمَتَّعُونَ إِلاَّ قَلِيلاً (١٦)).
(الاحزاب ۱۳/۱٦)

کله چې له هغوی نه یوې ډلې وویل چې ((اې د یثرب خلکو! ستاسې لپاره نور د ایساریدو موقع نشته بیرته وګرځئ کله چې د هغوی یوې ډلې په دې وینا سره له پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) نه د رخصت غوښتنه کوله چې ((زمونږ کورونه تر خطر لاندې دي)) په داسې حال کې چې تر خطر لاندې نه وو په اصل کې هغوی غوښتل چې (د جنګ له محاذ نه) وتښتي، که د ښار له اطرافو نه دښمن راننوتلی وای او په هغه وخت کې هغوی ته د فتنې په لوري بلنه ورکړی شوی وای نو دوی به په کې ځان غورځولی ؤ او ګرانه وه چې دوی دې د فتنې په شریکیدو کې څه درنګ دریغ کړی وای دغو خلکو له دې نه مخکې له الله سره ژمنه کړې وه چې دوی به شا نه اړوي او له الله سره د شوي وعدې پوښتنه خو ارو مرو کیدونکې ده.اې پیغمبره! دوی ته ووایه که تاسې له مرګ یا وژل کیدو نه وتښتئ نو دغه تیښته به ستاسې لپاره هیڅ ګټه رسونکې نه وي له هغه وروسته د ژوند د خوندونو اخستلو ډیر لږ فرصت به تاسې ته در په برخه شي تر دې چې فرمايي:

((وَأَنْزَلَ الَّذِينَ ظَاهَرُوهُمْ مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ مِنْ صَيَاصِيهِمْ وَقَذَفَ فِي قُلُوبِهِمْ الرُّعْبَ وَقَذَفَ فِي قُلُوبِهِمْ الرُّعْبَ فَرِيقاً تَقْتُلُونَ وَتَأْسِرُونَ فَرِيقاً (٢٦) وَأَوْرَثَكُمْ أَرْضَهُمْ وَدِيَارَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ وَأَرْضاً لَمْ تَطَئُوهَا وَكَانَ اللَّهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيراً (٢٧)).(الاحزاب ۲٦/

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



۲۷)

(او له اهل کتاب نه چې کومو کسانو د دغو یرغلګرو ملګرتیا کړې وه الله د هغو له کلاګانو څخه هغوی راکوز کړل او د هغوی په زړونو کې یې داسې ویره واچوله چې نن تاسې له هغوی نه یو ډله وژنئ او بله ډله بندي کوئ تاسې یې د هغوی د ځمکې او د هغوی د کورونو او د هغوی د مالونو وارثان وګرځولئ او هغه سیمه یې تاسې ته درکړه چې تاسې هغه هیڅکله تر پښو لاندې نه وه کړې الله په هر څه باندې قادر دی.

## ۲- د حدیبیې غزا:

دا غزا د هجرت په شپږم کال د ذي الحجې په میاشت کې شویده – او علت یې دا و چې محمد (صلی الله علیه وسلم) خوب ولید چې ده او اصحابو (رضي الله عنهم) سرونه خریيلي په پوره امن سره بیت الله شریف ته ننوزي، له هیڅ شي ویره ورسره نه وي، نو خلکو ته یې امر وکړچې مکې ته د عمرې پخاطر حرکت وکړي. له قریشو سره یې د جنګ اراده نه درلوده. انصار او مهاجرین په ډیر شوق سره د مکې په لور روان شول. څکه دا لومړی ځل ؤ چې له شپږ کلن حرمان نه وروسته د بیت الله په لور د تللو فرصت پیدا کوي، پدې سفر کې یو شمیر اعراب هم شریک وو. محمد (صلی الله علیه وسلم) د بیت الله د تکریم او احترام پخاطر یو شمیر اوښان او نور حیوانات هم تر مخ کړل، او له ذي الحلیفې نه یې د عمرې احرام وتاړه تر څو قریش او نور پدې پوه شي چې نبي (صلی الله علیه وسلم) د جنګ نیت نلري. له

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



رسول الله (صلی الله علیه وسلم) سره تقریبا (۱۵۰۰) کسه ملګري وو، له تورو پرته چې هغه هم په تیکیو کې وې نور هیڅ ډول وسله ورسره نه وه او هغه وخت دهر مسافر لپار د تورې ورل یوه لازمې خبره وه. کاروان د نبي (صلی الله علیه وسلم) تر مشرۍ لاندې مخ په وړاندې لاړ تر څو ((عسفان)) ته ورسید، هلته څوک ورته راغی او ورته ویې ویل! قریش ستا له راتګ نه خبر شوي د پړانګانو پوستکې یې اغوستي او قسم یې خوړلی چې مکې ته به ورخخه داخل نه شې. محمد (صلی الله علیه وسلم) وفرمایل:

((یا ویح قریش، لقد اکلتهم الحرب! ماذا علیهم لو خلوا بیني و بین سائرالعرب فان هم اصابوني، کان ذلک الذي ارادوا وان اظهرني الله علیهم دخلوا في الاسلام وافرین وان لم یفعلوا قاتلوا و بهم قوة، فما تظن قریش؟ فوالله لا ازال اجاهد علي الذي بعثني الله حتی یظهره الله، او تنفرد هذه السالفة)).

(افسوس د قریشو په حال، جنګ وخوړل، څه به شوي ؤ که هغوی زه او نور عرب سره پرې ایښی وای، که بیا هغوی زه مات کړی وای، نو د دوی هدف به پوره شوی ؤ او که الله زه ورباندې غالب کړی وای نو په اسلام کې به داخل شوي ؤو او که یې اسلام نه قبلولی، نو جنګ به یې کړی وی پداسې حال کې چې څه زور به ورسره وی، قریش څه فکر کوي؟ قسم په خدای تر هغې به د هغه څه په لار کې چې خدای پرې رالیږلی یم جهاد کوم، تر څو خدای (جل جلاله) بریالی کړی نه وی، او یا مې غاړه نه وي پرې شوې.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



کله چې حدیبې ته ورسید (حدیبیه مکې ته نژدې یو ځای دی چې اوس د مکې او د جدې تر مینځ پروت دی) د خزاعه له قبیلې نه ځنې کسان ورته راغلل او د راتلو د هدف او سبب پوښتنه یې ترې وکړه نبي (صلی الله علیه وسلم) ورته وویل: یوازې د بیت الله شریف د زیارت او عمرې لپاره راغلی یم. هغوی بیرته لاړل او قریشو ته یې وویل: تاسې په محمد (صلی الله علیه وسلم) بیځایه تیری کوئ، هغه د جنګ لپاره ندی راغلی، غواړي عمره وکړي او بس. قریشو وویل: نه قسم په خدای چې په زور به هیڅکله هم مکې ته داخل نه شي عرب به پدې هکله زمونږ په اړه خبرې ونکړي.

بیا یې عروه بن مسعود الثقفي د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) حضور ته ورولیږه تر څو پدې هکله ورسره خبرې وکړي. عروه له ځینو اصحابو (رضي الله عنهم) سره له خبرو اترو سوال او ځواب نه وروسته بیرته قریشو ته ورغی، د اصحابو (رضي الله عنهم) او رسول (صلی الله علیه وسلم) تر مینځ د موجودې بې کچه مینې خبرې یې ورته وکړې، هغوی یې وویرول او سولې ته یې تشویقول، خو قریشو دا خبره ونه منله. بیا رسول الله (صلی الله علیه وسلم) عثمان بن عفان (رضي الله عنه) ورواستاوه چې قریشو ته یې د راتګ، هدف او غرض تشریح کړي. عثمان (رضي الله عنه) هلته مکه کې څه ځنډ وکړ او دلته د مسلمانانو په منځ کې داسې آوازه تیت شوه چې ګویا عثمان (رضي الله عنه) وژل شویدی، نو پدې حساس وخت کې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) وفرمایل: تر هغې به بیرته نه ځو تر څو مو ورسره جنګ نه وي کړی، له مسلمانانو نه یې د خدای (جل جلاله) په لار کې د جهاد او شهادت لپاره بیعت واخیست هلته یې تر طلح (چې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram: https://...

Downloaded By: Afghan Salar Library



یو ډول و نه ده) لاندې دا ژمنه ور نه واخیسته چې له جنګ نه به تیښته نه کوي یا به صلحه وي او یا شهادت. کله چې قریش له دې بیعت نه خبر شول وویریدل او د صلحې داسې پیشنهاد یې وکړ: نبي (صلی الله علیه وسلم) دې سږ کال بیرته لاړ شي او په راتلونکي کال کې دې مکې ته راشي، دری ورځې دې دلته پاتې شي او ورسره دې د یوه سواره سلاح وي چې هغه نیزه او توره ده، خو تورې دې په تیکیو کې وي، ددې مطلب د اعلانولو او لاسلیک کولو لپار یې سهیل بن عمرو راولیږلو، په پای کې د قریشو په خوښه صلحه وشوه، لس کاله د دواړو خواو تر مینځ د جنګ نه کولو یا اوربند تړون هم وشو، او دا هم ولیکل شول چې که څوک د محمد (صلی الله علیه وسلم) له خوا نه مکې ته راغی هغه به بیرته نه ورکول کیږي، خو که څوک له مکې نه محمد (صلی الله علیه وسلم) ته ورغی هغه به بیرته قریشو ته سپارک کیږي، پر مسلمانانو باندې دا خبره ډیره ګرانه تمامه شوه ځینو له رسول الله (صلی لله علیه وسلم) سره مجادله هم وکړه خصوصا عمر (رضي الله عنه) چې دا ورباندې ډیره درنه تمامه شوه، ان تر دې چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ورته وفرمایل: ((اني عبدالله، و لن یضیعني)). (زه د خدای بنده یم هغه مې نه ضایع کوي)

بیا نبي (صلی الله علیه وسلم) اصحابو (رضي الله عنهم) ته له عمرې نه د تحلل او خلاصولو امر وکړ، خو هغوی له ډیر درد او غصې نه دا کار ونکړ، ځکه له مکې نه د هغوی منع کول او د صلحې ځنې شرطونه ډیر سخت ورباندې تمام شوي وو، نو رسول الله (صلی الله علیه وسلم) پخپله له عمرې نه ځان حلال کړ، مسلمانانو یې هم پیروي

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



وکړه. دا شرطونه که څه هم په پیل کې پر مسلمانانو ډیر سخت تمام شول ولې ګتې یې وروسته وروسته ښکاره شوې، نبي (صلی الله علیه وسلم) د خپل اوږد نظر درلودلو، کامل عقل او الهي مرستې له امله دا شرطونه منلي وو اوورباندې خوښ ؤ.

الله (جل جلاله) دا غزا (ښکاره فتحه) هم بللې ده هلته چې فرمایي:

((إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحاً مُبِيناً (١) لِيَغْفِرَ لَكَ اللَّهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ وَيُتِمَّ نِعْمَتَهُ عَلَيْكَ وَيَهْدِيَكَ صِرَاطاً مُسْتَقِيماً (٢) وَيَنْصُرَكَ اللَّهُ نَصْراً عَزِيزاً (٣)). (الفتح ۱-۳)

(اې پیغمبره! مونږ تا ته ښکاره فتحه درکړه تر څو چې الله ستا له مخکینۍ وروستنۍ هرې کوتاهې نه در تیر شي او پر تا باندې خپل نعمت بشپړ کړي او تا ته سمه لاره دروښیي او تا سره قوي مرسته وکړي).

بیا د رسول (صلی الله علیه وسلم) له بیعت اخستو نه خبرې کوي او فرمایي: ((إِنَّ الَّذِينَ يُبَايِعُونَكَ إِنَّمَا يُبَايِعُونَ اللَّهَ يَدُ اللَّهِ فَوْقَ أَيْدِيهِمْ فَمَنْ نَكَثَ فَإِنَّمَا يَنْكُثُ عَلَى نَفْسِهِ وَمَنْ أَوْفَى بِمَا عَاهَدَ عَلَيْهُ اللَّهَ فَسَيُؤْتِيهِ أَجْراً عَظِيماً)). (الفتح: ۱۰)

(اې پیغمبره! کومو کسانو چې له تاسره بیعت کاوه هغوی په اصل کې له الله سره بیعت کاوه د هغو د لاسونو د پاسه د الله لاس ؤ اوس چې څوک دغه ژمنه ماته کړي د هغه تعهد د ماتولو وبال به پخپله پر همغه باندې وي او څوک چې پر هغې ژمنې باندې ودریږي چې هغه له الله سره کړیده الله به ډیر ژر هغه ته لوی ثواب ورکړي).

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



وریسې تر ونې لاندې د بیعت الرضوان له بیعت کوونکو نه خپله رضامندي ښیي او فرمايي: ((لَقَدْ رَضِيَ اللَّهُ عَنِ الْمُؤْمِنِينَ إِذْ يُبَايِعُونَكَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ فَعَلِمَ مَا فِي قُلُوبِهِمْ فَأَنْزَلَ السَّكِينَةَ عَلَيْهِمْ وَأَثَابَهُمْ فَتْحاً قَرِيباً)). (التفح: ۱۸)

بیا د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) له هغه خوب نه چې د حدیبې د غزا سبب ؤ خبرې کوي او فرمايي: ((لَقَدْ صَدَقَ اللَّهُ رَسُولَهُ الرُّؤْيَا بِالْحَقِّ لَتَدْخُلُنَّ الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ إِنْ شَاءَ اللَّهُ آمِنِينَ مُحَلِّقِينَ رُءُوسَكُمْ وَمُقَصِّرِينَ لا تَخَافُونَ فَعَلِمَ مَا لَمْ تَعْلَمُوا فَجَعَلَ مِنْ دُونِ ذَلِكَ فَتْحاً قَرِيباً)). (التفح: ۲۷)

(په واقع کې الله خپل پیغمبر ته ریښتونی خوب ښودلی ؤ چې هو به هو له حق سره سم ؤ. ان شاء الله تاسې به هرومرو مسجد حرام ته د پوره امنیت سره ننوځئ. خپل سرونه به وخرئ او ویښته به لنډ کړئ او پر تاسې به هیڅ ویره نه وي هغه په هغې خبرې پوهېدو چې تاسې وربانډې نه پوهېدلی لدې امله هغه د خوب پوره کېدو نه مخکې تاسې ته دغه نږدې فتحه در په برخه کړه).

پدې پسې د اسلامي دین د غلبې او برې په هکله تاکید کوي او فرمايي: ((هُوَ الَّذِي أَرْسَلَ رَسُولَهُ بِالْهُدَى وَدِينِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ وَكَفَى بِاللَّهِ شَهِيداً)) (الفتح: ۲۸)

(همغه د الله ذات دی چې خپل پیغمبر يې له هدایت او حق دین سره لیږلی تر څو چې پر ټول جنس دین باندې يې غالب کړي او پدې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



حقیقت باندې د الله (جل جلاله) شاهدي کافي ده).

## ۷- د خیبر غزا:

دا غزا د هجرت په اووم کال د محرم د میاشتې په وروستیو کې شوې ده. خیبر د مدینې په شمال کې د شام طرف ته سل میله لیرې یوه پراخه منطقه ده چې یهود پکې اوسیدل.

سبب یې دا ؤ چې: رسول الله (صلی الله علیه وسلم) وروسته له هغې چې د حدیبې د صلحې په نتیجه کې له قریشو نه مطمئن شو، نو د مدینې په شا او خوا کې میشته یهودو د تصفیې نیت یې وکړ، مدینه خو له مخکې نه له یهودانو څخه پاکه شوې وه، یهودانو په خیبر کې لویې او مستحکمې قلاګانې درلودې، د مکر، فریب، چل، وسلې او زیاتو مهماتو سره سره یې تقریبا لس زره کسیز لښکر هم ځای په ځای کړی ؤ، نو ضروري وه چې د اسلامي ریاست مرکز (مدینې) ته له خطر پیښیدو نه مخکې د هغوی حساب تصفیه شي. همدا وه چې نبي (صلی الله علیه وسلم) د محرم په آخرو شپو کې د هغوی د مقابلې لپاره (۱۷۰۰) سپاهیان تیار کړل، چې دوه سوو یې آسونه درلودل، د حدیبې د سولې برخه اخیستونکې یې له ځان سره کړل او روان شو، کله چې خیبر ته نژدې شو خپلو اصحابو (رضي الله عنهم) ته یې وفرمایل (قفوا) ودریږئ! بیا راوګرځید او ویې فرمایل:

((اللهم رب السماوات و ما اظللن، و رب الارضین وما اقللن، ورب الشیاطین وما اضللن، ورب الریاح وما ذرین، انا نسالک خیر هذه القریة و خیراهلها وخیرما فیها، ونعوذ بک من شرها

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



**و شر اهلها و شرما فیها، اقدموا باسم الله).**

(اې د آسمانونو او تر هغوی لاندې د ټولو شیانو ربه، اې د ځمکو او هغه څه چې پکې دي ربه، اې د شیطانانو او هغه چې دوی گمراه کړي دي ربه، اې د بادونو او په څه کې چې لیګدلي ربه، مونږ له تا نه ددې کلي خیر غواړو، د اهل او پکې د موجودو شیانو خیر یې، او له تا نه ددې کلي له شرنه پناه غواړو، د اهل او پکې د موجوده شیانو له شرنه ، وړاندې د خدای په نوم).

کله چې هلته ورسیدل، رسول الله (صلی الله علیه وسلم) له حصن النطاة نومې قلا سره نژدې کوز شو، یهودو په همدې قلا کې خپل جنګیالي راغونډ کړي وو، حباب بن منذر لدې ځایه د بیرته کیدو مشوره ورکړه ځکه هغه د نطاة خلک پیژندل، چې هغوی ډیر لیرې او ښه نښه ویشتونکې دي، د هغوی ځای پر مسلمانانو لوړ دی، غشي یې په آسانۍ سره مسلمانانو ته رسیدی شي، او بل دا چې کیدای شي هغوی مسلمانانو ته دوکه ورکړي، د خرما د زیاتو ونو نه په استفادې سره د شپې پر مسلمانانو حمله وکړي، د همدې مشورې په اوریدو سره محمد (صلی الله علیه وسلم) بل ځای ته لاړ او جنګ پیل شو، مسلمانانو د یهودانو قلاګانې یو په بل پسې فتح کولې، ټولې قلاګانې فتحه شوې، یوازې دوه آخیرنۍ لا نه وې فتحه شوې چې اوسیدونکو یې د صلحې غوښتنه وکړه او داسې یې وویل: مونږ پریږدئ چې له خپلو اولادونو، او یو یو جوړه جامو سره له خیبر نه لاړ شو. مسلمانانو هم د دوی دا پیشنهاد ومانه، یهودان لدې دوو قلاګانو څخه ووتل بیا مسلمانانو پکې ډیره وسله او د تورات څنې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



نسخې وموندلې، وروسته يهودان راغلل او ددې شيانو غوښتنه يې وکړه محسن انسانيت (صلى الله عليه وسلم) د دې شيانو بيرته ورکولو امر وکړ. پدې جګړه کې (۹۳) يهودان ووژل شول، او (۱۵) کسه مسلمانان د شهادت په کاروان ورګډ شول.

## ۸- د مؤتة غزا:

مؤته شام ته نژدې د يوه کلي نوم ؤ او اوس د (کرک) په نامه ياديږي چې د بحر ميت جنوب ختيځې خوا ته پروت دی. نوموړې غزا د هجرت په آتم کال د جمادي الاولى په مياشت کې شويده او سبب يې دا ؤ چې: رسول الله (صلى الله عليه وسلم) د هرقل له خوا په بصره ټاکل شوي امير حارث بن ابي شمر الغساني ته د حارث بن عمير الازدي په لاس يو ليک واستوه او هغه يې اسلام ته راوباله. دا ليک د ستر داعي (صلى الله عليه وسلم) د هغو ليکونو نه جملې څخه ؤ کوم يې چې د حديبې له صلحې وروسته د نړۍ پاچايانو او د عربو اميرانو ته ليږلي وو. پدې وخت کې د روم تر لاس لاندې عربي قبيلې (غساسنه) يو امير مؤته ته راغی او د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) قاصد ته يې ووېل: چيرته ځې؟ لکه چې د محمد قاصد يې؟ هغه ورته ووېل: هو، نو هغه يې ونيو او سر يې ورپرې کړ. کله چې رسول الله (صلى الله عليه وسلم) لدې واقعې خبر شو، خبره ډيره ګرانه ورته تمامه شوه، ځکه تر اوسه هيڅا د محسن انسانيت (صلى الله عليه وسلم) قاصد نه ؤ وژلی، سمدلاسه يې درې زره سپاهيان د هغوی مقابلې ته تيار کړل، زيد بن حارثة يې د لښکر قوماندان وټاکه، لښکر ته يې توصيه وکړه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/Sonsdlar

Downloaded By: Afghan Salar Library



که چېرې زید بن حارثة شهید شو نو جعفر بن ابي طالب به د لښکر امارت په غاړه اخلي او که جعفر هم شهید شو بیا به امارت عبدالله بن رواحة ته سپارل کیږي، بیا یې زید ته امر وکړ چې د حارث بن عمیر د شهادت ځای ته ورشي او هم هلته هغوی اسلام ته راوبولي. که یې دعوت ومانه خو ښه او که نه نو په خدای توکل وکړئ او ورسره وجنګیږئ، او دا توصیه یې ورته وکړه:

((اوصیکم بتقوی الله و بمن معکم من المسلمین خیرا، اغزوا باسم الله، و في سبیل الله، من کفر بالله، لاتغدروا، ولا تغلوا، ولاتقتلوا ولیدا، ولا امراة، ولا کبیرا فانیا، ولا منعزلا بصومعة، ولا تقربوا نخلا، ولاتقطعوا شجرا، ولا تهدموا بناءا))

له خدای نه د ویرې او له مؤمنانو سره د نیکۍ نصیحت درته کوم، د خدای په نامه او د خدای په لار کې له کافرانو سره غزا وکړئ. غدر ونکړئ، غلا ونکړئ، واړه، ښځې، بوډاګان او په عبادتخانو کې ناست مه وژنئ؛ د خرما او نورې ونې مه پرې کوئ. کورونه مه ړنګوئ لښکر حرکت وکړ. محسن انسانیت (صلی الله علیه وسلم) پخپله تر یوه ځایه ورسره لاړ. هغوی مخکې لاړل تر څو (معان) ته ورسیدل. هلته یې واوریدل چې هرقل د دوی د مقابلې لپاره ډیره لښکر راټول کړیدی او په (ماب) کې چې د عمان په شا او خوا کې د بلقاء ځمکې یوه ټوټه ده ځای په ځای شوی، په رومې لښکرو کې په رومیانو سربیره عرب هم وو. مسلمانانو مشوره وکړه، او ویې ویل راځئ له محمد (صلی الله علیه وسلم) نه د نورې مرستې غوښتنه وکړو او که مرسته نه وي، نو بل هدایت به راته وکړي. پدې وخت کې عبدالله بن

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



رواحة وويل: قسم په خدای (جل جلاله) دا تاسې چې اوس څه بد بولئ په حقيقت کې تاسې د همدې لپاره راوتلي يې، تاسې شهادت غواړئ، مونږ له خلکو سره د شمير د زياتوالي او قوت په اساس جنګ نه کوو . بلکه مونږ د هغه دين په اساس کوم چې زمونږ د عزت سبب دی جنګ کوو، زمونږ لپاره خوامخوا له دوو نيکيو نه يوه نيکي شته، يا بريالیتوب او يا شهادت، نورو مجاهدينو هم ورسره پدې خبره موافقه وکړه. جګړه پيل شوه، زيد (رضي الله عنه) تر هغې وجنګيد ترڅو شهيد شو، وروسته جعفر بن ابي طالب (رضي الله عنه) بيرغ پورته کړ، په آس سپور او د دښمن په سر يې ګوزارونه کول، تر څو مجبور شو چې له آس نه کوز شي او په پښو جنګ ته دوام ورکړي، د جنګ په جوش کې يې ښی لاس قطع شو خو بيرغ يې په چپ لاس ونيو هغه هم پرې شو. بيرغ يې پخپله غيږ کې واخيست، تر څو د شهادت تاج يې پر سر شو. هغه مبارک څو اويا د تورو او نيزو زخمونه خوړلي ؤ، بيا عبدالله بن رواحة د اسلام بيرغ پورته کړ، هغه هم تر هغې وجنګيد تر څو شهيد شو. وروسته مسلمانانو خالد بن وليد (رضي الله عنه) خپل امير وټاکه، او دا د خالد (رضي الله عنه) له اسلام راوړلو نه وروسته لومړۍ جګړه وه چې پکې برخه اخلي، هغه (رضي الله عنه) د خپل جنګي استعداد نه په استفادې کولو سره وکولای شول اسلامي لښکر له نابودی نه وساتي او مدينې ته يې راورسوي.

دا د عربي ټاپووزمې نه د باندې له روميانو سره د مسلمانانو لومړنۍ جګړه وه او د غزا لقب ورته ورکړ شويدی سره لدې چې پخپله محمد (صلی الله عليه وسلم) پکې برخه نه وه اخيستې او ددې سبب د مجاهدينو د شمير زياتوالی دی څکه د (سريې) په خلاف پدې جګړه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



کې د مجاهدینو شمیر دری زره سپاهیان وو. نبي (صلی الله علیه وسلم) له همدې جګړې نه وروسته خالد بن ولید (رضي الله عنه) ته د سیف الله لقب ورکړیدی.

## ۹- د فتحې غزا:

مکه د هجرت د اتم کال د روژې په میاشت کې فتحه شوه. ددې غزا سبب دا ؤ: د حدیبې له صلحې نه وروسته هرې عربي قبیلې ددې حق درلود چې د خپلې خوښې سره سم له رسول الله (صلی الله علیه وسلم) او یا که غواړي له قریشو سره تړون او ائتلاف وکړي، د همدې فیصلې په اساس د بنوبکر قبیلې له قریشو او خزاعه قبیلې له رسول الله (صلی الله علیه وسلم) سره تړون اعلان کړ. په همدې (اتم) کال کې بنوبکر قبیلې پر خزاعه باندې حمله وکړه او نژدې شل کسان یې ورنه ووژل قریشو هم له بنوبکر سره د مال او وسلې مرسته وکړه، خو کله چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) له پیښې نه خبر شو ډیر په غصه شو او فوراً یې له قریشو سره د جګړې تیاري ونیوله خو خبره یې پټه وساتله تر څو قریش خبر نه شي او د مقابلې تیاري ونه شي نیولی. څکه که هغوی هم تیاري ونیسي او جګړه وشي نو پدې سره له یوې خوا د بلد الحرام حرمت له مینځه لاړ شي او له بله پلوه به ډیر مرګ او ژوبله هم وشي. په دې وخت کې خاطب بن ابي بلتعه په پټه مکې ته یو لیک واستوه چې پکې یې قریشو ته د ستر داعي (صلی الله علیه وسلم) د نیت او ارادې په هکله معلومات لیکلي ؤو، الله (جل جلاله) خپل رسول (صلی الله علیه وسلم) لدینه خبر کړ، رسول الله (صلی الله

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



علیه وسلم) اصحاب (رضي الله عنهم) د لیک د نیولو او لیک وړونکې ښځې د تلاشۍ لپاره واستول، هغوی له ښځې سره لیک پیدا کړاو ورته وایي خیست. بیا رسول (صلی الله علیه وسلم) حاطب راوغوښت او ورته ویې ویل: ولې دې دا کار وکړ؟ هغه وویل: یا رسول الله قسم په خدای چې زه په الله او رسول پوره ایمان لرم، دین مې ندی بدل کړی، خو زه یو بې بیخه سړی وم په قوم کې مې څه اثر او رسوخ نه درلود او هلته د دوی (قریشو) په مینځ کې زما اهل او اولاد ؤ، د خپل اولاد پخاطر مې دا کار وکړ. پدې وخت کې عمر (رضي الله عنه) وویل: یا رسول الله (صلی الله علیه وسلم) اجازه راکړه چې سر یې پرې کړم، سړی منافق شویدی. رسول (صلی الله علیه وسلم) ورته وفرمایل: ((انه شهد بدرا، و ما یدریک لعل الله قداطلع علی اصحاب بدر فقال: اعملوا ماشئتم فقد غفرت لکم)).(هغه په بدر کې برخه اخیستې، څه خبر یې چې خدای (جل جلاله) د بدر غازیانو ته خبر ورکړی: چې هر څه کوئ ویې وکړئ ما ښنلي یاست).

رسول (صلی الله علیه وسلم) د روژې په لسمه له مدینې نه وخوځید، په لاره کې یې روژه وخوړه، اصحابو (رضي الله عنهم) هم د سفر د مشکلاتو له امله روژه وخوړه، له مدینې نه د حرکت په وخت کې د اسلامي لښکر شمیر لس زره عسکر ؤ په لار کې ورسره ځنې نورې قبیلې هم یو ځای شوې او په (الظهران) کې د محمد (صلی الله علیه وسلم) سپاهیانو ابوسفیان له دوو نورو کسانو سره یوځای ونیو رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ته یې راووست، ابو سفیان اسلام راووړ عباس (رضي الله عنه) چې مسلمان شوی او مدینې ته د هجرت کولو

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



په نیت روان ؤ له رسول الله (صلی الله علیه وسلم) سره په لاره کې مخامخ شو او دغه وخت یې داسې وویل: ابو سفیان فخر خوښوي، نو څه شی ورکړه چې فخر پرې وکړي، نو رسول الله (صلی الله علیه وسلم) وفرمایل ((څوک چې د ابوسفیان کور ته ننوت هغه په امن دی)). په پای کې اسلامي لښکر مکې ته ورسید او رسول (صلی الله علیه وسلم) داسې اعلان وکړ. ((څوک چې خپل کور ته ننوت او دروازه یې ځان پسې بنده کړه هغه په امن دی، څوک چې جومات ته ننوت هغه هم په امن دی، او که څوک د ابوسفیان کور ته ننوت هغه هم په امن دی)).

خو لدې فیصلې نه یې (۱۵) هغه کسان چې د اسلام او رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په حق کې یې ډیر تیری کړي ؤ مستثنی وبلل، بیا رسول (صلی الله علیه وسلم) د بیت الله شریف طواف وکړ، او ټول (۳۶۰) بتان یې دری وری کړل بیا کعبې شریفې په دروازه کې ودرید، قریش ټول ورته ګوري چې اوس به له دوی سره څه ډول چلند کوي، نو ویې فرمایل: اې قریشو څه فکر کوئ چې زه به څه درسره وکړم؟ هغوی وویل: حتما به ښه راسره کوې، ته زمونږ کریم ورور او کریم وراره یې. رسول (صلی الله علیه وسلم) وفرمایل: ((زه نن تاسې ته هغه څه وایم، کوم چې زما ورور یوسف (علیه السلام، مخکې ویلي وو:

((قَالَ لَا تَثْرِيبَ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ يَغْفِرُ اللَّهُ لَكُمْ وَهُوَ أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ)). (یوسف: ۹۲)

(وېې ویل نن پر تاسې کومه پړه نشته، الله دې تاسې ته بښنه وکړي هغه تر ټولو زیات رحم کوونکی دی)) ورځئ تاسې آزاد یاست.)

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



لدېنه وروسته خلک د صفا په شا او خوا کې راټول شول چې له رسول الله (صلی الله علیه وسلم) سره بیعت وکړي. رسول (صلی الله علیه وسلم) په صفا کیناست، او له هغوی نه یې د سمعې (حکم اوریدلو او منلو) او د قدرت په اندازه د الله (جل جلاله) او رسول (صلی الله علیه وسلم) د اطاعت اوپیروۍ بیعت واخیست. لومړی نارینه وو ورسره بیعت وکړ او ورپسې ښځو، خو یوې ښځې ته یې هم لاس ورنکړ. له دوی سره بیعت زباني و. د بیعت کوونکو ښځو په مینځ کې یوه هم (هنده) د ابو سفیان ښځه وه. دا هغه ښځه وه چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) یې د فتحې په ورځ وینه مباح اعلان کړې وه، خو کله یې چې وپیژندله نو د بیعت پخاطر یې عفوه ورته وکړه.

د فتحې په ورځ رسول الله (صلی الله علیه وسلم) بلال (رضي الله عنه) ته امر وکړ چې د ماسپښین لمانځه لپاره د کعبې شریفې په بام آذان وکړي، دا کار په حاضرو قریشو چې لا تر اوسه نه وو مسلمان شوي سخت تمام شو، ښه ورباندې ونه لګید. خو رسول الله (صلی الله علیه وسلم) دا کار قصدا د یوه لوی حکمت په خاطر وکړ.

## ۱۰- د حنین غزا:

دا غزا د مکې له فتحې نه څو ورځې وروسته یعنې د هجرت د اتم کال د شوال په لسمه شویده. سبب یې دا و: کله چې الله (جل جلاله) خپل رسول (صلی الله علیه وسلم) د مکې په فتحې ونازاوه او دا لویه بریا یې وریه برخه کړه، نو د هوازن او ثقیف قبیلو مشرانو داسې فکر وکړ چې رسول (صلی الله علیه وسلم) به اوس د دوی په خوا ورځي،

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



هماغه وه چې تصمیم یې ونیو چې وار وړاندې کړي، د جګړې پریکړه یې وکړه، د جنګ قوماندان یې دیرش کلن مالک بن عوف وټاکه. مالک بن عوف امر وکړ چې هر څوک باید خپل مالونه، ښځې، اولاد او حیوانات ټول د جنګ میدان ته ورسره یوسي، تر څو په جنګ کې ددې شیانو وجود د دوی د ثبات او مقاومت سبب شي. پدې جګړه کې د دوی د لښکر شمیر د ((۲۰)) او ((۳۰)) زرو کسانو تر مینځ ؤ. رسول الله (صلی الله علیه وسلم) هم د غزا اعلان وکړ او په مکه کې موجود ټول اصحاب (رضي الله عنهم) هغه چې له رسول (صلی الله علیه وسلم) سره راغلي وو او یا یې نوی ایمان راوړی ؤ، ووتل.

رسول (صلی الله علیه وسلم) حرکت وکړ، مخکې لاړ کله چې د حنین وادي ته ورسید، سهار د وخته هوازن او طرفداران یې جنګ ته راووتل، مسلمانانو ورباندې حمله وکړه او ماتې یې ورکړه، پدې وخت کې مسلمانان په غنیمت ټولولو بوخت شول، چې یو ناڅاپه کفارو ورباندې غشي خښ کړل، مسلمانان تیت او پرک شول، د مکې خلک او نوي مسلمانان وتښتیدل. رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په خپله قاطره سپور او پخپل ځای د لوی غره په شان ثابت ولاړ ؤ او داسې یې فرمایل:

((انا النبي لا کذب، انا ابن عبدالمطلب)). بیشکه چې زه نبي یم، زه د عبدالمطلب زوی یم. د مسلمانانو به مینځ کې داسې آوازه تیت شوه چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) شهید شوی دی، ډیر مسلمانان د دې آوازې په اوریدو سره دومره نا امیده شول چې وسله یې وغورځوله، خو د انصارو او مهاجرینو یوه ډله د رسول الله (صلی الله

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



عليه وسلم) تر شا کلک ولاړ وو، عباس (رضي الله عنه)چې د لوړ آواز خاوند ؤ چيغه وکړه: رسول (صلى الله عليه وسلم) ژوندی دی، ددې آواز په اوريدو سره ډير مسلمانان بيرته راوګرځيدل، د مسلمانانو شمير بيا زيات شو او پدې وتوانيدل چې يو ځل بيا برى تر لاسه کړي، دښمنان يې پسې واخيستل، ځنې يې ووژل، او ځنې نور يې ژوندي ونيول.

پدې جګړه کې له دښمن نه اخيستل شوي غنيمتونه دومره زيات ؤو چې څه يې کوې، دا غنيمتونه يې لومړى د نويو مسلمانانو په مؤلفة القلوب باندې وويشل، چې هغوى پرې تشويق کړي، انصارو ته يې برخه ونکړه، ځکه د هغوى پر ايماني قوت او ريښتينولۍ کلک باوري ؤ. قرآنکريم ددې جګړې په هکله فرمايي:

((لَقَدْ نَصَرَكُمْ اللَّهُ فِي مَوَاطِنَ كَثِيرَةٍ وَيَوْمَ حُنَيْنٍ إِذْ أَعْجَبَتْكُمْ كَثْرَتُكُمْ فَلَمْ تُغْنِ عَنْكُمْ شَيْئاً وَضَاقَتْ عَلَيْكُمْ الأَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ ثُمَّ وَلَّيْتُمْ مُدْبِرِينَ (٢٥) ثُمَّ أَنزَلَ اللَّهُ سَكِينَتَهُ عَلَى رَسُولِهِ وَعَلَى الْمُؤْمِنِينَ وَأَنزَلَ جُنُوداً لَمْ تَرَوْهَا وَعَذَّبَ الَّذِينَ كَفَرُوا وَذَلِكَ جَزَاءُ الْكَافِرِينَ)). ( التوبه: ٢٥-٢٦)

(الله لدينه مخکې په ډيرو ځايونو کې ستاسې مرسته کړې ده او اوس د حنين د غزا په ورځ (به تاسې د هغه ملاتړ ليدلى وي) پدې ورځ تاسې د خپل شمير په زياتوالي غره وى خو هغه ستاسې هيڅ په کار رانغى او ځمکه له خپل پرخوالي سره سره پر تاسې تنګه شوه او تاسې شا واړوله وتښتيدئ بيا الله خپله ډاډينه پر خپل پيغمبر او پر مؤمنانو

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



باندې نازله کړه او هغه لښکر یې راکوز کړ چې تاسې نه لیده او د حق منکرانو ته یې سزا ورکړه چې همدا د هغو خلکو لپاره جزا ده چې له حقه منکر شي)
د اسلام او شرک تر مینځ آخرینۍ لویه جګړه همدا وه، لدینه وروسته عربانو بتان مات کړل او د اسلام په مقدس دین مشرف شول.

## ۱۱- د تبوک غزا:

دا غزا د (غزوة العسرة) یعنی د مشکلاتو غزا په نامه هم یادیږي، چې د هجرت د نهم کال د رجب په میاشت کې پېښه شوېده. تبوک د حجاز د وادي القرى او شام تر مینځ د یوه ځای نوم دی سبب یې دا و چې رومیانو په شام کې ډیرې لښکرې غونډې کړې، چې د نصرانیانو عربي قبیلې لکه لخم، جذام، عامله او غسان هم پکې شاملې وې، هرقل پدې سره پر مدینه باندې د حملې او د هغه ځای د ختمولو نیت درلود، تر څو د عربو په ټاپووزمه کې نوی اسلامي حکومت له مینځه یوسي، ځکه هرقل له هر څه نه زیات د دې حکومت له فتحو او بریو څخه په ویره کې ؤ. نو رسول (صلی الله علیه وسلم) هم د هرقل د مقابلې لپاره د غزا اراده وکړه، خلک یې آماده کول. دا وخت ډیر سخته ګرمي وه خو سره لدې هم له ډیرو کسانو پرته ټولو صادقو مسلمانانو په پاک زړه تیاري ونیوه او د جنګ په لوري لاړل. رسول الله (صلی الله علیه وسلم) له غنیانو نه د جیش العسرة (مشکلاتود لښکر) د تجهیز لپاره کومک وغوښت، هغوی زیات مالونه راوړل،

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



ابوبکر صدیق (رضي الله عنه) خپل ټول مال او شته چې (۴۰۰۰) درهمه ؤ راوړ. عمر (رضي الله عنه) خپل نیمايي مال راوړ، عثمان (رضي الله عنه) دومره مال صدقه کړ چې د لښکر دریمه برخه يې تجهیز کړه. نو رسول الله (صلی الله علیه وسلم) داسې دعا ورته وکړه.

((ما ضر عثمان ما عمل بعد الیوم)). (عثمان ته به يې له نن وروسته کړه ضرر ونه رسوي) ددې حدیث شریف ترجمه داسې هم شویده: که عثمان له نن نه وروسته کوم ستر عمل ونکړي هم څه تاوان ورته نشته.

پدې وخت کې ځنې فقیران رسول (صلی الله علیه وسلم) ته ورغلل او عرض يې وکړ، چې مونږ د سورلی لپاره څه نلرو! رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ورته وویل ((لا اجد ما احملکم علیه)).(زه هم ستاسې د سورلی لپاره څه نلرم) دوی په ډکو سترګو بیرته وګرزیدل، او د الله (جل جلاله) په لار کې يې د نفقې کولو (خرڅولو) لپاره د مال او متاع نه درلودلو له امله ډیر افسوسونه کول. لدې غزا نه څو اتیا منافقین هم پاتې شوي وو، او ځنې اعرابو هم رسول (صلی الله علیه وسلم) ته ځنې بی اساسه عذرونه وړاندي کړل، چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) يې عذرونه ومنل.

رسول (صلی الله علیه وسلم) له دیرشو زرو (۳۰۰۰۰) جنګیالیو سره روان شو، چې لس زره آسان هم ورسر وو، او دا دومره زیاته شمیره ده چې عربو مخکې نه وه لیدلې. رسول (صلی الله علیه وسلم) مخ په وړاندي لاړ تر څو تبوک ته ورسید او هلته تقریبا شل شپې پاتې شو خو له هیڅ ډول توطئې او جګړې سره مخامخ نه شو. دا غزا د رسول (صلی

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



الله علیه وسلم) آخرینۍ غزا ده او الله (جل جلاله) یې په اړه دا قول
نازل کړی چې فرمایي:
((لَقَدْ تَابَ اللَّهُ عَلَى النَّبِيِّ وَالْمُهَاجِرِينَ وَالأَنصَارِ الَّذِينَ اتَّبَعُوهُ فِي سَاعَةِ الْعُسْرَةِ مِنْ بَعْدِ مَا كَادَ يَزِيغُ قُلُوبُ فَرِيقٍ مِنْهُمْ ثُمَّ تَابَ عَلَيْهِمْ إِنَّهُ بِهِمْ رَءُوفٌ رَحِيمٌ (۱۱۷) وَعَلَى الثَّلاثَةِ الَّذِينَ خُلِّفُوا حَتَّى إِذَا ضَاقَتْ عَلَيْهِمْ الأَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ وَضَاقَتْ عَلَيْهِمْ أَنفُسُهُمْ وَظَنُّوا أَنْ لا مَلْجَأَ مِنْ اللَّهِ إِلاَّ إِلَيْهِ ثُمَّ تَابَ عَلَيْهِمْ لِيَتُوبُوا إِنَّ اللَّهَ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ)). (سوره التوبه: ۱۱۷/۱۱۸)

(الله، پیغمبر او هغو مهاجرینو او انصارو ته ببښنه وکړه چې هغوی په ډیر تنګ وخت کې د پیغمبر ملګرتیا وکړه که څه هم چې له هغوی څخه د ځینو زړونه دکوږوالي خوا ته مایل شوي وو خو کله چې هغوی ددې انحراف پیروي ونکړه بلکې د پیغمبر ملګرتیا یې وکړه نو الله هغوی معاف کړل، بیشکه چې له دغو خلکو سره د هغه چلند د خواخوږۍ او مهربانۍ دی، او هغه درې تنه یې هم معاف کړل چې د هغوی معامله ځنډول شوې وه کله چې ځمکه له خپلې ټولې پراختیا سره سره پرهغوی تنګه شوه او د هغوی خپل ځانونه هم پر هغوی باندې پیتي شول او هغوی دا وګڼله چې له الله څخه د ژغورل کېدو پاره د بناه کول بل ځای په خپله د الله د رحمت له لمنې پرته نشته نو الله په خپلې مهربانۍ سره د هغوی لوري ته رجوع وکړه تر څو چې هغوی د هغه لوري ته راوګرځي، په باوري ډول هغه ښه معاف کوونکی او رحم کوونکی دی).

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



همدا راز نور زیات آیتونه هم ددې غزا په هکله نازل شوي، چې پدې جګړه کې د منافقینو او بې اساسه عذرونو وړاندې کوونکو اعرابو دریغ په ګوته کوي او د الله تعالی له لوري رسول (صلی الله علیه وسلم) ته د بې اساسه عذرونو د قبلولو له امله عتاب هم په همدې آیتونو کې دی، دا ټول آیتونه د توبې په سورت کې لیدلی شئ.

## ب- درسونه او پندونه:

لومړی په اسلام کې د جنګ له مشروعیت او د جنګ له اسبابو، او عامو قواعدو څخه خبرې کوو:

رسول الله (صلی الله علیه وسلم) خپل دعوت په نیکې موعظې سره پیل کړ، خپل قوم ته هغه څه لولي چې د الله (جل جلاله) له لوري ورباندې نازلیږي، له هغوی سره د زړه او عقل خبرې کوي، داسې خبرې چې دوی خپل جهل، ګمراهۍ او بت پرستۍ ته متوجه کوي او سترګې یې پرانیزي، خو قوم لومړی د هغه (صلی الله علیه وسلم) ځواب په ټوکو او ملنډو سره ووایه، بیایې د افتراء او آزار رسولو له اسلوب نه کار واخیست او په آخر کې یې د هغه (صلی الله علیه وسلم) د وژلو توطئه جوړه کړه، خو الله (جل جلاله) د هغه دعوت ته بل داسې ځای پیدا کړ چې هلته دعوت په امن او اطمینان سره مخ په وړاندې لاړ. مګر رسول الله (صلی الله علیه وسلم) پدې نوي ځای کې هم له دوو شیطاني قواوو سره مخامخ شو چې هر یوه پخپل وار ورته توطئې جوړولې، د جاهلیت د قواوو لومړنۍ قواء د قریشو قوا وه کومه چې د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) او اصحابو (رضي الله عنهم) له

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



هجرته، او د مدينې د خلکو له ايمان راوړو نه ډير ناکراره وه....
دويمه قوا يهودان ؤ.

رسول الله (صلی الله عليه وسلم) په مدينه کې ځای په ځای شو، د انصارو او مهاجرينو قيادت يې په لاس کې ونيو، سمدلاسه د يهودانو مشرانو ددې الهي قيادت په وړاندې خپله کينه او مکر ځرګند کړ. ځکه نور په مدينه کې د دوی د قدرت ټغر مخ په ټوليدو شو او د مدينې زعامت په کامله توګه د رسول (صلی الله عليه وسلم) په لاس کې ولويد. په مدينه کې د رسول (صلی الله عليه وسلم) د اوسيدو په دوران کې د قرآنکريم آيتونه نازليدل، او هغه (صلی الله عليه وسلم) ته يې د هغوی د خبرو په وړاندې د صبر او زغم امر کاوه:

((وَاصْبِرْ عَلَى مَا يَقُولُونَ وَاهْجُرْهُمْ هَجْراً جَمِيلاً)). (المزمل: ۱۰)

(او خلک چې کومې خبرې جوړوي پر هغو صبر وکړه او په شرافتمندانه ډول له هغوی نه بيل شه.)

له هجرته مخکې به قرانکريم مسلمانانو ته د صبر او زغم امر کاوه خو مشرکينو به نور هم خپل ظلمونه وړباندې زياتول توطئې به يې جوړولې او په مقابل کې د مسلمانانو شمير کم ؤ او نه يې شوی کولی چې د هغوی د ظلمونو مخه ونيسي، خو کله چې رسول الله (صلی الله عليه وسلم) مدينې منورې ته راغی، نو مسلمانان د قدرت او عظمت خاوندان شول. او دا داسې وخت و چې د قريشو تجاوز او دښمني له يوې خوا او د يهودو خبث او په هره شيبه کې پر مسلمانانو د هغوی له خوا ناڅاپي يرغل له بلې خوا ؤ، او څرنګه چې اسلام د واقعيت دين دی، هيڅکله هم واقعيت له نظره نه اچوي، په اوهامو پسې نه ځي،

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



هر اقدام یې د واقعیت په بناء او د لوړو اخلاقي ارزښتونو په رڼا کې تر سره کیږي نو ددې وخت ضرورت هم دا ؤ چې باید په زور او قوت سره د ځان حمایه او دفاع وشي، د تیري مخې ته په کلکه ودریږي تر څو د باطل شان او شوت ختم کړي او اسلامې بلنې ته میدان خالي شي چې له عقلونو سره خبرې پیل کړي. فساد د صلاح خوا ته بوزي، نفسونه تزکیه کړي او د خیر او هدایت غوښتونکو ته د اقتدا وړ افراد وروزي.

ددې ټولو شیانو او دېته ورته مسایلو په نظر کې نیولو سره الله (جل جلاله) د هجرت په دوم کال د جنګ اجازه ورکړه او دا ایتونه نازل شول:

(( أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَاتَلُونَ بِأَنَّهُمْ ظُلِمُوا وَإِنَّ اللَّهَ عَلَى نَصْرِهِمْ لَقَدِيرٌ (٣٩) الَّذِينَ أُخْرِجُوا مِنْ دِيَارِهِمْ بِغَيْرِ حَقٍّ إِلاَّ أَنْ يَقُولُوا رَبُّنَا اللَّهُ وَلَوْلا دَفْعُ اللَّهِ النَّاسَ بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ لَهُدِّمَتْ صَوَامِعُ وَبِيَعٌ وَصَلَوَاتٌ وَمَسَاجِدُ يُذْكَرُ فِيهَا اسْمُ اللَّهِ كَثِيراً وَلَيَنصُرَنَّ اللَّهُ مَنْ يَنصُرُهُ إِنَّ اللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ (٤٠) الَّذِينَ إِنْ مَكَّنَّاهُمْ فِي الأَرْضِ أَقَامُوا الصَّلاةَ وَآتَوْا الزَّكَاةَ وَأَمَرُوا بِالْمَعْرُوفِ وَنَهَوْا عَنْ الْمُنْكَرِ وَلِلَّهِ عَاقِبَةُ الأُمُورِ (٤١)) (الحج: ٣٩_٤١)

(هغو کسانو ته اجازه ورکړه شوه چې د هغو پر خلاف په جګړه لاس پورې کیږي ځکه چې هغوی مظلومان دي او الله په یقیني ډول د هغو د ملاتړ وس لري دا هغه کسان دي چې له خپلو کورونو څخه په ناحقه وویستل شول یوازې په دې جرم چې هغوی وایي (زموږ رب الله دی)

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



که الله خلک یو د بل په وسیله دفع نکړي نو خانقاګانې، کلیساګانې، عبادتخانې او جوماتونه چې په هغوی کې د الله نوم ډیر زیات اخیستل کیږي ټول به ونړول شي الله به ارو مرو د هغه کسانو سره مرسته وکړي چې د هغه مرسته کوي، الله ډیر زورور او برلاسی دی.
دا هغه کسان دي چې که مونږ دوی ته په ځمکه کې قدرت ورکړو نو لمونځ به قائم کړي، زکات به ورکړي په ښو چارو به امر وکړي او له بدیو نه به منع وکړي او د ټولو چارو پای د الله په لاس کې دی).
د جنګ په هکله دا لومړي آیتونه وو چې نازل شول، بده به نه وي چې پدې هکله څو خبرې وکړو، تر څو د جنګ د اجازې حکمتونه او د جنګ فایدې او اهداف وپیژنو:
۱. الله (جل جلاله) ددې آیت په لومړنۍ برخه کې ویلي دي چې مؤمنانو ته یې د جنګ اجازه ورکړې او همدا راز یې له مؤمنانو څخه د (الذین یقاتلون) هغه کسان چې جګړه ورسره کیږي په لفظ تعبیر کړی، او د ژبې مشهوره قاعده ده چې مشتق ته د حکم تعلیق (نسبت) د مشتق منه سببیت افاده کوي نو دلته (یقاتلون) له مقاتلې څخه مشتق دی او معنې یې دا ده هغه مؤمنان چې اوس ورته د جنګ اجازه ورکړ شویده له دوی سره جنګ کیده، یعنې ظلم ورباندې کیده، او ځورول کیدل به او د جګړې اعلانونه به ورته کیدل، نو دا څرګنده ده چې دوی ته د جګړې د اجازې علت پر دوی باندې ظلم او فشار ؤ، او اوسنۍ اجازه (جګړه) د تیري د دفع کولو او مقابله مثل بالمثل ده،
لکه چې الله تعالی فرمایي:((...فَمَنْ اعْتَدَى عَلَيْكُمْ فَاعْتَدُوا عَلَيْهِ

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



بمِثْلِ مَا اعْتَدَى عَلَيْكُمْ....)).( البقره: ۱۹٤)
(نو که څوک پر تاسې تیری وکړي تاسې هم په هماغه ډول پر هغه تیری وکړئ).

بل ځای فرمايي:

((وَجَزَاءُ سَيِّئَةٍ سَيِّئَةٌ مِثْلُهَا...)). (الشورى: ٤٠)

د بدۍ بدله همغسې بدي ده.

۲- پدې آيت کې دا هم په ډاګه شوې چې له مؤمنانو سره چې کوم جنګ کيده هغه صرف د ظلم او تيري په بناء ؤ. بل څه سبب آو علت يې نه درلود، او دې خبرې ته د الله تعالى دا قول آشاره کوي چې فرمايي: ((بانهم ظلموا)) پدې سبب چې ظلم ورباندې کيده. په مکه کې مؤمنان نه ظالمان ؤو او نه تيري کوونکي، بلکه هغوی د خپلې عقيدې مدافعان ؤ، هغوی خپل قوم او خلک د اوهامو، خرافاتو او بدو اخلاقو نه آزادول، د حق او حقيقت، صفا او پاکۍ لور ته يې بلل.

۳- په دوهم آيت کې هغو تاريخي واقعاتو ته اشاره ده کوم چې پر مسلمانانو باندې شوي ظلمونه په ګوته کوي او دا ښيي هغه مؤمنان چې اوس ورته د جنګ اجازه ورکړې شويده څه موده مخکې هغوی له خپل وطن نه شړل شوي وو، له وطن شړلو نه بل کوم ظلم لوی او دردناک دی؟

۴- په همدې آيت کې د مؤمنانو د شړلو سبب هم ښودل شويدی، او هغه دا ؤ چې هغوی له خپل قوم سره په بت پرستۍ او د باطلو خدايانو په عبادت کې مخالفت وکړ، څکه هغوی د يو واحد ذات عبادت کاوه، نو هغوی د عقيدې له پلوه تر ظلم او فشار لاندې وو او قريشو

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



نه غوښتل چې مسلمانان دې عقیدوي آزادي ولري.

۵- کله چې مؤمنانو د عقیدې آزادي نه درلوده نو روا شوی جنګ، صرق ددې آزادۍ د تامین او لاسته راوړلو پخاطر ؤ، او دا خو دومره لوړه او اوچته آزادي ده چې هر انسان باید وربانديې فخر وکړي او کوي یې هم.

۶- وروسته الله (جل جلاله) دا هم ښودلې ده چې ددې اجازه ورکړل شوي جنګ فایده یوازې دا نه ده چې مؤمنان به د عقیدې آزادي وګټي بلکه لدې جنګ نه د نورو اسماني ادیانو پیروان (یهودان، نصرانیان) هم ګټه اخستی شي، مسلمانانو په هغه وخت کې له هغه چا سره جګړه کوله چې دین به یې نه درلود، او کله چې مسلمانان د زور خاوندان شول ویې کولای شوی چې د مساجدو تر څنګ د یهودو او نصرانیانو د عبادت ځایونه هم وساتي او پدې کې حکمت دا ؤ تر څو بت پرستان او ملحدان له پښو ولویږي له الهي ادیانو سره د مقابلې توان نه لاسه ورکړي او لدینه عاجز شي چې د الهي ادیانو عبادت ځایونه وتړي، دې خبرې ته د الله (جل جلاله) دا قول اشاره کوي

((... وَلَوْلَا دَفْعُ اللَّهِ النَّاسَ بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ لَهُدِّمَتْ صَوَامِعُ وَبِيَعٌ وَصَلَوَاتٌ وَمَسَاجِدُ يُذْكَرُ فِيهَا اسْمُ اللَّهِ كَثِيراً ...)). (الحج: ٤٠)

(که الله خلک یو د بل په وسیله دفع نکړي نو خانقاوې، کلیساوې عبادتخانې او جوماتونه چې په هغوی کې د الله نوم ډیر زیات اخیستل کیږي ټول به ونړول شي).

(صوامع) یا ادیرې د رهبانانو د عبادت او خلوت ځایونه ته ویل

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



کیږي. (بیع) د انصارو له کلیساګانو څخه عبارت دي (صلوات) د یهودانو کلیساوو ته ویل کیږي.
لدي آیت نه دا په ډاګه شوه چې په اسلام کې جنګ د آسماني ادیانو د له مینځه وړلو پخاطر ندی فرض شوی او نه هم د نورو آسماني ادیانو د عبادتخانو د ړنګولو لپاره، بلکه په اسلام کې جنګ د بت پرستو او ملحدینو له تسلط نه د آسماني ادیانو د ساتنې پخاطر فرض شویدی.
۷- په دریم آیت کې ددې روا جنګ نتائج ښودل شویدي او دا ښیي چې ددې جنګ اهداف او نتیجې د قومونو ښکیلول او استعمارول ندي او نه هم د هغوی سرمایي او مالونه غصبول او د هغوی کرامت له مینځ وړل غواړي، بلکه ددې جنګ نتیجې او اهداف د ټول بشریت مصلحت او ښیګڼه او د ټولو قومونو ګټه او خوشالي ده او دا اهداف عبارت دي له.

الف- د عبادت له لارې په ټوله دنیا کې د روحي اوچتوالي خورول (اقاموا الصلاة) لمونځ ادا کړي.

ب- د زکات له لارې د ملتونو تر منځ د اجتماعي عدالت تحقق (و اتوا الزکاة) زکات ورکړي.

ج- د ټولنې د خیر، برکت، کرامت او پرمختګ له پاره د ګډه همکاري (و امروا بالمعروف) په نیکۍ سره امر کوي.

د- له فساد، جرمونو او شر سره د مقابلې لپاره تیاري نیول (ونهوا عن المنکر) له بدۍ نه نهي کوي.

دا هغه نتیجې دي چې له دښمنانو سره په جنګ کې د مسلمانانو له برلاسۍ نه لاسته راځي، ځکه په جنګ کې به د مسلمانانو کامیابي اسلامې حکومت جوړوي او دا حکومت به د روحي لوړوالي لپاره هلې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



ځلې کوي، په ټولنه کې به ټولنيز عدالت قائموي، د خير له لارې به انسان د ترقۍ په لور بيايي او له شر، خرابۍ او هر ډول زيان نه به يې ليرې ساتي، نو وګورئ چې ګډينه بل کوم اوچت هدف شته؟ او آيا بشريت په پخوانيو او اوسنيو زمانو کې اسلامي جنګ ته ورته بل کوم داسې د لوړ هدف درلودونکې جنګ ليدلی؟ او يا يې پيژني؟ داسې جنګ چې د ټولو خلکو لپاره ګټور وي د ټولنې ټول افراد د ترقۍ او قوت په لور بيايي، او د داسې ټولنې جوړول غواړي چې هلته به نور جهالت، اباحيت، ګډوډي، الحاد، جنګونه او وينه تويونه نه وي، خو ددې په خلاف د نننۍ غربي تمدن هدف داسې يوه ټولنه ده چې هلته به اباحيت، الحاد، وژل او هر ډول باطل او فاسد اعمال يو روا کار بلل کيږي.

په اسلام کې مو د جنګ اهداف وپيژندل او پدې هم پوه شوو چې دا ډول جنګ د الله تعالی په لار کې جهاد دی او د الله (جل جلاله) په لار کې د جهاد هدف په دنيا کې د خير، آرامۍ، لوړتيا، ترقۍ او عدل حاکميت دی، ددې جهاد لار د الله تعالی لاره ده، څرګنده ده چې د الله تعالی لار د خير، محبت، نيکۍ، تقوی او همدردۍ لاره ده هلته د ګناه او تيري څه نښانې تر سترګو نه راځي.

په څو ټکو کې مو په اسلام کې د جنګ د مشروعيت اهداف او ددې مشروعيت تاريخي اسباب په ګوته کړل، لدې وروسته به د اسلام د لومړنيو غزاګانو له درسونو او پندونو څخه خبرې کوو، دا خو به حتما ډيرې پاڼې ډکوي، نو مجبور شوم چې دا ټول درسونه يو ځای سره راټول کړم او دا هم پداسې توګه چې له هرې يوې جګړې نه به له يوه نه زيات درس اخلم او که خدای اجل راته اوږد کړ او د مرض د

Downloaded By: Afghan Salar Library



کموالي لطف يې راباندي وکړ نو په راتلونکي کال کې به د هرې غزا له درسونو څخه بيلې بيلې خبرې وکړم.

## دا دي لدې غزاگانو نه زمونږ لپاره درسونه:

۱ - لومړنۍ غزا د بدر وه، هغه وخت رسول (صلى الله عليه وسلم) له شام نه مکې ته د قريشو د رواني قافلې مخې ته ورغلی ؤ، خو قافلې نجات وموند مگر مشرکينو د جنگ اراده کړې وه. د جنگ قصه خو مخکې ياده شوه، خو د قريشو ددې قافلې مخې ته ورتگ دا معنی نلري چې گويا رسول (صلى الله عليه وسلم) دا غوښتل چې لاره ووهي او يا د هغوی مالونه واخلي او لوټ يې کړي،لکه څرنگه چې تور لگونکي مشرکين ادعا کوي، بلکه ددې سبب دا ؤ چې رسول (صلى الله عليه وسلم) غوښتل له قريشو نه د مؤمنينو مهاجرينو د مالونو بدله واخلي، هغوی (قريشو) ټول او يا زياته اندازه مؤمنان پدې مجبور کړي وو چې خپل وطن، ځمکې او مالونه ټول پرېږدي او کله به چې خبر شول چې فلاني هجرت کړي، سمدلاسه به يې د هغه کور خرڅا وه، مال به يې غصب کاوه نو د داسې ظلمونو په مقابل کې خو نني ورځني قوانين هم د بالمثل عمل اجازه ورکوي، او دا روا بولي چې له مقابل لوري سره بالمثل عمل وکړی شي. ددې خبرې يادول هم ضروري دي چې د بدر له جگړې نه مخکې اوه (۷) ځله د قريشو د قافلو د مخ نيوي لپاره اقدام شوئ ؤ او پدې ټولو عملياتو کې به يوازې مهاجرين وو، انصار به نه وو ورسره، دا هم ځکه چې مهاجرينو د ټولو قوانينو په اساس ددې حق درلود چې د قريشو قافلو ته مخه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



ونيسي او هغه پخپله قبضه کې راولي. اوس به د بدر له غزا نه مخکې هغو اوو اقداموته اشاره وکړو کوم چې د قريشو د قافلو نيولو لپاره ترسره شوي وو:

۱ - د هجرت په اوومه مياشت کې د حمزه (رضي الله عنه) سريه.

۲ - د هجرت په آتمه مياشت کې د عبيدة بن حارث سريه.

۳ - د هجرت په نهمه مياشت کې د سعد بن ابي وقاص سريه.

۴ - د هجرت په دوولسمه مياشت کې د (ودان) غزا.

۵ - د هجرت په ديارلسمه مياشت کې د بواط غزا.

۶ - په همدې ديارلسمه مياشت کې د بدر لومړۍ غزا.

۷ - د هجرت په شپاړلسمه مياشت کې د عشيرة غزا.

پدې ټولو غزاګانو او سراياووکې يوازې مهاجرين وو، حتى چې يو انصاري هم نه ؤ پکې او دا خبره زمونږ د کړې خبرې ښه تائيد کوي.

۲ - په جګړه کې د برې او فتحې سبب د شمير ډيرښت او وسله نده، بلکه د برې يوازينى سبب د لښکر معنوي او روحي قوت دى. اسلامي لښکر پدې ټولو جګړو کې د پاکې عقيدې او قوي ايمان غوره نمونه وه، مسلمانان شهادت ته هوسيدل، د جنت او الهي ثواب اميدونه يې په زړه کې روزل او پدې چې له ګمراهۍ، نفاق او فساد نه خلاص او آزاد شوي له حده زيات خوشاله او ډاډه وو، پداسې حال کې چې د مشرکينو لښکر د فاسدې عقيدې، بدو اخلاقو، ټولنيزو اړيکو د سستۍ او خرابۍ، د ذلت (غلامۍ) او د پخوانيو عاداتو او په پاى کې د باطلو خدايانو عبادت او پيروۍ ړانده ممثلين او مقلدين وو.

وګوره چې د جګړې له پيل نه مخکې دا دواړه لښکرې څه کوي؟ مشرکين د بدر د غزا له پيل نه مخکې درې ورځې ددې لپاره پاتې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



شول چې شراب وڅښي، ډولونه ورته ووهل شي، ډمې ورته سندرې ووايي، اورونه بل کړي. تر څو خلک يې په شان او دبدبه پوه شي او په زړونو کې يې ويره را پيدا شي دا وه د مشرکينو په نظر د برې او کاميابۍ لاره او طريقه. خو مسلمانان د غزا له پيل نه مخکې په پوره اخلاص د الله (جل جلاله) لوري ته پناه وړي. د برې او شهادت سوال ور نه کوي. د جنت بوی يې تر سپږموکيږي. لوړ او ستر قوماندان محمد (صلی الله عليه وسلم) سر په سجده ږدي له الله (جل جلاله) نه د مؤمنانو کاميابي غواړي او نتيجه هم داسې شوه چې متقيان او له الله تعالی نه ويريدونکی لښکر بريالی شو. خو فاسد او په لهوه او عبث کې غرق شوي لښکر داسې ماتې وخوړه چې هيڅ هم ورپاتې نه شول.

که څوک په ټول غزاګانو کې د مسلمانانو او مشرکينو شميره سره پرتله کړي، نو وبه ويني چې په هره غزا کې د کفارو شمير د مسلمانانو د شمير څو چنده ؤ. خو سره لدې هم کاميابي د مسلمانانو په برخه وه حتی د حنين او احد په غزاګانو کې هم مسلمانان بريالي شول او که چېرې پدې دوو غزاګانو کې د مسلمانانو له لاسه خطاګانې او اشتباهات نه وای شوي، د رسول (صلی الله عليه وسلم) له امر نه يې مخالفت نه وی کړی نو هغه يوه لحظه ماتې به يې هم نه وه ليدلې.

۳ د لښکر د ارادې قوت او جنګ ته هوسيدل او له دښمن سره مقابلې ته خوشاليدل. د لښکر له قوماندان سره د پلان په تطبيق کې لويه مرسته کوي او د اقدام او عمل لور ته يې هڅوي او همدا يې په برې هم باوري کوي. لکه چې د بدر په غزا کې همداسې وشول.

۴- قوماندان ته په کارده چې خپل لښکر په زور جنګ ته مجبور نکړي او تر هغې يې د جګړې ميدان ته داخل نکړي، تر څو پورې چې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



هغوی پخپله نه وي غوښتي او په جنګ نه وي رضا شوي، لکه څرنګه چې رسول (صلی الله علیه وسلم) د بدر له غزا نه مخکې له خپلو اصحابو (رضي الله عنهم) سره د جنګ په هکله صلاح او مشوره وکړه.

۵- د جنګ کنټرول او د دعوت بري دواړه ددې غوښتنه کوي چې عسکر باید د قوماندان د ژوند په هکله ډېر محتاط و اوسي، ځکه دا د دعوت د کامیابۍ او جګړې کنټرول غوښتنه ده. قوماندان هم باید دا احتیاطي تدابیر ومني، ځکه د قائد ژوند په حقیقت کې د دعوت ژوند دی او له مینځه تګ یې د جګړې بایلل دي. ومو لیدل چې رسول (صلی الله علیه وسلم) د بدر په غزا کې پدې راضي شو یوه څپره ورته جوړه کړای شي او دا مو هم ولیدل چې په نورو غزاګانو لکه ((احد او حنین)) کې صادق او مخلص مؤمنان او مؤمنې ښځې به څه ډول د رسول (صلی الله علیه وسلم) تر شا او خوا راټولیدل، هغه مبارک (صلی الله علیه وسلم) به یې له غشو نه ساته. ځانونه به یې مرګ ته ورکول، خو د رسول (صلی الله علیه وسلم) دفاع به یې کوله، دا کله هم نده پیښه شوې چې رسول (صلی الله علیه وسلم) لدې کار نه منع کړي وي، یا یې بد بللی وي، سره لدې چې د هغه (صلی الله علیه وسلم) له عظیم غیرت سره الهي تائید هم په برخه ؤ، نه یوازې چې لدېنه یې نهی نده کړې بلکه ورځخه راټول شوي خلک یې ستایلي هم دي، لکه چې نسیبة ام عماره ستاینه کوي او ورته دعا کوي چې الله (جل جلاله) دې هغه او د هغې میړه او اولاد په جنت کې دده (صلی الله علیه وسلم) ملګري کړي.

۶- الله (جل جلاله) له خپلو مؤمنو او صادقو بندګانو سره د جنګ په وخت کې خپل لښکر یوځای کوي، لکه د بدر په ورځ یې چې ملائکې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



نازلې کړې، د احزاب په ورځ یې باد راولیږه، تر څو پورې چې مؤمنان د الله په لار کې جهاد کوي الهي کومک به یې په برخه وي، خدای (جل جلاله) فرمايي: ((وَكَانَ حَقًّا عَلَيْنَا نَصْرُ الْمُؤْمِنِينَ)). (الروم : ۴۷)

(او په مونږ دا حق ؤ چې مونږ له مؤمنانو سره مرسته وکړو).

بل ځای فرمايي: ((إِنَّ اللَّهَ يُدَافِعُ عَنْ الَّذِينَ آمَنُوا...)). (الحج: ۳۷)

(بیشکه چې الله له هغو کسانو څخه دفاع کوي چې ایمان یې راوړیدی).

۷- د ریښتوني بلونکي دا خاصیت وي چې د ټولو حتی د دښمنانو د هدایت تږی وي. هغوی ته یدې خاطر مخه ورکوي چې ګوندې الله یې په زړونو کې د هدایت نور واچوي. له همدې ځایه ده چې مونږ د بدر بندیانو د خلاصون لپاره د رسول (صلی الله علیه وسلم) له خوا د فدیې اخیستلو خوا ته د تمایل او موافقې په حکمت پوهیږو. هغه (صلی الله علیه وسلم) غوښتل چې خدای هغوی ته هدایت وکړي او راتلونکی نسل یې د الله (جل جلاله) عبادت کوونکی نسل شي، خو بیا که قرآنکریم رسول (صلی الله علیه وسلم) ته ددې کار له امله د عتاب لفظ ـ استعمال کړی. هغه په هغه وخت کې د یوه بل لوی اسلامي مصلحت لپاره ؤ او هغه دا ؤ چې د الله (جل جلاله) دښمنان وویروي. د فتنې او ګمراهی سرداران ختم کړي که چیرې د بدر بندیان وژل شوي وای، نو د قریشو مقاومت به حتما کمزوری کیده ځکه د هغوی مشران او د مؤمنو پر خلاف د اور بلونکي به نور نه وو د رسول (صلی الله علیه وسلم) له خوا د فدیې قبلولو یو بل ستر حکم ما ته دا ښکاري چې د بندیانو په مینځ کې د رسول (صلی الله علیه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



وسلم) تره عباس (رضي الله عنه) هم ؤ، او عباس (رضي الله عنه) خو له اسلام نه مخکې هم د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) سره مرستی کړې وې، د دوهمې عقبې په بیعت کې یې په پټه ورسره برخه اخیستې وه، همدا راز رسول (صلی الله علیه وسلم) ته به یې د قریشو د حرکاتو خبرونه هم راوړل. د عباس (رضي الله عنه) دا کار زما په زړه کې دا خبره نوره هم پخوي چې هغه (رضي الله عنه) مسلمان ؤ، خو اسلام یې لا ښکاره کړی نه ؤ، نو رسول الله (صلی الله علیه وسلم) به لدې کړو سره څنګه واڼه؟ او که رسول (صلی الله علیه وسلم) خپل تره عباس له نورو بندیانو نه ګوښه او بیل کړی وای، که هغه (رض) مسلمان وی او رسول (صلی الله علیه وسلم) وژلی وی نو دلته به رسول (صلی الله علیه وسلم) د خپل هغه شریعت چې د مسلمان وژل ناروا بولي د مخالفت مرتکب کیده، او که عباسؓ (رضي الله عنه) کافر وی او رسول (صلی الله علیه وسلم) نه وی وژلی نو بیا هم د شریعت مخالفت راته څکه دا شریعت خو د خپل او پردي تر مینځ دا ډول توپیر نه پیژني هر څوک چې کافر وي هغه کافر دی، هلته بیا نژدي او لیرې دواړه یو دي، او دا به د منافقانو او مشرکانو د تبلیغاتو یوه وسیله هم ګرزیدلې وای چې دا څنګه پیغمبر دی؟ تاسې یې عدالت وګورئ!!! او همدا راز دا به یې د رسول (صلی الله علیه وسلم) د اعتماد، باور او صداقت د کمولو لپاره یوه لویه حربه ګرځیدلې وای او ښکاره خبره ده چې دا یوه هم د دعوت له مصلحتونو څخه نه وه.

۸- د باتدبیره، پوه او څیرک قوماندان له امر او قوماندې نه سر غړونه د جنګ او جګړې د بایللو سبب کیږي، لکه څرنګه چې د احد په غزا کې همداسې وشول، که چیرې د غشو ویشتونکو هغه ګروپ چې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



رسول (صلی الله علیله وسلم) د لښکر شاته کینولی و پخپل ځای پاتې شوی وای، مشرکان به نه وو توانیدلي چې له مسلمانانو راتاو شي او د خپلې ماتې انتقام واخلي. همدا ډول د قوماندان له امر نه مخالفت دا ډول فرصتونه ضائع کوي او دښمنانو ته د ټکولو وخت ورکوي، نو همدا ده چې الله (جل جلاله) مؤمنان درسول (صلی الله علیه وسلم) له مخالفت نه منع کوي او سرغړونکو ته د عذاب وعید ورکوي فرمايي:

((...فَلْيَحْذَرْ الَّذِينَ يُخَالِفُونَ عَنْ أَمْرِهِ أَنْ تُصِيبَهُمْ فِتْنَةٌ أَوْ يُصِيبَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ)). (النور ۶۳)

(د پیغمبر د حکم څخه سرغړوونکي باید وویریږي چې په کومه فتنه کې اخته نشي یا دردناک عذاب پرې رانشي).

۹- په مادي غنیمتونو پورې زړه تړل د ماتې او شکست سبب کیږي، لکه د احد په غزا کې چې ولیدل شوه، هغه وخت چې د غشو ویشتونکو ګروپ د غنیمتونو ټولولو لپاره خپل سنګر پریښود او یا لکه چې د حنین په جګړه کې چې پیښه شوه، د جګړې په پیل کې مسلمانان بریالي شول، په غنیمتونو پسې شول او دښمن یې پریښود، همدا وه چې دښمن بیرته راوګرځید او په مسلمانانو یې له سره برید وکړ تر څو ماتې پکې ګډه شوه او که چېرې د رسول (صلی الله علیه وسلم) او صادقو مسلمانانو ثبات او مقاومت نه وای نو بیا به دا ماتې په ښکاره اوقوي نصر او برې نه وه بدله شوې. همدا ډول ټول دعوتونه د داعیانو له مادي طمعې او هوس نه زیانمن کیږي، د هغوی د مال او سامان زیاتوالی او مادي حرص او طمع دعوت ته زیاته صدمه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



رسوي، دا ځکه چې دا شيان خلک د بلونکي د ريښتينولۍ په هکله شکمنوي او ددې تهمت تړلو فرصت په لاس ورکوي چې ووايي د داعي هدف د الله رضا نده. بلکه غواړي د دين ترنامه لاندې خپله ګېډه او خپل جيب ډک کړي، د خلکو په مينځ کې ددې ډول عقيدې او روحيې را پيدا کول له الهي دين نه د منعې په شان ده او له هر صادق او مخلص داعي سره دومره لويه بدي ده چې نو څه ووايم.

۱۰- د احد په ورځ له رسول الله (صلى الله عليه وسلم) نه د نسيبة ام عمارة (رضي الله عنها) او د هغې د ميړه او اولاد کلکه او ميړنۍ دفاع او د هغه په شا او خوا کې د هغوی ثبات پدې دلالت کوي چې ښځو د اسلامي دعوت لپاره په مبارزه کې پوره ونډه اخيستې او مونږ ته دا رابښيي چې نننۍ اسلامي ټولنه ديته اړه لري چې د ښځو، پيغلو او ميندو په مينځ کې دعوت پيل کړي، خپل اولاد د الله او رسول (صلى الله عليه وسلم) په مينه سره وروزي. د هغوی په زړونو کې د اسلام، اصلاح او نيکو اخلاقو مينه واچوي. او تر څو چې د بلنې ميدان د مسلمانې ښځې له وجود نه خالي وي، او يا په پوره اندازه په ښځو ډک نه وي. نو بلنه به هم پوره نه وي او د اصلاح تحريک به تر هغې پورې ناقص وي تر څو پورې د ټولنې نيمايي برخې (ښځو) د خير بلنه نه وي اوريدلې او د هغوی په زړونو کې يې د نيکۍ محبت او دين لپاره اقدام نه وي را ژوندی کړی او ديته يې نه وي تيارې کړې چې د دين په کلکه رسۍ منلګولې ونښلوي.

۱۱- د احد په غزا کې د رسول (صلى الله عليه وسلم ټپي کيدل د الله (جل جلاله) د لارې هر داعي ته د جسمي کړاوونو او دردونو په وړاندې لويه تسلي او ډاډينه ده، هر هغه څوک چې د الله (جل جلاله) په لار کې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



او د خپلې آزادۍ پخاطر وهل کیږي یا په زندان کې اچول کیږي او یا هم په دارځړول کیږي. باید ددې واقعې په یاد راوړلو سره په پوره بې باکۍ او خوشالۍ سره دا ټول ومني. الله (جل جلاله) په خپل کتاب کې فرمايي ((الم (۱) أَحَسِبَ النَّاسُ أَنْ يُتْرَكُوا أَنْ يَقُولُوا آمَنَّا وَهُمْ لَا يُفْتَنُونَ (۲) وَلَقَدْ فَتَنَّا الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ فَلَيَعْلَمَنَّ اللَّهُ الَّذِينَ صَدَقُوا وَلَيَعْلَمَنَّ الْكَاذِبِينَ)). (العنکبوت: ۱-۳)

(( الف، لام، میم، آیا خلکو دا ګڼلې ده چې هغوی به یوازې په همدومره ویلو پرېښودل شي ((چې مونږ ایمان راوړ)) او هغه به ونه آزمویل شي؟ پداسې حال کې چې مونږ هغه ټول خلک ازمویلي دي چې له دوی نه مخکې تیر شویدي الله خو به هرومرو دا ګوري چې ریښتني څوک دي او درواغجن څوک.

۱۲- همدا راز د احد په ورځ د کفارو له خوا د مسلمانو شهیدانو خصوصاً د رسول (صلی الله علیه وسلم) د تره حمزه (رضي الله عنه) د اندامونو پرې کول ددې ښکاره دلیل دی چې د اسلام دښمنان له انسانیت او ضمیر نه بلکل خلاص دي، ځکه د مړي اندامونه پرې کول مړي ته آزار او درد نه ورکوي حلال شوی پسه له پوست ایستنې او ټوټه ټوټه کیدو نه خبر هم نه وي. خو دا ډول وحشي کارونه چې هر ژوندی وجدان او ضمیر لرونکی انسان وربانديې دزدمند کیږي، ددې دلیل دی چې د هغوی تور زړونه او نفسونه له کینې او عداوت نه ډک دي.

همدا راز ومو لیده چې مشرکان د احد په ورځ له شهیدانو سره داسې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



وحشي عمل کوي، لکه یهودان یې چې نن د فلسطین په جګړو کې له فلسطینیانو سره کوي، دا ځکه چې دوی دواړه (مشرکان او یهودان) له یوې چینې نه اوبه څښي، هغه هم له الله او قیامت نه د انکار چینه. پر الله (جل جلاله)، قیامت او رسول الله (صلی الله علیه وسلم) باندې د صادقو مؤمنانو په وړاندې به همدا ډول کینې او دښمنی کیدلې او اوس هم د همدې ډول وحشي عملونو لیدونکي دي.

۱۳ - د بدر په ورځ د رسول (صلی الله علیه وسلم) له خوا د حباب بن منذر د مشورې قبلول او د هغې په رڼا کې د خپل ځای او سنګر بدلول او همدا ارز د خیبر په ورځ د هغه د دوهمې مشورې منل هغه څه دي چې د دیکتاتورانو د غرور او تکبر تنده داغي او د هغو جابرانو د جبر او ظلم کړه ماتوي چې په زور او ناروا سره په ملتونو خپل حاکمیت کوي. دا ډول دیکتاتوران پخپله د ځان لپاره له نورو نه په اهمیت او فوقیت قایل دي، ځانونه د ډیر لوړ فکر خاوندان بولي، ان تر دې چې د ملت رایه یې تر نظر هیڅ ورځي او ځان د قوم د پوهانو، عاقلانو او عالمانو له سلا او مشورې نه مستغني بولي، پداسې حال کې چې رسول (صلی الله علیه وسلم) د خپلو هغو لوړو صفاتو سره سره کوم چې د هغه له برکته الله (جل جلاله) د خپل آخریني او اکمل رسالت لپاره غوره کړی، په عسکري امورو کې د بلدو با تجربه او پوهو اصحابو (رضي الله عنهم) مشورو ته غوږ ږدي، د وطن او ځمکو په هکله د هغوی رایه اوري. لنډه دا چې په هر هغه شي کې چې وحي نه وي پکې راغلې د خپلو اصحابو (رضي الله عنهم) مشوره اوري بیله دې چې ورته ووایي زه د الله رسول یم، دا زما حق دی چې په څه امر کوم او له څه نه نهي، نو دې جابرو او مستبدو حاکمانو دا د خود

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



مختاري حق له کومه کړ ؟اسره لدې چې دوی له نورو خلکو نه په علمي ، عقلي او تجربوي میدانونو کې د هیڅ دول افضلیت او برتری درلودونکي هم ندي آیا د ځینو شرائطو په نتیجه کې لاسته راوړل شوی قدرت او حکومت دا حق ورکړی؟ آیا پر هغه حاکمانو چې له علمي او تجربوي لحاظه له خپلو ډیرو اتباعو څخه وروسته پاتې دي دا نده لازمه چې د رایې له خاوندانو سره مشوره وکړي. د نصیحت کوونکو نصیحت ومني او د حکیم او کار پوه په خبره عمل وکړي؟ اوسنی او پخوانی تاریخ ددې شاهدي ورکوي چې د دکتاتورانو غرور او استبداد تل د هغوی او د هغوی د امتونو د نیستی سبب شوی او د همدې غرور په نتیجه کې امتونه د نیستی په یود داسې کنده کې لویدلي چې بیاورڅخه راختل په لسهاوو او سلهاوو کلونو کې هم ممکن ندي. په بدر او خیبر کې د رسول (صلی الله علیه وسلم) له خوا د حباب د مشورې منل د هر مخلص امیر او حاکم او هر مخلص او صادق داعي لپاره لوی درس او غوره نمونه ده چې باید اقتدا وریسې وکړي. د اسلامې حکومت له لویو شعارونو څخه یو هم د شوری شعار دی: ((... وَأَمْرُهُمْ شُورَى بَيْنَهُمْ...)) (الشوری:۳۸) (خپلې چارې پخپل منځي مشورې سره سرته رسوي. د مسلمان واکمن، هسې واکمن چې تاریخ یې تل پخپل زړه کې په نیکی سره ساتي له لوړو صفاتو نه یو دا دی چې هغه مشوره کوونکی وي، مستبد نه وي، په هره موضوع کې د فن له خاوندانو او پوهانو سره سلا او مشوره کوي.

((وَشَاوِرْهُمْ فِي الأَمْرِ)) (آل عمران:۱۵۹) (په چارو کې هغوی ته هم په مشوره کې برخه ورکړئ). ((...فَاسْأَلُوا أَهْلَ الذِّكْرِ إِنْ كُنْتُمْ لا

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



تَعْلَمُونَ)). (النحل: ٤٣) (له باخبرو خلکو نه پوښتنه وکړئ که تاسې په خپله نه پوهېږئ).

۱۴- د هر لښکر په سر کې د رسول (صلی الله علیه وسلم) تګ او په هره جګړه کې ګډون ددې خبر دلیل دی چې قیادت او رهبري د زړور او غیرتي انسان حق دی، بې زړه او ډارن خلک د ملتونو د رهبرۍ حق او صلاحیت نلري، هغوی ددې وړندي چې د لښکر قوماندان شي یا د اصلاحي کار او حرکت مشري په غاړه ولري، ځکه د قوماندان او امیر عملي شجاعت او غیرت د لښکریانو په زړونو کې حماسې جوړوي. هلته انقلاب راولي. او عملي شجاعت دومره سودمند دی چې کار یې سل حماسه جوړوونکي تقریرونه هم نه شي کولای. د سپاهیانو او مؤیدینو عادت داسې وي چې خپل قوت د قاند او رهبر له قوت نه اخلي. خو که رهبر او قاند له جنګ نه وویرید. په سختیو کې یې کمزوري وښودل نو خپلې قضیې ته یې د کومې لپاره یې چې ملا تړلې سخت ضرر رسولی دی

۱۵ د دعوت سپاهیانو او پیروانو ته په کار ده چې د خپل قوماندان یا امیر مخالفت ونکړي. هغه امیر چې له خپلو اتباعو نه مشوره اخلي او د هغوی مشوره مني. که هغه له هغې نه وروسته د کوم کار تصمیم ونیسي پیروان یې باید اطاعت وکړید حدیبې د صلحې په وخت کې له رسول (صلی الله علیه وسلم) سره د یو شمیر اصحابو له خوا مخالفت وشو. هغه (صلی الله علیه وسلم) د صلحې شرائط ومنل او وروسته دا څرګنده شود چې صلحه د دعوت په ګټه وه او دا د مسلمانانو لویه سیاسي کامیابي وه. له صلحې نه وروسته د مسلمانانو شمیر هم د

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



پخوا په پرتله څو چنده زيات شو دا ټول وشول، خو د صلحې ځنې شرطونه په سر کې ځينو اصحابو (رضي الله عنهم) ته ډير سخت او ګران ښکاره شول، ډير خفه شول حتی چې ځنې له رسول (صلی الله عليه وسلم) سره د لايق ادب له دايرې نه هم ووتل، خو وروسته ټول پخپله غلطۍ پوه شول. ديته ورته بله پيښه د ردت په جګړو کې د رسول (صلی الله عليه وسلم) د لومړي خليفه ابوبکر صديق (رضي الله عنه) دريځ او د ځينو مخالفت دی. ټول اصحاب پدې نظر ؤو چې له مرتدينو سره دې جګړه ونه شي، خو يوازې ابوبکر (رضي الله عنه) ؤ چې په جګړه يې اصرار کاوه غوښتنه درلوده خو کله چې ابوبکر (رضي الله عنه) دې کار ته عملاً ملا وتړله، ټولو اصحابو (رضي الله عنهم) يې اطاعت وکړ، د جنګ تياري يې ونيوله او وروسته دا ښکاره شوه چې د ابوبکر (رضي الله عنه) همدا سم او په ځای دريځ و چې په عربي جزيره کې د اسلام بيرغ رپانده وساتي.

۱۴- د احزابو په غزا کې نعيم بن مسعود (رضي الله عنه) ته د رسول (صلی الله عليه وسلم) له خوا ددې دندې سپارل چې د دښمنو قبيلو تر مينځ د خپل توان په اندازه درز واچوي، پدې دلالت کوي چې له دښمن سره د جګړې په وخت کې چل او فريب روا دی، خو پدې شرط چې دا چل او فريب د بري په لار کې وي اسلام هر هغه لار چې د حق د بري او وينې تويېدنې د مخنيوي سبب کيږي روا بولي، خو غدر او خيانت پدې حکم کې نه دی شامل. دا کار د رسول (صلی الله عليه وسلم) د عسکري او سياسي حکمت يوه نمونه وه او دا په هيڅ صورت کې هم اسلامي اخلاقو له اصولو سره تضاد نلري، ځکه له قتل او وژلو نه مخنيوي، د جنګ د قربانيانو د شمېر کمښت انساني لوی مصلحت

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



دی، همدا راز د کفر، فساد، شراو فتنو ماتې او شکست د ټول بشریت په ګټه عمل دی، نو همدا وجه ده چې د جنګ په وخت کې چل او ول له اسلامي اخلاقو سره منافات نلري، دا خو هم څرګنده ده چې اسلام جنګ ته په ښه سترګه نه ګوري، خو که د ضرورت له مخې شروع شي نو بیا یې ختمول لازمیږي، الله (جل جلاله) خو جنګ یوازې، د دین، امت او ځمکې د دفاع او ساتنې پخاطر روا کړیدی، نو هغه چل او فریب چې د دښمن د ماتې سبب ګرزي یه حقیقت کې له باطل پرستانو سره د جنګ کوونکي حق د بري او کامیابی زیری راوړونکی دی، همدا وجه ده چې رسول (صلی الله علیه وسلم) د احزاب په غزا کې نعیم بن مسعود (رضي الله عنه) ته داسې وفرمایل (( الحرب خدعة)) (جنګ چل دی)، او دا په ټولو قوانینو او شریعتونو کې یو منل شوی اصل دی.

۱۷- د خندق په غزا کې د رسول (صلی الله علیه وسلم) له خوا د سلمان (رضي الله عنه) د خندق کیندلو د مشورې منل پدې دلالت کوي چې اسلام دا بده نه ګڼي چې د نورو امتونو له ګټورو تجربو څخه استفاده وشي. لدینه مخکې عربو خندق نه پیژانده او ددې خندق ګټې خو له هیچا هم پټې ندي. همدا راز د رسول (صلی الله علیه وسلم) له خوا ددې مشورې منل پدې هم دلالت کوي چې رسول (صلی الله علیه وسلم) د نورو امتونو د حسناتو او ګټورو شیانو قبلولو ته پوره تیار و. ددې ډول پیښو ډیر مثالونه شته دي، د مثال په توګه کله چې رسول (صلی الله علیه وسلم) وغوښتل پاچایانو او امیرانو ته لیکونه واستوي چا ورته وویل د پاچایانو عادت داسې وي چې بې مهره خطونه نه مني، پدې سره سمدلاسه رسول (صلی الله علیه وسلم)

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



د مهر جوړولو امر وکړ او پرې ويې ليکل ((محمد رسول الله)) ، او له دېنه وروسته به يې خپل خطونه مهر کول. د مکې له فتحې نه وروسته هغه وخت کله چې د عربي ټاپو وزمې له هر کوټ نه وفدونه راتلل تر څو د رسول (صلی الله علیه وسلم) په وړاندې خپل اسلام او ايمان اعلان کړي، يو چا رسول (صلی الله علیه وسلم) ته وويل: يا رسول الله ! د پاچايانو او اميرانو عادت داسې وي چې وفدونه په ښو او قيمتي جامو کې حضور ته مني، نو رسول (صلی الله علیه وسلم) امر وکړ چې يوه حله (چپنه) ورته واخستله شي چې قيمت يې څلور سوه درهمه او په يو روايت څلور سوه اوښان ګېدل. رسول (صلی الله علیه وسلم) همدا قيمتي چپنه واغوستله او عربي وفدونه به يې حضور ته منل، دا ؤ د هميشني او ابدي دين د ستر او عظيم پيغمبر (صلی الله علیه وسلم) هغه درس چې تل خپلو پيروانو ته وايي چې مسلمان بايد د نورو قومونو له ښيګڼو او ګټورو هغو شيانو څخه چې له شريعت سره منافات نلري ګټه واخلي، او د نورو له ښيګڼو نه استفاده نه کول هسې خوشې تعصب او جمود دی، اسلام دا راز جمود نه مني، وګورئ قرآنکريم څه ښه فرمايي:

((...فَبَشِّرْ عِبَادِي (۱۷) الَّذِينَ يَسْتَمِعُونَ الْقَوْلَ فَيَتَّبِعُونَ أَحْسَنَهُ...)).( الزمر ۱۷-۱۸) (نو ((اې پيغمبره)) زيری ورکړه زما هغو بندګانو ته چې په غور سره اوري او د هغې ډېره ښه پيروي کوي).

همدا راز د دين د ستر پيغمبر (صلی الله علیه وسلم) هدايات او عملي ژوند هم دا ډول جمود ردوي، رسول (صلی الله علیه وسلم) فرمايي:((الحکمة ضالة المؤمن يلتمسها انی وجدها)).(حکمت د

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



مؤمن ورکه متاع ده، لټوي يې هر ځاې يې چې ومونده»
کله چې پدې وروستيو وختو، خصوصا د اروپا د رنسانس له دورې نه وروسته مسلمانانو دا اصل او مبدا «د نورو له ښيګڼو نه ګټه اخيستل» هيره کړه او د نورو ښه او ګټور شيان يې له خپل شديد ضرورت سره سره ونه منل، همدا وه چې له مشکلاتو او نيمه نيستۍ سره لاس او ګريوان شول او له نورو نه په سلهاوو ميله وروسته پاتې شول. ((...وَلِلَّهِ عَاقِبَةُ الأُمُورِ). (سوره الحج: ٤١) (او د ټولو چارو پای د الله په لاس کې دی).

۱۸- د مؤته په غزا کې د رسول (صلی الله علیه وسلم) ارشادات د اسلامي جنګ شکل او ډول په ګوته کوي دا ښيي چې دا جنګ پر انسانيت د رحمت پخاطر دی، څوک چې جنګ نه ورسره کوي هغه نه وژني، که ډيره مجبوري نه وي د لارې په سر شيان نه ورانوي. د رسول (صلی الله علیه وسلم) پدې هداياتو اصحابو (رضي الله عنهم) او وروسته ټولو مسلمانانو پوره عمل کړيدی، همدا وجه ده چې د مسلمانانو جنګ په ټول تاريخ کې سپيڅلی او پاک جنګ دی. د جنګ په وخت کې هغوی له ټولو نه د نيکو او نرمو اخلاقو د خاوندانو عملي ثبوت وړاندې کاوه، دا خو پريږده چې د صلحې په وخت کې به د څومره زړه سوي او نيکۍ خاوندان وو. تاريخ پدې هکله د مسلمانانو افتخارات په زرينو کرښو ليکلي دي، پداسې حال کې چې د نورو ملتونو کړه يې په تورو پاڼو او تورو کرښو کې ساتلي دي او لاپسې ليکي يې، څوک د صليبيانو هغه ظلم او وحشت هيرولی شي چې د بيت المقدس د نيولو په وخت کې يې کړی، او څوک د صلاح

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



الدین له رحمت نه ډک جهاد له یاده ایستلی شي د کوم په برکت یې چې بیت المقدس بیرته آزاد کړ؟ همدا ډول آیا د صلیبیانو هغه ظلمونه چې د طرابلس، مصر او نورو اسلامي مرکزونو له نیولو وروسته یې وکړل او بالمقابل ددې ملکونو د بیرته آزادولو لپاره د مسلمانانو د امیرانو او سپاهیانو له زړه سوي نه ډکې کارنامې څوک هیرولای شي؟ اوس مونږ د اروپا د نفاق په دوره کې ژوند تیر کوو، وینو چې له یوې خوا د تمدن، رحمت او محبت خبرې کوي. خو په عمل کې ملکونه ورانوي. د بیګناه خلکو وینې تویوي، زاړه، ځوانان، ښځې او ماشومان ټول وژني او بدبختانه چې د فلسطین په غصب شوې ځمکه کې د اسرائیلو حکومت جوړول هم همدا زمونږ په وخت کې ترسره شول، ټولې دنیا د یهودانو ظلمونه او وحشتونه ولیدل. هر چا په دیریاسین، قبیه، حیفا، یافا، عسکا، صفد او نورو ځایونو، کلیو او ښارو کې د یهودي ظلم او وحشیت نمونې ښې ولیدلې، خو لدې سره سره بیا هم د انسانیت ډبرې په ټټر وهي پداسې حال کې چې عمل یې ټول وینې چې څه ډول دی. خو مونږ هغه امت یو چې زړونه مو د رسول صلی الله علیه وسلم له لوړو اخلاقو نه ډک دي او داسې یو امت یو چې جنګ او صلحه دواړو کې مو رحمت شعار دی او په پوره ایمان سرد ورته د عمل جامه اغوندو، دا پداسې حال کې چې دښمنان بالکل دا اصول او مبادي نه پیژني، د هغوی په زړونو کې ددې شیانو وجود او اثر نه لیدل کیږي، یوازې د خولې منافقانه چیغې دي او بس. مونږ هغه امت یو چې په رحیم او قوي الله ایمان لرو. نو زمونږ قوت رحمت دی خو هغوی داسې څوک دي چې غواړي په نفاق سره زمونږ له زړونو نه د الله (جل جلاله) د قوت او

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



غلبې صفت وباسي او داسې راته وښيي چې ګويا هغوی هم د الله (جل جلاله) په رحمت او محبت عقيده لري خو په عملي ډګر کې او له نورو ملتونو خصوصا مسلمانانو سره د جنګ په وخت کې هغوی بيا دا رحمت او محبت هير کړی وي. مونږ هغه امت يو چې جنګ مو د انسانيت د ګټې په خاطر دی، مونږ پر انسانيت له ټولو نه زړه سواندي يو، هو هغوی يوازې او يوازې د غصب، غلا، استعمار او پر نورو باندې د تسلط پخاطر جنګيږي. نو څرګنده شوه چې هغوی د انسانيت دښمنان دي، سره لدې چې نن مونږ د ځمکې، کرامت او خپل حق په خاطر له هغوی سره جنګ کوو، خو بيا هم مونږ خپل اصول له ياده ندي ايتسلي مونږ سره لدې چې له داسې يو قوم سره جنګ کوو چې رحمت، شرف او انسانيت نه پيژني، خو بيا هم مونږ له دې ټولو خپلو اساسي مبادئو او ارزښتونو نه لاس نه اخلو، بلکه دا راباندې واجب دي چې د خپل رسول الله (صلی الله عليه وسلم) او شريعت د اوامرو په تطبيق او تمسک سره خپل جنګ ته ادامه ورکړو او تر هغې ورسره وجنګيږو تر څو احکم الحاکمين خدای زمونږ په مينځ کې فيصله وکړي.

۱۹- کوم لښکر چې د ايمان، اخلاص او حماسې درلودونکی نه وي او ټول سپاهيان پدې خود کاره وسله سمبال نه وي او يا دا چې په لښکر کې ځيره خواران، سست او بې ارادې خلک شامل وي نو کله به هم پر دښمن غالب نه شي لکه څرنګه چې د حنين په غزا کې همداسې وشول. دعوتونه او تحريکونه هم د لښکر حيثيت لري، هغوی ته په کار ده چې هسې چکه وهونکو په ډيرښت تير نه وزي بلکه د هغوی حساب بايد په مؤمنانو او قربانۍ ته په چمتو کسانو باندې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



وي.

۲۰- د رسول (صلی الله علیه وسلم) له غزاګانو نه بل درس دا اخلو چې په مرسته يې د يهودو په وړاندې د رسول (صلی الله علیه وسلم) موقف او همدا راز د رسول (صلی الله علیه وسلم) او اسلامي امت په وړاندې د يهودو درېز پېژندلی شو. رسول (صلی الله علیه وسلم) په مدينه کې لومړی ددې ډير کوښښ کاوه چې د مسلمانانو او يهودو تر مينځ د صلحې فضا رامينځ ته کړي، اړيکې يې ټينګې شي، او يهودو ته د دين او مال آزادي او امن ورکړي او پدې هکله يې له هغوی سره تعهد او ليکنه هم وکړه، خو يهود له غدر او خيانت نه ډک قوم دی، لږ موده لانه وه تيره شوې چې د رسول (صلی الله علیه وسلم) د قتل توطئه يې جوړه کړه او د همدې په نتيجه کې د بني نضير غزا پيښنه شوه، لدې وروسته او په ډيرو سختو شرائطو کې (د احزاب په ورځ) هغوی بيا خپل هوډ مات کړ او همدا ددې سبب شو چې د بني قريظه غزا وشي او پدې پسې يې بله توطئه پيل کړه له هر ځای نه سره راټول شول سلا (وسله) يې تياروله، د سيسې يې جوړولې او ددې زيار يې يوست چې په ډيره بی شرمۍ او سپين سترګۍ سره مدينه له مسلمانانو نه خالي کړي او د دوی همدا توطئه د خيبر غزا سبب شوه.

يهود داسې قوم دی چې د چا نيکي نه مني، وعده او وفا نه پيژني، په دروغو او فرصت طلبۍ مشهور دي نو له داسې قوم سره به رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ولې داسې تصفيه نه کوله چې ورسره ويې کړه؟او آيا رسول (صلی الله علیه وسلم) پدې مجبور ؤ چې د دوی دا ټولې توطئې او دسيسې، خيانتونه او جنايتونه تحمل کړي او هميشه له غم، ويرې او تشويش نه ډکې شپې او ورځې تيرې کړي؟

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د دوی په وړاندې په قاطعانه دریز او توحیدي فیصلې سره د خپل نوي دولت ساتنه وکړای شوه، او خپل دعوت ته یې مخه پرانیسته، تر څو تولو عربي ټاپو وزمه او په پای کې ټوله نړۍ یې پخپلو زرینو وړانګو روښانه کړه. د رسول (صلی الله علیه وسلم) دي قاطعانه عمل ته له یهودي، متعصب او استعمارګر نه پرته بل څوک د انتقاد ګوته نه نیسي، راځئ د یهودو تاریخ تر نظر تیر کړو او وګورو چې آیا دوی په تیره زمانه کې هم د توطئو، غدر، فساد او خیانت شعار او سمبول نه وو؟

د فلسطین له جنګ او هلته له یهودي دولت جوړیدو نه مخکې زمونږ په ډله کې څنې داسې کسان وو چې د یهودانو په نرمو او خوږو خبرو تیر وتلي وو او حتی چې له هغوی سره به یې د مرستې خبرې کولې، همدا راز زمونږ په مینځ کې څنې داسې کسان هم وو چې هغوی به د خپلو بادارانو (لویو دولتونو) له خوا پدې مجبوریدل چې له یهودو سره د مرستې او همکارۍ خبرې وکړي، ددې نتیجه دا شوه چې کمزوري او سپکاوی مو په برخه شو، او د فلسطین حال دې ته راورسید چې. ټول یې وینو، خو باید لدې وروسته څوک په یهودو ونه غولیږي او که غواړو چې ددې سرطان له شره ځان خلاص کړو نو باید همداسې قاطعانه دریز غوره کړو، لکه څرنګه چې زمونږ رهبر محمد (صلی الله علیه وسلم) غوره کړی ؤ، تر څو په خپل وطن کې آرامه ژوند وکړای شو او دیته وخت پیدا کړای شو چې نړۍ ته د صلحې او سلام غږ ورسوو. دا د امانت په شکل خپل راتلونکي نسل ته په پوره اخلاص او صداقت سپارو، کیدای شي چې هغوی هغه څه وکړي چې مونږ. ماتی خوړلي نسل ونه شوی کړای.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



۲۱- د (مؤته) غزا کومه چې د مسلمانانو او رومیانو تر مینځ لومړنۍ جګړه وه، ډیرپندونه لري،که چېرې د بصرى امیر چې له غسانسنه عربي قبیلې څخه و د رسول (صلی الله علیه وسلم) قاصد نه وی وژلی، نو کیدای شوی دا غزا نه وای پیښه شوی. د قاصد وژل په ټولو شریعتونو کې یو ناروا او له تجاوز نه ډک عمل بللی شي او دا په حقیقت کې د ګاونډیتوب د حقوقو سپک شمیرل دي او همدا ډول دا اثبات کوي چې رومیان او مزدوران یې د شر خورونکي دي، نو همدا وجه وه چې رسول (صلی الله علیه وسلم) د مؤته لښکر تیار کړ، تر څو پدې سره د قاصد و ژونکي او باداران یې وویروي، او دا ورته اعلان کړي چې نوی جوړ شوی اسلامې دولت د ځاني دفاع او ساتنې پوره توان لري او هغوی ته په کار ده چې د تجاوز فکر له سره وباسي. کله چې مسلمانان (مؤته) ته ورسیدل ګوري چې زیات شمیر رومیان او مزدوران یې راټول شوي (ځنې مؤرخین یې شمیر دوه سوه زره ښیي ) د هر قل ورور پخپله ددې لښکر قوماندانې په غاړه درلوده او (ماب) نني عمان ته نژدې منطقه کې یې سنګرونه نیولي وو، د دوی دا لښکر کشي د رسول (صلی الله علیه وسلم) د هغې پیشګویۍ چې ویل یې رومیان غواړي اسلامي نوی دولت له مینځه یوسي نور تایید هم کاوه هغوی غوښتل اسلامې حکومت ختم کړي، ځکه پوهیدل چې د عربي ټاپو وزمې په زړه کې موجود اسلامي حکومت نور د دوی په شا او خوا کې میشته عربان د دوی له استعمار نه آزادوي، د دوی ژغ یې له اوږو کوزوي، په همدې ډول د مسلمانانو او رومیانو تر مینځ جګړې پیل شوې.

۲۲- د تبوک په غزا کې ډیرې داسې ښې نښانې دي چې پدې دلالت

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



کوي چې ایمان د مؤمنینو په زړه کې د غیرت ولولې راپاروي، جنګ ته یې اراده کلکوي، د سخاوت او کرم درس ورکوي او داسې قوت وربښي چې بیا د الله (جل جلاله) په لار کې له ګرمۍ، تکلیف، درد او غم نه لذت اخلي، همدا وجه ده چې رسول (صلی الله علیه وسلم) د تبوک له غزا نه بیله عذره دریو پاتې شوو کسانو سره مقاطعه اعلان کړه، ټول مسلمانان حتی د هغوی ښځې اوپلرونه یې هم له هغوی سره له خبرو کولو منع کړل. بالاخره هغوی دومره په تنګ شول چې یو تن یې ځان د جومات په ستنه پورې وتاړه او تر هغې پورې همدلته ؤ څو یې الله (جل جلاله) توبه قبوله کړه دا واقعه د مسلمانانو لپاره لوی درس ؤ هغوی یې پدې پوه کړل چې څوک پرته له عذره د واجباتو له ادا کولو نه سر غړوي نو جزا یې څه ده.

۲۳- د مکې فتحه خو د دومره پندونو او درسونو درلودونکې ده چې دا پاڼې یې د شرحې او بیان حوصله نلري. پدې پیښه کې د لوی داعي رسول (صلی الله علیه وسلم) طبیعت او اخلاق نور هم څرګندیږي، او په اثبات رسیږي چې هغه مبارک (صلی الله علیه وسلم) د مخالفینو په نسبت کینه نه ساتي، هو رسول (صلی الله علیه وسلم) هغو کسانو ته عفوه وکړه، احسان یې ورسره وکړ کوم چې پوره یوویشت کاله یې دده او اسلام په خلاف راز راز توطئې جوړې کړې وې، جنګونه یې ورسره کړي ؤ دده د قتل او دعوت ختمولو لپاره یې هره ممکنه لاره وهلې وه، خو لدې سره سره کله چې هغه (صلی الله علیه وسلم) په دوی برلاسي پیدا کوي، د دوی مرکز فتحه کوي، نو فقط له الله (جل جلاله) نه ورته بښنه غواړي، آزادوی یې، خو دا معامله د نبي او رسول (صلی الله علیه وسلم) معامله ده هغه د داسې یو چا معامله ده

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



چې د دعوت هدف یې پاچاهي او قدرت ندی، بلکه الله - جل جلاله هغه د زړونو او عقلونو فاتح او د انسانانو لوی رهنما ګرزولی دی، او همدا وجه ده چې رسول (صلی الله علیه وسلم) مکې ته پداسې حال کې ننوزي چې د الله (جل جلاله) شکرائې یې په خوله جاري دي، د الله (جل جلاله) دا مرسته په حمد او ثنا بدرګه کوي د نورو لویو ملک نیونکو په شان کبر او غرور نه کوي، بلکه د یوه مطیع بنده په حیث فتح شوې مکې ته داخلیږي.

۲۴- د مکې له خلکو سره د رسول (صلی الله علیه وسلم) پدې معامله کې یو بل حکمت هم پروت دی او هغه دا چې الله (جل جلاله) خو پدې پوره علم درلود چې عرب به دنیا ته د اسلامې رسالت رسوونکي وي، نو د مکې خلکو ته یې چې د عربو مشران وو ژوند ورکړ، تر څو د الله (جل جلاله) دین ومني او وروسته نورو قومونو ته دا د هدایت روښانه نور (اسلام) ورسوي، او د همدي دین په لار کې خپل نفسونه او مالونه قربان کړي، ځکه همدا دین دی چې دوی یې له تیارو نه رڼا ته رایستلي دي.

۲۵- په پای کې د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د غزاګانو له درسونو او پندونه نه هغه لوی درس او عبرت بیانوو کوم چې د رسول (صلی الله علیه وسلم) د رسالت او نبوت له ټولو نه قوي دلیل دی او هغه هم په ډیره لنډه موده کې د اسلامې دعوت دا دومره لویه کامیابي ده کوم چې عقل یې تصور غوندي هم نه شي کولای. دا لویه کامیابي ددې اثبات هم کوي چې دا دعوت الهي دعوت دی، الله (جل جلاله) یې د پیروانو او مؤمنانو د بري تضمین کړي دي، الله (جل جلاله) به خپل هغه دعوت چې حق دی، نور دی او رحمت، یوازې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



پرېنږدي، الله (جل جلاله) حق او رحيم ذات دی، د هغه رحمت ټولو کائناتو ته شامل دی، الله (جل جلاله) د ځمکې او آسمانونو نور دی، څوک کولای شي د الله نور کمزوری کړي؟
الله (جل جلاله) به څنګه باطل ته غلبه ورکوي او څنګه به پرېږدي چې ظلم، فساد په رحمت او صلاح باندې برلاسی شي؟
رسول (صلی الله علیه وسلم) او نور مؤمنان د احد او حنین په جګړو کې زخميان شول، ښکاره ده چې دعوت داسې ازمايښت دی، چې زخمونه غواړي، قرباني او دردونه. ((... وَلَيَنصُرَنَّ اللَّهُ مَنْ يَنصُرُهُ إِنَّ اللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ)). (الحج: ٤٠). (الله به ارو مرو له هغو کسانو سره مرسته وکړي چې د هغه مرسته وکړي الله ډېر زورور او برلاسی دی).

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# شپږم فصل
# د مکې له فتحې نه
# د رسول (صلی الله علیه وسلم) تر وفاته
# مهمې پیښې

## الف- د حنین غزا:

کله چې الله (جل جلاله) مکه د خپل رسول (صلی الله علیه وسلم) او مسلمانانو په لاس فتحه کړه، او پدې سره د قریشو یوویشت کلنی مقاومت ختم شو، نو د هوازن خلک له رسول (صلی الله علیه وسلم) سره د جګړې لپاره راټول شول چې په نتیجه کې د هوازن غزا وشوه. ابن هشام دا غزا په مفصله توګه بیان کړیده، لیکن مونږ دلته یوازې ددې جګړې نه اخیستل شوي درسونه داسې بیانوو:

۱- د مالک بن عوف غرور، د سیاست مینه، پخپله رایه ټینګار او فخر ددې سبب شول چې د درید بن الصمۀ نصیحت ته غوږ کینږدي څکه ده خیال کاوه چې هغه یو قوي، بیاوړی، او منلی ځوان دی، نو ځنګه د یوه زاړه او کمزوري سړي نصیحت ومني، خو که د درید نصیحت یې منلی وای، نو خپل قوم به یې له دومره لوی مالي زیان او د ښځو د اسارت له لوی شرم نه ساتلی وی، خو کبر او د قدرت حرص ملتونه د نیستی کندې ته اچوي، عاقبت یې خرابوي او همیشنی

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871397698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



تاوان يې په برخه کوي. دده غرور او کبر ددې اجازه ورنکړه چې هغه اسلامي قوت ته تسليم شي کوم چې قريش يې وروسته له ډېرو مقابلو او آزميښتونو څانته ايل کړل، ګمان يې کاوه چې ګوندې پدې دومره زياتو سپاهيانو او مالونو سره به نوي اسلامي قدرت ته ماتې ورکړي او پدې مادي ساز او برګ سره به د روح، اهدافو او تنظيم له لحاظه پياوړی او اوچت برج ونړولی شي!! نوموړی دومره غرور لاندې کړی ؤ چې له څان سره يې د قوم ښځې او ټول مالونه هم د جنګ ميدان ته وايستل تر څو څوک تيښتې ته زړه ښه نه کړي، خو د دريد هغه نصيحت يې هير کړی ؤ چې ورته ويلي يې وو: ماتې خوړلی سړی هيڅ شي هم نه شي راټينګولی، هغه لدې هم نه ؤ خبر چې مسلمانان د بري راز الهي قوت او نصرت بولي، په مال او شمير باندې حساب نه کوي، هغوی په جبار او عزيز الله (جل جلاله) اتکاء لري، د همغه (جل جلاله) د جنت او بري وعده يې په سترګوکې وي، هسې ندي چې د خپل څان، ښځو او مال ساتنې مينه دې د هغوی د بري سبب وي، بلکه د هغوی د بري او نه تسليمدو علت او سبب د الهي ثواب طمعه، او د جهاد له ميدان نه د تيښتيدلو لپاره له وعده کړی شوي عذاب نه ويره ده.

((وَمَنْ يُوَلِّهِمْ يَوْمَئِذٍ دُبُرَهُ إِلاَّ مُتَحَرِّفاً لِقِتَالٍ أَوْ مُتَحَيِّزاً إِلَى فِئَةٍ فَقَدْ بَاءَ بِغَضَبٍ مِنَ اللَّهِ وَمَأْوَاهُ جَهَنَّمُ وَبِئْسَ الْمَصِيرُ)).( الانفال: ١٦)

څوک چې په داسې موقع کې شا واړوي مګر دا چې د جنګي تاکتيک په ډول داسې وکړي يا له کوم بل پوځ سره د يوځای کيدو لپاره نو هغه به د الله (جل جلاله) په غضب اخته شي، د هغه استوګنځی به دوزخ

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



وي او هغه د ورگرځيدو ډير ناکاره ځای دی.

په جگړه کې مالک او قوم يې ماتې وخوړه، د غرور جزا يې يوازې ده ته نه بلکه قوم ته يې هم ورسيده، دا ځکه چې قوم يې دده خبره منلې وه. مالک هغوی ته د سرغړونې په صورت کې د مرگ د جزا اخطار ورکړی ؤ هغوی له ويرې دده اطاعت وکړ، خو که هغوی د خپل سپين ږيري او تجربه کار مشر خبره منلی وای دا ځوان يې د غرور له غونډۍ نه لږ را کوز کړی وی نو بيا به يې دا حال نه وای ليدلی. هغوی ددې مغرور ځوان (مالک) له قهره وويريدل، خو که هغوی له ځانه دا پوښتنه کړی وای چې که دا ځوان په قهر شي نو څه به وشي؟ ځواب به دا ؤ چې پدې صورت کې به دوی خپل مشر له لاسه ورکړي، خو که دا وشي نو بيا؟ آيا د يوه مستبد او مغرور رهبر ژوند د ټول قوم او قبيلې له ژوند سره برابر دی؟ الله تعالی په قرآنکريم کې د مغرورو مشرانو او رهبرانو هوا او هوس ته له ډله ايزې تسليمۍ نه مونږ منع کوي او ددې کار د نتيجې په هکله تحذير فرمايي: (( فَاسْتَخَفَّ قَوْمَهُ فَأَطَاعُوهُ إِنَّهُمْ كَانُوا قَوْماً فَاسِقِينَ (٥٤) فَلَمَّا آسَفُونَا انتَقَمْنَا مِنْهُمْ فَأَغْرَقْنَاهُمْ أَجْمَعِينَ (٥٥) فَجَعَلْنَاهُمْ سَلَفاً وَمَثَلاً لِلآخِرِينَ)). (سوره الزخوف: ٥٤ / ٥٦)

(هغه خپل قوم سپک وگاڼه او هغوی د هغه اطاعت وکړ، په حقيقت کې هغوی فاسقان خلک وو په پای کې چې کله هغوی مونږ په غوسه کړو نو مونږ له هغو نه غچ واخيست او هغوی مو ټول يوځای غرق کړل او د وروستيو نسلونو لپاره مو اسلاف او د پنداخيستلو يوه نمونه وگرځول).

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



۲- له مشرک (صفوان) نه د رسول (صلی الله علیه وسلم) له خوا د سلو زغرو او کافي وسلې په استعاره اخیستل له یوې خوا د جنګ لپاره د پوره تیارۍ او آمادګۍ وجوب ثابتوي، او له بلې خوا له کفارو نه د وسلې پیرودل او استعماره اخیستل هم روا بولي، خو پدې شرط چې دا کار د کافر د قوت او لوړوالي سبب نه شي او دا د مسلمانانو د ضرر او تکلیف وسیله هم ونه ګرزوي. رسول (صلی الله علیه وسلم) دا وسله له صفوان نه د مکې له فتحې وروسته په استعاره واخیستله، هغه وخت چې صفوان دومره کمزورۍ ؤ چې پر رسول (صلی الله علیه وسلم) باندې یې د کوم شرط ایښودلو جرات قدرې هم نه درلود، ددې خبرې دلیل دا خبره ده چې هغه د رسول (صلی الله علیه وسلم) د غوښتنې په ځواب داسې ووېل اې محمده (ص)! آیا زما وسله غصب کوې؟ رسول (صلی الله علیه وسلم) ځواب ورکړ: ((نه وسله دې په عاریت اخلم، بیرته به یې درکوو)).

لدې پیښې نه د مسلمانانو د کرامت او عظمت یوه بله نښه هم څرګندیږي او دا ښیي چې مسلمانانو له خپلو مات شوو دښمنانو سره څومره ښه او نیکه رویه درلوده، که چېرې رسول (صلی الله علیه وسلم) غوښتی وی چې دا وسله له صفوان نه غصب کړي، له وسه یې پوره وه، صفوان هیڅ هم نه شوای ورته ویلای، خو د نبوت نور دی چې د بري په وخت له ماتو شوو سره دا رنګه معامله کوي، دښمن چې د تسلیمۍ سر په ځمکه ږدي وسله غورځوي، نو مال ته یې شرک نه ګوري، تاریخ په یاد نلري چې له رسول (صلی الله علیه وسلم) نه د مخکې او یا وروسته چا داسې نیکه معامله کړې وي. له ماتې خوړلیو دښمنانو سره د اسلامي بریالي پوځ همیشنۍ نیکه رویه او

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



د هغوی پر مالونو، حقوقو او عزتونو باندې د برلاسۍ په وخت کې د بریالیو لښکرو انساني کړه زمونږ د تیرې خبرې ښه دلیل دی.
((...وَاللَّهُ يَقُولُ الْحَقَّ وَهُوَ يَهْدِي السَّبِيلَ)). (الاحزاب: ٤) (خو الله حقه خبره کوي او هماغه د سمې لارې ښودنه کوي).

۲- د حنین په جګړه کې د رسول (صلی الله علیه وسلم) د لښکر شمیر دوولس زره کسه و، چې لس زره یې انصار، مهاجرین او مدینې ته له نژدې قبیلو څخه وو چې دوی ټولو د مکې په فتحه کې هم ګډون درلود او پاتې دوه زره نور هغه کسان وو چې د مکې له فتحې وروسته مسلمان شوي وو او زیاتره یې لا داسې وو چې تر اوسه یې ایمان په زړه کې نه ؤ پوخ شوی او څنې یې لا داسې هم ؤ چې هغه وخت یې ایمان راوړی ؤ کله چې له خپل بري نه بالکل او پوره نا امیده شوي وو، لنډه دا چې پدې لښکر کې هغه ریښتني مسلمانان چې ځان او مال یې د الله (جل جلاله) د دین د عزت او بري په لار کې په خدای (جل جلاله) پلورلی ؤ هم شریک وو او هغه نوي او کمزوري مسلمانان هم او حتی هغه نوي مسلمانان چې د خپلوانو د مرګ له بدل اخیستلو نه مخکې د غم او درد په شپو کې پداسې حال کې مسلمان شوي وو چې زړونه یې د اسلام له دښمنۍ او د اسلام د بریالیتوب له درده ډک وو، نو لښکر د معنی او معنوي قوت له پلوه ټول یو شانته نه ؤ، د ټولو افرادو د جنګ هدف هم یو نه ؤ، ځکه څینو غنیمت او مال غوښته، نو په جنګ کې ددې لښکر ماتې کومه عجیبه خبره نه وه او له همدې امله رسول (صلی الله علیه وسلم) کله چې د ورسره خلکو د یرښت ولید

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



ويې فرمايل: ((لن نغلب اليوم من قلة))[1] نن د شمير د کمښت له پلوه ماتې نه خورو. يعنې د دومره لوی لښکر د ماتې سبب يوازې معنوي امور کېدای شي، د هغوی ماتې او برې تر ايماني او روحاني قوت او د هغوی تر اخلاص او سربښندنې پورې تړلې دی. رسول (صلی الله عليه وسلم) دلته يوه عظيمه قاعده کېښوده چې فرمايي: د برې سبب د شمير زياتوالی او د وسلې ډيرښت او قوت ندی، بلکه د برې سبب معنوی قوت دی چې د جنګيالانو زړونه په شور او شوق راولي، فداکارۍ او سربښندنې ته يې هڅوي، قرآنکريم هم د اقاعده په څو ځايونو کې تائيد کړېده، فرمايي:

((...كَمْ مِنْ فِئَةٍ قَلِيلَةٍ غَلَبَتْ فِئَةً كَثِيرَةً بِإِذْنِ اللَّهِ وَاللَّهُ مَعَ الصَّابِرِينَ)). (البقره: ۲۴۹)

(ډير ځله داسې شويدي چې يو وړوکی ټولګی د الله په امر پر يوې لويې ډلې برلاسی شويدی الله د صبر کوونکو ملګری دی).

هغه آيتونه چې لدې غزا نه وروسته نازل شوي، په ډيره څرګنده توګه دا مطلب تشريح کوي:

((...وَيَوْمَ حُنَيْنٍ إِذْ أَعْجَبَتْكُمْ كَثْرَتُكُمْ فَلَمْ تُغْنِ عَنْكُمْ شَيْئاً

---

۱- دا قول له رسول (صلی الله عليه وسلم) څخه ندی ثابت شوی ابن اسحاق په المغازي کې روايت کړی چې سند يې انقطاع او مجهوليت لري، داسې هم ويل شوي چې دا د سلمة بن سلامة بن وقش خبره ده ، څوک وايي چې دا د ابوبکر (رضي الله عنه) قول دی، او څوک يې د عباس (رضي الله عنه) قول بولي، او ځنې نور وايي دا د بني بکر ديوه سړي خبره ده.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



وَضَاقَتْ عَلَيْكُمُ الأَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ ثُمَّ وَلَّيْتُم مُّدْبِرِينَ (۲۵) ثُمَّ أَنزَلَ اللَّهُ سَكِينَتَهُ عَلَى رَسُولِهِ وَعَلَى الْمُؤْمِنِينَ وَأَنزَلَ جُنُوداً لَّمْ تَرَوْهَا وَعَذَّبَ الَّذِينَ كَفَرُوا وَذَلِكَ جَزَاءُ الْكَافِرِينَ)). (التوبه: ۲۵، ۲۶)

(او اوس د حنین د غزا په ورځ (به تاسې د هغه ملا تړ لیدلی وي) په دې ورځ تاسې د خپل شمیر په زیاتوالي غره وئ خو هغه ستاسې هیڅ په کار رانغی او ځمکه له خپل پراخوالي سره سره پر تاسې تنګه شوه او تاسې شا واړوله وتښتیدئ بیا الله خپله ډاډینه پر خپل پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) او پر مؤمنانو باندې نازله کړه او هغه لښکر یې راکوز کړ چې تاسې نه لیده او د حق منکرانو ته یې سزا ورکړه چې همدا د هغو خلکو له پاره بدله ده چې له حقه منکر شي).

۴- یو ځل ځنې مسلمانانو چې جنګ ته روان ؤ رسول (صلی الله علیه وسلم) ته وویل: یا رسول الله (صلی الله علیه وسلم) مونږ ته هم د دوی په شان ذات انواط (چې شیان پرې ځړیږي. جوړ کړه، رسول (صلی الله علیه وسلم) په ځواب کې وفرمایل: ((قسم په خدای چې ستاسې دا قول د موسی (علیه السلام) د قوم د هغه قول په شان دي چې ویلي یې ؤ:

((...اجْعَل لَّنَا إِلَهاً كَمَا لَهُمْ آلِهَةٌ قَالَ إِنَّكُمْ قَوْمٌ تَجْهَلُونَ)).

(الاعراف ۱۳۸). (زمونږ لپاره دغسې معبود جوړ کړه لکه چې د دې خلکو معبودان دي، موسی وویل: تاسې ډیرې د ناپوهی خبرې کوئ).

((دا لارې او طریقې دي، تاسې هم د پخوانیو په لارو ځئ).

د رسول (صلی الله علیه وسلم) پدې قول کې د بېته اشاره ده چې دا امت به هم د نورو امتونو تقلید او پیروي کوي، خو دا لاربښوونه لدې ډول

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



تقلید نه نهي فرمایي او دا په ډاګه کوي چې دا ډول تقلید له جاهل نه پرته د بل چا کار ندی، هغه امتونه چې ښه او بد، ګټه او تاوان پیژني همیشه په خیر پسې ځي، له فساد او بدۍ نه ځان ژغوري او د تاوان په لار یو قدم هم نه ږدي که څه هم ډیر امتونه پرې تللي وي. هر څوک چې له تفکر او تعقل نه پرته په کومه خوا لاړ شي او یا تللی نو حتما د خطا مرتکب شوی او ځان یې د جاهلانو په قطار کې درولی دی. الله (جل جلاله) د دا ډول جاهلانو په هکله فرمایي: ((انکم قوم تجهلون)) تاسې جاهل قوم یاستئ. په ځان باور درلودونکی، عزیز او پخپلو حقه مبادئو باندې مطمئن امت کله هم په نورو پسې پداسې لار نه ځي چې له اصولو سره یې ټکر خوري او د تاوان بوی پکې وي، په پټو سترګو تقلید کوونکی امت، همیشه د کمزوري شخصیت او پریښانه فکر خاوند وي هغه د نیستۍ او حیرانتیا په دام کې راګیر شوی امت بلل کیږي، او دا هغه ګمراهي او جهالت دی چې الله (جل جلاله) د خپل رسول (صلی الله علیه وسلم)، کتاب او شریعت پواسطه مونږ ورڅخه خلاص کړي یو. د اصلاحي دعوتونو په وړاندې علم او جهل د قرات (لوستلو) او امي توب (نه لوستلو) معنی نلري بلکه هغه علم هدایت او جهل ګمراهۍ ته وایي، هغه امت چې خپله ګټه او تاوان سره بیلولی شي، هغه یو عالم امت دی که څه هم امي وي (لیک او لوست یې نه وي زده) او هغه امت چې د نیکۍ لاره نه پیژني هغه یو جاهل امت بلل کیږي که څه هم ډیر علوم یې زده وي او زیات ثقافتونه وپیژني....

هغه شی چې امتونه یې له لارې ایستلي او لګیا دي وباسي یې هغه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



يوازې او يوازې د هغوی په عقلونو باندې د جاهليت حاکميت دی، تاريخ وېوښتئ چې يوناني او روماني تمدن چا له مينځه يوور، ځواب يې خوا مخواه دا دی چې هغه د جهالت د خوريدو او حاکميت په واسطه له مينځه لاړل، تقليد کوونکي جاهل دي. که هر څو زده کړه وکړي، هغوی واړه دي که هر څو لوی شي او تر هغه به جاهل او واړه پاتې وي تر څو لدې بلا نه آزادي واخلي.

**۵**. د حنين په جګړه کې کله چې اول ځل مسلمانان تيت و پرک شول او رسول (صلی الله عليه وسلم) يوازې په ميدان پاتې شو. د عثمان زوی شيبة دا خيال وکړ چې ګوندې اوس به د احد په جګړه کې د خپل وژل شوي پلار انتقام واخلي. شيبه پخپله ويلي کله چې رسول (صلی الله عليه وسلم) ته ورنژدې شوم تر څو ويې وژنم، يو څه شی مې مخې ته راغلل چې زړه مې يې ونيو، ونه توانيدم خپل هدف لاسته راوړم، نو پوه شوم چې هغه (صلی الله عليه وسلم) له ما نه ساتل شويدی.

دا ډول پيښې په سيرت کې ډير ځله ليدل شويدي، له ابو جهل سره هم او له نورو سره هم په مکه کې دا ډول واقعې شويدي او همدا راز په مدينه کې هم. نو دا ټولې پدې دلالت کوي چې الله (جل جلاله) خپل رسول (صلی الله عليه وسلم) ته دومره هيبت او عزت ورکړی ؤ چې د هغه (صلی الله عليه وسلم) د قتل تړبي به ورنژدې کيدای هم نه شوای او دا پخپل وار د هغه (صلی الله عليه وسلم) د رسالت د حقانيت يو بل قوي دليل دی او د دې خبرې شاهدي ورکوي چې الله (جل جلاله) د خپل رسول (صلی الله عليه وسلم) د ساتنې فيصله کړې وه او تر هغې يې هغه ته د ژوند نعمت ورکړ تر څو خپل رسالت خلکو ته په کامله توګه ورسوي، خپل امانت ادا کړي او د عربو ټاپو وزمه له جاهليت نه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



آزاده کړي او د همدې ټاپو وزمې زامن نړۍ ته د معلم، مهذب او ناجي په حیث وړاندې کړي. که له رسول (صلی الله علیه وسلم) سره الهي حمایت او ساتنه نه وای نو مشرکانو به د دعوت په لومړیو شپو کې هغه (صلی الله علیه وسلم) له مینځه وړی وای، بیا به دا دین نه ؤ تکمیل شوی او مونږ ته به ددې رسالت نور او رڼا نه وه رارسیدلې او بیا به دا د عظمت او وقار نه ډک تاریخ نه وای، هغه تاریخ چې ټول انسانیت یې له بدبختۍ، جهل او وحشت نه آزاد کړ او د اسلام نور یې وځلاوه، د ظلم او زور حاکمان یې ختم کړل. لنډه دا چې عدل راغی او باطل لاړ او دا ټول د الله (جل جلاله) له خوا د خپل رسول (صلی الله علیه وسلم) د ساتنې له برکته تر سره شول، الله خپل رسول (صلی الله علیه وسلم) تر هغې پورې وساته تر څو یې خپل امانت او رسالت په پوره امانتدارۍ او ایماندرۍ سره په کامله توګه ادا کړ، څرګنده ده چې الله (جل جلاله) په خپل رسول صلی الله علیه وسلم زیات فضل او مهرباني کړې. ((...وَكَانَ فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكَ عَظِيماً)).( النساء: ۱۱۳)

(پر تا پاندې اې (رسول) د الله لویه مهرباني او لوی فضل دی).

همدا راز د رسول (صلی الله علیه وسلم) فضل او مهرباني هم پر بشریت لویه او بې کچې ده. ((وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلاَّ رَحْمَةً لِلْعَالَمِينَ)). ( الانبياء: ۱۰۷). (ته مو د عالم لپاره رحمت استولی یې).

په همدې ترتیب د حق د داعیانو نجات اود دښمنانو له فریب او مکر نه د هغوی ساتل، د هغه الهي فضل او مرحمت دوام دی چې د رسول (صلی الله علیه وسلم) په حمایت باندې شروع شویدی. نو داعیانو ته

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



په کاره ده چې همیشه د الله (جل جلاله) دربار ته پناه یوسي، د هغه عزت او حکومت (قدرت) د ځان لپاره کافي وبولي او پدې کلک باور ولري چې الله (جل جلاله) له دوی سره دی. خو لدې ټولو سره سره به تدبیر او توجه له یاده نه باسي داعي باید ایمان ولري چې که الله (جل جلاله) وغواړي یو ځوک د هدایت له دښمنانو نه وساتي نو هیڅ قدرت ورته نه خه زیان نشي اړولی. ساتنه یوازې د الله (جل جلاله) په قدرت کې ده کامیابي او ناکامي یوازې د الله (جل جلاله) له لوري ده الله (جل جلاله) چې څه وغواړي هغه کوي. (( إِنْ يَنْصُرْكُمُ اللَّهُ فَلَا غَالِبَ ...)). (آل عمران: ۱۶۰). (که خدای مو مرسته وکړي نو هیڅوک غلبه نشي درباندې موندلی)

نو داعي باید له چا نه ویره ونلري. له حق نه پښه بیرته کېنږدي او په الهي تائید او نصرت دومره باوري وي چې مادي لویې قواوې یې تر سترګو هیڅ راشي ((وَكَانَ حَقًّا عَلَيْنَا نَصْرُ الْمُؤْمِنِينَ)). (الروم : ٤٧)

(د مؤمنانو نصرت زمونږ په غاړه دی)

((إِنَّ الَّذِينَ يُحَادُّونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ أُولَئِكَ فِي الْأَذَلِّينَ (۲۰) كَتَبَ اللَّهُ لَأَغْلِبَنَّ أَنَا وَرُسُلِي إِنَّ اللَّهَ قَوِيٌّ عَزِيزٌ)). (المجادله: ۲۰-۲۱)

(هغه خلک په باوري ډول له ډیرو ذلیلو مخلوقاتوڅخه دي چې د الله او د هغه د رسول مقابله او دښمني کوي. الله لیکلي دي چې زما پیغمبران به ارو مرو برلاسي شي)

خو دا ددې معنی هم نلري چې ځنې داعیان او اصلاح غوښتونکې به د دښمنانو په لاس نه وژل کیږي. او یا به هغوی ته هیڅ ډول آزار هم نه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



رسیږي، ماتې به نهویني. بلکه مرګ حق دی د آدم (علیه السلام) اولاد ټول مري، د چا لپاره چې د ظالمانو په لاس وژل مقرر شوي وي نو دا ډول مرګ د هغه لپاره عزت او کرامت دی. د الله (جل جلاله) په لار کې هر ډول مرګ شهادت دی. د دعوت په لار کې هر راز کړاو شرف دی او د اصلاح په خاطر هره آزموینه ویاړ دی او یادګار ((... ذلك بأنَّهُمْ لا يُصيبُهُمْ ظَمَأٌ وَلا نصبٌ وَلا مَخْمصةٌ في سَبيل اللّه وَلا يطَئُونَ مَوْطئاً يغيظُ الْكُفَّار وَلا يَنالُونَ منْ عدُوٍّ نيْلاً إلاَّ كُتبَ لَهُمْ به عَملٌ صَالحٌ إنَّ اللَّهَ لا يُضيعُ أجْر الْمُحْسنينَ)). (التوبة: ۱۲۰)

(ځکه چې داسې به هیڅکله نه وي چې هغوی د الله په لار کې د لوږې، تندې. او بدني تکلیف څه کړاو وګالي او د حق د منکرانو چې کومه لاره بده ایښي هغوی پرې کوم ګام واخلي او له کوم دښمن څخه (چې له حق سره یې دښمني وي، څه غچ واخلي او دهغه په بدل کې هغو ته یو نیک عمل و نه لیکل شي دا باوري ده چې د الله په وړاندې د نیکانو د خدمت حق نه ضایع کیږي)

۲- مؤمنان د جګړې په پیل کې د دښمن له یود داسې کمین سره مخامخ شول چې د هغه په سبب د مجاهدینو لیکې وشلیدې له رسول (صلی الله علیه وسلم) څخه یوې خوا بلې خوا ته لاړل. رسول (صلی الله علیه وسلم) له یوې کمې ډلې سره د جنګ په میدان کې ولاړ ؤ او فرمایل یې ((الي ایهاالناس، هلموا الي، انا رسول الله انا محمد بن عبدالله)). ((اې خلکو. زما خوا ته راشئ. زه د الله رسول یم، زه محمد د عبدالله زوی یم) خو خلکو دده آواز وا نهورید نو له عباس (رضي

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



الله عنه؛ څخه يې وغوښتل چې حلكو ته عبر كړي. هغه (رضي الله عنه) پخپل لوړ آواز وويل اې انصارو! هغوى هم خواب وواپه لبيك. لبيك هر چا شروع وكړه چې د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) په لور په ډيره چټكۍ سره لاړ شي كوښښ به يې كاوه چې خپله اوښه راوګرزوي. خو كه نه به يې شواى كولاى. نو زغره به يې اخيسته په غاړه كې به يې اچوله. توره او سپر به يې اخيست. له اوښې به راكښته كيده. لاړ به يې نيوه. په آواز پسې به تله تر څو به رسول الله (صلى الله عليه وسلم) ته ورسيده تر دې چې د رسول (صلى الله عليه وسلم) په شا او خوا كې سل كسه راټول شول جنګ يې پيل كړ او برباله شول

پدې موقف كې ډير داسې پندونه او درسونه دي چې بايد د حق داعيان او سپاهيان پكې زيات دقت او تامل وكړي. بو دا چې په جګړه كې د ماتې سبب كيداى شي د ځينو افرادو عقيدوي كمزوري وي. هغوى به د اخلاص په ښكلې جامه نه وو ملبس. د دعوت په لاره كې به يې سربښندنې ته تياري نلرله او دا هم راښيي چې د قائد ،مشر او رهبر، ثبات، قوت. جرات او په الله (جل جلاله) باندې كلك باور ماتې په برې بدلوي كم زړو ته قوت او قاطعيت ښښي همدا راز په سختو حالاتو كې د فداكارو. مخلصو. او غيرتمنو اتباعو له قائد سره ملګرتيا هم ماتې په برې بدلولاى شي ومولیدل چې د جګړې په پيل كې له رسول (صلى الله عليه وسلم) سره دومره كم شمير خلك پاتې وو . چې د رسول (صلى الله عليه وسلم) د غږ رسيدو او اوريدو نه وروسته يې شمير سلو ته ورسيد . خو بيا هم د دوى استقامت او ثبات د جګړې وضعه بدله كړه. د الله (جل جلاله) نصرت د دوى په برخه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghan...

Downloaded By: Afghan Salar Library



شو، دښمنان مات شول. هر څومره چې قاتد او عسکر ددې خبرې باد او اعلان کوي چې مونږ په حق يو. الله (جل جلاله) له رښتينو مسلمانانو سره دی په همغه اندازه د هغوی معنويات اوچتيږي د قربانۍ او سربښندنې ميدان ته په سره سينه وړاندې کيږي د رسول (صلى الله عليه وسلم) دا قول چې فرمايي ((انا رسول الله)) (زه د خدای رسول يم).

او د ابن هشام په روايت کې دي چې فرمايي ((انا النبي لا كذب، انا ابن عبدالمطلب)). (په رښتيا چې زه نبي يم. زه د عبدالمطلب زوی يم) دا پدې دلالت کوي چې هغه (صلى الله عليه وسلم) د رسالت په دعوی او د خپل رب په نصرت باور درلودلو کې رښتينی ؤ. همدا راز رهبر ته په کار دہ چې هميشه له مشکلاتو او کړاوونو سره کلکه مقابله وکړي. په خپل ځان پوره باور ولري د پناه ځای يې يوازې د خدای (جل جلاله) دربار وي. له الهي تائيد او مرستې نه پوره ډاډه وي ځکه په هدف باندې د قاتد باور. د رسالت او عمل په هکله د هغه اطمينان او اعتماد. د دعوت په برې او د خلکو په راټولولو کې لوی اثر او رول لري. همدا ډول دا راز باور له انسان نه د غم پيټی کوزوي او د مشکلاتو مقابلې ته يې تياروي

۷- د ام سليم بن صلحان دريز او موقف د صدر اسلام له افتخاراتو څخه يو فخر دی. ام سليم پدې جګړه کې له خپل ميړه ابي طلحه سره يو ځای وه. سره لدې چې حامله هم وه خو خپله ملا يې کلک په ټکري تړلې وه، ابي طلحه ورسره ؤ يو وخت فکر ورسره پيدا شو چې هسې نه دا اوښ ضايع نه شي، نو سمدلاسه يې د اوښ د پړي په هغه حلقه کې

Downloaded By: Afghan Salar Library



لاس ورکړ کومه چې د مهار سره یو ځای د اوښ په پزه کې اچول کیږي. پدې وخت کې د رسول (صلی الله علیه وسلم) نظر پرې ولگید ویې فرمایل ام سلیم یې؟ ویې ویل هو یا رسول الله. مور او پلار مې درنه قربان. زه له هغو کسانو سره چې د تا له څنګ نه تښتي داسې جنګ کوم لکه ته یې چې له تا سره د جنګیدونکو خلکو په خلاف کوې. ځکه هغوی دهمدې وړ دي رسول (صلی الله علیه وسلم) وفرمایل ((او یکفي الله یا ام سلیم!)). (الله جل جلاله کافي دی. یا ام سلیم) له ام سلیم سره خنجر ؤ میړه یې (ابو طلحه) پوښتنه ترې وکړه دا خنجر څه کوې؟ ویې ویل دا خنجر مې ددې لپاره اخیستی چې که چیرې کوم مشرک را نژدې شو. نو پدې سره به یې خیټه ورڅیرې کړم. ابو طلحه ددې خبرې په اوریدو سره تعجب وکړ ډیر خوښ شو او د رسول (صلی الله علیه وسلم) توجه یې هم ددې خبرو خوا ته را واړوله.

مسلمانه ښځه د داسې عظمت خاونده وه. او لازمه هم دا چې د همدومره عظمت څښتنه وي. هغه وخت مسلمانه ښځه ډیره غیرتي وه. په جګړه کې یې ګډون کاوه او دیته تیاره وه چې که اړتیا ولیدله شي او یا دښمن ورنژدې شي نو توري چلوي. تر څو بندي نه شي.

اسلامي تاریخ پخپل لومړني دور کې د مسلمانې ښځې کارنامې په زرینو کرښو لیکلې دي. د هغې فداکاري. غیرت او عزت یې پخپل زړه کې ساتلی. او په قاطعیت سره د متعصبو او مستشرقینو او نورو غربیانو دا نظر چې وایي اسلام ښځې ته په سپک نظر ګوري ردوي. هغه [illegible] کوي چې اسلام ښځې ته خپل حقوق نه ورکوي. حتی ځنې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



يې دومره دروغ وايي چې ادعا کوي او وايي اسلام ښځې ته د جنت حق هم ندی ورکړی، که يې هر څو نيک عملونه کړي وي عبادتونه يې ادا کړي وي او هر څو تقوی ولري!!
هغه صريح قرآني او نبوي نصوص خو لا پريږده چې دا افتراآت ردوي.
اسلامي تاريخ پخپله د مسلماني ښځې دومره کارنامې، اسلام ته دعوت. او د اسلام په لار کې سربښندنې ساتلې دي چې هيڅ دين هم د ښځې لپاه ندي ثبت کړې د حنين په غزا کې د ام سليم موقف او دريز پدې ميدان کې له سل ګونو دلايلو څخه يو دليل دی. پدې موضوع کې د اسلام دښمنو عناصرو له تهمت نه د ځان خلاصولو او د هغوی د دروغو له رد او ترديد نه مونږ ته ددې واقعې (ام سليم دريز) درسونه او پندونه زيات اهميت لري دا درسونه دي چې مونږ هڅوي ترڅو ښځه د اسلام د خدمت پخاطر خپل طبيعي او پخوانی رول ادا کولو ته راوبولو. او پدې يې پوه کړو چې هغه بايد زمونږ راتلونکي نسل په اسلام او قرآن وروزي نن ورځ مسلماني ښځې يا صالحې دي خو داسې صالحې چې يوازې په لمانځه. قرآن لوستنه. له محرماتو نه ځان ساتنه يې اکتفا کړې وي او يا منحرفې او غربي ښځې ته تسليم شوې ښځې چې اسلامي آداب يې په غربي آدابو بدل کړي. د يوې مسلماني ښځې د اخلاقو په ځای يې د غربي ښځې اخلاق د ځان کړيدي. چې له همدې امله يې ځان، کورنی او ټول ملت په بدبختۍ او غضب ککړ کړيدی. که څه هم يوې ډلې خلکو دېته ملا تړلې چې عربي مسلمانه ښځه له خپلو هغو اخلاقو او خصائصو څخه بيله او پردی کړي د کومو په واسطه يې چې د تاريخ تر ټولو اوچت، شريف، هميشنی او عزيز نسل روزلی دی، خو اسلامي تاريخ او په خاص ډول

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



د رسول (صلی الله علیه وسلم) تاریخ او سیرت ښځه دینه هڅوي چې راپورته شي او د خپلې ټاکلې طبیعي دندې. تربیوي رسالت. کریمو خصائصو، شرف. عفت. حیاء او عزت په چوکاټ کې د ننه د اسلام او اسلامي ټولنې خدمت وکړي آیا زمونږ مسلمانې میندې، خویندې به بیا د خدیجې. عائشې. اسماء. خنساء او ام سلیم (رضي الله عنهن) تاریخ راژوندی کړي؟ آیا دوی به بیا د هغوی همیشنی تاریخ او تلپاتې یادګارونه تازه کړي؟ آیا مشکله ده چې زمونږ په خویندو کې په لسګونو خدیجې. عائشې. اسماء. ام سلیم پیدا شي؟ حقیقت دا دی چې دا ټول ممکن دي. هیڅ مشکله نده. خو ددې هدف د تحقق لپاره د رستې تربیې او قوي ایمان ته اړتیا ده. کومه ښځه به وي چې نن ورځ عربي مسلماني ښځې ته د همیشه توب او خلود دروازه پرانیزي او پدې لار کې د ګمراهانو. ملنډې وهونکو. د حق دین او کرامت د دښمنانو په کړو او عملونو باندې هیڅ باک را نه وړي؟

۸ په همدې جګړه کې رسول (صلی الله علیه وسلم) تیریده چې هغه ښځه یې لیده، چې خالد بن ولید وژلې او ډیر ریات خلک وربانډې راټول شویدي. ویې فرمایل دا څه دي؟ خواب ورکړ شو چې دا یوه ښځه ده چې خالد (رضي الله عنه) وژلې ده. نو رسول (صلی الله علیه وسلم) خپلو ملګرو ته وویل. خالد پیدا کړه او ورته ووایه چې رسول (صلی الله علیه وسلم) د ماشوم. ښځې او اجیر له وژلو نه منع کوي»

بیشکه چې د بشري جنګونو په ټول تاریخ کې یوازې اسلام دی چې د بیوزلو، کمزورو او هغو کسانو چې په جنګ کې یې برخه نه وي اخیستې لکه، رهبانانو، ښځو، سپین ږیرو. وړو او یا په زور جنګ ته بیول شوو کسانو (دهقانانو او مزدورانو) له وژلو نه منع کوي تاریخ نه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/...

Downloaded By: Afghan Salar Library



له اسلام نه مخکې او نه هم وروسته دا ډول شفقت او مرحمت ليدلی.
بلکه د نورو قانون داسې ؤ چې جنګ د جنګ کوونکو عامه وژنه روا ګرزوي، ګورو چې نن ورځ هم همدا حال دی سره لدې چې د بشر د حقوقو احترام عنوانيږي او هلته د تجاوز او تيري د مخنيوی پخاطر يوه لويه اداره هم جوړه شوې. خو بيا هم نننی انساني ضمير دومره ندی اوچت شوی چې د بيګناه خلکو وژل ناروا وبولي. او بيا يې په عمل کې پياده کړي دوه نړيوال جنګونه خو مو وليدل چې په هر يوه کې ښارونه له اوسيدونکو سره يو ځای نابود شول. ډله ايزې وژنې وشوې. او هم مو د آزادۍ او خپلو حقوقو غوښتونکو ملتونو په خلاف د استعمار ګرانو چال چلند او جګړې تر نظر تيرې شوې د آزادۍ ښښونکو انقلابونو د ماتې او خفه کولو پخاطر استعمار ګران روا بولي چې کلي، کورونه او ښارونه وران شي. په سلهاوو زره انسانان ووژل شي. لکه چې فرانسې په الجزاير کې څو خله دا ډول جنايت کړی دی. انګلستان خو په ډيرو هيوادو کې ددې جنايت د قهرمانۍ له شرمه ډک مډال پخپله تنډه ځړولی دی. پرتګال اوس هم لګيا دی په خپلو افريقايي مستعمرو کې وينې تويوي.
همدا راز مونږ ندي ليدلی چې د نړۍ د کوم ملت اوسنی او يا پخوانی تاريخ دې د هغو کارګرانو او بزګرانو مرګ ناروا بللی وي کوم چې په زور او جبر سره د جنګ ميدان ته بيول شوي وي، خو اسلام څوارلس سوه کاله مخکې ددې ډول کسانو له وژلو نه ځرګنده او په کلکه نهي کړيده، او نه يوازې دا چې په تشريعي لحاظ يې دا خبره کړيده، بلکه د عمل په ډګر کې يې هم ثابته کړيده، ګورو چې د حنين په غزا کې د شريعت خاوند او مبلغ رسول صلی الله عليه وسلم، د يوې ښځې په

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



مرګ څومره په غصه کیږي. فورا خپلو قوماندانانو ته خبر لیږي چې د ورو. ښځو او مزدورانو له وژلو نه ډډه وکړي او کله چې رسول (صلی الله علیه وسلم) له خپل رحلت نه څو ورځې مخکې له روم سره د مقابلې لپاره د اسامه لښکر تیار کړ نو داسې نصیحت یې ورته وکړ د ښځو. ماشومانو او په جنګ کې د نه ګډون کوونکو رهبانانو له وژلو نه ځان وساتئ ابوبکر صدیق (رضي الله عنه) هم کله چې د اسامه د همدې لښکر لیږلو امر نافذاوه. نو همدا توصیه یې ورته وکړه. خالد (رضي الله عنه هم په عراق کې پخپلو ټولو فتوحاتو کې همدا توصیې عملي کړې. د ځمکې په کرکیله باندې بوخت دهقانانو ته یې هیڅ هم نه ویل. د ځمکې په کرکیله باندې بوختو دهقانانو ته یې هیڅ هم نه ویل. په همدې ترتیب دا کار د اسلامي ټولو لښکرو له مبادئو او اصولو څخه ؤ. هغوی په هر ځای او هر خت کې دې لوړو اصولو ته د قدر په سترګه کتل او ورته یې د عمل جامه ور اغوستې ده. خو له مسلمانانو پرته بل چا او بل لښکر دا لوړ اصول نه پیژندلي او نه یې ورته احترام کړیدی دې لوړو اصولو او تقالیدو ته د اسلامي لښکرو د احترام او درښښت اندازه هغه وخت ښه لګیدای شي چې سړی له صلیبیانو سره د صلاح الدین کړه تر نظر تیر کړي. صلاح الدین هغوی مات کړل. بیت المقدس یې ترې آزاد کړ. د فتحې او بري بیرغ یې په لاس کې ونیو. خو د هغوی سپین ږیرو. دیني خلکو. ښځو. ماشومانو او حتی ډیرو متعصبو جنګ کوونکو ته یې امان ورکړ. هغوی یې د اسلامي لښکر تر حفاظت لاندې خپلو ټولګیو ته ور[illegible] تکلیف یې ورونه رساوه. خو د صلیبیانو کړه بالکل ددې په [illegible]د وو هغوی چې کله بیت المقدس ونیو. نو له غدر.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



رذالت، وحشت او هر ډول پستی نه یې لاس و نه نیو، لومړی
صلیبیانو اعلان وکړ چې د المقدس مسلمانو اوسیدونکوته د سپین
بیرغ اوچتولو په صورت کې امان ورکوي، مسلمانان هم پدې اعلان
تیروتل او د مسجد الاقصی په سر یې سپین بیرغ ودراوه. او ډیر
شمیر هملته سره راټول شول. خو کله چې صلیبیان مسجد اقصی ته
ننوتل ټول موجود کسان یې ووژل. د وژل شوو شمیر اویا زرو (
۷۰۰۰۰) ته ورسید چې زیاتره یې عالمان، پرهیزګاران، ښځې او
ماشومان وو او د صلیبیانو ددې جنایت اندازه د دوی د یوه لیکوال له
هغه لیک نه ښه څرګندیدای شي چې پاپ ته یې ددې جنایت د زیري
ورکولو په خاطر لیکلی او په ډیر ویاړ سره وایي په کوڅو کې دومره
ویني وبهیدلې چې د صلیبیانو د آسونو تر ګونډو پورې رسیدې
نن ورځ مونږ دا خبرې د خپلو فاتحو، قوماندانانو او لښکرو پر هغه
تاریخ باندې د ویاړ په خاطر نه کوو د کوم په هکله چې (لوبون) وایي
(تاریخ له عربي فاتح نه عادل او مهربانه فاتح نه پیژني) بلکه هدف مو
دا دی څرګنده کړو چې مونږ د شلمې پیړۍ له غربیانو او ټولو
دیموکراتانو نه زیات د انسانیت خواخوږي او مرستندویان یوو او دا
غربیان چې اوس د انساني حقوقو، د ماشوم ورځ، د مور ورځ، او څه
... نه خبرې کوي دا صرف ددې لپاره چې خپل تمدن اوچت وښیي او
مونږ پرې وغولوي هو پدې سره هغه بې عقلان، غبي او پخپل امت او
تاریخ باندې باور نه لرونکي خلک چې ادعا لري دوی زمونږ
روشنفکران دي غولولی شي. امید لرو چې نوی نسل دا ډول ډمیسي
وپیژني، پخپل دین او اسلامي لوړ تمدن او تاریخ باندې پوره باوري
وي د غربیانو په وړاندې هسې تسلیم نه شي لکه چې ذلیل او فقیر د

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



غني او قوي په وړاندې تسلیمیږي او ځان پتنګ غوندې په اورسیځي او بیله دې چې ښه او بد سره بیل کړي باید د غربي فکر تسلیم او تابع نشي...
علم ثابته کړیده چې اسلام له ټولو ادیانو نه غوره دین دی. هغه د انساني فطرت سره موافق او د انساني نیکبختی او صلاح ښه ضامن دی. همدا راز تاریخ هم ثابته کړیده چې اسلامي جنګونه دټولو نورو جنګونو په نسبت ډیر لوړ او اوچت جنګونه وو. د هغو جنګونو غمونه کم. خیر او ګټې یې ډیرې وې. د هدف له پلوه خو د بل چا جنګونه ورسره هیڅ مقایسه کیدای هم نه شي. لنډه دا چې هره ورځ انسانیت ته یو نوی دلیل په لاس ورځي. داسې دلیل چې شاهدي وایي اسلام د الله (جل جلاله) دین دی. محمد (صلی الله علیه وسلم) د الله رسول دی. رښتني مسلمانان د الله (جل جلاله) غوره بندګان او له ټولو خلکو نه غوره او اوچت دي.
((سَنُرِيهِمْ آيَاتِنَا فِي الآفَاقِ وَفِي أَنْفُسِهِمْ حَتَّى يَتَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُ الْحَقُّ أَوَلَمْ يَكْفِ بِرَبِّكَ أَنَّهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ )). (فصلت: ۵۳)
ډیر ژر به مونږ دوی ته خپلې نښانې په آفاقو کې هم وښیو او د دوی په خپلو نفسونو کې هم تر دې پورې چې دوی ته دا خبره څرګنده شي چې دغه قرآن کریم په رښتیا سره برحق دی آیا دا خبره کافي نده چې ستا رب د هر څه لیدونکی دی؟
۹- وروسته له هغه چې رسول (صلی الله علیه وسلم) او مسلمانانو په طائف کې له هوازن نه ثقیف ته تښتیدلي او مات شوي خلک تعقیب کړل، او هلته یې ځو ورځې محاصره کړل. خو هغوی تسلیم نه شول.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



رسول (صلی الله علیه وسلم) بیرته مدینې ته راوګرزید د لارې په اوږدو کې یې د حنین د جګړې غنیمتونه وویشل او د دې غنیمت چې تقریبا شپږ زره ښځې او بې شماره اوښان او پسونه وو، زیاته برخه یې د عربو مشرانو ته ورکړه تر څو د هغوی زړونه د اسلام خواته راجلب کړي. قریشو ته یې زیاته اندازه مالونه ورکړل، خو انصارو ته یې هیڅ هم ورنکړل. انصار پدې سره خفه شول او لدې غنیمت نه د محرومیدو غم یې وښود او څینو یې وویل رسول (صلی الله علیه وسلم) له خپل قوم سره یو ځای شو. یعنی اوس مکه او قریش اسلام ته تسلیم شول. نو رسول (صلی الله علیه وسلم) مونږ نه یادوي د دې خبرې په اوریدو سره رسول (صلی الله علیه وسلم) انصار راټول کړل، له حمد او ثنا وروسته یې وویل ((یا معشر الانصار! مقالة بلغتني عنکم، وجدة (عتب) وجدتموها علي فی انفسکم؟ الم تکونوا ضالا فهداکم الله؟ وعالة فاغناکم الله؟ واعداء فالف الله بین قلوبکم؟))

قالوا: بلی، الله و رسوله امن و افضل.

(اې انصارو! ستاسې یوه خبره ما ته رارسیدلې، ستاسې په زړونو کې زما په هکله ملامتیا شته ده، آیا تاسې ګمراهان نه وئ چې خدای (جل جلاله) درته هدایت وکړ او آیا فقیران نه وئ چې خدای (جل جلاله) بډایان کړئ؟ او آیا پخپل منځ کې سره دښمنان نه وئ چې خدای ستاسې په زړونو کې الفت واچاوه؟ دوی وویل: هو، خدای او رسول احسان کونکي او افضل دي

ثم قال: ((الا تجیبوني یا معشر الانصار؟)) قالوا: بماذا نجیبک یا

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



رسول الله ؟ لله و لرسوله المن و الفضل، قال (صلی الله علیه وسلم) : ((اما و الله ، لوشئتم لقلتم فلصدقتم: آتیناک مکذبا فصدقناک و مخذولا فنصرناک، و طریدا فآویناک، وعائلا فآسیناک، اوجدتم یا معشر الانصار في انفسکم في لعاعة (البقیة الیسیرة) من الدنیا تالفت بها قوما لیسلموا، وترکتکم الی اسلامکم، الا ترضون یا معشر الانصار ان یذهب الناس بالشاة و البعیر، وترجعوا برسول الله الی رحالکم؟ والذي نفس محمد بیده لولا الهجرة لکنت امرءا من الانصار، ولو سلک الناس شعبا(هو الطریق بین جبلین) و سلک الانصار شعبا، لسلکت شعب الانصار، اللهم ارحم الانصار، و ابناء الانصار، و ابناء ابناء الانصار، فبکی القوم حتی اخضلوا (بللوا) لحاهم، وقالوا: رضینا برسول الله قسما وحظا)).

بیایې وفرمایل: ځواب نه راکوئ اې انصارو؟ ویې ویل د څه ځواب درکړو یا رسول الله؟ خدای او رسول افضل او د منت خاوندان دي. رسول (صلی الله علیه وسلم) وفرمایل: قسم په خدای که وغواړئ چې ووایئ او که ووایئ نو رښتیا وایئ، راته ووایئ چې خلکو دې خبره نه منله مونږ دې تصدیق وکړ، چا درسره کومک نه کوو مونږ دې کومک وکړ، چا ځای نه درکاوه مونږ ځای درکړ، غم خور دې نه درلود مونږ غم شریکي درسره وکړه، اې انصارو تاسې په هغه لږ او بې ارزښته مال چې ما د خلکو د زړونو د الفت پخاطر هغوی ته ورکړ،

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/...

Downloaded By: Afghan Salar Library



تر څو مسلمانان شي، خفه شوي یاست او تاسې مې د خپل دین د قوت له امله پرېښودی، اې انصارو! خوښه مو نده چې خلک له پسه او یا اوش سره لاړ شي او تاسې خپلې مېنې ته له رسول الله (صلی الله علیه وسلم) سره لاړ شئ؟ قسم په هغه خدای (جل جلاله) چې د محمد مرګ او ژوند د هغه په لاس کې دی که هجرت نه وای، نو زه به له انصارو نه یو تن وم، که چېرې خلک په یوه لار لاړ شي او انصار په بله نو زه به د انصارو په لار ځم. خدایه! په انصارو رحم وکړه. خدایه د انصارو په زامنو او لمسیانو رحم وکړه. خلکو (انصارو) دومره وژړل چې ږیرې یې په اوښکو لمدې شوې او ویې ویل: په رسول الله (صلی الله علیه وسلم) باندې راضي او خوښ یو.

## دلته څو داسې مسئلې شته چې تبصره ورباندې کیدای شي:

لومړی: په اسلام کې د جنګي نظام یو جزء د غنیمت مسئله ده، د اسلام دښمنان هم همدا قضیه په اسلامي دین باندې د تور لګولو وسیله نیولې ده وایي چې په اسلام کې هم د جنګ عوامل مادي دي او همدا مادي بواعث دي چې مسلمان سپاهي فداکارۍ او سرښندنې ته هڅوي که داسې نه وای نو له جنګ نه وروسته به د غنیمت په هکله دا وضعه نه وه، او نه به دا دومره خبرې اترې را پیدا کیدلې لکه چې د حنین په جګړه کې تېرې شوې، خو حقیقت دا دی چې هر با انصافه انسان پدې باور لري چې دا ادعاګانې بې اساسه دي، ځکه په اسلام کې د جنګ عوامل معنوي دي او هدف یې د حق حاکمیت د ظلم او تیري له مینځه وړل دي دا خبره ډېرو آیتونو او حدیثونو په ډېره

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



څرګنده توګه سره اعلان کړیده. عجیبه به وي چې یو انسان ځان او ژوند ټول په لاس کې ونیسي. کور او مال د نیستی په خوله ورکړي خو لدینه نه یې بیا هم هدف مادي وي؟! مادي مال او متاع که هر څۈلوی وي خو هیڅکله هم له ژوند سره نشي برابریدلی. ممکنه نده چې مادي اهداف یو څوک داسې سربښندنې او قهرمانی ته چمتو کړي کومه چې د اسلام لښکرو ښودلې ده او نه هم دا ممکنه ده چې د مادي اغراضو غوښتونکي دومره کامیابي لاسته راوړي لکه څومره چې په اسلامي جګړو کې د مسلمانانو په برخه شویده. سره لدې چې د اسلام دښمنان رومیان وو که فارسیان له مادي لحاظه څه وروسته پاتې نه وو نه یې څه کم وو او نه یې هم مادي هیلې څه کمې او سپکې وې. د مسلمانانو د ماتې په صورت کې خو د هغوی ټول مالونه د همدې رومیانو یا فارسیانو وو او هغه وخت هم داسې نه ؤ چې غنیمت ویشل یوازې د مسلمانانو کار ؤ. بلکه دا د ټولو جنګ کوونکو لښکرو کار ؤ. نو ولې همدې اهدافو او هیلو د اسلام دښمنان هم دومره لوړې قربانی او قهرمانی ته چمتو نه شوای کړی.

او ولې هغوی د همدې مادي هیلو او اهدافو په کومک د دومره لویې فتحې خاوندان نه شول کومه چې اسلامي لښکر وګټله؟ اسلامي جنګونه پخپله ډیر داسې شواهد لري چې د هغه چا خبرد چې وایي د مسلمانانو سپاهیانو د فداکارۍ او قهرمانی اصلي عامل مادي اهداف او هیلې دي، په کلکه ردوي. وینو چې په بدر، احد، مؤته او نورو غزاګانو کې مسلمان سپاهي یوازې د جنت او شهادت په هیله د جګړې میدان ته ننوزې. د بدر په غزا کې چې رسول (صلی الله علیه وسلم) شهیدانو ته د جنت زیری ورکوي، یو صحابي (رضي الله عنه)

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/AfghanSalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



په لاس کې نیولی خرما ایسته غورځوي سمدلاسه د جنګ په لور دانګي او وايي بخ، بخ (واه واه) زما او جنت تر مينځ فقط همدا خرماوې دي، والله چې ډيره ليرې مسافه ده، او بيا تر هغې جنګيږي تر څو د شهادت تاج په سر ږدي، بل يو صحابي (رضي الله عنه) کله چې د احد د جګړې ميدان ته راځي وايي: جنت دی، جنت دی، د جنت بوی د احد له غره نه راته نژدې دی.

له فارس سره په جګړو کې مسلمان قوماندان رستم ته څه بنه ويلي دي، هلته چې رستم ورته وايي: زه به درته مال او جامې او پيسې درکړم، جنګ پريږدئ، بيرته خپل وطن ته لاړ شئ، خو مسلمان سپاهي ځواب ورکوي: قسم په خدای (جل جلاله) چې مونږ ددې لپاره نه يو راوتلي، مونږ ددې لپاره راوتلي يو چې تاسې د بندګانو له غلامۍ نه آزاد کړو او د قهار خدای (جل جلاله) بندګۍ ته موتسليم کړو. که تاسې اسلام راوړئ مونږ بيرته در نه ځو، ستاسې ملک هم ستاسې لپاره دی، ستاسې ځمکې ستاسې دي. پدې شيانو کې مونږ درسره څه جنجال نلرو آيا زبنتيا دا د يوه داسې ټولګي ځواب دی چې په غنيمت، مال او ځمکه پسې وتلی وي؟ خو که څوک ددې باطلو ادعاګانو (چې وايي د اسلامي جنګونو سبب مادي دی) د اثبات لپاره د حنين له غزا وروسته د غنيمتونو د ويش په هکله پيښه شوې واقعه او دې خوا ته د جنګياليو توجه او د انصارو خفګان دليل ونيسي نو دا په حقيقت کې د جنګ او جنګ کوونکو له واقعيت نه سترګې پټول دي. ځکه د مال خوا ته کاږه کسان ټول نوي مسلمان شوي وو، اولا تر اوسه هغوی په اسلامي بټۍ کې د پخوالي هغې درجې ته نه وو رسيدلي کوم چې نور مسلمانان پکې واقع وو او ثابته

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



ده چې ابوبکر صدیق، عمر فاروق، عثمان غني، علي، عبدالرحمن بن عوف، طلحه، زبیر او نورو عزتمندو اصحابو (رضي الله عنهم) د مال او غنیمت خوا ته هیڅ فکر هم نه ؤ. او هغه څه چې له انصارو نه پیښ شول هغه یوازې د ځینو خبرې وې چې د جنګ دحاصل د ویش او د ځینو جنګیالیو په ځینو نورو باندې د بهترۍ په هکله یې کړې وې او دا د بشري فطرت له مخې په هر وخت کې او د هر ځای په خلکو کې پیښې شوې او پیښیږي او دا هغه څه ؤ چې هر انسان یې په دېته ورته شرایطو کې کوي

له الهي رضا، ثواب او جنت سره د انصارو مینه او رسول (صلی الله علیه وسلم) ته د هغوی کامل اطاعت او تسلیمي د هغوی له هغو اوښکو نه ښه څرګندیږي کومې چې د رسول (صلی الله علیه وسلم) د خطبې په اوریدو سره تویې کړې. رسول (صلی الله علیه وسلم) ورته ویلي ؤ اې انصارو خوښه مو نده چې خلک له پسه یا اوښ سره لاړ شي او تاسې له رسول الله (صلی الله علیه وسلم) سر خپل ځای ته ستانه شي. د هغه چا په هکله چې د رسول (صلی الله علیه وسلم) ملګرتیا، یې په ټولو مالونو غوره بللې وي، ددې خبرې کول ډیره بې انصافي ده چې ګویا هغوی د مالونو او منصبونو پخاطر جهاد کاوه. دا هیڅ معنی نلري چې وویل شي اسلام ولې غنیمت د جنګ کوونکو حق ګرزولی او ولې یې د نننۍ زمانی په شان د دولت حق ندی ګرزولی؟ څکه دا ډول خبرې کول په حقیقت کې د خلکو له طبیعت او په هغه زمانه کې له جنګي تقالیدو نه سترګې پټول او غفلت دی، هغه وخت یوازې اسلامي لښکر نه ؤ چې غنیمتونه به یې د خمس (پنځمې) له ورکړې وروسته د سپاهیانو ترمینځ ویشل، بلکه هغه وخت ټوله

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



لښکرو همداسې کول او که چېرې نن کوم مجتهد دا ووايي چې بايد اوس غنيمتونه دولت ته ورکړل شي، نو ګمان کوم چې دا خبره يې د اسلامي اصولو له روح نه ډېره لېرې نده.

دوهم: نويو مسلمانانو ته له غنيمت نه د زياتې برخې په ورکړه کې لوی حکمت پروت دی او دا ښيي چې رسول (صلی الله عليه وسلم) د خلکو په حال او طبيعت ښه پوه، او د ډېر پراخ نظر درلودونکی ؤ. بيشکه هغه کسان چې تر هغې پورې له رسول (صلی الله عليه وسلم) سره جنګيدل او مکې تر فتحې يې د هغه پاک دعوت نه ؤ منلی او هغه کسان چې د جګړې په پيل کې يې د مسلمانانو د ماتې له امله تشويش ښکاره کړی و، ددې وړ وو چې زړونه يې بايد د اسلام خواته راوکښل شي. تر څو له مادي پلوه هم هغوی ته د اسلام افضليت ثابت کړای شي او ورته وښووله شي هغه مالونه چې دوی يې له مسلمانانو سره جنګونو ته هڅول په اسلام کې نه ضايع کيږي. او دا هم څرګنده ده چې هغوی د قوم مشران وو او د خپل زعامت د ساتلو لپاره يې له اسلامي دعوت سره جګړې کړې وې، نو کله چې اسلام د دوی دا باطل شوکت ورمات کړ او مکه فتحه شوه، نو بيا ددې امکان موجود ؤ چې هغوی ددې برې په نسبت د خپلې ماتې له امله عقده من شي او څرنګه چې اسلام د هدايت او اصلاح دين دی او د خپل حاکميت لپاره د زور او جبر لاره نه نيسي، بلکه د نورو ټولو نظامونو بر خلاف خپل حاکميت د زړونو او عقلونو د تسليميدلو له لارې قائموي او دا ضروري بولي چې يو څوک بايد د عقل له تسليمۍ او قناعت نه وروسته اسلام ومني، د زور او جبر لاره د دين لاره نده، نو اوس که چېرې مال او پيسې د ځينو زړونو د اصلاح او هدايت سبب

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



کیږي نو د حکمت په حکم دې ورته مال او پیسې ورکړای شي، لکه چې رسول (صلی الله علیه وسلم) هم همدا کار کړیدی.

الله (جل جلاله) ښه عالم ؤ چې دا په عربي ټاپو وزمه کې بریالی شوی دعوت به د نړۍ ختیځ او لویدیځ ته غزیږي. نو په کار ده چې ددې لوی امر د اجراء لپاره ټول عرب تیار شي. ټول باید ددې رسالت وړلو ته اوږه کیږدي، او پدې لاره کې سربښندنې ته چمتو شي، او کله چې پدې ناچیزو مالونو سره د هغوی د مشرانو زړونه صاف، او اصلاح کیږي او دا مال یې د دعوت د نور وړانګې دماغونو ته رسوي او هغوی د دعوت منلو او ورڅخه دفاع کولو ته چمتو کوي. لکه چې همداسې وشول. رسول (صلی الله علیه وسلم) هغوی خوښ کړل. نو د همدې مشرانو له زړونو څخه د اسلام او دعوت په نسبت ټوله عقده او کینه ووتله او کله چې اسلامي لښکر د ځمکې پر مخ د اسلامي نور د خورلو لپاره تیاري نیوله او پر ملا یې د همت پټکی تاړه، تر څو خلک له تورو تیارو نه اسلامي رڼا ته وباسي، نو همغه وخت عربي ټاپو وزمه ټوله ددې تاریخي کارنامې د ادا کولو لپاره په کامله توګه تیاره او آماده وه او همغه په مال راضي شوي مشران هم کلک ورسره ولاړ وو، تاریخ په اسلامي فتوحاتو کې د هغوی ډیرې نیکې کارنامې، ښه دریزونه او مهم رول ذکر کړیدی او له همدې خلکو نه ځنې داسې هم شول چې په وروستیو وختو کې یې اسلامي بیرغ له عربي ټاپو وزمې نه د باندې هم اوچت کړ او په همغه ځایونو کې یې د اسلامي ستنو په درولو او د اسلامي قیادت د تسلط پیدا کولو په لار کې مهم رول ادا کړ.

دې مجاهدینو ته دا خبره چې ګویا هغوی په پیل کې په مال راضي

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram: https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



کړای شوي وو او يايې د مکې له فتحې نه وروسته اسلام راوړی کوم ضرر او زيان نه شي رسولای، او نه هم دا د عيب خبره ده. څکه ډير وروستني مخکيني را لاندې کوي، کمزوري هم د پياوړي ثواب او فضيلت ګټلی شي او ډير داسې هم پيښيږي چې يو چا کار په اخلاص نه وي شروع کړی، خو د کار په جريان کې اخلاص پيدا کوي حسن (رحمة الله عليه) وايي مونږ علم د غير الله لپاره غوښته. خو هغه خاص د خدای (جل جلاله) لپاره شو. بل چا داسې ويلي دي علم مو غوښت خو نيت راسره نه ؤ وروسته نيت هم راسره ملګری شو د متاخرينو لپاره همدا کافي ده چې خدای (جل جلاله) ورته د خير او حسنی زيری ورکړی

((...لا يَسْتَوِي مِنكُمْ مَنْ أَنفَقَ مِنْ قَبْلِ الْفَتْحِ وَقَاتَلَ أُولَٰئِكَ أَعْظَمُ دَرَجَةً مِنَ الَّذِينَ أَنفَقُوا مِنْ بَعْدُ وَقَاتَلُوا وَكُلًّا وَعَدَ اللَّهُ الْحُسْنَىٰ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ)). (الحديد: ۱۰)

له تاسې نه چې کوم کسان له فتحې نه وروسته مالي لګښت او جهاد وکړي هغوی هيڅکله له هغو خلکو سره نشي برابريدای چې له فتحې نه مخکې يې مالي لښګت او جهاد کړيدی د هغو درجه په وروسته وخت کې له مالي لګښت کوونکو او جهاد کوونکو څخه ډيره ستره ده اګر که الله له دې دواړو سره د نيکی وعده کړيده او څه چې تاسې کوئ الله ورڅخه خبر دی،

دريم. د غنيمت له مالونو نه د محروميدو په سبب د انصارو له خفګان نه وروسته د بيرته خوشالولو پخاطر د هغوی راټولول او ورته خطبه ويل د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) د سياسي بصيرت او ښه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



تدبیر او کاملو اخلاقو یو بل قوی دلیل دی. رسول (صلی الله علیه وسلم) چې کله د انصارو له خفګان او خبرو نه خبر شو، سمدلاسه یې د هغوی د رضا کولو او خوشالولو هلې ځلې پیل کړې، ټول انصار یې راټول کړل او خپل حکیمانه نصیحت یې ورته وکړ سره لدې چې رسول (صلی الله علیه وسلم) ښه پوهیده چې انصار زیاته مینه ورسره لري او اطاعت ته یې پوره تیار دي او د الله (جل جلاله) په لار کې یې ډیره مالي او ځاني قرباني ورکړیده، ان تردې چې هلته ددې خبرې هیڅ احتمال هم نه ؤ چې د دوی نه داسې کاروشي چې د ایمان په کمزورۍ دلالت وکړي او دا کار بیا دوی د الله (جل جلاله) او رسول (صلی الله علیه وسلم) په قهر اخته کړي، خو بیا هم رسول (صلی الله علیه وسلم) دا بهتره وګڼله چې د هغوی له فکرونو نه ددې موضوع په هکله ټول شکونه لرې کړي. دا په حقیقت کې دومره لوړه لاره او طریقه ده چې باید هر قائد او رهبر ددې سنتو په پیروۍ سره له خپلو پیروانو سره همدا ډول کړه وکړي، ځکه دښمنان تیار په کمین کې ناست دي کوښښ کوي چې داسې یوه خبره پیدا کړي چې د قائد او عسکر تر مینځ بیلتون پرې راولي، شیطان لعین خو چې څومره مکار او فریبکار دی تل ددې ډول فتنو هڅه کوي نو مشران باید پخپلو پیروانو باندې له پوره باور درلودلو سره سره د هغوی د خوشال او قانع ساتلو ډیر خیال وساتي.

وګوره رسول (صلی الله علیه وسلم) د انصارو د خوشالولو او قناعت لپاره له څومره حکیمانه او مؤثر اسلوب نه کار واخیست، لومړی یې هغوی ته د الله د رحم او کرم یادونه وکړه او ورته ویې ښوول چې الله په هغوی لوی فضل کړی چې هغوی اوس له ګمراهۍ نه هدایت ته اوله

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



دښمنۍ نه اخوت ته راوتلي دي او بيايې د هغوی فضيلت ته اشاره وکړه او د اسلامي دعوت په لاره کې يې له هغه (صلی الله عليه وسلم) سره په سختو شرائطو کې د هغوی مرسته ياد کړه، تر څو هغوی زر پدې قانع شي چې ددې سعادت او هدايت په مقابل کې دا ټول مالونه هيڅ دي او همدا راز پدې خبرو يې ورته د دوو نورو کارونو تاييد وکړ: لومړی دا چې هغه (صلی الله عليه وسلم) د خپل قوم طرفداري نده کړې او نه يې انصار هير کړيدي لکه چې له هغوی نه ځينو داسې فکرکاوه او بله دا چې انصار يې د غنيمت له مال نه ځکه بې برخې کړل چې رسول الله (صلی الله عليه وسلم) د هغوی په ايماني قوت او له الله (جل جلاله) او رسول (صلی الله عليه وسلم) سره د هغوی په زيات محبت باندې پوره ډاډه ؤ. قسم دی چې د سابقينو مخلصينو او د خدای د رضا د غوښتونکو د خوشالولو لپاره لدې نه لوړه او اوچته لاره او طريقه هيڅ چيرته هم نه شي موندل کيدای، نو د الهي رحمت باران دې وي په داسې قائد او ستر پيغمبر، هغه پيغمبر چې الله يې په هکله فرمايي

((وَإِنَّكَ لَعَلى خُلُقٍ عَظِيمٍ)). (القلم: ٤) (او بيشکه ته د لوړو اخلاقو مرتبه لرې)

۴- څلورم -- د رسول (صلی الله عليه وسلم) لدې لارښوونې وروسته د انصارو موقف د هغوی د ايماني قوت، د زړه نرمۍ، او الهي رحم او کرم پوره پيژندنې ښه څرګندوی دی. انصارو پدې قناعت او کلک ايمان درلود چې د دوی د جهاد، نصرت او تائيد سبب يوازې الهي کرم او د رسول (صلی الله عليه وسلم) مهرباني ده او دوی دا هم ياده

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



کړه که چېرې د الله رحم او اراده نه وی نو دوی به هدایت نه ؤ موندلی او که چېرې رسول (صلی الله علیه وسلم) نه وی نو د دوی زړونه او سترګې به نه وای رڼا شوې او که چېرې اسلام نه وی نو بیا به هم الله (جل جلاله) دوی له نفاق څخه نه وو خلاص کړي او نه به یې وینې ساتلې شوی وی، او نه به د یهودو له غلامۍ نه اسلامي عزت ته رسیدلی وی. بیا هغوی رسول (صلی الله علیه وسلم) ته د هر ډول قربانۍ وعده ورکړه او کله چې رسول (صلی الله علیه وسلم) ورته د رحمت دعا وکړه او له الله (جل جلاله) نه یې سوال وکړ: اې خدایه ته په دوی، د دوی په زامنو او لمسیانو رحم وکړه، نو پدې وخت کې له ډیرې خوشالۍ نه د هغوی اوښکې وبهیدې په دې یې الهي شکرانې ادا کولې چې رسول (صلی الله علیه وسلم) ورباندې څومره شفقت لري او له الله نه ورته څومره د رحمت سوالونه کوي، نو لدېنه به نور د ایماني قوت او ریښتینولي څه وي او لدې مینې نه به بله کومه مینه د ایمان قوي دلیل وي؟ الله (جل جلاله) دې له هغوی نه راضي شي، یاد یې د همیشنی وي خدای دې مونږ له دوی سره یو ځای په جنت کې د رسول (صلی الله علیه وسلم) په لیدو مشرف کړي، الله (جل جلاله) دې مونږ او دوی ټول له الهي نعمت نه د برخه لرونکو خلکو په ډله کې چې انبیاء (علیهم السلام) صادقان، شهیدان، او مقربین دي وشمیري. (امین)

په آخر کې یو ځل بیا وایم چې د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) او انصارو تر مینځ دا ټول مواقف او پیښې باید د هر داعي د لارې مشال او د هر زده کوونکي په ذهن کې انځور وي، ځکه دا د ایمان د قوت سبب کیږي او له رسول (صلی الله علیه وسلم) او ملګرو سره یې (رضي

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



الله عنهم) د میني او محبت طوفان راپاروي، زړه د هغوی په مینه ډکوي، الله (جل جلاله) دې پر هغوی ټولو رحم او کرم وکړي.

## ب: د بتانو ماتول

له نوح (علیه السلام) نه وروسته د انبیاؤ (علیهم السلام) پلار ابراهیم (علیه السلام) پخپل قوم کې له بت پرستۍ سره داسې مقابله وکړه چې مشرکینو یې د سیځلو اراده وکړه، لکه چې قرانکریم حکایت کوي کله چې ابراهیم (خلیل الله) مکې ته لاړ نو خپل زوی اسماعیل (علیه السلام) یې له خپلې مور سره یو ځای هلته پریښود. اسماعیل (علیه السلام) ځوان شو نو دواړو کعبه شریفه جوړه کړه، تر څو هلته د خدای (جل جلاله) عبادت وشي، خلک یې حج وکړي، د اسماعیل (علیه السلام) اولاده زیاته شوه او مورخینو دده اولاده د مستعربه عربو په نامه نومولي دي دې خلکو ډیره زمانه د بتانو عبادت نه پیژانده، خو وروسته به چې هرچا له مکې نه د باندې سفر کاوه، ارو مرو به یې د حرم شریف له تیږو نه یوه تیږه د احترام او تکریم پخاطر له ځان سره وړه، او هر چیرته به یې چې واړول نو دا تیږه به یې کیښوده او د کعبې په شان طواف به یې ورځخه کاوه، دي کار تر هغې پورې دوام درلود تر څو (عمرو بن لحي) د بتانو عبادت ور ووړ او دا د ځینو په قول د محمد (صلی الله علیه وسلم) له بعثت نه (۵۰۰) کاله مخکنۍ خبره ده. نوموړی (عمرو بن لحي) لومړنی کس دی چې اسماعیلي دین یې بدل کړی. نوموړی له مکې نه د جرهم د قبیلې له ایستلو وروسته د کعبې ساتونکی شو، خو څه موده وروسته سخت

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



ناروغ شو، چا ورته وویل چې د شام په بلقاء نومي ځای کې یوه حمه (چینه) ده (چې اوس هم حمه ورته ویل کیږي) که هلته ورشي نو روغ به شي، عمرو هلته ورغی، غسل یې پکې وکړ او روغ شو او هملته یې ولیدل چې د هغه ځای اوسیدونکي د بتانو عبادت کوي پوښتنه یې وکړه دا څه دي؟ هغوی ورته وویل: مونږ له همدې بتانو نه باران او پر دښمنانو برې او غلبه غواړو. عمرو د یوه بت سوال ورنه وکړ، هغوی یې سوال ومانه او یو بت یې ورکړ، ده بت له ځان سره مکې ته راوړ او کعبې ته یې نژدې ودراوه، پدې ډول په عربي ټاپو وزمه کې د بتانو عبادت پیل او رواج شو، او دومره زیات خور شو چې هر چا به پخپل کور کې یو بت درلود چې عبادت به یې ورته کاوه، او کله به چې څوک په سفر تله، نو په کور کې به یې آخرینی کار او له سفر نه له راستنیدو وروسته لومړنی کار به یې د بت مسحه کول وو.

په عربو کې د بت پرستۍ مینه نوره هم زیاته شوه، چا به د بیت او چا به د بت عبادت کاوه او که به چا د بت او بیت جوړولو وس نه درلود، نو بیا به یې د حرم شریف په مخکې یوه تیږه ودروله او د بیت الله په شان به یې طواف ورنه کاوه، کوم کس به چې سفر وکړ او چیرته بل ځای به یې واړول نو خلور تیږې به یې واخیستې او تر ټولو تیږو بهتره به یې د ځان رب وبلله او پاتې درې نورې به یې ددیګ لپاره نغری کړې او کله به چې تللو نو رب او نغری ټول به یې پریښودل او چې بل ځای به یې واړول نو بیا به یې همدا کار کاوه.

عربو درې لوی بتان درلودل چې ډیر احترام یې ورته درلود او د هغوی حج به یې کاوه، مالونه به یې ورته حلالول، طواف به یې ورنه کاوه، لومړنی یې ((مناة)) نومیده چې د مکې او مدینې تر مینځ د قدید

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



نومي ځای د مشلل په ناحيه کې د بحر په غاړه اېښودل شوی ؤ، ټولو عربو ددې بت ډېر احترام درلود خو اوس او خزرج يې له نورو نه ډېر درناوی کاوه او کله چې رسول (صلی الله عليه وسلم) د هجرت په اتم کال د مکې د فتحې په لور روان شو، علي (رضي الله عنه) هم بت دړې وړې کړ او څه شي چې ورسره اېښې ؤ هغه يې رسول (صلی الله عليه وسلم) ته راوړل، پدې شيانو کې دوې تورې هم وې چې د غسان قبيلې مشر حارث بن ابي شمر الغساني دې بت ته هديه کړې وې او دا همغه حارث ؤ چې د رسول (صلی الله عليه وسلم) خط وړونکی قاصد (شجاع بن وهب الاسدي رضي الله عنه) يې په شهادت رسولی ؤ او له ده نه پرته د رسول (صلی الله عليه وسلم) بل هيڅ يو قاصد هم ندی وژل شوی.

دوهم بت يې ((لات)) نوميده چې په طائف کې اېښودل شوی ؤ او دا يوه لويه څلور کنجه پربنه (ډبره) وه، قريشو او ټولو عربو زيات احترام ورته درلود او کله چې رسول صلی الله عليه وسلم مکه فتحه کړه او بيرته مدينې ته ستون شو، هلته ورته د ثقيف وفد راغی او له رسول الله (صلی الله عليه وسلم) نه يې سوال وکړ چې دا بت (لات) تر دريو نورو کالو پورې مات نکړي، خو رسول صلی الله عليه وسلم) دا سوال ونه مانه، هغوی د دريو کالو دا موده کموله، خو رسول صلی الله عليه وسلم نه منله تر څو يوې مياشتې ته راکوز شول، خو بيا هم رسول (صلی الله عليه وسلم ونه منله.

ابن هشام وايي چې دوی ددې غوښتنې توجيه داسې کوله چې ګويا دوی غواړي ددې بت په جوړ پرېښوولو سره د قوم جاهله طبقه، ښځې او ماشومان اسلام قبلولو ته اړباسي او اوس به دا غوره نه وي چې د

Downloaded By: Afghan Salar Library



بت په ماتولو سره خپل قوم حیران دریان کړي. خو رسول (صلی الله علیه وسلم) دا ونه منله او سمدلاسه یې ابو سفیان بن حرب او مغیرة بن شعبة ته امر وکړ چې لاړ شي او دا بت (منات) هم دړې وړې کړي کله چې مغیرة په بت ګزارونه شروع کړل. د ثقیف ښځې راووتې او په ډکو سترګو یې ویل:

لتبکین دفاع اسلمها الرضاع

لم یحسنوا المصاع

او له دې نه یې مراد دا ؤ چې افسوس د هغه شي په حال چې له مونږ نه به یې دفاع کوله. دښمنان به یې رانه شړل او بلاګانې (مصیبتونه) به یې رانه لیرې کولې، هی، هی. اوس هغه دړې وړې کیږي. خلکو ورانی ته وسپارل. دفاع یې ورنه ونه کړه او د دفاع پخاطر یې تورې پورته نکړې.

دریم بت (عزی) نومیده، چې له مکې نه عراق ته د تلونکې لارې ښي لاس ته پروت ؤ. قریشو خاص احترام ورته درلود تر دې حده چې کله قرانکریم را نازل شو او دا ټول بتان یې ردول او ټکول، نو دا په قریشو ډیره سخته تمامه شوه. او کله چې ابو احیحه (سعید بن عاص بن امیة بن عبدشمس بن عبد مناف) د مرګ په بستره کې ناروغ پروت ؤ. ابو لهب یې پوښتنې ته ورغی که ګوري چې ابو احیحه ژاړي. ابو لهب ورته وویل: ولې ژاړې؟ هغه ورته وویل: له مرګه نه ژاړم. بلکه لدې ژاړم چې ویریږم که زه مړ شم نو د عزی عبادت به پریښوول شي. ابو لهب خواب ورکړ: قسم په خدای چې د عزی عبادت ستا په ژوند هم

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram: afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



ستا پخاطر ندی شوی، او نه به له تا وروسته ستا د مرگ په وجه د هغه عبادت پریښوول شي، ابو احیحه ورته وویل: اوس پوه شوم چې زما خلیفه شته: ... د عزی په عبادت دا ټینګار یې ډیر خوښ شو. د فتحې په ورځ رسول (صلی الله علیه وسلم) خالد بن ولید ته امر وکړ چې دا بت (عزی) مات کړي، خالد (رضي الله عنه) چې کله ورغی د بت پرستار یا منجور (دیبه بن حرمي الشیباني) وویل:

اعزا شـــدي شدة لا تکذبي    علـــی خالـــد القی الخمار و شمري

فانک الا تقتلی الیوم خالدا    تبـــوئي بذل عاجل و تنصري

نو خالد (رض) ورته وویل:

یاعزی کفرانک لا غفرانک    اني رایت الله قد اهانک

هغوی داسې گمان کاوه چې گویا یوه حبشي ښځه وه چې ببر ویښتان یې ؤ، لاس یې په غاړه ایښی ؤ او د هغې ونې په د ننه کې وه کوم چې خالد (رضي الله عنه) پرې کړه چې په همدي شکل ورنه راښکاره شوه او هغه ووهله او سر یې ورمات کړو که گوري چې سکاره غونډې یو شي ؤ، خالد چې کله رسول (صلی الله علیه وسلم) ته د امر پځای راوړلو خبر ورساوه نو هغه (صلی الله علیه وسلم) وفرمایل:

((تلک العزی، و لا عزی بعد ها للعرب، اما انها لن تعبد بعد الیوم)). (همدا عزی دی، له دې وروسته به د عربو لپاره بل عزی نه وي، او له نن نه وروسته به یې په هیڅ صورت سره هم عبادت ونشي).

دا ؤ د عربو مشهور بتان چې قرآنکریم یې داسې یادونه کوي:

Downloaded By: Afghan Salar Library



(( أَفَرَأَيْتُمْ اللاَّتَ وَالْعُزَّى * وَمَنَاةَ الثَّالِثَةَ الأُخْرَى)). (النجم: ۱۹ / ۲۰) (اوس لږ وواياست، تاسې کله ليدلي دغه لات او دغه عزی او دريم دغه بل بت منات).

د مکې د فتحې په ورځ چې کله رسول (صلی الله عليه وسلم) بيت حرام ته ننوت وېې ليدل چې هلته د ملائکو عکسونه دي او ويني چې مشرکينو د ابراهيم (خليل الله) عکس هم ايستلی چې په لاس کې يې ازلام (تفسير ته دې مراجعه وشي) (غشې دي او ويش پرې کوي نو يې وفرمايل ((قاتلهم الله جعلوا شيخنا يستقسم بالازلام ما شان ابراهيم و الازلام)). (خدای د دوی هلاک کړي، زمونږ شيخ يې داسې ښوولی چې په ازلامو (غشو ويش کوي. د ابراهيم له ازلامو سره څه کار دی).

الله تعالی فرمايي:

((مَا كَانَ إِبْرَاهِيمُ يَهُودِيّاً وَلا نَصْرَانِيّاً وَلَكِنْ كَانَ حَنِيفاً مُسْلِماً وَمَا كَانَ مِنْ الْمُشْرِكِينَ مَا كَانَ إِبْرَاهِيمُ يَهُودِيّاً وَلا نَصْرَانِيّاً وَلَكِنْ كَانَ حَنِيفاً مُسْلِماً وَمَا كَانَ مِنْ الْمُشْرِكِينَ)). (آل عمران: ٦٧)

(ابراهيم(خليل الله) نه يهودي و او نه نصراني، بلکه هغه خو يو لوري ته مخ اړوونکی مسلمان و او هغه هيڅکله له مشرکانو څخه نه و).

بيايې دا ټول عکسونه راوغورځول، امر يې وکړ چې دا ټول رنګ بنګ شي ټول يې وران کړل، ابن عباس (رضي الله عنهما) فرمايي: د مکې د فتحې په ورځ رسول (صلی الله عليه وسلم) پخپله راحله سپور مکې ته ننوت، طواف يې پيل کړ پداسې حال کې چې د بيت الله په شا او

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/AfghanSalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



خوا کې بتان ابنسودل شوي وو، رسول (صلی الله علیه وسلم) په لاس کې د قضیب (یوه قسم ونه ده) په لرګي اشاره کوله او ویل به یې:
((وَقُلْ جَاءَ الْحَقُّ وَزَهَقَ الْبَاطِلُ إِنَّ الْبَاطِلَ كَانَ زَهُوقًا)).(الاسراء: ۸۱)
(او اعلان وکړه چې ((حق راغی او باطل له مینځه لاړ. بیشکه چې باطل له منځه تلونکی دی)) د بت سرته به یې چې اشاره وکړه سره په تندي به را واوښت او که به یې ښنو ته اشاره وکړه نو ښنې به یې په سر شوې او نسکور به شو. پدې ترتیب سره ټول بتان را چپه شول.
د مکې د فتحې لاڅو میاشتې نه وې تیرې شوې چې د عربي جزیرې ټول بتان نسکور شول او بت پرستان ورک شول. ځکه خلک ټول په حقیقت پوه شول او له خپل پخواني عبادت نه به ډیر خجالت وو ویل به یې جهل څومره راباندې زور شوی ؤ چې د بې واکه او بې حسه تیږو عبادت به مو کاوه.
د اسلامي دعوت لومړنی کار دا ؤ چې بتان یې وټکول، خلکو ته یې د هغوی حقیقت وښوده، د هغې د عبادت ضررونه یې په ګوته کړل او د رب العالمین د عبادت لور ته یې بلنه پیل کړه، خو عربي جزیرې او په سر کې یې قریشو ددې دعوت مخالفت وکړ او دا یې یو نوی او عجیب غونډې شی وباله :
((أَجَعَلَ الْآلِهَةَ إِلَهًا وَاحِدًا إِنَّ هَذَا لَشَيْءٌ عُجَابٌ)). (ص: ۵)
(آیا ده د ټولو خدایانو پر ځای فقط همدا یو خدای وګرځوه؟ دا خو ډیره د تعجب وړ خبره ده)
د عربو ټاپو وزمه د اسلامي دین په راپیدا کیدو سره یو ځل وخوځیده

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



او د باطل لښکر په خپل ټول توان سره ددې کوښښ وکړ چې دا نوی دين ختم کړي، د دعوت قائد او د الله (جل جلاله) رسول (صلی الله عليه وسلم) هم له مينځه يوسي، خو له (۲۱) کالو مسلسل جنګ او کشمکش نه وروسته الهي نصرت او بری د رسول (صلی الله عليه وسلم) په برخه شو، د بت پرستۍ مرکز يې فتح کړ، باطل خدايان (بتان) يې دړې وړې کړل، ټول باطل قوتونه مات شول او دا ثابته شوه چې ټولې شيطاني دسيسې لکه د اوبو په مخ ليکې وي او بس. آيا عقل دا منلی شي چې دا دومره لوی بری او فتحه دې په دومره لږ وخت کې لدې دومره لږو امکاناتو سره چې حتی رسول (صلی الله عليه وسلم) د دعوت په پيل کې يوه ملګری هم نه درلود له الهي نصرت پرته تر سره شي؟! نه کله هم نه، که الهي نصرت او تائيد نه وای نو بيا به دا فتحې يوه هم نه وه ((...وَمَا رَمَيْتَ إِذْ رَمَيْتَ وَلَكِنَّ اللَّهَ رَمَى...)). (الانفال: ۱۷)

(او تا و نه ويشتل بلکه الله وويشتل).

محمد بن عبدالله (صلی الله عليه وسلم) د عربو پنځه سوه کلنه بدبختي او فکري بې لاري ختمه کړه، عربي عقل يې د بت پرستۍ او نورو خرافاتو له منګلو خلاص کړ، عربي کرامت يې د بت پرستۍ له ذلت نه را اوچت کړ او د هميشني ياد دروازې يې د هغوی په مخ پرانيستې تر څو بيا ورنه هير نه شي رسول (صلی الله عليه وسلم) څومره رښتيا ويلي دي: **((لا عزی بعد ها للعرب اما انها لن تعبد بعد اليوم))**.(عرب به لدينه وروسته عزی ونلري، هيڅکله به يې عبادت ونه شي)

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



د عربو د تپاپو وزمې خلکو نور تر ابده بت پرستي پرېښوده، نور نو عربي عقل ځوان شو او بيا به د کوچينوالی دور ته بيرته نه راګرزي، هغه طفوليت چې انسان دومره ټيټ کړي چې د يوې بې واکه، بې غورږو او بې سترګو تيږې په مخ کې په سجده پريوزي. د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) تر رحلت وروسته ډير جنګونه او فتنې شويدي ، ځينو د نبوت ادعاګانې وکړې، ځينو نورو د قرآنکريم مخالفت وکړ، دا هر څه وشول خو چا ندي اوريدلي چې يو عرب دې بت پرست شوی وي؟ او دا هم ځکه چې محمد (صلی الله عليه وسلم) د هغوی عقل روښانه کړی او د هغه رسالت هر څوک په حقيقت پوه کړيدي او همدا وجه ده چې د دنيا تر آخره په هر عرب باندې د رسول (صلی الله عليه وسلم) زيات احسانونه دي، ځکه همده (صلی الله عليه وسلم) دوی آزاد کړل، حقيقت يې وروښود او د نورو قومونو د هدايت کولو شرف يې هم ور په برخه کړ الله فرمايي:

((هُوَ الَّذِي بَعَثَ فِي الْأُمِّيِّينَ رَسُولاً مِنْهُمْ يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِهِ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَإِنْ كَانُوا مِنْ قَبْلُ لَفِي ضَلَالٍ مُبِينٍ)).( الجمعه: ۲)

(همغه ذات دی چې په اميانو کې يې پيغمبر پخپله له همغوی نه راپاڅاوه چې هغوی ته د هغه آيتونه اوروي، د هغوی ژوند سپيځلی کوي او هغوی ته د کتاب او حکمت ښوونه کوي پداسې حال کې چې لدينه مخکې هغوی په ښکاره ګمراهۍ کې غورځيدلي وو).

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



## ج- د تبوک غزا، درسونه او پندونه یې

۱- ددې غزا سبب دا ؤ چې د روم امپراطور (هرقل) په شام کې ډېرې لښکرې ځای په ځای کړې او د یوه کال آذوقه (خوراک) یې ورته برابر کړې و، عربي قبیلې لکه لخم. جزام، غسان، او عامله یې هم له ځان سره درولې وې، ټول سره یو ځای شول بیایې مخکښان بلقاء نومې ځای ته را ورانډې شول. کله چې رسول (صلی الله علیه وسلم) لدې واقعی نه خبر شو خلکو ته یې د تبوک په طرف د تللو لپاره د تیارۍ حکم وکړ او له بډایانو نه یې د مالي مرستې غوښتنه وکړه.

دا واقعه د اسلامې جګړې طبیعت او هویت څرګندوي، او دا ښیي چې اسلامي جګړه د یوه تجاوز ګر، ویرووونکي او د وینو د تږې جګړه نده بلکه دا د دین او وطن د دفاع او تجاوز ګر د لاس لنډولو او د فساد د ټغر ټولولو پخاطر جګړه ده، دا خبره قرآنکریم څو ځایه په ډاګه کړیده او مونږ هم په اسلام کې د جنګ رواکولو اسباب مخکې ذکر کړل او له جنګ نه د اسلام هدف او لار مو هم واضح کړه، او د رومیانو له وتلو او جګړې ته له تیارۍ نه وروسته جنګ ته د رسول (صلی الله علیه وسلم) آمادګي زمونږ د خبرو تائید کوي.

دا چې د مسلمانانو خلاف ځنې عربي قبیلې له رومیانو سره ودریدلې نو دا پدې دلالت کوي چې دغو خلکو اسلام نه ؤ پیژندلی او دا یې نه وه درک کړې چې اسلام ټول بشریت په عامه توګه او عرب په خاصه توګه له هر ډول غلامۍ او ذلت نه آزادول غواړې او که چېرې هغوی پدې پوه وای نو کله به هم د خپل قوم د مسلمانانو په خلاف له رومیانو سره نه وو یو ځای شوي

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



۲- رسول الله (صلی الله علیه وسلم) دې جګړې ته د آمادګۍ امر پداسې وخت کې صادر کړ چې له یوې خوا ډیره ګرمي وه او له بلې خوا د میوو تو‌لولو وخت ؤ. د الهي حکمت له مخې دې جګړې ښه او بد سره بیل کړل پدې معنی چې ریښتینو مؤمنانو نه ګرمۍ ته وکتل او نه سختۍ ته او نه له میوې نه محرومیو ته، بلکه په پوره خوشالۍ یې د رسول (صلی الله علیه وسلم) امر ته لبیک ووایه، خو منافقان هسې د خوشي عذرونو په وړاندې کولو سره په کورونو کې پاتې شول، او پدې سره یو ځل بیا سختۍ او مشکلاتو ریښتوني له دروغجنو نه بیل کړل الله (جل جلاله) ځومره ښه فرمایلي دي: ((الم (۱) أَحَسِبَ النَّاسُ أَنْ يُتْرَكُوا أَنْ يَقُولُوا آمَنَّا وَهُمْ لَا يُفْتَنُونَ (۲) وَلَقَدْ فَتَنَّا الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ فَلَيَعْلَمَنَّ اللَّهُ الَّذِينَ صَدَقُوا وَلَيَعْلَمَنَّ الْكَاذِبِينَ)). (العنکبوت: ۱-۳)

(پداسې حال کې چې مونږ هغه ټول خلک آزمویلي دي چې له دوی نه مخکیني تیر شویدي الله خو به هرو مرو دا ګوري چې ریښتیني ځوک دي او دروغجن ځوک).

حقیقت داسې دی چې هر دعوت او امت هغه وخت په پښو دریدای شي چې لیکې یې له منافقینو او دروغجنو ملګرو څخه پاکې شي او هر چا دا منلې ده چې د سختیو او کړاوونو مقابله یوازې هغه ځوک کولای شي چې ریښتونې اراده، پاک نیت او قاطع دریز او کلکه عقیده ولري او ډیره ځله داسې پیښه شویده چې ضعیف النفس او دروغجنو لاپو وهونکو د اصلاحي دعوتونو په لار کې تیرې اچولې او دعوت یې ندی پرې ایښی چې د بریالیتوب ناوې ښکل کړي او که نه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



نو څو ورځې خو يې وروسته کړې حتمي دي.د تبوک په غزا کې د سختۍ او فداکارۍ لښکر لدې ډول مضرو افرادو څخه پاک شو، د منافقانو څيره بربنډه شوه او دا يو منل شوی حقيقت دی چې په جګړه کې شمير هومره د اعتبار وړ ندی بلکه ايماني قوت، د صف او کلمې وحدت او په خپل عهد ټينګ دريدل دي چې لښکر بريالی کوي که شمير هر څومره زيات وي، خو وحدت، ايماني قوت او ثبات ونلري کله به هم بريالی نشي، الله (جل جلاله) فرمايي: ((...كَمْ مِنْ فِئَةٍ قَلِيلَةٍ غَلَبَتْ فِئَةً كَثِيرَةً بِإِذْنِ اللَّهِ وَاللَّهُ مَعَ الصَّابِرِينَ)). (البقرة: ۲٤۹)

(ډير خله داسې شويدي چې وړوکې ټولګی د الله په امر پريوې لويې ډلې برلاسی شوی دی الله د صبر کوونکو ملګری دی).

۳- دې غزا ته د تيارۍ په وخت کې د ابوبکر ، عمر، عثمان او نورو اصحابو (رضي الله عنهم) مالي او ځاني قرباني دا په ګوته کوي چې ايمان څنګه او په څه ډول د مؤمنانو په زړونو کې د نيکۍ، فداکارۍ او له نفساني باطلو غوښتنو سره د مقابلې تخم شيندي او دا هغه څه دي چې هر امت او دعوت ورته اړتيا لري او په همدې سره دعوت برى مومي نن ورځ هم زمونږ امت له بل هر څه نه دې ډول تخم ته زياته اړتيا لري، دښمنان زيات دي، د مسئوليت بارونه مو ډير درانه دي، د مکر او فريب تورې تيارې هره خوا خپرې دي، جنګ او جګړه هم بې حده خطرناکه ده، نو پداسې بده ورځ کې تر هغه وخته کاميابي نه شو ليدای تر څو مو د ځان او مال د قربانۍ او له شهواتو او خواهشاتو سره د مقابلې روح په زړه کې نه وي پو کړی او دا روح به مو هله په زړه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



کې ځای نیسي چې کله د دین حقیقت وپیژنو، ځکه همدا دین دی چې وایي د الله (جل جلاله) په لار کې هره ستړیا او هره پیښه جهاد دی، د الله (جل جلاله) د دین په لار کې هر منډې وهونکي او صدقه ورکوونکي ته دومره اجر ورکوي څومره چې د جنګ په میدان کې یې توره په لاس مجاهد ته ورکوي. د داعیانو، اصلاحي مشرانو او نورو رهبرانو تر ټولو بهترین کار به دا وي چې هغوی د خلکو په زړونو کې دین ځای په ځای کړي. ځکه له دین سره هر ډول مخالفت له بل هر څه سره سره یو ملي جرم هم دی هسې جرم چې ډیرې بدې نتیجې او آثار لري دا خبره مونږ ته الله (جل جلاله) راښوولې ده. تاریخ هم پخوا دا ثباته کړیده اوس تجربه هم د همدې تائید کوي او لدې خبرې نه مخالفت هسې د ځان او بل غولول دي او له دین نه انکار به په هغه زړه کې ځای پیدا کوي چې حق، خیر، غیرت، عزت او پاکۍ ته مخلص او آماده نه وي

۴- هغه قصه چې وایي څو تنه اصحاب (رضي الله عنهم) د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) حضور ته راغلل او سوال یې ورنه وکړ چې دوی هم له ځان سره جهاد ته بوزي، خو رسول (صلی الله علیه وسلم) هغوی د مرکب (سپرلۍ) د نشتوالي له امله بیرته ولیږل هغوی د جهاد له ثواب نه د بې برخې کیدو له امله خفه زړونه او ډکې سترګې کورونو ته وګرځیدل، دا قصه چې قرآنکریم بیان کړیده دا په ګوته کوي چې ایمان زړونه څنګه آبادوي څومره قوت وربښي، هسې خو بشري طبیعت داسې وي چې له خطر نه په خلاصۍ شره خوښیږي او که له جنګ نه هر څو لیرې شي هغومره خوښ وي، خو ددې برخلاف د محمدي مدرسې شاګران له جهاد او شهادت نه په محرومیت د

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



افسوس او خفګان اوښکې تویوي، نو کومه بل داسې مفکوره او اصل به وي چې ایماني اثر ته ورته اثر ولري؟ اوله دا ډول ایماندارو نه د امت د محرومیدلو له زیان نه به بل لوی زیان چیرته وي؟

۵- د هغو دریو کسانو قصه کوم چې له ریښتیني ایمان سره سره یې راحت ته پر تکلیف، سیوري ته پر ګرمۍ او استراحت ته په سفر ترجیح ورکړې وه، دا کیسه هم یو لوی ټولنیز درس راکوي. هغوی ډیر زر پوه شول ایمان یې په زړونو کې وځوښید او ویې ویل: له رسول (صلی الله علیه وسلم) نه د بیرته پاتې کیدو په وجه د لویې ګناه مرتکب شویدي، خو دې ټولو هغوی له جزا نه معاف نه شوای کړای او جزا خو یې دومره سخته وه چې څه به درته وایم رسول (صلی الله علیه وسلم هغوی له ټولنې نه بیل کړل، ټولو خلکو حتی د دوی ښځو ته یې امر وکړ چې خبرې ورسره بندې کړي، خو کله چې هغوی ریښتینې توبه وایستله، نو الله (جل جلاله) ورباندې رحم وکړ او د دوی توبه یې قبوله کړه. دا دری کسان چې کله د توبې له قبلیدو نه خبر شو، دومره زیات خوشاله شول چې اندازه یې ګرانه ده. ځینو یې خپل مال او جامې د شکرانې په توګه صدقه کړې. دا ډول درسونه ر ریښتیني مؤمن ته داښیي چې هغه باید له هغه عمل نه چې اسلام پرې مکلف کړی په هیڅ توګه سرغړونه ونکړي او باید پداسې شرائطو کې چې خلک زیار او مشقت ګالي د ځان لپاره راحت و نه لټوي ځکه دا د ایمان د طبیعت تقاضا ده چې ته باید ځان همیشه د ټولنې یو غړی وګڼې او داسې فکر ولرې چې څه په ټولنه تیریږي لکه چې هغه په تا هم تیریږي او باید کلکه عقیده ولرې چې د ټولنې ګټه او زیان ستا ګټه او زیان دی که ټولنه نا ارامه وي ته باید آرامي ونلرې. او بل دا چې له واجباتو

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



نه سرغړونه د ایماني نقص او کمزورۍ سبب دی او دا یوه ګناه ده چې مرتکب یې باید زر تر زره الله (جل جلاله) ته رجوع وکړي، ددې کیسې یو بل درس دا دی چې رابنیي عقیده تر خپلوۍ نه لوړه او مقدمه ده، همدا راز د مشروع نظام پلي کول له ځاني خواهشاتو او عاطفې نه مخکې او مقدم دی او د الهي غضب مخه بیا خپلوي او قرابت نه شي نیولای.

((...فَلْيَحْذَرْ الَّذِينَ يُخَالِفُونَ عَنْ أَمْرِهِ أَنْ تُصِيبَهُمْ فِتْنَةٌ أَوْ يُصِيبَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ)). (النور: ٦٣) (د پیغمبر له حکم څخه سرغړوونکي باید وویریږي چې په کومه فتنه کې اخته نه شي یا دردناک عذاب پرد رانشي).

## د – حجة الوداع

حجة الوداع له بعثت نه وروسته د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) یوازینی حج ؤ چې ادا کړی یې دی. کله چې خلکو واوریدل چې رسول (صلی الله علیه وسلم په هغه کال کې حج کوي، نو د عربي ټاپو وزمې له هر ګوټ څخه حج ته دومره خلک راټول شول، چې شمیر یې د ځینو مؤرخینو په قول ((۱۱۴)) زرو ته رسیده، فکر کوو چې دا شمیر اټکلي دی، که نه نو څنګه وشمیرل شول او شمیر یې دومره وټاکل شو؟

رسول (صلی الله علیه وسلم) خپله آخرینۍ او مشهوره خطبه وویله، زده کوونکي ته په کار ده چې دا خطبه زده کړي ځکه چې دا د اسلامي دین اصول او مبادئ بیانوي ددې خطبې په یوه برخه کې راځي:

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



(( ايهـــا الناس، اسمعوا قولي، لا ادري لعلي لا القاكم بعد عامي هذا بهذا الموقف ابدا )). (اې خلکو خبره مې واورئ کیدای شي له دې کال نه وروسته درسره ونه وینم، پدې ځای کې به نور تر ابده درسره ونه ګورم). دا د رسول (صلی الله علیه وسلم) یوه معجزه وه.

((ايهـــا الـــناس، ان دماءكم و اموالكم عليكم حرام الى ان تلقوا ربكم، كحرمة يومكم هذا، و حرمة شهركم هذا و انكم ستلقون ربكـــم فيسالكم عن اعمالكم، وقد بلغت، فمن كانت عنده امانة فلـــيؤدها الى من ائتمنه عليها، و ان كل ربا موضوع، ولكن لكم رؤوس اموالكم لا تظلمون و لا تظلمون، قضى الله ان لا ربا وان ربـــا عباس بن عبدالمطلب موضوع كله، و ان كل دم في الجاهلية موضـــوع، و ان اول دمـــائكم اشع دم ابن ربيعة بن الحارث بن عبدالمطلب، وكان مسترضعا في بني ليث فقتلته هذيل، فهو اول ما ابدا به من دماء الجاهلية.

امـــا بعد ايها الناس، فان الشيطان قد يئس من ان يعبد بارضكم هـــذه ابـــدا، و لكـــنه ان يطع فيما سوى ذلک فقد رضي به مما تحقرون من اعمالكم، فاحذروا على دينكم. ايها الناس ان النسئ زيـــادة في الكفـــر، يضل به الذين كفروا يحلونه عاما، و يحرمونه عامـــا، ليواطؤا عدة ماحرم الله، فيحلوا ما حرم الله، و يحرموا ما احل الله. و ان الزمان قد استدار كهيئته يوم خلق الله السماوات

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



و الارض، وان عــدة الشهور عند الله اثنا عشر شهرا منها اربعة حــرم، ثلاثة متوالية و رجب مضر الذي بين جمادي و شعبان. اما بعــد ايها الناس، فان لكم على نساءكم حقا، ولهن عليكم حقا، لكــم عليهن ان لا يوطئن فرشكم احدا تكرهونه، و عليهن ان لا ياتين بفاحشة مبينة، فان فعلن فان الله قد اذن لكم ان تهجروهن في المضاجع و تضربوهن ضربا غير مبرح، فان انتيهن فلهن رزقهن و كسوتهن بالمعروف، و استوصوا بالنساء خيرا، فاهن عندكم عوان، لا يملكــن لانفســهن شــيئا، و انكم انما اخذتموهن بامانة الله، واستحللتم فروجهن بكلمات الله.

فاعقلــوا ايها الناس قولي، فاني قد بلغت، وقد تركت فيكم ما ان اعتصــمتم به، فلن تضلوا ابدا، امرا بينا، كتاب الله و سنة نبيه، ايها الناس اسمعوا قولي واعقلوه، تعلمن ان كل مسلم اخ للمسلم، و ان المســلمين اخوة، فلا يحل لامرئ من اخيه الا ما اعطاه عن طيب نفس منه، فلا تظلمن انفسكم، اللهم هل بلغت؟)).

اي خلكو ستاسي ويني او مالونه يو پر بل باندي د ننني ورځې او دي مياشتي د حرمت په شان تر هغې پوري حرام دي تر څو له خپل خدای (جل جلاله) سره مخامخ شئ (تر ابده حرام دي) تاسي له خپل خدای (جل جلاله) سره مخامخ كيدونكي ياست بيا به درڅخه ستاسي د عملونو پوښتنه كوي، پدا ــي حال كي چي مخكي به رسيدلی وي،

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



که له چا سره امانت وي خپل څښتن ته يې دې وسپاري، ټول سود لغوه دی، خو ستاسې لپاره خپل اصلي مال دی. مه ظلم کوئ (ډېر مه اخلئ) او نه دې ظلم درباندې وشي (کم دې نه درکوي)، خدای (جل جلاله) فيصله کړې چې سود دې نه وي. نو د عباس بن عبدالمطلب ټول سود لغوه اعلانوم. د جاهليت ټول خونونه (وينې) لغوه دي، لومړنی خون چې لغوه يې اعلانوم هغه د ابن ربيعة بن حارث بن عبدالمطلب (وينه) خون دی. نوموړی په بني ليث کې شيدې رودونکی ؤ چې هذيل وواژه، او دی لومړنی کس دی چې د جاهليت له خونونو (وينو) نه يې خون لغوه کوم، لدې وروسته، اې خلکو، شيطان بالکل نا اميده شوېدی چې نور به يې دلته ستاسې په ځمکه کې عبادت وشي، خو که لدې نه پرته په نورو داسې شيانو کې يې اطاعت وشي چې تاسې يې کم شميرئ نو بيا هم راضي دی، د دين په هکله ډېره توجه وکړئ. اې خلکو (نسيه) د کفر زيادښت دی، کافران ورباندې ګمراه کيږي چې يو کال يې روا بولي او بل کال يې ناروا، تر څو د خدای له خوا ټاکل شوې موده پرې پوره کړي، نو پدې سره دوی حرام حلالوي او حلال حراموي. زمانه بيرته هغه حالت ته راګرځي لکه چې خدای (جل جلاله) په کومه ورځ آسمان او ځمکه پيدا کړې وه د کال د مياشتو شمير د خدای په نزد ((۱۲)) مياشتې دی، چې څلور يې حرامې دي، درې يو په بل پسې او څلورمه يې رجب ده چې د شعبان او جمادي تر مينځ ده.

اې خلکو! تاسې پخپلو ښځو او، هغوی پر تاسو حقوق لري، ستاسې حق دا دی چې هغوی داسې چاته ځای ورنکړي چې ستاسې نه خوښيږي، او بد کارې ونکړي، که يې پرته داسې وکړل نو خدای (جل

Downloaded By: Afghan Salar Library



جلاله) اجازه درکړې چې ځای یې وربدل کړئ او ویې وهئ خو ډیر کلک نه، نوکه له خپل کار نه یې لاس واخیست بیایې نفقه او جامې په ښه اندازه سره ورکوئ، د ښځو په هکله د خیر نصیحت وکړئ، هغوی ستاسې سره دي، څه یې د وسه ندي پوره، خو تاسې هغوی د خدای په امانت سره اخیستی، او په کلمات الله باندې مو د هغوی فرجونه حلال ګرزولي دي.

اې خلکو! زما په خبرو ځان پوه کړئ، ما درته اعلان کړه، تاسې ته مې داسې شی پرې اینبي که منګولې پرې ولګوئ کله به هم ګمراهان نه شئ، هغه ډیر روښانه امر دی چې عبارت له قرآنکریم او سنت رسول الله (صلی الله علیه وسلم) څخه دی، اې خلکو! زما خبره واورئ او ځان پرې پوه کړئ، پوه شئ چې هر مسلمان د بل مسلمان ورور دی، مسلمانان ټول سره وروڼه دي، د یوه ورور هیڅ شی بل ته ندی روا مګر چې په خپله خوښه یې ورکړي، په خپلو ځانونو ظلم مه کوئ، یا خدایه! آیا ما ستا حق خبره ورسوله؟

په حجة الوداع کې لومړی شی چې د توجه وړ دی هغه د دومره زیات شمیر خلکو راټولیدل دي. دا ټول خلک درویشت (۲۳) کاله مخکې مشرکین وو. خو نن ټول په رسول (صلی الله علیه وسلم) باندې مؤمن، او امر منلو ته یې ولاړ سپاهیان دي، هو همدا خلک وو چې مخکې یې د رسول (صلی الله علیه وسلم) دین نه مانه، د توحید لار ته بلنه ورته عجیبه غوندې ښکاریده او دا خبره چې د دوی عقلونه او پلرونه به یې رټل او غندل ډیره بده ورته بریښیده، حتی چې ځینو خو یې د رسول (صلی لله علیه وسلم) په خلاف ډیرې توطئې جوړې کړې، د هغه د وژلو ارادې یې وکړې، په تورو یې وواهه او په غشو یې وویشت،

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



خو نن يې د هغه (صلی الله علیه وسلم) د فرمان په وړاندې د اطاعت سر ځوړند نيولی دی، نو که دا پوښتنه وشي چې پدې دومره لنډه موده کې دا دومره لوی انقلاب څنګه راوستل شو؟ او رسول (صلی الله علیه وسلم) څنګه وکولای شو چې دا دومره زيات خلک له شرک، بت پرستۍ، نفاق، کفر او جاهليت څخه د توحيد، يووالي، او پيوستون په لور بوزي؟ او څنګه وتوانيده چې دا پروني له دښمنۍ نه ډک زړونه نن له مينې او محبت نه مالامال کړي؟ ښکاره ده چې که يو کس هر څومره ذکي، د پوهې خاوند، سياستمدار او د قوي شخصيت درلودونکی وي نه شي کولای په يوازې صورت حتی چې په سلهاوو کلونو کې هم دومره لوی انقلاب راولي، خو د پورتنۍ پوښتنې ځواب پدې سره کيږي چې دا ټول د رسالت برکت ؤ، له رسول (صلی الله علیه وسلم) سره آسماني مرستې وې، الله (جل جلاله) يې مل ؤ او دا انقلاب دده د هغه دين معجزه وه، کوم چې الله (جل جلاله) په همدې سره په بشريت باندې نعمتونه پوره کړيدي، خپل رسالت يې وربانديې پای ته رسولی دی او اراده يې کړيده چې په همدې دين سره سرګردان امت، له بدبختۍ نه نيکبختۍ ته بوزي، د هدايت په لاره يې برابر کړي، سترګې او زړونه يې د حق په نور روښانه کړي، د امتونو قيادت ور وسپاري د تاريخ مخه ورباندې بدله کړي، او بيا د همدې امت په لاس د انسان ذلت ختم کړي او د ذلت په بدله کې ورته حکمت، هدايت او نيکمرغي ورکړي.

«۱۱۴» زره خلک پرون له همدې دين او همدې رسول (صلی الله علیه وسلم) نه منکر وو، خو نن ټول ورته لاس په نامه ولاړ دي، پرون يې ټول په ضد جنګيدل خو نن ورنه دفاع کوي، پرون يې زړونه له کينې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



چاودل، خو نن يې له محبت سره بل محبت نه ځايږي. دا ټول کارونه په همدې (۲۳) کلونو کې وشول، نو بيشکه چې دا د حق او مبين الله (جل جلاله) فضل او کرم دی هغه (جل جلاله) له شرک او شريک نه لوړ او پاک ذات دی، د هغه رسول (صلى الله عليه وسلم) هم له هغه څه نه چې مشرکان يې وربسې تړي پاک او مبرا دی. ((سبحان ربک رب العزة عما يصفون، وسلام على المرسلين و الحمدلله رب العالمين)).

پدې حج کې د توجه وړ دوهم مهم ټکی د رسول (صلى الله عليه وسلم) قوي او محکمه خطبه ده، هغه چې خلکو ته يې واوروله او په همدې خطبه کې يې د خپل قيادت او رسالت له اتمام او برې نه وروسته داسې اصول او مبادئ اعلان کړل چې د دعوت په بيل کې د اعلان شوو اصولو او مبادئو تائيد يې کاوه، ځکه دا هماغه اصول وو کوم يې چې هغه ورځ اعلان کړي وو چې بل څوک ورسره نه وو ملګري، کمزوری ؤ، نو دا داسې اصول دي چې په کمزورۍ او قوت، جنګ او صلحه، ماتې او برې، فقر او شتمنۍ کې بدلون نه مومي، بلکه په هر وخت او هر حال کې يو شان وي او همداسې به پاتې وي. په داسې حال کې چې د اوسنيو او پخوانيو دنيوي رهبرانو داسې عادت وي چې خپله عقيده او اصول بدلوي، کمزوري او قوت وربانديې اثر کوي، وسائل او اهداف يې بدلون مومي، يعنې داسې وي چې د کمزورۍ په ورځ د راهب جامې اغوندي، خو د زور او قوت په ورځ د ليوه غاښونه ږدي.

ددې توپير سبب يوازې او يوازې دا دی چې دا ټول د مصلحت هغه هم د شخصي مصلحت رسولان دي، خو محمد (عليه السلام) د الله رسول

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



دی، د مرداری په سرد تاویدونکي او د نور په دریاب کې د لامبو وهونکي تر مینځ ډیره فاصله او لوی توپیر دی، څوک چې د ځان لپاره کار کوي، په هیڅ وخت کې له هغه چاسره ندی برابر کوم چې د انسانیت لپاره خولې تویوي. لنډه دا چې د رحمان د ملګرو او د شیطان د ملګرو تر مینځ د ځمکې او آسمان فرق دی:

((اللَّـهُ وَلِيُّ الَّذِينَ آمَنُوا يُخْرِجُهُمْ مِنْ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ وَالَّذِينَ كَفَـرُوا أَوْلِـيَاؤُهُمْ الطَّاغُوتُ يُخْرِجُونَهُمْ مِنْ النُّورِ إِلَى الظُّلُمَاتِ أُوْلَئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ)). (البقره: ۲۵۷)

(کوم خلک چې ایمان راوړي د هغو ملاتړ او مرستندوی الله دی او هغوی له تړمیو نه رڼا ته راباسي او کوم خلک چې د کفر لاره غوره کړي، د هغو ملاتړ او مرستندویان طاغوتان دي او هغوی له رڼا نه د تړمیو لوري ته را کاږي دا کسان دوزخ ته ورتلونکي دي، هلته به تل اوسیږي).

## هـ= د اسامة (رضي الله عنه) د لښکر لیږل

د دعوت د نشر او ساتنې او همدا ډول د جوړ شوي اسلامي حکومت له پولو نه باندې د تجاوزونو او تیریو د مخنیوي پخاطر د رسول (صلی الله علیه وسلم) آخرینی کار دا ؤ چې د اسامه بن زید تر مشرۍ لاندې یې یو لښکر تیار کړ امر یې ورته وکړ چې د شام طرف ته لاړ شي، بلقاء او داورم ته چې په فلسطین کې واقع دي ننوزي. پدې لښکر کې ټولو مهاجرینو، انصارو او د مدینې په شا او خوا کې پرتو مسلمانانو ګډون درلود، خو لښکر لا حرکت نه ؤ کړی چې د رسول

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghans...

Downloaded By: Afghan Salar Library



(صلی الله علیه وسلم) د ژوند آخرنی ناروغي پيل شوه، لښکر د رسول (صلی الله علیه وسلم) د شفا په انتظار پاتې شو، هيله يې درلوده چې ورځخه نور هدايات واخلي، خو رسول (صلی الله علیه وسلم) څو ورځې وروسته رحلت وکړ، او د خپل رب خوا ته لاړ، نړۍ يې پداسې حال کې پريښوده چې خپل امانت يې ادا کړی او رسالت يې هر چاته رسولی ؤ او ټوله عربي ټاپو وزمه يې د اسلامي بيرغ د اوچت ساتلو لپاره تياره کړې وه. هو رسول (صلی الله علیه وسلم) لدې نړۍ نه هغه وخت رحلت وکړ چې ددې لوی امانت ادا کولو لپاره يې لوی لښکر جوړ کړی ؤ او د همدې دعوت په لار کې يې قربانۍ ته چمتو او تيار ډير سپاهيان روزلي وو، د جنګ او سولې دواړو لپاره يې زبردست قوماندانان پخپل لاس روزلي وو، د اله (جل جلاله) بې پايانه درود دې وي پر محمد (صلی الله علیه وسلم)، باندې، الله دې زمونږ او ټول بشريت له طرفه ورته اجرونه ورکړي، که چيرې محمد (صلی الله علیه وسلم) او دده په لاس جوړ شوي سپاهيان نه وای، نو اوس به مونږ هم د ګمراهۍ په ژوره کنده کې پراته وی.

الله (جل جلاله) خپل وروستي رسول (صلی الله علیه وسلم) ته داسې کرم او عزت وربه برخه کړيدی چې بل رسول (علیه السلام) ته يې ندی ورکړی او هغه دا چې الله (جل جلاله) رسول (صلی الله علیه وسلم) ته دومره اوږد عمر ورکړ چې د خپل دعوت ميوه يې وخوړله، ټوله عربي ټاپو وزمه يې له بت پرستې نه پاکه کړه او د همده د دعوت په برکت ځينو خلکو ته داسې نعمتونه وربه برخه شول چې هغه بتان يې پخپلو لاسونو مات کړل. همدوی وو چې پرون به يې دې بتانو ته د تسليمۍ سر په ځمکه ايښود، خو نن يې د ټول بشريت لپاره د نور او هدايت غږ

Downloaded By: Afghan Salar Library



اوچت کړی او د توحید بیرغ یې په لاس کې نیولی دی. هو همدا نسل (خلک) وو چې پرون یې بتان په خدایی نیولي وو او د جاهلیت تورو تیارو وربانديې خپل تور پیڅول غوړولی و، خو نن یې بتان دړې وړې کړل او د عربو په ټول تاریخ کې یې د لومړني دولت تهداب کیښود، هسې دولت چې مسئولیت یې د ټول بشریت هدایت دی او هسې دولت چې د شا او خوا لویو قدرتونو لپاره د آزادوونکي معلم په توګه تبارز کوي او د کفر، ګمراهۍ او جهالت په ډنډ کې لویدلي انسان ته د مشفق، عزتمن او مهربان قوماندان په لباس کې د هدایت ډیوه روښانوي او د حقیقت او آزادۍ نړۍ ته یې را کاږي. هو دا یو داسې دولت ؤ چې د هغو قدرتونو لپاره معلم او آزادوونکی ؤ کوم چې پرون یې عربو په سیاسي، فکري او ټولنیز میدان کې تابعداري کوله. بیشکه دا یوه بې مثله واقعه وه، هو تاریخ کله هم له داسې پیښې سره ندی مخ شوی، نو دا هم ویلی شو چې د اسامه لیږل د همدې پیښې سرلیک او ددې مبارک رسالت نتیجه وه.

د رسول (صلی الله علیه وسلم) له خوا شل کلن اسامة (رضي الله عنه) ته د داسې یوه لښکر قوماندانې سپارل په کوم کې چې لوی لوی انصار او مهاجرین لکه ابوبکر، عمر، عثمان، علي (رضي الله عنهم) پکې ګډون لري د اسلامي دین یو بل اصل څرګندوي او هغه دا چې په اسلام کې مقام، عمر، او منزلت هیڅ اهمیت نلري، او نه هم دا شیان د خلکو تر مینځ د بیلتون عوامل کیدای شي. ګورو چې دې یاد شویو اصحابو (رضي الله عنهم) د اسلام په لار کې څومره کړاوونه ګاللي وو، او له اسامة (رضي الله عنه) نه د عمر او اسلام ته د سبقت له لحاظه څومره مخکې وو، خو بیا هم رسول (صلی الله علیه وسلم) قیادت

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



ځوان اسامة (رضي الله عنه) ته وسپاره تر څو خلکو ته وښيي چې بايد د هر کار لپاره مناسب برابر او موزون کس وړاندې کړای شي، عمر او مقام ته يې پدې رابطه کې کتل ندي په کار، دا خو يو، بل دا چې وويني هغه جليل القدره اصحاب (رضي الله عنهم) چې تاريخ له دوی نه وروسته د دوی په شان عظيم او باکفايته خلک ندي ليدلي، په څومره خوشحالۍ سره د اسامة (رضي الله عنه) امارت ته غاړه ږدي، نو دا پدې دلالت کوي چې هغوی (رضي الله عنهم) د نفسي تهذيب او اخلاقو هغو لوړو پوړيو ته ختلي وو، کومې چې الله (جل جلاله) يې کامل انسان ته ور په برخه کوي او د دوی دا لوړه مرتبه د رسول (صلی الله عليه وسلم) د هدايت، تربيت او سر پرستۍ برکت او نتيجه وه.

په ابوبکر صديق، عمر فاروق، عثمان غني (رضي الله عنهم)، علي (کرم الله وجهه) او د دوی په شان نورو اصحابو (رضي الله عنهم) باندې د ځوان اسامة (رضي الله عنه) قوماندان ټاکل يوه داسې تاريخي پيښه ده چې هيڅ امت ورسره آشنايي نلري او نه يې درلوده. دا کار ددې درس راکوي چې د ځوانانو استعدادونه بايد په کار واچول شي او رشد ورکړل شي، هغوی ته د کارونو قيادت وسپارل شي تر څو د قيادت لپاره وړ او مناسب خلک ورته جوړ شي. پټه دې نه وي چې دا دومره لوی درس دی چې که مسلمانانو هميشه په ياد ساتلی، نو اسلامي تاريخ به بيا دا مشکلات او بدبختۍ نه وي ليدلي او نه به اسلامي دولت لدې تهداب نړوونکو طوفانونو سره مخامخ شوی ؤ. د رسول (صلی الله عليه وسلم) دا تصرف يو بې مثاله تصرف ؤ، هو ولې به هغه کار بې مثاله نه وي چې د رسول (صلی الله عليه وسلم) په لاس ترسره کيږي ،هغه رسول (صلی الله عليه وسلم) چې آسماني وحي يې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



ملګرې وه، الهي حکمت او حقانیت یې په برخه ؤ. د اوږده نظر خاوند ؤ، لوی سیاستمدار ؤ او له یوه داسې قوت او نعمت نه برخمن ؤ چې نه خو د بل نبي (علیه السلام) په برخه شوی او نه هم د بل کوم تاریخي شخصیت په هکله داسې ادعا شویده. الله (جل جلاله) دې لدې خوان اسامة نه هم راضي شي، مبارک دې وي اسامة ته، دده پر شخصیت، کفایت او ریښتوني عزم او اسلام باندې د رسول (صلی الله علیه وسلم) باور او اعتماد، او خدای یې دې زمونږ د مؤمنو او کارکوونکو ځوانانو لپاره نیکه نمونه او قدوه وګرزوي.

## و- د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) وفات

رسول الله (صلی الله علیه وسلم) له خپل رحلت نه د وحي په ذریعه خبر شوی ؤ او له همدې امله یې په حجة الوداع کې له خلکو سره مخه ښه وکړه. د اصحابو (رضي الله عنهم) زړو نه هم پریشانه وو. ګومان یې کاوه. لکه چې د رسول (صلی الله علیه وسلم) اجل را لنډ شویدی، د الله (جل جلاله) له خوا تاکل شوی اجل نه وروستنه کیږي او نه راوړاندې کیدای شي. کله چې د رسول (صلی الله علیه وسلم) د رحلت خبر خپور شو. ددې د درمند او غمجن خبر په اوریدو ټول اصحاب (رضي الله عنهم) په درد او غم اخته شول. پریشاني په هر زړه کې ځای ونیو، مدینه ټوله د غم په اډه بدله شوه، د ډیرو لویو او سابقینو اصحابو (رضي الله عنهم) عقلونه هسې داسې شول. د ځینو ژبې بندې شوې، ځینې نور خوځیدای نه شوای، خو عمر (رضي الله عنه) خپله توره راوایسته، خلک یې لدې خبرې منع کول چې ویل یې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



رسول (صلی الله علیه وسلم) وفات شو. عمر (رضي الله عنه) داسې فکر کاوه چې رسول (صلی الله علیه وسلم) غائب شویدی او بیرته دوی ته راځي. خو یوازې ابوبکر (رضي الله عنه) خپل کنترول ساتلی ؤ رسول (صلی الله علیه وسلم) ته ورننوت او ویې لیده چې هغه (صلی الله علیه وسلم) پخپله بستره کې نغښتی دی، ور لنډ شو خپل لوی لاربنود (صلی الله علیه وسلم) یې ښکل کړ او ورته یې وویل: زما مور او پلار دې له تا قربان شي یا رسول الله! په ژوند او مرګ له تا نه بهتر او غوره نشته هغه مرګ چې الله (جل جلاله) درته لیکلی ؤ درته راغی، خو لدینه وروسته به هیڅ مرګ ونه وینې، یا رسول الله! مونږ د خپل رب په وړاندې یاد کړه. دا یې وویل بیا خلکو ته راووت خطبه یې پیل کړه او ویې ویل: اې خلکو! چا چې د محمد (صلی الله علیه وسلم) عبادت کاوه نو محمد (صلی الله علیه وسلم) رحلت وکړ او چا چې د الله (جل جلاله) عبادت کاوه، نو الله (جل جلاله) ژوندی دی نه مري بیا یې دا آیت ولوست:

((وَمَـا مُحَمَّدٌ إِلاَّ رَسُولٌ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِ الرُّسُلُ أَفَإِيْن مَاتَ أَوْ قُـتِلَ انْقَلَبْتُمْ عَلَى أَعْقَابِكُمْ وَمَنْ يَنْقَلِبْ عَلَى عَقِبَيْهِ فَلَنْ يَضُرَّ اللَّهَ شَيْئاً وَسَيَجْزِي اللَّهُ الشَّاكِرِينَ)). (آل عمران: ١٤٤)

(محمد (صلی الله علیه وسلم) نور څه ندی مګر صرف یو پیغمبر دی، له هغه نه مخکې نورو پیغمبران هم تیر شویدي نو که هغه ومري یا ووژل شي نو تاسې به په خپلو پوندو په شاګرځئ؟ په یاد ولرئ څوک چې واوړي هغه به الله (جل جلاله) ته هیڅ زیان ونه رسوي، البته څوک چې د الله شکر ایستونکي بندګان شي هغو ته به الله د دې بدله

Downloaded By: Afghan Salar Library



ورکړي
کله چې ابوبکر (رضي الله عنه) دا آیت ولوست نو خلک له ډرد او غم نه لړ په خود شول او داسې فکر یې کاوه لکه چې دا آیت یې مخکې هیڅ اوریدلي نه وي ابوهریرة (رضیالله عنه) وایي عمر وویل قسم په خدای وامې وریدل چې ابوبکر (رضي الله عنه) دا آیت ولوست. نو ډیر په تعجب کې شوم. او حیران شوم تردې حده چې پر ځمکه راولویدم، پښو مې زور نه اخیست او پوه شوم چې رسول (صلی الله علیه وسلم) وفات شویدی.

## دلته دوه لوی درسونه دي:

لومړی دا چې اصحاب (رضي الله عنهم) د رسول (صلی الله علیه وسلم) له رحلت نه دومره په دهشت کې شول او داسې فکر یې وکړ چې ګویا د رسول (صلی الله علیه وسلم) لپاره مرګ نشته دا سره لدې چې د هر ژوندي آخر مرګ دی، خو د دوی دا ګمان له رسول (صلی الله علیه وسلم) سره د دوی له زیات محبت نه سرچینه اخیستې وه، هسې محبت چې د دوی له وینو او اعصابو سره ګډ شوی ؤ د ملګرو او دوستانو د ورکې غم له هغوی سره د محبت په اندازه وي. مونږ وینو د چا چې زوی یا پلار مړ شي څو ورځې د هغه د مرګ خبره نه مني، د چا محبت به له رسول (صلی الله علیه وسلم) سره د اصحابو (رضي الله عنهم) له محبت سره برابر شي؟! د همدې رسول (صلی الله علیه وسلم) پذریعه الله (جل جلاله) دوی ته هدایت کړی. له ګمراهۍ نه یې هدایت او له تیارو نه یې نور ته بیولي دي، د هغوی ژوند یې بدل کړی. زړونه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



او سترګې يې ورته روښانه کړې، د قيادت چوکۍ ته يې هسک کړي،
بيا همدا رسول (صلى الله عليه وسلم) په ژوند کې د دوی رهبر او
قاضي ؤ په مشکلاتو کې به يې همده ته رجوع کوله، هدايت به يې
ورنه اخيست، د الله (جل جلاله) خطاب به يې ورڅخه زده کاوه، خو
کله چې هغه (صلى الله عليه وسلم) رحلت وکړ نو دا ټول قطع شول، نو
بل کو درد به لدينه زيات او زيانمن وي؟! دوهم دا چې د ابوبکر
(رضي الله عنه) موقف پدې دلالت کوي، چې هغه (رضي الله عنه) د
قوي عزم او سالمو اعصابو او د داسې سکون خاوند ؤ چې د بل
صحابي (رضي الله عنه) نه و په برخه شوی، او همدا شيان دي چې هغه
(رض) له رسول (صلى الله عليه وسلم) نه وروسته د خلافت لومړنی
مستحق ګرزوي د ردت په جګړو کې هم همدا خبره تائيد شوه او په
عملي ډګر کې په اثبات ورسيدله.

**کتنه:** د دوهم کال د محصلينو لپاره د فقة السيرة د درسونو لنډيز
همدلته پای ته ورسيد ددې پروګرام څلور نور فصلونه لاپاتې دي، خو
لکه چې په مقدمه کې مو وويل، وخت د پاتې فصلونو د املاء او
ليکلو اجازه رانکړه. له الله (جلاله) نه د پاتې فصلونو د ليکلو توفيق
غواړم.

**اللهم صل على محمد و على آل محمدكما صليت على ابراهيم و على آل ابراهيم انک حميد مجيد. و بارک على محمد و على آل محمد كما باركت على ابراهيم و على آل ابراهيم انک حميد مجيد.      و آخر دعوانا ان الحمد لله رب العالمين.**

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

## بخشی از کتب منتشر شدهٔ بنگاه انتشارات میوند

- آسیای میانه و افغانستان در کنار آتش
- آتش در افغانستان
- احکام فقهی برای زن مسلمان
- اردو و سیاست
- اسطورهٔ بزرگ آزادی
- افغانستان گذرگاه کشورگشایان
- از سقوط سلطنت تا ظهور و اجراآت طالبان
- -افغانستان در قرن نزده
- افغانستان در مسیر تاریخ (دو جلدی)
- افغانستان در مسیر تاریخ (دو جلدی)
- افغانستان در مسیر تاریخ (دو جلدی)
- جلد دوم افغانستان در مسیر تاریخ
- افغانستان و ریشهٔ دردها
- -افغانستان تجاوز شوروی و مقاومت...
- افغانستان و پنج سال سلطهٔ طالبان
- ابو مسلم خراسانی
- افغانستان مسایل جنگ و صلح
- از امیر کبیر تا رهبر کبیر
- آشنایی با ثقافت اسلامی
- -افغانستان د ستراتیژیو بحران
- افغانستان در منگنهٔ ژئوپولیتیک
- ارمغان عشق
- آزادی های انسان..
- ام القرآن
- افغانستان په وروستیو پنځو پیړیو کې
- امیر حبیب الله کلکانی
- ادبیات عرفانی
- از شکار لحظه ها تا..
- افغانستان و مداخلات خارجی
- افغانستان در آتش نفت
- اسپارتاکوس
- افغانستان به کجا میرود؟
- افغانستان از حبیب الله تا هاشم
- افغانه بنځه...
- انگیزه های سقوط در نیمه راه مبارزه
- افغانستان چا وران کړ؟
- اخلاق تطبیقی
- ابوبکر صدیق
- افغانستان د تیلو په لمبو کې
- اسلام و امت مسلمان
- افسانهٔ حیات
- افغانستان در دایرة المعارف تاجیک
- آخشیجهای آواشناسی فزیکی
- اسناد لانهٔ جاسوسی
- اور په افغانستان کی
- اسلام او مسلمان امت
- افغانستان بر سر دوراهی
- اهمیت حدیث در دین
- امریکا در افغانستان
- ادیان پشت در
- امریکا په افغانستان کې
- افغانستان د تاریخ په اوږدو کې
- امریکایی توب..
- ... اسلام، نفت
- افغانستان در چنبرهٔ گردباد سهمگین
- آینده در قلمرو اسلام
- آموزش شعر
- اندکی از رنجهای زنان و دختران در...
- آداب اسلامی
- اسلام و وضع جامعهٔ اسلامی
- افغانستان تاریخ جغرافیا
- اسلامي فتوحات لومړی توک
- اسلام د ضعیفو پوهانو.........
- ای زویه
- ادب دری در قلمرو پشتو زبان
- اسلام که مسیحیت
- اسلامي فتوحات...../ دویم جلد
- اسلامي فتوحات...../ دریم جلد
- افغانستان در زمان امیر دوست محمد
- اسلامي فتوحات...../ څلورم جلد
- اگر فرهاد شود شیرین بماناد
- باز خوانی یک بحران
- بالاحصار کابل و پیامدهای تاریخی
- بازی بزرگ

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

## بخشی از کتب منتشر شدهٔ بنگاه انتشارات میوند

- بحران اقتصادی در افغانستان
- بحران و نجات
- بازگشت
- بشپړ لمونځ
- بابه خارکش
- بیداری اسلامی
- پادشاهان متأخر افغانستان
- پتې توبې
- پولیس یا طبیب امراض اجتماعی
- پیامبران دروغین
- پرنیانیها
- پریشانه ولولې
- پرمختگ
- پروسه ولادت
- په زړه پوری
- په قرآن سره علاج
- پژوهشی در حقوق زن
- په اسلامي شریعت کښې فرد او جماعت
- تصویری از گوانتانامو
- تاریخ نبوت و انبیاء
- تربیت اولاد از دیدگاه اسلام
- تحلیل واقعات سیاسی افغانستان
- تاریخ معارف افغانستان
- تاریخ افغانستان بعد از اسلام
- تاریخ مسخ نمی شود
- تاریخ روابط سیاسی
- توفان در افغانستان (جلد اول ودوم)
- تصورات شب های بلند
- تاریخ ادبیات افغانستا
- تیاتر در افغانستان
- تجاوز بی آزرمانه
- تجوید (مشوق القرآن)
- تجوید جمال القرآن (پشتو)
- تاریخ مقیم خانی
- تاثیر سیاست خارجی ...
- تخنوم دې
- تذکرالانقلاب ...
- تجلی خدا در آفاق و انفس
- تور تاریخ او شومی ....
- توره ماته شوه
- تاریخ ادبیات فارسی
- تاریخچه زبان پاری دری
- تئوری اخلاقی اسلام
- ترصدایی بیدل
- تولنپوهنه
- جغرافیای تاریخی افغانستان
- جغرافیای تاریخی افغانستان
- جنگ افغانستان و شوروی
- جنبش هزاره ها در افغانستان
- جنگ در افغانستان
- جلوه های از شعر جلوه
- جنگ د چا په خاطر؟
- جامعهٔ مدینه در زمان حضرت محمد
- جنگ نامقدس امریکا
- جهان بینی عارف
- جنگهای افغانستان. ۷۹-۸۹
- جغرافیای طبیعی افغانستان
- جنگ اشباح
- جامعه شناسی عمومی
- جریده های افغانستان
- جرمی دوسیه
- جغرافیه اقلیم شناسی
- چگونه فکر باید کرد؟
- چرا اعدام کردند
- چرا بازار آزادنه
- چی کنم عادتم شده؟
- چرا مسیر تاریخ توقیف شد
- ..... چه گوارا
- چرا جنگ آمریکا......
- حقایق پشت پردهٔ تهاجم شوروی
- حقوق فطری در اسلام
- حدیث دل
- حقیقت تجاوز شوروی بر افغانستان
- حکیم مشرق زمین سید جمال الدین افغان.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

## بخشی از کتب منتشر شدهٔ بنگاه انتشارات میوند

- شیموتراپی - انتیوبیتک
- ښځه مینه او ژوند
- صلاح الدین ایوبی (پښتو)
- صدام- فارسی
- صدام - پښتو
- طنزهایی از چهارگوشهٔ جهان
- طعم ناخوش آیند استعمار
- طنزونه
- ظهور مشروطیت و قربانیان استبداد
- ظهیرالدین محمد بابرشاه
- عمر بن الخطاب
- عشق من امریکا
- عثمان بن عفان
- عبادات در مذهب حنفی
- عبدالرحمن محمودی
- عوامل سیاسی چند همسری
- عارفان اول جلد
- عارفان دوم جلد
- علی المرتضی
- غزنوی سلطان محمود
- فقه آسان (فارسی) - جلد اول و دوم
- فقه آسان (پښتو) - جلد اول و دوم
- فضای غزل
- فرهنگ اصطلاحات
- فرهنگ علوم سیاسی
- فضیلت کجاست
- قضاء و قدر
- قدرت های بزرگ در تلاش بی قدرتی
- قیصر او کسری (لومړی ټوک)
- قیصر او کسری (دویم ټوک)
- قانون اساسی در اسلام
- قصه هایی از امانتداری/بچه های خوب
- قیافه شناسی
- قتل های سیاسی در افغانستان
- قرارداد های افغانستان
- قرآن پیژندنه
- قاعده نورانی
- کرباس پوشهای برهنه پا
- کلیسا او اور
- کلیسا و آتش
- کاکه ها و عیاران خراسان
- کریمنالستک
- کابوس سرخ
- کتاب الخراج (فارسی)
- کتاب الخراج (پښتو)
- کابل قدیم
- کشور شاهی امریکا
- کلاهنامه
- کتیبه های مکشوفهٔ افغانستان
- کفري الفاظ او...
- کله چې لمر د خدای آیتونه لولي
- کدام یک اسلام یا مسیحیت؟
- کل بچه
- گلشن امارت
- گلستان لطافت
- گاندی
- گفتارهایی دربارهٔ فرهنگ ... تعلیم و ...
- گلبرگهایی از باغستان ادب دری
- گذرگاه بسته
- گبینې
- له دروازې ترشا دینونه
- لحظاتی در پرتو سیرت النبی ﷺ
- له تکبیره تر فریاده
- محمد بن قاسم
- محاکمهٔ خاینین ملی

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

## بخشی از کتب منتشر شدهٔ بنگاه انتشارات میوند

- میوندوال
- قحط سالی
- مرداره قول اس
- محمد ظاهرشاه (پشتو و فارسی)
- معاملات از دیدگاه اسلام
- مجاهدین در مسکو
- میخانیک خاک
- ملی مبارزې
- محمد د اسلام هغه پیغمبر چې ...
- ملاه شاه بدخشی
- مثلث بی عیب
- مناجات خواجه عبدالله انصار
- مطلع الشمس
- مقدمه ای بر جامعه شناسی سیاسی
- مرگ وزیر اکبرخان
- مبادی فلسفه
- معظم علی
- ما کیستیم و اینجا کجاست؟
- مصاحبه
- معارف اسلامی
- مکاتیب افغانی
- مبادی اسلام
- ما چه می گویم
- ملی اقتصاد ... زابلی
- مبانی طب کودکان
- معلومات عمومی
- ماو پاکستان
- معرفی الاثار الکاملة
- منهیات در اسلام
- نقد خاطرات سید قاسم رشتیا
- نگاهی به عهد سلطنت امانی
- نادرشاه چگونه به پادشاهی رسید؟
- نقد بر مسیر تاریخ
- نوای معارک
- نقد بر اردو و سیاست
- نقش تعصب قومی در اندلس
- نقد بر مثلث بی عیب
- نگاهی مختصر به تاریخ معاصر
- نوه های بابا فرانتس
- نصایحی برای اصلاح خانواده
- نه، ته مې هیره نه وې
- نماز
- نزدیک بود بی آب شوم/ طنز
- نقاهي ... تفسیر مفاتیح الغیب
- نوی خبر یالی
- نقد گفتمان دینی در افغانستان ....
- نبوی اخلاق
- نسخه جات فضلی
- نړیوال عمومی حقوق
- نبوی سیرت درسونه عبرتونه
- نود و نه قاعدهٔ فقهی مذهب حنفی
- واژه شناسی در زبان دری
- واهمه های زمینی
- واقعات شاه شجاع
- وړوستې جګړه
- واژه گزینی در زبان فارسی دری
- واژه گزینی در زبان فارسی
- وروستی مورچل
- هینداره
- هفت داستان عشقی
- هفتاد و دو سال در بند استبداد
- یعقوب لیث
- یادداشت های عبدالمجید زابلی
- یوسف بن تاشفین
- یک آیینه و چند تصویر
- یادداشت ها و برداشت ها
- یکصد و یک روز در شمال افغانستان

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

ګرانه لوستونکيه!

په لاندې نصيحتونو عمل وکړه

1. د الله تعالى بلنې ته همېشه لبيک وايه او کله دې چې اذان واورېده نو د لمانځه څخه مه وروسته کېږه

2. د الله تعالى کتاب لوله يايې اوره، د الله تعالى ذکر ډېر کوه. او خپل وخت بېهوده مه تېروه.

3. د اسلام د دښمنانو سره په جنګ کښې زمونږه اولنۍ سلاح (وسله) په يو الله ايمان دی.

4. خپل اصلي هدف د جنت دخول وګرځوه. او د الله تعالى د نصرت او کومک څخه مه نا امېده کېږه.

5. د الله تعالى نصرت د جماعت سره دی نو د ټولو مسلمانو وروڼو سره تعاون او همکاري کوه. پس ورورولي او يووالي په جهاد کښې د برې يو اخيني لار ده

6. همېشه پاک، ستره او تکړه (قوي) اوسېږه ځکه چې قوي مؤمن د ضعيف مؤمن نه غوره دی.

7. هر مسلمان سره چې مخامخ کېږې نو په سلام ويلو سره لومړی کېږه، خپل ځان په نيکو خويونو سمبال کړه، د بې ځايه مناقشې او بحث او غيبت او ټولو ګناهونو نه ځان وژغوره تردې چې د الله تعالى رضا دې په نصيب شي

8. پوه شه چې اسلام يو شامل نظام دی چې د ژوند ټول اړخونه په ځنګ کښې نيسي

9. قرآن کريم او د نبي عليه الصلوة والسلام پاک سنت د هر مسلمان لپاره د اسلامي احکامو په پېژندنه کښې يو اخيني مرجع ده او د معصوم پيغمبر د ارشاداتو پرته د هرچا خبرې د قبول او رد وړ دي

10. په فقهي فروعو کښې اختلاف داسې حد ته بايد ونه رسېږي چې د بې اتفاقۍ، کينې او دښمنۍ سبب شي.

ISBN 978-9936-8021-1-7

9 789936 802117

بنګاه انتشارات ميوند
کابل - افغانستان

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar